# الف څخه تر یا

## د افغانستان لپاره مرستندوي لارښود

د شپږمې ګڼې ژباړه

۱۳۸۲ کال د سلواغې میاشت

AREU

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

*د څېړنې له لارې د افغانانو ژوند ښه کول*

د پام وړ:

معلومات چې په دغه کتاب کې وړاندې شوي دي د وزارتونو، د دولتي او د بسپنه ورکوونکو سازمانونو، نا حکومتي او نورو مرستندویه سازمانونو اختیاري مرستو پر بنسټ دي. معلومات هره ورځ تغیر مومي: د دغه لارښود له کاروونکو څخه هیله کوو چې د تغیراتو، اصلاحاتو او پیشنهاداتو لپاره له دغې ادارې سره په تماس کې شي: بریښنا پته:
areu@areu.org.af

بخښنه:

کیدای شي چې د ژباړې پر مهال د پروګرامونو نومونه، ځینې علمي او مسلکي اصطلاحات، د موسسو او سازمانونو نومونه صحیح نوې ژباړل شوي، او یا کولای شو وایو چې د هغو د نومونو تر منځ توپیر راغلی وي چې د نومونو او اصطلاحاتو تر منځ دوه رنګې رامنځته کوي؛ زه په زیاته بخښنه له لوستونکو څخه هیله کوم چې که داسې ستونځې سره مخامخ کیږي نو په پورتنۍ بریښنا پته دې موږ ته خبر راکړي (ژباړونکی).

© د چاپ حق، د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره ۱۳۸۲ کال. ټول حقوق محفوظ دي. د دغه خپرونې د هیڅ یوې برخې بیاچاپ، د استفادې وړ کوم سیستم کې ذخیره، او نورو بڼو ته لکه الکترونیکي، ثبت، ته د هغو اړول، د خپروونکي، د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې، د اجازې څخه پرته منع دی، د اجازې لپاره کولای شئ دغې بریښنا پتې او یا ټلفون شمیرې سره اړیکې ټینګې کړئ. areu@areu.org.af ۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸+ ...

ژباړه، تصحیح او طرح: احمدالله امرخیل او امان الله اتل
د انګریزي ټوک تصحیح او طراح آنیا هاویدال
د تماسونو راغونډوونکې: نورالله الهام
د الف تر یا او د حکومت فصلونو راغونډوونکې مروارید عبدیانی
خاصه مننه: له سید محمد شاه، هیمش نیکسن او رایس وایلس څخه
د آرمي پرس مطبعه
د پوښ عکس: په ۱۳۸۴ کال کې د پنجشیر د درې د منظرې یو عکس دی آنیا هاویدال اخستی دی. په پنجشیر کې رغونه او د پرمختګ هڅې له ۱۳۷۹ کال څخه را په دې خوا د یو برې په بڼه لیدل کیږي.
دغه اداره په خوشالۍ سره د نړیوال بانک او د دنمارک، ناروې، سویډن، سویټزرلنډ او برتانیې هیوادونو له دولتونو څخه د نوموړي کتاب، *الف څخه تر یا: د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود کتاب* د شپږمې ګڼې په چاپ کې له مالې مرستې څخه مننه کوي.

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره (AREU)
د ګل فروشي کوڅه (د دوهم سرک څنډه)
نوی ښار، کابل افغانستان
ټلفون شمیره: ۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸+
بریښنا پته: areu@areu.org.af
بریښنا پاڼه: www.areu.org.af

# محتوا

**د افغانستان د ځیړنې او ارزونې اداری په هکله ........ ج**
**د افغانستان د ځیړنې او ارزونې د اداري خپرونې ۱۳۸۴ - ۱۳۸۵ ........ ح**
**الف څخه تر یا ........ ۱**
**د افغانستان حکومت ........ ۲۵**
شالید ........ ۲۶
عامه سکتور ........ ۲۷
د افغانستان دیموکراتیک نظام ........ ۷۰
جدول: وزارتونه او وزیران، د ۱۳۸۲ کال د لیندۍ میاشت ........ ۸۰
جدول: نوری دولتي اداری، ۱۳۸۲ کال د لیندۍ میاشت ........ ۸۱
**اسناد ........ ۸۳**
د افغانستان اساسي قانون ........ ۸۲
د افغانستان تړون لیک ........ ۱۱۰
د نا حکومتي موسسو کړنلاره ........ ۱۲۷
**نخشې ........ ۱۳۸**
افغانستان: ولایتونه او د ولایتونو مرکزونه ........ ۱۳۸
افغانستان: فزیکي ........ ۱۳۹
افغانستان: نفوس ........ ۱۴۰
کابل ښار ........ ۱۴۱
کابل ښار مرکز ........ ۱۴۲
هرات ښار ........ ۱۴۳
جلال آباد ښار ........ ۱۴۴
کندهار ښار ........ ۱۴۵
کندز ښار ........ ۱۴۶
مزار شریف ښار ........ ۱۴۷
**پتې او تماسونه ........ ۱۴۸**
د تماسونو د برخې په هکله ........ ۱۴۹
کابل ولایت ........ ۱۵۰
نور ولایتونه ........ ۱۹۵
پاکستان ........ ۲۳۷
**ضمیمه ........ ۲۴۰**

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری په هکله (AREU)

دافغانستان د څیړنې او ارځونې اداره یوه ناپایېلی موسسه ده چې په کابل کې ځای پر ځای ده. د دغه اداری دنده د عمل او زده کړې ور څیړنو تر سره کول دي چې پالیسی آگاه کوي، عمل سموی. همدارنگه نوموړې موسسه په فعا له توگه د څیړنواو زده کړې رواج ته وده ورکوي تر څو د تجزیې او تحلیل کولو ظرفیتونه په افغا نستا ن کې پیاوړی شي او هم د تجزیې او تحلیل، فکر کولو او مباحثی فرصتونه برابر شي. د دی اداری بنیا دي لرلید دادی چې د نوموړي مرکز د کار په نتیجه کې با ید د ا فغا نا نو ژوند ښه شي.

نوموړی اداره په ۱۳۸۰ کال کې په ا فغا نستان کې د مرسته کونکې ټولنې په ملاتړ رامنځته شوی ده چې په مساوي استازیتوب سره مدیره هیت یې له ملگرو ملتونو (UN)، تمویلوونکو ادارو، او نا حکومتي سازمانونو څخه استازیتوب کوي. د دغې اداری بنیا دي لرلید دادی چې د نوموړي مرکز د کار په نتیجه کې به د ا فغا نا نو ژوند ښه والی ومومي.

دغه اداره د زیاتو راز راز سرلیکونو لاندی، لکه: معارف، جندر، حکومتداري، روغتیا، معیشتونو او زیان مننې، کډوالیتوب، د طبیعې سرچینو اداره او سیاسي اقتصاد او بازارونو، په موضوعي ساحو کې څیړنې تر سره کوي. دغه اداره هر کال تقریباً ۲۵ څیړنیزه خپرونې تولیدوي، له پالیسۍ توضیح پاڼو څخه نیولې تر موضوعي او ترکیبي راپورونو پوری.

د څیړنیزو خپرونو سربیره، دغه اداره په افغانستان کې د مرستو لپاره له الف څخه تر یا کلنې لارښود او د افغانستان د څیړنو دری میاشتینۍ خبر پاڼه هم خپروي. او یوه ویب پاڼه (www.areu.org.af) او یو څیړنیزه کتابتون ساتي چې د افغانستان او چاپیرې منطقې په هکله په زر هاوو مواد لري. همدارنگه دغه اداره د پالیسي جوړوونکو او نورو فعالینو تر منځ د مباحثو د اړولو او تشویق لپاره ورکشاپونه او کنفرانسو نه جوړوي.

د نوموړی اداری اوسنۍ بودجه د اروپا کمیسیون (EC)، د ملگرو ملتونو د مرستو هیأت (UNAMA)، د ملگروملتونود مهاجرینو عالي کمیشنري (UNHCR)، د ماشومانو لپاره د ملگرو ملتونو وجهي صندوق (UNICDF) د ښځو لپاره د ملگرو ملتونو د پرمختگ وجهی صندوق (UNIFEM) نړیوال بانک او (WB)، او د دنمارک، جاپان، نوروی، سویدن، سویټزرلند او برتانیې هیوادونو له خوا ورکول کیږي.

هیله کوو د دغه اداري د خپرونو د لست لپاره وروستۍ پاڼه وگورئ. لست شوی خپرونې د دغه اداری په ویب پاڼه (www.areu.org.af) کې د ښکته کولو لپاره او د دغه اداری په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې موجودی دي.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د ۱۳۸۴ او ۱۳۸۵ خپرونې

ټولې خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af او په کابل کې د دغه ادارې له دفتر ځخه چاپ شوی کاپیانې د لاس رسنې وړ دي.

- *^په افغانستان کې د کوکنارو د کر د متغیره کچو پېژندل: د سیمې ځخه شواهد، ډیوډ مینسفیلد او آدم پین (۱۳۸۲ کال د لړم میاشت)
- کوچنۍ قرضې، غیر رسمي قرضې او کلیواله معیشت: په کابل ولایت کې د یو ولایت موضوعي څېړنه، پالا کانتور او ایرنا اندرسن (۱۳۸۲ کال د لړم میاشت)
- د اوبو اداره، ځاروي او د تریاکو اقتصاد: د ځارویو بازار، ایوان تامسن (۱۳۸۲ کال د تلې میاشت)
- وړ کول که فلجول؟ په کلیواله افغانستان کې د کوچنیو او متوسطو شرکتونو د فعالیت چاپیریال. سید پرتو، انا پیټرسن او آصف کریمی (۱۳۸۲ کال د وږي میاشت)
- *^د افغانستان د څېړنو خبر پاڼه، ۱۴مه ګڼه (۱۳۸۲ کال د چنګاښ میاشت)
- *^د قانون حاکمیت؟ د افغانستان د ملي پولیس د سمون لپاره هڅې، انډریو وایلډر (۱۳۸۲ کال د چنګاښ میاشت)
- *^د ګټو موضوع: د افغانستان په ولسي جرګه کې جنسیت او د حضور سیاست (۱۳۸۲ کال د غبرګولي میاشت)
- پیسی پیدا کول: د افغانستان په کلیوالو سیمو کې د غیر رسمي قرضو/پورونو فعالیت، فلور کلاین او آدم پین (۱۳۸۲ کال د غبرګولي میاشت)
- *راستنېدل او که پاتې کېدل: په پاکستان کې د افغانانو د دوهم نسل لالهاند تیا، مامیکو سایتو او پاملا هانت (۱۳۸۲ کال د غبرګولي میاشت)
- د اوبو مدیریت، د مالدارۍ او تریاکو اقتصاد: په بلخ کې د کوکنارو د کر زیاتوالی، آدم پین (۱۳۸۲ کال د غبرګولي میاشت)
- د اوبو اداره، د مالدارۍ او تریاکو اقتصاد: د دامي لاسته راوړنې، آنتوني فیتزهربرت (۱۳۸۲ کال د غویي میاشت)
- د اوبو اداره، د ځارویو او تریاکو اقتصاد: د اوبو د ټولنیز مدیریت بریالیتوب، جاناتن ال لي (۱۳۸۲ کال د غویي میاشت)
- *^د افغانستان څېړنیزه خبرپاڼه، ۱۳مه ګڼه (۱۳۸۲ کال د وري میاشت)
- *^له ۱۳۷۹ کال ځخه را په دې خوا د افغانستان روغتیایي سیستم، دشرایطو ښه والی، خوشبینانه وړاندوینه، رون والدمن، لزلي سترانګ، عبدالولي (۱۳۸۲ کال)
- *^دولت سره مرسته، نړیوالې مرستې او په افغانستان کې د دولت جوړونې پارادوکس، هیمش نیکسون (۱۳۸۲ کال د وري میاشت)
- د اوبو مدیریت، د مالدارۍ او تریاکو اقتصاد، د ځمکو د ثبت لپاره خوښنې (انتخاب)، الک مک اون او شرنا نولان (۱۳۸۵ کال د سلواغې میاشت)
- د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د باور وړ غیررسمي فعالیتونه: د غورپه ولایت کې دریمه موردي مطالعه، فلورت کلاین (۱۳۸۵ کال د سلواغې میاشت)
- *^د افغانستان څېړنیزه خبرپاڼه، ۱۱مه او ۱۲مه ګڼه (۱۳۸۵ کال د مرغومی میاشت)

- د افغانستان په کليوالي سيمو کې د باور وړ غيررسمي فعاليتونه: د کاپيسا په ولايت کې دويمه موردي مطالعه، فلور کلاين (۱۳۸۲ کال د ليندۍ مياشت)
- *^الف څخه تر يا: د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود ، پنځمه گڼه (۱۳۸۵ کال د لړم مياشت)
- *^آس په گاډۍ پسی ترل؟ خصوصي کول او اقتصادي سمون په افغانستان کې، انا پترسون (۱۳۸۵ کال د لړم مياشت)
- د اوبو مديريت، د مالدارۍ او ترياکو اقتصاد: د مالدارۍ او روغتيا توليدات، ايان تامسن (۱۳۸۵ کال د تلې مياشت)
- *^پر مختګ؟ په افغانستان کې د اداري سمون ارزونه، سارا ليستر (۱۳۸۵ کال د وږي مياشت)
- په افغانستان کې کليوالي معيشتونه، جو بيل او ستيفن شوت (۱۳۸۵ کال د زمري مياشت)
- افغاني فراملي شبکې، د راستنېدو پروسې ته کتنه، الکساندر او مونسوتي (۱۳۸۵ کال د زمري مياشت)
- د اوبو مديريت، د څارويو او ترياکو اقتصاد: تشريحي کتاب پېژندنه (۱۳۸۵ کال د زمري مياشت)
- *^د کوکنارو له ريښې ايستل: ک څه له لاسه نه ورکوو نو خطر به څنګه لوړ شي؟ ديويد مينسفيلډ او آدم پين. (۱۳۸۵ کال د زمري مياشت)
- *^د افغانستان د څېړنو خبر پاڼه ۱۰مه گڼه (۱۳۸۵ کال د چنګاښ مياشت)
- *بازارونو ته تګ: د افغانستان په شپږو خصوصي سکتورونو کې سوداګري او سوداګران (۱۳۸۵ کال د غبرګولي مياشت)
- د اوبو اداره، څاروي او د ترياکو اقتصاد: د ځمکو شتمنۍ، الک مک يوان او برندن ويتې (۱۳۸۵ کال د غبرګولي مياشت)
- د اوبو اداره، څاروي او د ترياکو اقتصاد ، په کندز او بلخ کې د کوکنارو کرنه، آدم پين (۱۳۸۵ کال د غبرګولي مياشت)
- د اوبو اداره، څاروي او د ترياکو اقتصاد: مالداري، انتونی فژبرت (۱۳۸۵ کال د غبرګولي مياشت)
- خواري د برياليتوب تر منځ: په هرات کې ښاري معيشت، ستيفن شوټ (۱۳۸۵ کال د غبرګولي مياشت)
- په کليواله افغانستان کې د غير رسمي قرضو فعاليتونه، موضوعي څېړنه شميره ۱: هرات، فلور کلاين (۱۳۸۵ کال د غبرګولي مياشت)
- د اوبو اداره، څاروي او د ترياکو اقتصاد: اساسي سروی، الن روی (۱۳۸۵ کال د غويي مياشت)
- د اوبو اداره، څاروي او د ترياکو اقتصاد ، د اوبو ټولنيزه اداره، جاناتان ال لي (۱۳۸۵ کال د غويي مياشت)
- د اوبو اداره، څاروي او د ترياکو اقتصاد: د اوبو لګونې سيسټمونه، يان مکليستر اندرسن (۱۳۸۵ کال د غويي مياشت)
- بی پايه ساتنه، ثابته بيا بشپړونه: افغان کډوال او مهاجر په ايران کې، عباثی شهوازی او ډيانا ګلازبروک (۱۳۸۵ کال د غويي مياشت)
- *^په افغانستان کې د ولايتي حکومت دارۍ جوړښتونه: له ګډوديا څخه د يو ليد په لور؟، سارا ليستر او هيمش نيکسن (۱۳۸۵ کال د غويي مياشت)
- ځمکه تر لاسه کول: په جلال آباد کې ښاري معيشتونه، ستيفن شوت (۱۳۸۵ کال د غويي مياشت)

# الف ځخه تر یا: محتویات

## توکي د بشپړ نوم پر بنسټ ترتیب شوي نه د لنډیزونو پر بنسټ


ائتلافي ځواکونه (CF)............ ۳
افغان ملي پولیس (ANP)............ ۴
افغان ملي پوځ (ANA)............ ۲
بـــودجه............ ۸
بې وسلې کول، له پوځي خدمت څخه ترخیصول او ملکي ژوندانه ته بېرته راګرځول (DDR)............ ۸
بېړنۍ لويه جرګه (ELJ)............ ۸
پراختیایي بودجه............ ۸
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو همغږي، ۱۳۲۷-۱۳۸۷............ ۹
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی هیات (UNAMA)............ ۹
په افغانستان کې د ناحکومتي موسسو د امنیت دفتر (ANSO)............ ۱۱
د احصایې مرکزي دفتر (CSO)............ ۱۱
د اداري چارو عمومي ریاست او د وزیرانو شورا دارالانشاء (OAA)............ ۱۳
د اداري سمون او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون (IARCSC)............ ۱۳
د اساسي قانون لويه جرګه (CLJ)............ ۱۴
د افغان مدني ټولنې مجتمع (ACSF)............ ۱۵
د افغان مېرمنو سازمان (AWN)............ ۱۲
د افغانستان انتقالي حکومت (ATA)............ ۱۸
د افغانستان تړون لیک............ ۱۸
د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون (AIHRC)............ ۲۰
د افغانستان د بیارغوني وجهي صندوق (ARTF)............ ۲۱
د افغانستان د پرمختګ مجتمع (ADF)............ ۲۲
د افغانستان د ثبات پروګرام (ASP)............ ۲۳
د افغانستان د راتلونکي خوندي کول (SAF)............ ۲۳
د افغانستان د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA)............ ۲۳
د افغانستان د مقننه ځواک د جوړېدو د ملاتړ پروژه (SEAL)............ ۲۴
د افغانستان د ملي امنیت ځواکونه (ANSF)............ ۲۵
د افغانستان د نوي پیل پروګرام (ANBP)............ ۲۵
د افغانستان د څېړني او ارزوني اداره (AREU)............ ۲۲
د افغانستان لپاره د کوچني پانګې اچونې د ملاتړ اداره (MISFA)............ ۲۲
د افغانستان لپاره د مرستو د همغږۍ اداره (ACBAR)............ ۲۷
د افغانستان لپاره د ماین پاکۍ پروګرام (MAPA)............ ۲۸
دافغانستان لنډمهاله اداره (AIA)............ ۲۹
د افغانستان د ملي پرمختګ لنډ مهاله ستراتیژي (I-ANDS)............ ۲۹
د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژي (ANDS)............ ۲۹
د افغانستان ملي مرستندویه پولیس (ANAP)............ ۳۱
د افغاني ناحکومتي موسسو د همغږۍ اداره (ANCB)............ ۳۲
د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د امنیت ګډه قوماندانې (CSTC-A)............ ۳۳

د امنیتي سکتور سمون (SSR) ........................ ۳۳
د برلین غونډه او اعلامیه........................ ۳۴
د بسپنه ورکوونکو د مرستو د معلوماتو سرچینه (DAD) ........................ ۳۵
د بشري پراختیا ملي رپوټ (NHDR)........................ ۳۶
د بُـن تـــړون ........................ ۳۷
د بشری حقوقو د څیړني او مدافعی کمیټه (HRRAC) ........................ ۳۷
د بېوزلی د کمولو ستراتیژي پانه (PRSP) ........................ ۳۸
د پالیسی د عمل ډله (PAG)........................ ۳۹
د روغتیایي خدماتو بنسټیزه ټولگه (BPHS)........................ ۴۰
د زریزې پرمختیایي موخې (MDG) ........................ ۴۰
د سهیلي او لویدیځ افغانستان او بلوچستان د همغږی ټولنه (SWABAC)........................ ۴۱
د سیمه ایز حکومت خپلواکه اداره (IDLG) ........................ ۴۲
د عدلي سکتور سمون (JSR)........................ ۴۳
د قضاء او د قانون د حاکمیت په اړه د روم کنفرانس........................ ۴۴
د کابل په پوهنتون کې د افغانستان پېژندنې مرکز (ACKU) ........................ ۴۵
د لندن کنفرانس........................ ۴۶
د معیشت نورې لارې (AL)........................ ۴۶
د ملکي خدمتونو کمیسیون........................ ۴۷
د ملي پیوستون پروگرام (NSP) ........................ ۴۷
د ملي څارنې سیستم (NSS) ........................ ۴۸
د ملی گواښونو او زیانمنني د ارزونې اداره (NRVA)........................ ۴۹
د ناحکومتي موسسو قانون او کړنلاره........................ ۵۰
د ناقانونه وسله والو ډلو د انحلال پروگرام (DIAG) ........................ ۵۱
د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وجهي صندوق (CNTF) ........................ ۵۱
د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه (CN)........................ ۵۱
د ولایتي بیارغونې ډله (PRT) ........................ ۵۴
د ټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC) ........................ ۵۵
د ټاکنو د تنظیم گډ دفتر (JEMB)........................ ۵۶
د ټوکیو غونډه ........................ ۵۶
د ټولنې پراختیایي شورې (CDC)........................ ۵۶
د څارنې او همغږی گډ هیات (JCMB)........................ ۵۷
عامه اداري سمون (PAR) ........................ ۵۸
مشورتي ډلې (CG) ........................ ۵۹
ملي بودجه ........................ ۶۰
ملي پراختیایي پروگرامونه (NDP)........................ ۶۱
د ملي پرمختگ کاري چوکاټ (NDF)........................ ۶۱
ملی سیمه ییز پراختیایي پروگرام (NABDP)........................ ۶۲
نړیوال سوله ساتي ځواکونه (ISAF)........................ ۶۲
ولایتي پراختیایي پلان (PDP)........................ ۶۴

# ائتلافي ځواکونه (CF)

www.cjtf۸۲.com, www.cstc-a.com

ائتلافي ځواکونه يوه عمومي اصطلاح ده چې د امريکې د متحده ايالاتو په مشرۍ پوځي سازمان ښيي کوم چې د ۱۳۸۰ کال راهيسې په افغانستان کې ميشت دي. د شمالي اټلانتيک پيمان سره په همکارۍ، ائتلافي ځواکونو د طالبانو رژيم په ۱۳۸۰ کال د لړم په مياشت کې وپرزاوه. د خپلواکۍ په نامه د دغه عملياتو تر سرليک لاندې دغه ځواکونو په افغانستان کې د طالبانو او القاعده غړو پسې خپل لټون ته دوام ورکړ، د افغانستان د دفاع ځواکونه يې په نوې بڼه چمتو کړل څو چې په افغانستان کې اوږدمهاله ثبات رامنځته کړي. د افغانستان د خپلواکۍ تر سرليک لاندې پر پوځي عملياتو برسېره ائتلافي ځواکونو په بيارغنيزو او د دولت د حاکميت د پراخوالي په چارو کې د ولايتي بيارغونې ډلو (**۵۴**م مخ) له لارې برخه درلوده. د ائتلاف ځواکونه د افغان دولت د امنيتي سکتور د سمون (**۳۳**م مخ) په پروسه کې غوره پارټنر دي.

ائتلافي ځواکونه د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا تر فرمان لاندې نړيوالو سوله ساتو ځواکونو (**۳۶**م مخ) څخه بېل دي، کوم چې په افغانستان کې عمليات کوي. په پام کې ده چې دغه دواړه ځواکونه تر يوې قوماندې لاندې راشي، او د سيمه ايزې قوماندې لېږد د دغه پروسې لمړنۍ مرحله ده. په **۱۳۸۳-۱۳۸۴** کلونو کې د افغانستان د شمال او لوېديځ سيمه ايزه قومانده آيساف ته وسپارل شوه. د **۱۳۸۵** کال د چنګاښ په مياشت کې د سهيلي ولايتونو سيمه ايزه قومانده او بالآخره د **۱۳۸۵** کال د تلې په **۱۳**مه نېټه د افغانستان د ختيځ قومانده هم آيساف ته وسپارل شوه، چې پدې سره آيساف ته د ټول افغانستان د امنيت دنده ورپه غاړه شوه.

اوس مهال يوازې د ائتلافي ځواکونو ۸۰۰۰ سرتېري د آيساف تر قوماندې بهر دي؛ دغه سرتيري په روزنيزو چارو او د تروريزم ضد عملياتو په برخه کې کار کوي. که څه هم چې دوي د مليشه يي ځواکونه څخه بهر د ائتلاف ځواکونه بلل کېدل، د ۱۳۸۲ کال د سلواغې په مياشت کې دغه سرتيري تنظيم کړل شول او قوماندانې يې د ګډو ځواکونو قوماندانې-افغانستان (CFC-A) په نامه ونومول شوه. د ګډو ځواکونو قوماندانې هغه وخت منحل کړل شوه کله چې د ختيځ سيمه ايزه قوماندانې د **۱۳۸۵** کال په منځنيو کې له آيساف سره يو ځای شوه. په افغانستان کې د آيساف څخه بهر امريکايي سرتيري اوس په دوه قوماندانيو کې کار کوي: د بګرام په هوايي ډګر کې ميشت مختلط ګډ عملياتي ځواک ۸۲ د تروريزم ضد او د بيارغونې د عملياتو مسئوليت لري، پداسې حال کې چې د امنيت د اوښتون مختلطه قوماندانې (CSTC-A) چې په کابل کې په کمپ ايګرز کې مېشت ده، په افغان امنيتي سکتور کې د ائتلافي ځواکونو پر ونډه څارنه کوي. دواړه قوماندانۍ د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندانۍ (CENTERCOM) لخوا څارل کېږي چې د امريکې د متحده ايالاتو د فلوريدا په ايالت کې واقع ده.

# افغان ملي پولیس (ANP)

افغان ملي پولیس د افغان دولت ترټولو ستر پولیسي ارګان دی چې د کورنیو چارو د وزارت (MOI) تر واک لاندې کار کوي. په افغان ملي پولیسو کې لاندې پولیسي ځواکونه شامل دي:

- افغـان یونیفـورم لرونکـي پـولیس (AUP) – د پولیسـو د زیـاتره ورځنیـو دنـدو مسـئولیت پـه غـاړه لـري؛ ټول ځواک ۴۵۰۰۰ تنه
- د افغانستان سرحدي پولیس (ABP) د افغانستان سرحدونه ساتي؛ ټول ځواک ۱۸۰۰۰ تنه
- افغـان د تـولنیز نظـم پـولیس (ANCOP) – د چټـک غبرګـون ځـواک د ځـانګړو وسـلو او تکتیکونـو (SWAT) له وړتیاوو سره ؛ ټول ځواک ۵۰۰۰ تنه
- د تیارسـئ پـولیس- د چټـک غبرګـون ځـواک مرحلـه پـه مرحلـه ایسـتل شـوي او ځـای یـې د افغانسـتان د ټولنیز نظم ملي پولیس نیولی دی.
- د افغانسـتان د مخـدره توکـو پـر وړانـدې د مبـارزې پـولیس (CNPA) – د غیـر قـانوني درملـو د تولیـد او قاچاق د مخنیوي دنده لري. ټول ځواک ۲۳۰۰ تنه
- د جنـایي څېړنـو د وېش پـولیس- نسـبتاً یـو کـوچنی ځـواک دی چـې د افغانسـتان د قـانون پـه چوکـاټ کـې د جنایي جرمونو د څېړنې دنده لري.
- د ترهګـرۍ سـره د مبـارزې پـولیس (CTP) - نسـبتاً یـو کـوچنی ځـواک دی چـې د بلـواوو سـره د مبـارزې د عملیاتو مسئولیت لري.

په ۱۳۸۵ کال کې افغان ملي مرستندویه پولیس (۳۱م مخ) پدې موخه رامنځ ته شول تر څو د هېواد په ټاکلو سیمو کې د بلواوو ضد عملیاتو کې مرسته وکړي. د افغان ملي پولیسو څخه جلا ، افغان ملي مرستندویه پولیس یو لنډمهالې ځواک دی چې مجازه شمېره یې ۱۱۲۷۱ تنه ده. د ډېرې کمې روزنې وروسته ، د افغان مرستندویه پولیسو نوي سرتیري د یوه کال لپاره د دې ټاکنې په درلودلو سره چې وروسته له بل پولیسي ځواک سره یوځای شي، خدمت کوي.

د افغانستان د ۱۳۸۵ کال تړون لیک (۱۸م مخ) په ۱۳۸۹ کال کې دیوه مسلکي، ګټور او د توکمي نظره انډول ۶۲۰۰۰ کسیز افغان ملي پولیس ځواک د جوړېدو لپاره یوه ماده جوړه کړه

د ۱۳۸۲ کـال د وري پـه میاشـت کـې د افغانسـتان پـه سـهیل کـې د زیاتېـدونکو بلـواوو پـه ځـواب کـې د همغـږۍ او خـارنې ګـډ هیـات (۵۷م مـخ) دغـه شـمېره ۸۲۰۰۰ کسـانو تـه لـوړه کـړه. ځینـو بسـپنه ورکوونکـو د افغـان ملـي پولیسـو د شـمېر د زیـاتوالي د مـالي ثبـات پـه برخـه کـې اندېښـنې ښرګنـدې کـړې؛ نـور بیـا دا اندېښـنه لـري چـې د پولیسـو د سـمون تمرکـز د مـدني پولیسـي ځـواک لـه جوړولـو څخـه یـوه شـبه نظـامي پولیسـي ځـواک یـا د بلـواوو

ضد څواک جوړولو ته اوړي. په افغانستان کې د مېشتو پولیسو د کره شمېرې په اړه رپوټونه لري. د ۱۳۸۵ کال د مرغومې په میاشت کې د کورنیو چارو وزارت رپوټ ورکړ چې د افغان ملي پولیسو شمېره به ۵۹۲۵۸ تنو ته رسېږي. د امریکې د متحده ایالاتو د امنیت د اوښت ګډې قوماندانۍ- افغانستان (۳۳م مخ) اټکل کړی چې د افغان ملي پولیسو ۲۸۰۰۰ تنه پرسونل د ۱۳۸۵ کال د چنګاښ له لسمې (د جولای لمړۍ) نېټې څخه بنسټیزې روزنې بشپړې کړې دي. افغان ملي پولیسو تر ۲۰۰ کمې ښځې ګمارلې دي.

پر ملي پولیسو اصلي حاکم قوانین د ۱۳۸۴ کال د پولیسو قانون او د ۱۳۸۳ کال د لنډمهالو کورنیو جزایي محاکمو اصول دي. دغه قوانین د اساسي قانون د ۵۲، ۷۵ (۳) او ۱۳۴ مادو ولاړ دي. په ۱۳۸۵ کال کې د کورنیو چارو وزارت د پولیسو د قانون د ۴ مادې د تعدیل امر صادر کړ، کوم چې د پولیسو د مرتبو لړۍ نوې کړه. نوې لړۍ داسې ده: ۱) د کورنیو چارو وزیر، ۲) د امنیتي چارو مرستیال وزیر، ۳) ساحوي قوماندانان، ۴) د پولیسو ولایتي رئیسان، ۵) د ولسوالیو په کچه د پولیسو رئیسان. د دغه نوښت په پایله کې په ۱۳۸۵ کال کې په کابل، ګردېز، کندهار، هرات او مزار شریف کې د افغان ملي پوځ د قوماندانیو په شان د افغان ملي پولیسو پنځه ساحوي قوماندانۍ جوړې شوې.

څارمن (د افغان ملي پولیسو کدري افسر) باید له ۱۲م ټولګي څخه فارغ او د کابل د پولیسو په اکاډمۍ (KPA) کې دری کاله زده کړه وکړي. ساتنمن (یو غیر کدري افسر) باید ۹م ټولګی یې بشپړ کړی وي او د کابل د پولیسو په اکاډمۍ کې نه میاشتې زده کړه وکړي. *ساتونکي* هم په مرکزي روزنیز مرکز کې او یا هم په ځایي روزنیزو مرکزونو لکه په بامیانو، ګردېز، هرات، جلال آباد، کندهار، کندز او مزار شریف کې روزنیز کورسونه بشپړ کولای شي.

د پولیسو د سکتور سمون چې د افغانستان د دولت د امنیتي سکتور د سمون ستراتېژۍ (۳۳ مخ) د پنځو ارکانو څخه یو رکن دی، چې په بنیادي توګه پر روزنه او مشاوره، د تجهیزاتو او بېخبناوو په چمتوکولو، او بنسټیز جوړښت په نوښت لکه د معاش او رتبو پر سمون تمرکز کړي. په افغانستان کې د پولیسو له سکتور سره د اصلي پارټنر په توګه د آلمان په ګډون، د ۲۵ بسپنه ورکوونکو هېوادونو لخوا مرسته کېږي. د ۱۳۸۳ کال راپد ښخوا د امریکې متحده ایالات د پولیسو د سکتور سره د انساني او مالي سرچینو تر ټولو لوی مرسته کوونکي دي چې په ۱۳۸۲ کال کې د اټکل له مخې ۲.۵ میلیارد امریکایي ډالره مرسته کړېده. د ۱۳۸۴ کال راپد ښخوا د امریکې د متحده ایالاتو د پولیسو د سمون هڅې د ملي پوځ د روزلو او پراختیا سره یوځای، د امریکې د متحده ایالاتو د امنیت د اوښت ګډې قوماندانۍ- افغانستان (مخ) لخوا مخته بېول کېدې.

آلمان د۱۳۸۲-۱۳۸۶ کلونو ترمنځ افغان ملي پولیسو لپاره د اروپایي ټولنې د هېوادونو مرستې همغاړې کولې، او همدارنګه د آلمان د پولیسو د پروژې (GPPO) له لارې یې ۸۰ میلیون ډالره مرسته کړېده. د دغه دورې په بهیر کې د پولیسو د چټک غبرګون ډلې (IPCAG) په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې د پولیسو د همغږۍ د اصلي سازمان په توګه خدمت کړئ دي. د ۱۳۸۲ کال د غبرګولي په میاشت کې په افغانستان کې

د اروپـــايي ټــولنې د پوليســـو پـــلاوي (EUPOL) د اروپـــايي ټـــولنې د غـــړو هېوادونـــو د مختلفـــو كـــړنلارو د يوكولـو پـه موخـه د پوليسـو د سـمون پـه برخـه كـې د آلمـان پـه لمړنـۍ ونـډه كـې شـامل شـو؛ د ۱۳۸۷ كـال پـه پسـرلي كـې بـه پـه افغانسـتان كـې د اروپـايي ټـولنې د پوليسـو پـلاوي پـه ټـول افغانسـتان كـې مېشـت د پوليسو د سمون ۱۹۵ سلاكاران، روزونكي او څارونكي ولري.

د بسـپنه وركوونكـو هېوادونـو پـه مـنځ كـې د پوليسـو د سـمون كـړنلارې پراخـه توپيرونـه لـري، او د دغـه كـړنلارو د يـووالي لپـاره هڅـې ډېـرې پخـې دي. د ۱۳۸۵ كـال پـه وروسـتيو كـې بسـپنه وركوونكـو او افغـان دولـت د پوليسـو د سـمون د نړيوالـو هڅـو د يـووالي، او د سـمون پـه بهيـر كـې د افغانسـتان د ونـډې د زيـاتوالي پـه موخـه د پوليسـو د همغـږۍ نړيـوال هيـات (IPCB) رامنځتـه كـړ. د ۱۳۸۲ كـال پـه منځنيـو كـې د دغـه هيـات دارالانشـاء فعالـه شـوه، د دغـه غـړي د امريكـې د متحـده ايـالاتو د امنيـت د اوښـت ګـډې قومانـدانۍ- افغانسـتان (CSTC-A, EUPOL) او د نړيوالـو سـوله سـاتو ځواكونـو (۲۳م مـخ) سـره پـه منظمـه توګـه غونـډې كوي.

د ملګـرو ملتونـو د پراختيـايي اداري لخـوا تنظـيم شـوي د افغانسـتان د قـانون او نظـم وجهـي صـندوق (۲۳م مـخ) پـه لومړيـو كـې د افغـان ملـي پوليسـو د معاشـونو لپـاره د بسـپنه وركوونكـو هېوادونـو د مرسـتو د همغږۍ دنده په غاړه درلوده.

# افغان ملي پوځ (ANA)

افغان ملي پوځ (ANA) د ۱۳۸۱ كال د ليندۍ په ۱۰مه نېټه د ولسمشر حامد كرزي د فرمان په بنسټ رامنځ ته شو. دا سې فرض كړل شوې وه چې دا يو بشپړ داوطلبانه ځواک دی چې په هغه كې د هره ټولنيزه او توكمي ډله ونډه ولري، افغان ملي پوځ بايد ۷۰۰۰۰ غړو ته رسېدلای وای. كله چې په ۱۳۸۲ كال كې افغان ملي پوځ رامنځ ته شو د بُن د تړون لخوا د افغان دولت د امنيتي سكتور د سمون د ستراټيژۍ (۳۳م مخ) د پنځو اركانو له ډلې څخه د يوه ركن په توګه پېژندل شوی ؤ. د افغان ملي پوځ دندې عبارت دي له ۱) د سرحدونو ساتل او د بهرنيو ګواښونو مخنيوی؛ ۲) ترهګريزو ځواكونو ته ماتې وركول؛ ۳) د غير قانوني وسله والو ډلو انحلال، ملكي ژوند ته راګرځول، يا بندي كول، او ۴) د افغان ملي پوليسو (۴م مخ) سره په همغږۍ د كورنيو امنتي ګواښونو او بېړنيو حالاتو كنټرول.

د افغان ملي پوځ ۷۰۰۰۰ كسيز پرسونل چې د ۱۳۸۷ كال تر منځنيو پورې روزل كېږي، ۵۰ په سلو كې به برحال سرتېري وي، ۲۵ په سلو كې به لوژستيک او ملاتړ سمبالوي او ۲۵ په سلو كې به نوي ګمارل شوي سرتيري، روزونكي او له خدمت څخه بهر سرتيري تشكيلوي. د ۱۳۸۲ كال د تلې په مياشت كې ملي پوځ د پنځه ځكمني مانور د قطعو او د لمړنۍ هوايي عملياتي قطعې په ګډون ۵۵۰۰۰ پرسونل درلود. د افغان ملي اردو كنډكونه د ۷۰۰-۸۰۰ سرتيرو، كنډک مشر او افسرانو څخه جوړ شوي دي. د هغه د پراختيا د رسمي پلان په بنسټ په ۱۳۸۸ كال كې به ملي پوځ په سپكو وسلو سمبال ۱۳ غونډو كې تنظيم شوي ۷۲ كنډكونه، يو ميكانيزه شوی غونډ، د كمانډو يو غونډ، د تقويې واحدونه

او یوه هوایي قطعه ولري. د ملي اردو د ځمکني مانور پنځه قطعې په کابل، ګردېز، کندهار، هرات او مزار شریف کې د سیمه ایزو قوماندانیو په توګه توظیف شوي دي.

ملي پوځ په اصل کې یو سپک پیاده ځواک دی چې پر کش شویو توپخانو او هاوانونو سمبال دی. د هغه روزنه داسې طرح شوېده چې د دغه ځواک ظرفیت داسې ځای ته ورسوي چې د افغانستان د خپلواکۍ په ساتلو او دفاع، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا او د کورنیو او بهرنیو ګواښونو په شنډولو کې د مشرتابه رول ولوبوي. د شوروي اتحاد د دوران پر الوتکو سمبال افغان ملي هوایي ځواک پدې موخه روزل کېږي ترڅو یو لړ ماموریتونه سرته ورسوي چې په هغوي کې د ولسمشرۍ هوایي لېږد، روغتیایي او دتلفاتو اخراج، کشف او هوایي قومانده او کنټرول او سپک هوایي برېدونه شامل دي.

افغان ملي پوځ د امریکې د متحده ایالاتو په مشرۍ د ائتلافي ځواکونو (۳م مخ) او د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو(۲۳م مخ) لخوا روزل کېږي. د ائتلاف ځواکونه او د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو افسران د ملي پوځ په قوماندانیو، سیمه ایزو قوماندانیو او د ملي پوځ په هر کنډک کې ځای په ځای شوي تر څو د روزنې او عملیاتو لپاره تخنیکي مرستې چمتو کړي. نوي روزل شوي کنډکونه د دندو یوه پراخه لړۍ مخته بیایي، له شدیدو مبارزوي عملیاتو څخه د امنیت او ثبات تر عملیاتو پورې.

د جغرافیایي او توکمي انډول د ډاډمن کولو په موخه افغان ملي پوځ د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د جلب او جذب مرکزونه لري. په هره میاشت کې کابو ۲۰۰۰ نوي سرتیري له ملي پوځ سره یو ځای کېږي. نوي سرتیري ۱۲ اوونیز روزنیز کورسونه د کابل په پوځي روزنیز مرکز (KMTC) کې د راتلونکي لپاره په پام کې نیول شوي کمانډو له عساکرو سره چې ۱۲ اوونیز کورسونه بشپړوي، پاي ته رسوي. ټول روزونکي افغانان دي چې د امریکې متحده ایالاتو، بریټانیا ،فرانسې او کله ناکله د منګولیا د پوځي روزونکو لخوا ورسره مرسته کېږي. د کابل د پوځي روزنیز مرکز څخه په فارغېدو سره د ملي پوځ ټول سرتیري د دوي د مېشت کېدو په ساحه کې د ځای په ځای شویو بهرنیو ځواکونو لخوا د دریو اونیو ساحوي روزنیز تریننګ اخلي. د افغان ملي اردو پرسونل یو درې کلن تړون لاسلیک کوي، کوم چې په داوطلبانه توګه تمدید کېداي شي. د خدمت اعظمي موده ۲۰ کاله ده.

افغان ملي پوځ د ملي دفاع د وزارت په چوکاټ کې چوپړ کوي او د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) یوه برخه جوړوي، په کوم کې چې افغان ملي پولیس او په هغه کې دننه سرحدي پولیس، هم راځي. د افغان ملي پوځ د روزنې او سمبالتیا اصلي پارټنر د امریکې متحده ایالات دي او د اړین تخنیکي او مالي ملاتړ یوه زیاته برخه چمتو کوي. د امریکې متحده ایالاتو ژمنه کړې چې د ۱۳۸۲-۱۳۹۰ کلونو په بهیر کې د افغان ملي پوځ په روزلو او تجهیز باندې **۵.۳** میلیارد امریکایي ډالر لګوي.

افغان پوځي ځواکونه(AMF)، کله کله افغان ملېشه ځواکونو ته هم استعمالېږي چې د شمالي اتحاد او د طالبانو د دورې نورو وسله والو ډلو ته ورکړل شوي ټولیز نوم دی، افغان پوځي ځواکونه د بې وسلې کولو، نظامي خدمت څخه د ترخیصولو او ملکي ژوندانه ته د بېرته راګرځولو (۸م مخ) د پروګرام له لارې

په رسمي توګه منحل شوي دي؛ د مخکينيو جګړه کوونکو څخه يواځې ۲.۳ په سلوکې د افغان ملي اردو لپاره غوره شوي دي.

## بــــو دجه

په ۲۰ پاڼه کې ملي بودجه وګورئ

## بې وسلې کول، له پوځي خدمت څخه ترخيصول او ملکي ژوند انه ته بېرته راګرځول (DDR)

په ۲۵ پاڼه کې د افغانستان د نوي پيل پروګرام وګورئ.

## بېړنۍ لويه جرګه (ELJ)

د بن د تړون سره سم بېړنۍ لويه جرګه (ELJ) د ۱۳۸۱ کال د غبرګولي د مياشتې له ۲۱ څخه تر ۲۹ نېټې پدې موخه جوړه شوه "چې په افغانستان کې د آزادو او منصفانه ټاکنو له لارې د ټاکل شوي دولت تر منځته راتګ پورې د پراخ بنسټه انتقالي حکومت له لارې د افغانستان چارې تنظيم کړي، ټاکنې بايد د بېړنۍ لويې جرګې د جوړېدو څخه وروسته تر دوه کلونو په کم وخت کې ترسره شي." بېړنۍ لويه جرګه په خپلو دندو کې د ولسمشر په توګه د حامد کرزي ( چې مخکې د افغانستان د لنډمهالې اداري رئيس ؤ ) په ټاکلو او هغه ته په لوړه ورکولو او همدارنګه د هغه د کابينې په تصويب او پدې وسيله د انتقالي حکومت (۱۸ مخ ) په رامنځته کولو کې پراخ برياليتوب ترلاسه کړ.

يو ځانګړي خپلواک کميسيون (د لويې جرګې کميسيون) د بېړنۍ لويې جرګې لپاره اصول او قواعد وضع کړل چې بايد د ۱۵۰۱ وکيلانو لپاره ځوکۍ ولري چې په هغوی کې ۱۲۰ تنه ښځې وي.په پاي کې ۱۲۵۰ تنو استازو ګډون وکړ چې په هغوي کې تر ۲۰۰ زياتې ښځې وې. د بېړنۍ لويې جرګې د جريان او پايلو په اړه اند ښېننې په لاندې برخو کې موجودې وې: د استازو د ټاکلو معيارونه، د دولت د جوړښت او د کابينې د غړو د ټاکلو لپاره د منصفانه رايو په اچولو کې پاتې راتګ، د استازو ګواښول او په پروسه کې د روڼوالي د پام وړ نشتوالي. فکر کېده چې د اساسي قانون په لويه جرګه (۱۴م مخ ) کې د استازو کړنې چې په ۱۳۸۲ کال کې جوړه شوه، د بېړنۍ لويې جرګې په پرتله يو پرمختګ وي، ځکه د ګواښولو او ځورولو کم رپوټونه ورکړل شول.

## پراختيايي بودجه

په ۲۰ م مخ کې ملي بودجه وګورئ.

# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو همغږي، ۱۳۶۷-۱۳۸۷




# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستو هيات (UNAMA)

www.unama-afg.org

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستو هيات د امنيت د شورا د ۱۳۸۱ کال د وري د مياشتې په ۸مه د ۱۴۰۱ شمېره پرېکړې پر بنسټ جوړه شوه. يوناما په افغانستان کې د بن د تړون (۳۷م مخ) سره سم د ملګرو ملتونو د ژمنو د پوره کولو دنده لري او همدارنګه له افغان دولت سره د ملګرو ملتونو د بشري مرستو، بيارغنيزو مرستو او همغږۍ مسئوليت هم لري.

يوناما د ملګرو ملتونو د مرستو د هيات دوه دفترونه جذب کړي چې مخکې تر هغه جوړ شوي وو: د افغانستان لپاره ځانګړئ هيات، چې يو سياسي هيات ؤ او د ۱۳۷۵ کال د چنګاښ په مياشت ( د ۱۹۹۶ جولاي) کې پيل شوي ؤ؛ او د افغانستان لپاره د بشري مرستو د همغږۍ دفتر چې د مرستو او بيارغونې يو هيات ؤ او د ۱۳۷۲ کال د مرغومې (د ۱۹۹۳ د جنوري) په مياشت کې خپل کارونه پيل کړل. د افغانستان لپاره د بشري مرستو د همغږۍ د دفتر څخه مخکې

د افغانستان لپاره د بشري او اقتصادي پروګرامونو د همغږۍ دفتر په افغانستان کې د بیارغونې د همغږۍ دنده درلوده.

د تیری پاڼې انځور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د همغږۍ د بشپړتیا خوځښت ۱۳۸۱ د کب د میاشتې د ۱۴۷۱ پرېکړې، د ۱۳۸۲ کال د کب د میاشتې د **۱۵۳۶** پرېکړې، د **۱۳۸۳** کال د کب د میاشتې د **۱۵۸۹** پرېکړې او د ۱۳۸۴ کال د کب د میاشتې د ۱۶۲۲ پرېکړې په بنسټ تمدید شوېده. وروستنۍ پریکړې د یوناما فرمان د ۱۳۸۲ کال د کب تر میاشتې پورې تمدید کړ، او یوناما ته لارښوونه کوي چې: د سولې د پروسې لپاره سیاسي او ستراتېژیکي مشورې ورکړي؛ ښه دفترونه جوړ کړي؛ د افغانستان د تړون په پلي کولو کې د افغان دولت سره مرسته وکړي؛ بشري حقوقو ته وده ورکړي؛ تخنیکي مرستې چمتو کړي؛ او د افغان دولت سره په همغږۍ د ملګرو ملتونو د بشري مرستو، بیارغنیزو مرستو او پراختیایي فعالیتونه تنظیم کړي.

د یوناما مشري د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي لخوا کېږي. د ځانګړي استازي دفتر د پالیسۍ د لارښوونې او د لوړې کچې پرېکړو د کولو دنده لري او دغه راز له حکومت، ائتلافي ځواکونو (۳م مخ) او نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (۲۳م مخ) سره رابطه لري. د سرمنشي د ځانګړي استازي دفتر د بشري حقوقو، جنسیت، درملو، د قانون د حاکمیت، پولیسو، پوځیانو، ملکي کولو او قانوني مسئلو په برخو کې ځانګړي سلاکاران لري، او همدارنګه یو ویاند لري چې د اړیکو او عامه پوهاوي د دفتر د مخته بېولو دنده لري.

د سرمنشي د ځانګړي استازي دوه مرستیالان د یوناما د فعالیتونو دوه برخې مخته بیایي: ۱) سیاسي چارې، او ۲) مرستې، پرمختیا او بیارغونه. د یوناما د کارکوونکو مشر د یوناما د ماموریت د دواړو برخو د همغږۍ او په کابل، بلخ، کندز، غور، هرات، ننګرهار، بامیانو، پکتیا، خوست، نیمروز، بادغیس، هرات، فاریاب، بدخشان، دایکندي، کندهار او زابل کې د ۱۷ سیمه ایزو دفترونو لپاره د مرستې برابرولو دنده لري.

په **۱۳۸۲** کال کې د یوناما فعالیتونو پر: د همغږۍ او څارنې د ګډ هیات (JCMB)، د پالیسۍ د عمل ډله (**۳۹**م مخ) او نړیوالو سوله ساتو ځواکونو له لارې د بسپنه ورکوونکو او دولت تر منځ همغږۍ ته په وده ورکولو؛ په ولایتي کچه د شخړو حل کول؛ د ملکي مړینې د مسئلې راپورته کول او د مړینو د تصدیق پروسه؛ د افغان ملي پولیسو (**۴**م مخ) په دننه کې د لوړ پوړو افسرانو د جنایي او بشري حقوقو د سرغړونو په اړه پلټنه د معاش او رتبې د سمون دبرخې په توګه؛ او د کورنیو چارو د وزارت سمون ته په مشوره ورکولو متمرکز وو.

د ملګرو ملتونو دټولو دفترونو کارونه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پراختیایي مرستو د کاري چوکاټ (UNDAF) په وسیله تنظیمېږي، چې نوموړې چوکاټ یو عملیاتي چوکاټ دی چې د ملګرو ملتونو د **۱۳۸۳** کال د ارزونې په بنسټ جوړ شوی دی. دغه چوکاټ چې په اصل کې د **۱۳۸۵-۱۳۸۷** کلونو لپاره جوړ شوی ؤ د **۱۳۸۸** کال لپاره هم تمدید شویدی. دغه چوکاټ د دې مودې لپاره د ملاتړ او همغږۍ څلور بحراني برخې په ګوته کوي: ۱) حکومت کول، د قانون حاکمیت او د بشر حقوق؛ ۲) باثباته معیشتونه؛ **۳**) روغتیا او پوهنه؛ او **۴**) چاپېریال او ملي

سرچینې. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پراختیایي مرستو یو نوي چوکات نبايي په ۱۳۸۷ کال کې جوړ شي؛ دغه چوکاټ به د افغانستان د ملي پرمختګ د ستراتیژۍ د وروستنۍ نسخې (۲۹م مخ) پر بنسټ جوړېږي.

# په افغانستان کې د نادولتي موسسو د امنیت دفتر (ANSO)

www.afgnso.org

په افغانستان کې د نادولتي موسسو د امنیت دفتر په ۱۳۸۲ کال کې جوړ شو، چې په افغانستان کې د نادولتي موسسو د ټولنې د اړتیا وړ امنیتي مشورتي خدمات وړاندې کوي. دغه دفتر سره مالي مرسته د اروپايي کمیسیون د بشري مرستو د دفتر (ECHO) او د همکارۍ او پرمختګ لپاره د سویس اداري لخوا کېږي. دغه دفتر د ۱۳۸۵ کال د زمري په میاشت کې د جرمن اګرو اکشن تر چتر لاندې راغئ؛ مخکې دغه دفتر د ژغورنې د نړیوالې ټولنې سره تړاو درلود.

د دغه اداري مرکزي دفتر په کابل کې دی او سیمه ییز دفترونه یې په کابل، مزار شریف، هرات، جلال آباد او کندهار کې دي. پدې ولایتونو کې د منظمو امنیتي غونډو تر څنګ لاندې خدمات وړاندې کوي:

- اوونیز امنیتي معلومات، ورځني ګواښونه او د موقعیت ځانګړې مشورې؛
- د نادولتي موسساتو د خوندیتوب لپاره د هېواد په کچه معلومات
- سازماني او شخصي امنیتي سپارښتنې
- د عملیاتو د سیمو سروې
- د امنیتي پېښو خبرنه
- له ناورینو څخه د خلاصون لپاره ثبت شویو انجنیرانو د ټولنې (RedR) په ګډون د امنیتي روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛ او
- په ملي او نړیوالو امنیتي ادارو کې د نادولتي موسسو استازیتوب

د دغه ادارې ټول ملي او نړیوال پرسونل په امنیتي حالاتو او خوندي کولو کې مهارت لري. لدې ادارې سره د اړیکې لپاره د کتاب د اړیکو برخه وګورئ.

# د احصائیې مرکزي دفتر (CSO)

www.cso.gov.af

د احصائیې مرکزي دفتر د رسمي شمېرو د راغونډولو او خپرولو مرکزي دولتي اداره ده. دغه اداره له نورو دولتي مقاماتو څخه د ملي شمېرو، بیو، بهرنۍ سوداګرۍ، او نفوس په اړه معلومات راغونډوي او

تحلیلـوي یـې ترڅـو پـر اقتصـادي، مـالي، جوړښـتي پالیسـیو او نـورو عملیـاتو کـې تـرې ګټـه واخلـي. د احصـائیې مرکـزي دفتـر د افغانسـتان کلنـی احصـائیوي کتـاب ، د میاشـتني مصـرف کوونکـو مقیـاس (CPI)، او د سوداګرۍ د احصائیې یو میاشتنی کتاب خپروي.

د احصـائیې د مرکـزي دفتـر کـار پـه دریـو لویـو څـانګو وېشـل شـوی دی: اقتصـادي احصـائیه، د نفوسـو او ټـولنیزه احصـائیه، او عملیـات. دوې لمړنـۍ څـانګې د وروسـتۍ څـانګې د لاسـته راغلـو معلومـاتو د تحلیـل مسئولیت لـري. د ۱۳۸۴ کـال پـه لومړیـو کـې د احصـائیې مرکـزي دفتـر د پلټنـې لـه ملـي سیسـتم (۱۱م مـخ) سـره د دغـه دفتـر دننـه کـې د داسـې واحـد پـر جوړېـدو هـوکړه وکـړه چـې د پلټنـې د ملـي سیسـتم د ملـي ګوابنـونو او زیانمننی د ارزونې اداری (۴۹م مخ) لپاره د معلوماتو د راغونډولو مسئول وي.

د احصـائیې مرکـزي دفتـر چـې پـه ۱۳۵۲ المریـز کـال کـې جـوړ شـوی وو د ۱۳۸۴ کـال د کـب پـه میاشـت کـې د ولسمشـرۍ د فرمـان پـه بنسـټ یـو خپلـواک ارګـان تـه واووښـت. د دغـه دفتـر ۵۰۰ تنـه کـارکوونکي د کابـل پـه مرکـزي او پـه هـر ولایـت کـې پـه فرعـي دفترونـو وېشـل شـوي دي. د احصـائیې مرکـزي دفتـر دارالانشـأ اوس مهـال ملـي مـدني کمیټـې (NCC) تـه رپـوټ ورکـوي، کومـه چـې د اقتصـاد وزارت، د مـالیې وزارت، د ښـځو د چارو د وزارت او د عامې روغتیا د وزارت د استازو څخه جوړه شوېده.

پـه ۱۳۸۳ کـال کـې د احصـائیې مرکـزي دفتـر ملـي مـدني کمیټـې تـه د احصـائیې د ماسـتر پـلان یـوه مسـوده وړانـدې کړه چې پـه هغـه کې داسـې یـو پروګرام طرح شوې ؤ چې د هغـه پـه پلي کولـو سـره د احصـائیې د مرکـزي دفتـر ظرفیـت لـوړ شي ترڅـو وکـولای شي د دولـت د پروګـرام جوړولـو لپـاره د اړینـو معلومـاتو د راغونـډولو جوګـه شي. دغـه پـلان د ملـي مـدني کمیټـې لخـوا د ۱۳۸۴ کـال د وږي پـه میاشـت کـې تصـویب شـو او ورسـره یوځـاي د احصـائیې مرکـزي دفتـر د رسـمي دنـدو د ښـودلو، د هغـه د انعطـاف د زیـاتوالي او د شـفافیت او حساب ورکولو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه د احصائیې د تسوید شوي نوي قانون تصویب شو.

د احصـائیې مرکـزي دفتـر پـه پـام کـې لـري چـې د بُـن د تـړون د حکـم سـره سـم د ۱۳۸۷ کـال د چنګـاښ پـه میاشـت کـې یـوه سرشـمېرنه سـرته ورسـوي. آخرنـۍ سرشـمېرنه پـه ۱۳۵۸ کـال کـې پـه لاره اچـول شـوې وه مګـر پـاي تـه ونـه رسـېده. د احصـائیې مرکـزي دفتـر د ۱۳۸۲ کـال راهیسـې د سرشـمېرنې پـه لومړنیـو کـارونو اختـه دی؛ د ۳۴ ولایتونـو د کورنیـو لمړنـي لسـتونه پـه ۱۳۸۵ کـال کـې اعـلان شـوي دي. عامـه سرشـمېرنه کـابو ۲۰ ورځـې وخـت، اټکـل شـوي ۴۴ میلیـون ډالـره لګښـت او ۲۵۰۰۰ کـارکوونکو تـه اړتیـا لـري. د ۱۳۸۲ پـه منځنیـو کـې د احصـائیې مرکـزي دفتـر یـوه آزمایښـتي سرشـمېرنه پیـل کـړه تـر څـو هغـه خنډونـه چـې دوي بـه ورسـره پـه ۱۳۸۷ کـال کـې مـخ شـي، څرګنـد کـړي. پـه اوسـنیو امنیتـي حـالاتو کـې د هېـواد پـه ټولـو سـیمو کـې د غنـي او د اعتبـار وړ سرشمېرنې د سرته رسولو په اړه اند ښېنې شته دي.

## د اداري چارو عمومي ریاست او د وزیرانو شورا دارالانشاه (OAA)

د اداري چارو دفتر په اجرائيوي کچه د همغږۍ او مشورې یوه اداره ده چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت له ولسمشر سره د حکومت د مشر او د وزیرانو شورا د رئیس په توګه مرسته کوي. په اصل کې دغه اداره په ۱۹۵۰ لسیزه کې د ظاهر شاه د واکمنۍ په مهال رامنځته شوه، دغه اداره په ۲۰۰۵ کال کې بیا جوړه شوه او دوه اساسي دندې لري: د فزیکي اداري ښېخبناوو لکه (ټرانسپورټ، معلوماتي ټکنالوجي، بشري سرچینې، او مالي) ادارو وده او بله هم د پالیسي ګانو د همغږۍ باوري کول دي.

که څه هم چې دا یوه اجرائیوي اداره ده، مګر داسې طرح شوې چې بې طرفه وي. لدې کبله دغه اداره پالیسي نه جوړي بلکه د پالیسو د همغږۍ په برخه کې مرسته کوي. د اداري چارو دفتر د وزارتونو لخوا چمتو شوې مسودې ګوري ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دغه مسودې د افغانستان د لنډمهالې ملي پراختیایي ستراتیژي (۲۹م مخ) سره سمون لري، مهمې مسئلې څرګندوي او یوه روښانه او دقیقه بودجه لري. کله چې مسوده یوځل د دغه اداري لخوا تصویب شي دغه مسوده ولسمشر او کابینې ته د وروستۍ کتنې او احتمالي تصویب په موخه لېږل کېږي. کله چې یوه پالیسي تصویب شي، د اداري چارو دفتر د هغه د پلي کېدو پر بهیر څارنه کوي.

## د اداري سمون او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون (IARCSC)

دغه کمیسیون د بن د تړون سره سم د ۱۳۸۱ کال د غویي په میاشت کې پدې موخه جوړ شو چې د افغان دولت چارې د عامه اداري د سمون (۵۸م مخ) لوري ته بوزي. د دغه کمیسیون دندې په ۱۳۸۲ کال کې د ولسمشرۍ د دوه فرمانونو په وسیله تعدیل او پراخه کړل شوې، او د کمیسیون نوم په اوسني نامه بدل شو. د دغه کمیسیون پر کارونو د وزیرانو د مشورتي کمیټې (MAC) لخوا څارنه کېږي، کومه چې پنځه دایمي - د بهرنیو چارو ، کورنیو چارو ، مالیې ، عدلیې او د کار او ټولنیزو چارو وزیران – او درې نوبتي غړي لري.

د اداري سمون او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون څلور لویې څانګې لري: یوه د مدني خدماتو اداره، یوه دارالانشاء، د ټاکنو خپلواک هیات او یو د غوښتنو خپلواک هیات. د ملکي خدماتو اداره د ټولو عمومي ملکي خدماتو او اداري چارو دنده لري. دغه اداره ددې کمیسیون د پروژو لپاره لکه د عامه اداري سمون، بیړنده سمون او د تشکیلاتو د تجدید پروګرام (PRR)، او د بیا روزلو، بیا مهارت زده کولو او بیا مېشت کولو پروګرام (RRR) لپاره ستراتیژۍ او کړنلارو ته وده ورکوي. دغه اداره د نویو معاشونو او رتبو د میکانیزم په جوړولو، د تقاعد په نوي پلان او د ملکي خدماتو د نوي قانون د مسودې په جوړولو کې ګډه ده.

د دارالانشاء څانګه د ملکي خدماتو د ظرفیت لوړولو او سمون په برخه کې د اخته نورو سازمانونو سره د کمیسیون د همغږۍ دنده لري. دغه دارالانشاء د وزیرانو د مشورتي کمیټې او نورو بسپنه ورکوونکو سره اړیکه نیسي او ولایتونو ته د کمیسیون د کارونو په پراختیا کې کار کوي. دارالانشاء په ګردیز، هرات، جلال آباد، کندهار، کندز او مزار شریف کې د کمیسیون پر شپږو دفترونو څارنه کوي.

د ټاکنو خپلواک هیات ددې لپاره جوړ شوی ترڅو د ملکي خدماتو د پوستونو دوهمې یا لوړو درجو ته وړ کسان وټاکي او د دریمې درجې او تر هغې ټیټ بستونو لپاره ټاکنې وڅاري. د غوښتنو خپلواک هیات هغه مجتمع ده چې د هغه له لارې ملکي کارکوونکي کولای شي د ټاکنو د هیات د غوره کولو او پرېکړو په اړه د شکایتونو په ګډون، خپل شکایتونه وړاندې کړي. دواړه اداري د کمیسیون تر پاملرنې لاندې مګر خپلواکې دي او په خپلواکه توګه کار کوي.

په ۱۳۸۲ کال کې د اداري سمون او ملکي خدماتو کمیسیون او دملګرو ملتونو پراختیایي ادارې د ملکي خدماتو د مشرتابه د پرمختګ پروژه پیل کړه، کوم چې د لومړیتوب وړ دولتي ارګانونو د ډېر شمیر لوړ پوړو ملکي مامورینو د روزنې پوسیله د ظرفیتونو د غښتلي کولو په موخه طرح کیږي. دغه پروګرام د ملکي خدمتونو د انستیتیوت ملاتړ د ځان سره لري، چې په کال ۱۳۸۲ کې د روزنیزه اسانتیا لپاره په کابل کې پرانستل شو.

د اداري سمون او ملکي خدماتو د کمیسیون لپاره مالي او تخنیکي مرسته د ملګرو ملتونو د پراختیایي ادارې، د آسیا پراختیایي بانک، نړیوال بانک، اروپایي ټولنه، د نړیوال پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو اداره، د برتانیا دولت، کوریا، استرالیا، ناروې، سویتزرلنډ او آلمان لخوا چمتو کیږي.

# د اساسي قانون لویه جرګه (CLJ)

د اساسي قانون متن د دغه کتاب د ۸۲ ځخه تر ۱۰۸ مخونو کې موجود دی.

د اساسي قانون د لویې جرګې جوړېدل د نوي اساسي قانون پر سر د موافقې تر ټولو لوړه کچه وه. د اساسي قانون لویه جرګه د ۱۳۸۲ ل کال د لیندۍ په ۲۳مه نیټه پرانیستل شوه او د ۲۲ ورځو لپاره یې ادامه درلوده. د ۵۰۰ وکیلانو ځخه ۴۵۰ تنه د سیمه ایزو ټاکنو له لارې وټاکل شول او ۵۰ تنه د حامد کرزي له لوري غوره کړل شول. د تولو ځوکیو پنځمې برخې ځخه زیاتې د ځانګړې کټګورۍ استازو لپاره ځانګړې شوې وې، د بېلګې په توګه، ښځې، په پاکستان او ایران کې کډوال، کورني بېځایه شوي، کوچیان، هندوان او سکان.

د اساسي قانون پر مسوده د اساسي قانون د تسوید د کمیسیون او د اساسي قانون د بیاکتلو د کمیسیون لخوا مباحثې وشوې. د ۱۳۸۲ کال د غبرګولي د میاشتې په ۱۷مه نېټه، د مدنې زده کړو د یو میاشتني فعالیتونو ځخه وروسته، د اساسی قانون یوه مسوده د عامه نظریاتو د راغونډولو لپاره په افغانستان کې او د کډوالو ټولنو په منځکې په پاکستان او ایران کې هیوادوالو ته وړاندی شوه. د ملګرو ملتونو د مرستو هیات (UNAMA) اټکل کړې چې پدې پروسه کې ۱۷۸۰۰۰ تنو ګډون کړئ ۇ چې د هغوی له ډلې ځخه ۱۹ په سلو کې ښځینه ګډون کوونکې وو. د اساسي قانون د بیاکتلو کمیسیون د هغه وروستنۍ مسوده د ۱۳۸۲ ل کال د لړم د میاشتې په ۱۲ نېټه خپره کړه.

د اساسي قانون په لویه جرګه کې وکیلان په کاري ډلو وېشل شوي وو تر ځو د اساسي قانون د مسودې پر متن بحث وکړي. د روغې جوړې یوې کمیټې په مسوده کې د کاري ډلو د وړاندیزونو د ځاي په ځاي کولو په موخه د مسودې متن تصحیح کړ. په بحثونو کې جذباتي مذاکرې، تحریمونه، او تودې خبرې رامنځ ته شوې. د ټولو لانجمنو مادو په اړه رایې اچول کېدې، چې زیاتره یې د دولت، د اسلام د ونډې، ملي ژبو،

ملي بيرغ او د وزيرانو دوه ګوني تابيعتونو پـه اړه وي. کـه څـه هم چې رايې ونه اچول شوې، د ۱۳۸۲ ل کـال د مرغومې د مياشتې پـه ۱۴ نېټه د لويې جرګې د پـاي تـه رسېدلو مراسم جوړ شول چې هلته وکيلانو پـه درېدو سره د اساسي قانون وروستنی متن تصويب کړ.

اساسي قانون پـه رسمي توګـه د ۱۳۸۲ کـال د سلواغې د مياشتې پـه ۷ نېټـه د ولسمشـر حامـد کـرزي لخوا لاسليک شو. دغـه قانون ولسمشـر او د هغـه د دوه مرستيالانو (۸۲ مـخ)، د وزيرانو کابينـه او د پارلمـان (۸۱ مـخ) دوه جرګګيـو ولسـي جرګـې او مشـرانو جرګـې جوړېـدو تـه زمينـه برابـره کـړه. دغـه قانـون افغـان نارينـه او ښځو تـه مساوي حقوق ورکوي او افغانستان د بشـر د حقوقـو د نړيوالـو دنـدو سـرته رسولو تـه ژمـن کـوي. دغـه قانون بيـانوي چې افغانسـتان يـو اسلامي جمهوري دولت دی او د اسلام سره مخالف بل هېڅ دين نشي پلي کېداي.

# د افغان مدني ټولنې مجتمع (ACSF)

**www.acsf.af**

د افغـان مـدني ټـولنې مجتمـع (ACSF) د افغـان مـدني ټـولنې د ډلـو او فعـاليـنو يـوه شـبکه ده. دا اداره د خبـرو اتـرو لپـاره کـړنلاره رامـنځ تـه کـوي او موخـه يـې پـه سياسـي پرېکـړه کونـه کـې د افغـان مـدني ټـولنې د ونـډې پراختيـا ده. د افغـان مـدني ټـولنې مجتمـع (ACSF) د افغـان مـدني ټـولنې پـه کنفـرانس کـې تاسـيس شـوېده، کـوم چې د بـن د کنفـرانس سره همزمـان د ۱۳۸۰ پـه منځنيـو کـې دائـر شـو. د افغـان مـدني ټـولنې د مشـرانو پـه غوښـتنه دغـه مجتمـع پـه لومړيـو کـې د سـويس د سـولې د بنيـاد لخوا تمويـل کېـده. د افغـان مـدني ټـولنې مجتمـع د ۲۰۰۷ د جنوري راهيسې پـه بشپړه توګه خپلواکه ده.

د افغـان مـدني ټولنې د تعريـف سـره سـم پـه ((مـدني ټولنـه)) کـې ټـول هغـه کسـان شـامل دي چې پـه خپلـه خوښـه راغونـډ شـوي وي تـر څـو پـه عامـه ښيګڼو او مـدني چـارو کـې د شخصـي يـا سياسـي ګټـو پـه پـام کـې نـه نيولـو سـره پـه سـوله ايـز ډول ګـډون وکـړي. دغـه مجتمـع ۸۸ غـړي لـري- چې پکـې ۴۰ موسسـې (۱۰ نـادولتي موسسـې او ۳۰ د مـدني ټـولنې سـازمانونه) او ۴۸ انفـرادي کسـان- او د ظرفيـت جـوړونې، مـدني ښـوونې او روزنـې، وکالـت او رسـنيو پـه برخـو کـې ۳۱۲ شـريکبان لـري. د مشـرتابه پـلاوئ يـې لـه نهـو افغانـانو او دوه بهرنيـانو څخـه جوړ شوي چې د دوه کلونو لپاره د دغه مجتمع د غړو د کلنۍ عمومي غونډې لخوا ټاکل کېږي.

د افغـان مـدني ټـولنې د مجتمـع عمـومي موخـه داده چـې د مـدني ټـولنې پرمختـګ تـه د لانـدې لارو څخـه پراختيا ورکړي:

۱. د بيارغونې، پرمختګ او د سولې په پروسو کې د افغاني ټولنې د ټولو سکتورونو شاملول؛

۲. د مدني ټولنې پياوړتيا تر څو په ارزښتناکو مسائلو کې استازيتوب ولري؛

۳. د مدني ټولنې د شبکې پياوړتيا.

د ۱۳۸۱-۱۳۸۴ کلونو په بهیر کې د افغان مدني ټولنې مجتمع د بڼ د پرېکړه لیک د پلي کېدو ملاتړ کړئ، د اساسي قانون جوړولو په پروسه کې یې ښوونیز، رسنه ییز، او مدافعوي کارونه سرته رسولي او د ولسمشرۍ او د پارلماني ټاکنو لپاره یې د عامه معلوماتو او نوم لیکنې کمپاینونه پلي کړیدي. په ۱۳۸۴ کال کې د پارلماني ټاکنو وروسته د افغان مدني ټولنې مجتمع خپلې کړنلارې بدلې کړې، او د عامه پراختیا ځخه یې د سازمان جوړونې لوري ته ګام پورته کړ.

د ۱۳۸۴ کال راپدېخوا د افغان مدني ټولنې مجتمع د افغان مدني ټولنې د پرمختګ د نوښت (IPACS) یوه برخه وه، د دغه سازمان موخه پر جنسیت د ټینګار کوونکي فعالې مدني ټولنې پرمختګ دي. په ۱۳۸۵ کال کې د افغان مدني ټولنې مجتمع د سولې د رامنځ ته کولو یوه ځانګه جوړه کړه چې د هغه موخه د سولې رامنځته کولو او د مخالفتونو بدلون د ورکشاپونو له لارې د افغانستان د ټولنیزو بېخبناوو په بیارغونه کې برخه اخیستل دي. همدارنګه په ۱۳۸۵ کال کې د افغان مدني ټولنې مجتمع د پارلمان او نورو شریکانو د کارونو سره د مدني ټولنې د فعالینو د کار د ګوښي کولو لپاره د دفاع یوه کړنلاره جوړه کړه، د هغه پایله د چاپېریال، معیوبیت، ښځو، کانونو او رسنیو په برخه کې د مدني ټولنې نظرونه په قانون واوړي. د ۱۳۸۲ کال په لمړیو کې د افغان مدني ټولنې مجتمع خپل دفترونه په هرات، جلال آباد، مزار شریف او ګردیز کې تاسیس کړل.

د افغان مدني ټولنې مجتمع د کتابتون یو سرچینه ییز مرکز تمویلوي او په پښتو او دري یوه منظمه مجله *جامعه مدني (مدني ټولنه)* او یوه میاشتنۍ خبرپاڼه (په انګریزي، پښتو او دري) خپروي. د افغان مدني ټولنې مجتمع د افغانستان له مدني ټولنې ځخه په زیاتو غونډو کې، لکه د افغانستان پراختیایي غونډه (ADF) کې استازی توب کوي. تمویلوونکي عبارت دي له: د پراختیا او د همکارۍ لپاره سویسي دفتر، د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره (USAID)، اکسفم نویب، کاونټرپارت انټرنشنل، د ملګرو ملتونو پراختیایي اداره (UNDP)، د نړیوال پرمختګ لپاره برتانیوی اداره (DFID)، اسیایي بنیاد، د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه، د آزادي ټولنې انسټیټیوټ، د آلمان د پراختیایي خدماتو سازمان (DED)، حقوق او دیموکراسي، د ټول ټاکنو د سیستمونو لپاره نړیوال بنیاد، د پرمختګ لپاره د کرشین اید موسسه، د هنریچ بویل بنیاد، د تخنیکي مرستو لپاره جرمنۍ اداره او د بریتانیا سفارت.

# د افغان مېرمنو سازمان (AWN)

**www.afghanwomensnetwork.org**

د افغان مېرمنو سازمان د نادولتي موسساتو او انفرادي کسانو یوه شبکه ده چې د افغانو ښځو د پیاوړتیا، حقوقو او په ټولنه کې د مساوي ګډون د پراختیا لپاره کار کوي. د افغاني مېرمنو د سازمان مرکزي دفترونه په کابل کې دي او په پېښور، هرات او جلال آباد کې فرعي دفترونه لري. دغه سازمان اوس مهال ۵۷ نادولتي موسسې او ۳۰۰۰ انفرادي غړي لري. د افغاني مېرمنو سازمان د ظرفیت جوړولو،

د ښځو پر مسائلو د کارکوونکو نادولتي موسسو تر منځ د همغږۍ، او د ښځو او ماشومانو د حقوقو د دفاع په ځانګو کې فعالیت لري.

د افغاني مېرمنو د سازمان نظریه په ۱۳۷۴ کال کې د ښځو په اړه د ملګرو ملتونو په کنفرانس کې راپورته شوه، هلته چې ګډونوالو ته په افغانستان کې د ښځو تر منځ د همکارۍ اړتیا ځرګنده شوه. دغه سازمان په ۱۳۷۵ کال کې رسمي بڼه غوره کړه، او له هغه موسساتو څخه جوړ شو چې د مهاجرو مېرمنو لپاره پر بشري مرستو، ادبیاتو او پوهنې او د مسلکي او کمپیوټر په مهارتونو او همدارنګه د کوچو د ماشومانو لپاره د مرستو د برابرولو په برخو کې کار کوي.

د طالبانو د رژیم د نسکورېدو وروسته د افغاني مېرمنو سازمان پر خپل ماموریت له سره غور وکړ تر څو په افغانستان کې د ښځو حقوقو د دفاع او ساتنې په برخه کې کار وکړي، او دغه راز په دولتي ادارو کې د جنسیت په اړه روزنیز پروګرامونه، د ښځو لپاره د مشرتابه زده کړې او د ښځو او ماشومانو د حقوقو د مدافعې په برخو کې فعالیت پیل کړ.

په ۱۳۸۵-۱۳۸۲ کلونو کې د افغاني مېرمنو سازمان د افغانستان د ملي پرمختګ په ستراتیژۍ (۲۹م مخ) کې د جندر برابرۍ په مسائلو کې برخه واخیسته. دغه سازمان همدارنګه افغان ځوانانو ته د افغانستان د حکومتي سیستم د ښولو په موخه پارلمان ته د افغان ځوانانو ښوونیز سفرونه پیل کړل. نور نوښتونه عبارت دي له د مشرتابه روزنیز پروګرامونه، د ماشومانو د حقوقو ورکشاپونه، د ښځو لپاره د قانوني حقوقو پروګرام او د یوه کتابتون پروګرام تر څو د متن له لارې غوښتنې وهڅوي. د افغان مېرمنو سازمان یوه خبرپاڼه، د ځوانانو مجله، *ارتقا*، خپروي او د ښځینه نادولتي سازمانونو د استعمال لپاره یو کتابتون او د انټرنیټ کافي تمویلوي.

د افغان مېرمنو د سازمان له غړو څخه جوړه شوې عمومي اسامبله په میاشت کې یو ځل غونډه کوي. غړي په کال کې یو ځل اجرائیوي کمېټه ټاکي ترڅو د افغان مېرمنو د سازمان لپاره د پرېکړه کولو د لوېږ مرجع په توګه کار وکړي. د افغان میرمنو سازمان همدارنګه یوه سلاکاره کمېټه لري ترڅو په ستراتېژیک پلان جوړولو، د نړیوالو نادولتي موسساتو سره د همغږۍ، د مالي مرستو د موندلو د هڅو په برخو کې له اجرائیوي کمېټې سره مرسته وکړي.

د افغان مېرمنو سازمان د پروژو ځانګړې بودجه له مختلفو سرچینو څخه ترلاسه کوي، د هغوی له ډلې یونیفم، د ملګرو ملتونو پراختیایي اداره، د آلمان د تخنیکي همکاریو سازمان (GTZ)، آکسفم نویب او د ښځو نړیوال سازمان دی.

# د افغانستان انتقالي حکومت (ATA)

د افغانستان انتقالي حکومت (ATA) یو حاکمه اداره وه چې د ۱۳۸۱ کال د غبرګولي په میاشت کې د بېړنۍ لویې جرګې (۸ م مخ) لخوا رامنځ ته شوه. دا د افغانستان د لنډمهالي اداري ځخه چې یو لنډمهالي حاکمه اداره وه او د بن د کنفرانس په وسیله رامنځ ته شوه (۳۷ م مخ)، مخکې وه. د افغانستان د انتقالي حکومت مشر حامد کرزی ؤ چې وروسته د افغانستان د لنډمهالي اداري رئیس شو چې د بېړنۍ لویې جرګې د غړو د پټو رایو په بنسټ ټاکل شوی ؤ.

د افغانستان د انتقالي حکومت په وخت د ۱۳۸۲ کال د مرغومي په میاشت کې د اساسي قانون لویه جرګه (۱۴ م مخ) د افغانستان د جمهوري دولت لپاره د نوي اساسي قانون د جوړېدو پرېکړه وکړه. د ۱۳۸۳ کال د اساسي قانون پر بنسټ د افغانستان انتقالي حکومت ترهغه وخته حاکم پاتې کېدا ای شي چې د بشپړ استازیتوب حکومت د آزادو او مناسبو ټاکنو له لارې وټاکل شي. د ۱۳۸۳ کال د تلې په میاشت کې حامد کرزی په دیموکراتیک ډول د ولسمشر په توګه وټاکل شو؛ د ۱۳۸۳ کال د لیندۍ په میاشت کې د نوموړي په پرانیستنه سره د افغانستان انتقالي حکومت د افغانستان په اسلامي جمهوري دولت تبدیل شو، سره لدې چې د پارلمان ټاکنې د ۱۳۸۴ کال د وږي تر میاشت پورې وځنډول شوې.

# د افغانستان تړون لیک

د افغانستان د تړون لیک د بشپړ متن لپاره ۱۱۰ م مخ وګورئ.

د افغانستان تړون لیک د افغانستان د ملي پرمختګ لنډ مهاله ستراتیژی (۲۹ م مخ) سره یوځای د ۱۳۸۴ لمریز هجري کال د مرغومي (د ۲۰۰۶ زیږدیز کال جنوري) په میاشت کې د لندن په کنفرانس (۴۲ م مخ) کې تر بحث لاندې راغئ. دا د افغان دولت، د ملګرو ملتونو او بسپنه ورکوونکو هېوادونو تر منځ د همکارۍ د تنظیم یو پنځه کلن کاري چوکاټ دی او د همدغه لورو د سلامشورو په بنسټ رامنځ ته شو. دغه تړون د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۱۲۵۹، ۱۶۲۲، او ۱۷۴۶ ګڼو تصاویبو په بنسټ تصدیق شو. کوم چې د نېکمرغه او باثباته افغانستان د جوړولو لپاره د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ژمنې یوځل بیا تازه کړې، ترڅو ښه اداره رامنځته او د قانون په رڼاکې د بشري حقوقو ساتنه وشي. دغه تړون بیانوي:

> *افغان حکومت پدغه تړون کې ځان ژمن ګڼي ترڅو د دغه راتلونکې کلونو موخې د ترلاسه کولو لپاره کار وکړي؛ دغه راز نړیواله ټولنه هم په خپل وار د دغه لرلید د ترلاسه کولو لپاره د سرچینو د چمتو کولو او د ملاتړ په کولو ځان ژمن بولي.*

دغه تړون د بن د تړون (۳۷ م مخ) چې د ۱۳۸۴ کال د وږي (د ۲۰۰۵ سپټمبر) په میاشت کې د پارلمان او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په دائرولو سره رسماً پای ته ورسېد، ځخه وروسته د پرمختګ او بیارغونې په

برخه کې د افغاني او نړیوالو هڅو د همغاړي کولو لپاره یو میکانیزم جوړوي. د افغانستان د پرمختګ لنډ مهاله ستراتیژۍ او د ۱۳۸۴ کال په هېوادني رپوټ کې د زریزې په پراختیایي موخو(۴۰ م مخ) کې د افغان دولت لخوا د ذکر شویو موخو سره سم [۱۳۹۹ (۲۰۲۰) کال لپاره لرلید] ، د تړون د فعالیت درې حساسې او یوبل سره تړلې برخې تشریح کوي: ۱) امنیت؛ ۲) حکومت، د قانون حاکمیت او د بشر حقوق؛ ۳) اقتصادي او ټولنیزه پراختیا. په تړون کې راغلې دفعالیت بله مهمه او د پام وړ ساحهٔ د نشه یي توکو د کاروبار له منځه وړل دي، کوم چې افغان خلکو او دولت ته سترګوانۍ دی.

د تړون لمړۍ ضمیمه مفصلې پایلې، معیارونه او زماني چوکاټ ټاکي کوم چې د افغانستان د ملی پرمختګ د ستراتیژۍ لخوا د ترتیب شویو لوړو موخو سره سم دي. دوهمه ضیمه د نړیوالو مرستو د حساب ورکونې او اغېزمنتیا د زیاتوالي لپاره د افغان دولت او د نړیوالې ټولنې ژمنتیا بیانوي. دغه لوړو همدارنګه د تړون او د افغانستان د ملی پرمختګ ستراتیژۍ د پلي کېدو د عامه منظمو رپوټونو د چمتو کولو لپاره (۲۹م مخ) رامنځ ته کړ.

د افغانستان د ملی پرمختګ ستراتیژۍ سره سم د افغانستان د تړون لیک د پلي کولو په اړه د همغږۍ او څارنې ګډه اداره خپل لمړنی کلنی راپور د ۱۳۸۲ کال د غویي په میاشت کې وړاندې کړ. د مشورتي ډلو (۵۹ م مخ) د کار یوشان کول، د تخنیکي کارونو ډلې، او د همغږۍ او څارنې ګډه اداره درې میاشتنۍ غونډې، راپور د تړون د شرایطو د پلي کولو بهیر او دهغه پر وړاندې پراته خنډونه ارزوي. راپور بیانوي چې:

> *...د تړون د شرایطو د پلي کولو په اړه د پام وړ کار شوی دي. د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ د پایې د شرایطو په اړه د پوهنې، روغتیا او کلیو د پراختیا په برخو کې لویې بریاوې ترلاسه شوېدي. د امنیت د پایې په برخه کې، د کورنیو چارو په وزارت کې د سمون پروسه پلي شوې، که څه هم چې ډېرې چارې پاتې دي. د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه او د ناقانونه وسله والو ډلو انحلال هم او د ترهګرۍ ضد هڅې د امنیتي سکتور د پراخه سمون د اړونده سرچینو د نامتناسبه برخې په نیولو سره له مهمو ننګونو سره مخ دي. د فساد د مخنیوي، د نوي قانوني نظم د رامنځ ته کولو، او په حکومت کې د پخلاینې او سیاسي پراختیا لا رښوونه، د قانون حاکمیت، او د بشري حقوقو پایه د ملي او نړیوالو پارتېرانو ترمنځ د سملاسي خوځښت د رامنځ ته کولو پر ارزښت ټینګار کوي.*

نوموړي رپوټ د تړون د پیاوړتیا په موخه ځانګړې سپارښتنې وړاندې کړې دي تر څو وکولای شي د افغان خلکو غوښتنې پوره او په هېواد کې د ټولنو ترمنځ د پام وړ لاسته راوړنې ولري.

# د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون (AIHRC)

www.aihrc.org.af

د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون (AIHRC) د بن د تړون د یوې برخې په توګه جوړ کړل شو، او د ۱۳۸۳ کال د اساسي قانون (۱۴ م مخ) پر بنسټ یو دایمي ملي ارګان وګڼل شو. د کمیسیون د رول د روښانتیا په برخه کې اساسي قانون داسې څرګند تیا لري:

*دولت په افغانستان کې د بشري حقوقو د څارنې، پراختیا او ژغورنې په موخه باید د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون جوړ کړي. د هر چا په حقوقو د تیري په مهال نوموړي کولای شي دغه کمیسیون ته راپور ورکړي یا شکایت وکړي. کمیسیون د بشر د حقوقو ځخه د سرغړاوي دوسیې قانوني مراجعو ته راجع کولای شي، او له شکایت کوونکو سره د هغوی د حقوقو د دفاع په برخه کې مرسته کولای شي. د کمیسیون جوړښت او دندې د قانون له لارې تنظیمېږي.*

د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون د مشورتي ډلې (۵۹ م مخ) د بشر د حقوقو په کاري ډله کې د رهبرۍ رول لوبوي، د افغانستان د ملي پرمختګ په ستراتېژۍ (۲۹ م مخ) کې د داخلېدو لپاره د بشري حقوقو په اړه نظرونه او سپارښتنې کوي. د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون یو درې کلن ستراتېژیک پلان جوړ کړ چې په هغه کې: د بشري حقوقو د لومړیتوبونو د ترلاسه کولو په موخه د شخړو د دوديزو حل لارو د میکانیزمونو کارول؛ د بشري حقوقو د زده کړې په اړه د ښوونکو د پراخه روزنیزو پروګرامونو جوړول؛ د عدلي سکتور د سمون (۴۳ م مخ) په برخه کې مرسته کول؛ او د انتقالي عدالت د نوښت په اړه د عملي پلان جوړول شامل دي.

د ۱۳۸۱ کال د غبرګولي (د ۲۰۰۲ کال په جون) کې د هغه د فعال کېدو راهیسې د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون په ۱۳ دفترونو کې ۵۲۰ کارکوونکي لري، چې مرکزي دفتر یې په کابل کې دی او نور سیمه ایز دفترونه یې په بلخ، بامیانو، هرات، کابل، ننګرهار، کندز، کندهار، غور او پکتیا او دغه راز په بدخشان، ډایکنډي او فاریاب کې ولایتي دفترونه لري. په افغانستان کې د بشري حقوقو د ښې څارنې په موخه د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون په خپلو دفترونو کې لاندې څانګې جوړې کړې دي: څارنه او څېړنه، د ماشومانو حقوق، د ښځو حقوق، د بشري حقوقو زده کړه، انتقالي عدالت، د بشري حقوقو ساحوي څار او معیوبین. دغه راز په کابل کې بیا په ملي کچه د خبري رسنیو، چاپي خپرونو او څېړنې او پالیسۍ څانګې هم شته.

د ۱۳۸۴-۱۳۸۵ (۲۰۰۶-۲۰۰۷) کلونو په بهیر کې نوموړي کمیسیون په یو شمېر ځانګړو برخو کې کار کاوه چې عبارت دي له: د پارلماني ټاکنو اړوند سیاسي حقوق، جنسیت او حقوق، د ښځو پر وړاندې کورني تاوتریخوالی، د ځوانانو ځورونه، د شکنجې قربانیان، مزدور کوچنیان، ټولنیز او اقتصادي حقوق او د ملي او نړیوالو قوانینو په پرتله د ماشومانو حقوق. د دغه کمیسیون مدافعوي کمپاینونه دادي:

ورکشاپونه او سیمنارونه، مستند فلمونه، د رسنیو خپرونې، د نادولتي موسساتو ګډون او خپرونو. د دغه کمپاینونو موخه رسمي او نارسمي قضایي سیستمونه، ملایان او دیني عالمان، افغان ملي پوځ (۲ م مخ)، افغان ملي پولیس (۴ م مخ)، اکاډمیکه ټولنه، عام خلک او دولتي مامورین دي. د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون همدارنګه په کابل کې یو سرچینه ایز مرکز چلوي کوم چې د عامو خلکو پر مخ پرانیستي دی. په ۱۳۸۲ کال کې د دغه کمیسیون لویه لاسته راوړنه د هېواد د ثانوي دورې په زده کړه ایزه دوره کې د دغه کمیسیون لخوا د بشري حقوقو د طرح شویو توکو شاملول دي چې د پوهنې د وزارت سره د میاشتو -میاشتو مذاکرو پایله ده.

له دغه کمیسیون سره مخکې د بشري حقوقو په برخه کې د ملګرو ملتونو د اعلی کمېشنر د دفتر، د ملګرو ملتونو پراختیایي اداري او د ملګرو ملتونو د مرستو هیات (۴۹ م مخ) بنسټیزې مرستې کولې، د ۱۳۸۵ کال د وري د میاشتې په ۱۲ نېټې په رسمي توګه بندې شوې. د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون اوس مهال له یو شمیر بسپنه ورکوونکو څخه مرسته ترلاسه کوي.

# د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (ARTF)

www.worldbank.org/artf

د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق د ۱۳۸۱ کال د وري په میاشت کې د افغان دولت د بېرته راګرځېدونکو لګښتونو لپاره د بسپنه ورکوونکو هېوادونو د مرستو د همغاړي کولو په موخه جوړ شو. د افغان دولت اصلي بودجې ته د مرستو د رسولو یو ارزښتناک میکانیزم بسپنه ده (۲۰ م مخ). لدې اداري سره ۲۴ نړیوال بسپنه ورکوونکي مرسته کوي، د تنظیم چارې یې د نړیوال بانک، اسلامي پراختیایي بانک، آسیایي پراختیایي بانک او د ملګرو ملتونو پراختیایي اداري لخوا پر مخ ځي. په ۱۳۸۵ مالي کال کې د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق د بسپنه ورکوونکو څخه ۴۰۳ میلیون ډالر ترلاسه کړل.

د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق د پیسو لپاره په لومړي سر کې د دولت اصلي بودجه او وروسته بیا د پانګې اچونې پروژې دي. د اصلي بودجې لپاره ځانګړې شوې پیسې د دولت د عملیاتي لګښتونو د پوره کولو لپاره کارول کېږي، پداسې حال کې چې د پانګې اچونې د پروژو لپاره ځانګړې شوې پیسې هغه ځانګړو پراختیایي پروژو ته ورکول کېږي چې د مالیې وزارت لخوا تصدیق شوې وي. د افغانستان د بیا رغونې د وجهي صندوق د پیل راهیسې تر ۸۲۰ میلیون امریکایي ډالرو څخه زیات افغان دولت ته سپارل شوي تر څو بېرته راګرځېدونکي لګښتونه پوره کړي، او ۲۱۴ میلیون ډالره د پانګې اچونې پروژو ته ورکړل شوي دي.

دولت بسپنه ورکوونکي هڅوي ترڅو خپلې مرستې د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق له لارې وکړي، نه د نادولتي موسسو یا نورو فعالینو له لارې، ځکه دا مرستې د بیارغونې په پروسه کې د افغان دولت ونډه زیاتوي، د مرستو همغږي او تعقیب اسانه کوي، او روښوالي رامنځته کوي. د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق له لارې د مرسته کولو په وخت کې بسپنه ورکوونکي کولای شي د دولت لخوا وړاندیز شوي پروژې چې غواړي ملاتړ یې وکړي

وټاکي، همدارنګه د دغه ډول غوره کول د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق لخوا دولت د بهرنیو مرستو د راګرځېدونکو لګښتونو د پوره کولو څخه وروسته هم په پام کې نیول کېږي. د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق د بهرني کارموندلو د ملي پروګرام (NEEP)، د ملي پیوستون پروګرام (۴۸ م مخ)، د پوهنیز کیفیت د لوړوالي پروژه (EQUIP)، د مخابراتو د بهرنیو پروژو او د افغانستان لپاره د کوچني پانګې اچونې د ملاتړ اداره (۲۲ م مخ) په شان د زیاتو پروګرامونو لګښت په غاړه اخیستی دی.

په ۱۳۸۴ کال کې دا اداره د یوې درې میاشتنۍ ارزونې لاندې راغله او پایلې یې بیا د ۱۳۸۴ کال د وري په میاشت کې د افغانستان د پراختیا په مجتمع کې اعلان شوې، وړاندیز شوي ؤ چې د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق خپل اوسني جوړښت او اصول وساتي، که څه هم وړاندیزونه پدې موخه شوي وو چې د پام وړ کارونه سرته ورسېږي او د یوې دایمي پالیسۍ جوړښت ته وده ورکړي. د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق مشرتابه پدې وروستیو کې مشخصه کړېده چې د مالیې وزارت د هغه د اداري کمیټې په غونډو کې د مشاهد په توګه ګډون وکړي. په ۱۳۸۵ کال کې دغه اداري د اغېزمنتیا د ارزونې پروګرام جوړ کړ ترڅو بسپنه ورکوونکو ته د دوي د مرستو او پرمختګ تر منځ اړیکه وښيي. دغه پروګرام به د پراختیا پر کړنلارو او همدارنګه په مالي او سکتوري مسئلو د پالیسۍ د مذاکرې بنسټ وي.

# د افغانستان د پرمختګ مجتمع (ADF)

**www.adf.gov.af**

د افغانستان د پراختیا مجتمع (ADF) د افغان دولت د بیارغنیزو او پراختیایي پلانونو د مذاکرې او د سرچینو د سمبالتیا لپاره یو میکانیزم دي. دا افغان دولت، د دوه اړخیزه او څو اړخیزه بسپنه ورکوونکو، د ملګرو ملتونو د فترونو ،د نادولتي موسساتو او د خصوصي سکتور استازي سره یوځاي کوي. د بن د تړون د لاسلیک راهیسې په ۱۳۸۲،۱۳۸۳، ۱۳۸۴ او ۱۳۸۲ لمریز کلونو کې د افغانستان د پراختیا مجتمع څلور غونډې جوړې شوېدي.

د د غه مجتمع څلورمه غونډه په کابل کې د ۱۳۸۲ کال د غویي د میاشتې په ۹-۱۰ نېټو جوړه شوې وه. افغان حکومت د روغتیا، انرژۍ او پوهنې په برخو کې خپلې ستراتېژۍ وړاندې کړې او د مرستو د اغېزمنتیا، ولایتي پراختیایي پلانونو، او د ظرفیت د لوړوالي په اړه اسناد وړاندې شول. د افغانستان د پراختیا مجتمع ګډونوالو ته د یوې بیانیې په ترځ کې ولسمشر حامد کرزي د افغانستان نړیوالو پارټنرو ته کورودانی ووایه، او د روغتیا، پوهنې، د ظرفیت د لوړوالي، د مرستو د همغږۍ، د فساد سره د مبارزې، د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې، انرژي، امنیت او سیمه ایزو همکاریو په برخو کې د پرمختګ او لومړیتوبونو په اړه اند ښېنې څرګندې کړې. کومې سپارښتنې چې د افغانستان د پراختیا مجتمع د ۱۳۸۲ کال د غونډې څخه راوتلې دي د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژی (۲۹ م مخ) کې ځای په ځای شي، کومه چې د ۱۳۸۲ د کب په میاشت کې بشپړېږي.

# د افغانستان د ثبات پروګرام (ASP)

د افغانستان د ثبات پروګرام د ۱۳۸۳ کال د وري په میاشت کې د افغان حکومت د ملي پرمختګ کاري چوکاټ (۳۸ مخ) د ملي لومړیتوبونو د پروګرامونو څخه د یوه په توګه پیل شو. د افغانستان د ثبات پروګرام د کورنیو چارو وزارت لخوا د ځایي حکومت (پولیس، محکمې، اداري او نور خدماتو) لپاره د اړینو بېخبناوو د رامنځ ته کولو له لارې په ملي کچه د دولت د حاکمیت د ټینګښت او د ځایي ملکي ادارو د ظرفیت د لوړوالي په موخه پلي کېږي. د دغه پروګرام طرحه څه ناڅه د ملګرو ملتونو د مرستو د هیات (UNAMA) لخوا د تمویلېدونکي آزمایښتي پروژې څخه چې د افغانستان: بیانښلونه، بیارغونه او بیا یووالي (ARRR) په نوم یادېده، سرچینه اخیستې ده.

په هر حال د افغانستان د ثبات پروګرام پدې موخه جوړ شوئ چې د ولسوالیو ځینې دولتي دفترونه، د ولسوالیو محکمې او د ټولنو جوماتونه جوړ او مجهز کړي. د پلي کولو بهیر د ېر تخنیکي او کمې پایلې یې درلودې، لدې کبله د افغانستان د ثبات پروګرام د مرستو زیاته برخه د عامه ادارو د سمون (۵۸ م مخ) فعالیتونو ته ورکړل شوې. د افغانستان د ثبات د پروګرام لپاره مرستې د ځینو سرچینو لکه د برتانیې حکومت، هالنډ، جاپان، د امریکې متحده ایالات، کاناډا او یوناما څخه ترلاسه کېدې.

# د افغانستان د راتلونکي خوندي کول (SAF)

په ۳۴ م مخ کې د برلین غونډه او اعلامیه وګورئ.

# د افغانستان د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA)

د افغانستان د قانون او نظم وجهي صندوق د بسپنې ورکولو یو میکانیزم دی چې د نړیوالو بسپنه ورکوونکو لخوا د افغان ملي پولیسو (۴ م مخ) د سمون په موخه د مرستې کولو لپاره کارول کېږي. په ۱۳۸۱ ل کال کې جوړ شوي دغه وجهي صندوق د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري لخوا تنظیم او د مشرتابه د کمیټې لخوا یې مشري کېږي چې د کورنیو چارو او مالیې د وزارتونو، د آلمان دولت، یوناما، د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري او نورو مرستندویانو له استازو څخه جوړه شوېده. د افغانستان د قانون او نظم د وجهي صندوق لګښتونه په لاندې ډول لومړیتوب بندي شوي دي:

۱. د پولیسو معاشونه؛
۲. د پولیسو د نه وژونکو وسایلو چمتوکول، اداره او ساتنه؛
۳. د پولیسو د تسهیلاتو رغونه، بیارغونه، عملیات او څارنه؛
۴. د جنډر پېژندنه (د پولیسو ټاکنه، ګمارل او روزل)؛ او
۵. بنسټیزه پراختیا

د ۱۳۸۱ او ۱۳۸۵ کلونو ترمنځ د افغانستان د قانون او نظم له وجهي صندوق سره کابو ۳۳۰ میلیون ډالره مرسته شوې وه، چې تقریباً ټولې د پولیسو د معاشونو او تخصیصونو لپاره وکارول شوې. د وجهي صندوق د جوړېدو راهیسې د هغه لوی بسپنه ورکوونکي اروپایي کمیسیون دی؛ اوس مهال د امریکا متحده ایالات د هغه یوازینی او لوی مرستندوي دي. د ۱۳۸۵د غوبیي په میاشت کې د مشرتابه کمیټې دغه وجهي صندوق د ۱۳۸۷ کال د کب تر میاشتې تمدید کړ.

د افغانستان د قانون او نظم د وجهي صندوق ځلورمه کاري مرحله (د ۱۳۸۵ د غوبیي د میاشتې له پیل ځخه د ۱۳۸۷ د کب تر پایه) ۱۸۹ میلیونو ټولیزه بودجه لري. د کمې بودجې د ورکړې بېلګې ته په دوام ورکولو سره بسپنه ورکوونکو د ۱۳۸۲ کال تر منځنیو پورې د افغانستان دقانون او نظم وجهي صندوق ته د ۴۳ میلون ډالرو د ورکړې ژمنه کړې وه او ۱۴۲ میلیون ډالره یې کسري پرېښودل.

# د افغانستان د مقننه ځواک د جوړېدو د ملاتړ پروژه (SEAL)

www.undp.org.af/WhoWeAre/UNDPinAfghanistan/Projects/dcse/prj_seal.htm

د ۱۳۸۳ کال د سلواغې په میاشت کې افغان دولت او د ملګرو ملتونو پراختیایي ادارې د افغان مقننه قوې د جوړېدو د ملاتړ پروژه پیل کړه. د دغه پروژې موخې دادي چې "د یو داسې اغېزناک او بشپړ کاري پارلمان په جوړېدو کې مرسته وکړي چې ټول افغانان یې د خپلو استازو د ټولنې، ځواب ویونکې او د رونوالي یوې ادارې په څیر وپیژني، او د حکومت او خلکو تر منځ اړیکې همغږې کړي".

د دې لپاره چې دغه اهداف تر لاسه شي نو دغه پروژه باید لاندې کارونه سرته ورسوي:

- د ملي شورا د فعالیتونو د ملاتړ د اغېزناکې همغږۍ رامنځته کول؛
- د ملي شورا د غړو او د اداري او تخنیکي پرسونل د ظرفیت لوړوالی؛
- د یو اړین قانوني چاپېریال جوړول څو د ملي شورا لومړنۍ غونډه پیاوړې کړي؛
- د فزیکي بېخبنا، معلوماتي خدماتو، او د معلوماتو او مخابراتو د ټکنالوژۍ وسایل تر منځ مناسبې اړیکې ډاډه کول ترڅو کارکوونکو، مطبوعاتو او عامو خلکو سره مرسته وشي؛
- د ملي شورا پراختیا او د عامه پوهاوي او معلوماتو د ستراتېژۍ طرحه رامنځته کول؛
- د ملي شورا د جوړښت او د بنسټیزو لګښتونو د سموالي ځخه ډاډ ترلاسه کول؛

د دغه پروژې د دوه لومړیو کلونو په بهیر کې د اړین پارلماني تقنیني چاپېریال او اداري ملاتړ په ګډون د بشري سرچینو د اصغري اړتیاوو په برابرلو، تجهیز او بنیادي تنظیماتو کې مرسته کړېده، کوم چې د ملي شورا د لومړنیو فعالیتونو لپاره اړین وو. د ۱۳۸۴ کال د لیندۍ په میاشت کې د ملي شورا په پرانیستنې سره دغه پروژې خپل

فعالیتونه پراخه کړل تر څو د ملي شورا د غړو او کارکوونکو د ظرفیت پر جوړولو تمرکز وکړي او په خپلو فعالیتونو کې اضافي روزنیز پروګرامونه، تجهیز او د دفتر د نورو اړتیاوو پوره کول پکې شامل کړي. دغه پروژه اوس مهال د ۱۳۸۲ کال د سلواغې تر میاشتې تمدید شوېده، مګر داسې فکر کېږي چې دغه پروژه بنایي د ۱۳۸۲ کال د چنګاښ د میاشتې د ارزونې په بنسټ د راتلونکو څلورو کلونو لپاره تمدید شي.

د ملګرو ملتونو پراختیایي اداره د دغه پروژې د پلي کولو دنده لري، چې په عمومي توګه د افغان ملي شورا لخوا یې مشري کېږي. یوه پارلماني کاري ډله جوړه شوه چې د مقننه څواک د جوړېدو د ملاتړ د پروژې منظمه څارنه، لارښونه او ارزونه وکړي، دغه کاري ډله د دولتي ادارو، د ملګرو ملتونو دفترونو او لویو مرستندویه هیوادونو له استازو څخه جوړه شوېده. دغه کاري ډله د مقننه څواک د جوړېدو د ملاتړ د پروژې د اداري ټیم کارونه څاري، کوم چې د دغه پروژې د پلي کولو د تنظیمي او اداري چارو دنده لري. د دغه پروژې اټکل شوې بودجه **۱۵.۵** میلیون امریکایي ډالره وه، دغه مرستې د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري (UNDP)، اروپایي کمیسیون، فرانسې، آلمان، ډنمارک، کاناډا، ایټالیا او سویډن لخوا شوېدي.

د ملي شورا لپاره اضافي ملاتړ د متحده ایالاتو د پراختیایي اداري (USAID) لخوا د ملي ډیموکراټیکې موسسې (NDI) او د نیویارک د ایالتي پوهنتون د نړیوال پراختیا مرکز (SUNY-CID) له لارې کېږي.

# د افغانستان د ملي امنیت ځواکونه (ANSF)

د افغانستان د ملي امنیت ځواکونه (ANSF) له افغان ملي پوځ (ANA) او افغان ملي پولیسو (ANP) څخه عبارت دي.

# د افغانستان د نوي پیل پروګرام (ANBP)

www.undpanbp.org

د افغانستان د نوي پیل پروګرام (ANBP) د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري لخوا تمویلېدونکي پروګرام دی چې د ۱۳۸۲ کال د وري په میاشت کې د بې وسلې کولو، ملکي کولو او ټولنې ته د راګرځولو پروګرام (**۵۱** م مخ) د افغان دولت د موخو د ترلاسه کولو په موخه رامنځ ته شو. افغان دولت د ۱۳۸۱ کال د سلواغې په میاشت کې د ټوکیو په کنفرانس کې اعلان وکړ چې په پام کې لري د امنیتي سکتور د سمون د ستراتیژۍ (**۳۳** م مخ) د یوې برخې په توګه په هېواد کې د ډي ډي آر دا وطلبانه پروسه پلي کړي. د بې وسلې کولو، ملکي کولو او ټولنې ته د راګرځولو پروګرام پدې موخه جوړ شوئ ترڅو افغان ملیشې (AMF) د شمالي ټلوالې، د جګړه مارو ملیشې او د طالبانو د پېر وسله والې ډلې د هغه په بهیر کې خپلې وسلې تسلیم کړي او ملکي ژوند ته راوګرځي.

هغه سرتیرو چې د دغه پروګرام له لارې خپلې وسلې تسلیم کړې، یو میډال او شهادتنامه یې ترلاسه کړه، او د ملکي کېدو یو لړ خدمتونه لکه مسلکي روزنیز پروګرامونه، د کرنې روزنیز پروګرامونه او د کوچنۍ سوداګرۍ فرصتونه ورته وړاندې کړل شول. د افغانستان د نوي پیل پروګرام د بې وسلې کولو او د پوځي خدمت څخه د ترخیصولو او

ملکي ژوندانه ته د راګرځولو د پروګرام د بې وسلې کولو او پوځي خدمت څخه د ترخیصولو پروسې د ۱۳۸۴ کال د غبرګولي تر میاشتې بشپړې کړې، مګر ملکي ژوندانه ته د راګرځولو پروسې د ۱۳۸۵ کال د غبرګولي تر میاشتې دوام درلود. د افغانستان د نوي پیل د پروګرام اصلي موخه د دریو کلونو په اوږدو کې د ۱۰۰۰۰۰ سرتیرو له پوځي خدمت څخه ترخیصول او ملکي ژوندانه ته راګرځول دي، که څه هم چې د دغه شمېره وروسته کمه شوه. کله چې د ۱۳۸۵ کال د غبرګولي په میاشت کې د ډي ډي آر پروسه په رسمي توګه پای ته ورسېده ۶۳۳۸۰ تنه د افغان ملیشه یي ځواکونو افسران او سرتیري بې وسلې کړل شوي وو او د افغان ملیشه یي ځواکونو ۲۵۹ واحدونه منحل شوي وو. د دغه مخکیني جنګیالیانو پراخ اکثریت ۵۵۸۰۴ تنو ملکي ژوندانه ته د راګرځېدو یوه ټاکنه خوښه کړه له کومې څخه چې ۵۳۴۱۵ تنو ګټه واخیسته، له بله پلوه ۲۷۵۹ تنو دندې پرېښودې. یو اځې ۲.۳ په سلو کې مخکیني مبارزه کوونکو د افغان ملي پوځ (۲ م مخ) لپاره غوره شول.

د ډي ډي آر په بشپړېدو سره د افغانستان نوي پیل پروګرام خپل تمرکز د غیر قانوني وسلوالو ډلو د انحلال پروګرام (DIAG) ته واړاوه، کوم چې د افغان ملیشه یي ځواکونو څخه بهرد اټکل شویو ۱۰۰۰۰۰ وسله والو ځواکونو منحل کولو په موخه جوړ شوي دي پداسې حال کې چې ډي ډي آر یوه داوطلبه پروسه وه، ډیاګ یو اجباري پروګرام دي او د ولسمشرۍ د فرمان او پارلمان ملاتړ ورسره دي. څکه چې ډیاګ غیرقانوني ډلې منحلوي او د ملکي ژوندانه کوم فرصتونه چې د ډي ډي آر لخوا وړاندې کېدل، نه لري. د قوماندانانو او وسله والو ځواکونو لپاره د انګېزې ورکولو په ځای ډیاګ د چاپېریال د خوندي کولو پر پروژو تمرکز کوي له کومو څخه چې ټولنو ته ګټه رسېږي.

ډیاګ د یوې ګډې دارالانشا لخوا پلي کېږي چې د هغه مشري د ولسمشر د دوهم مرستیال کریم خلیلي لخوا کېږي او د افغانستان د نوي پیل، د کورنیو چارو وزارت او د ملي دفاع وزارت، د ملي امنیت د ریاست، د ملګرو ملتونو د مرستندوی هیات (۹ م مخ)، د ائتلاف د ځواکونو (۳ م مخ) او د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (۲۳ م مخ) استازي پکې حضور لري. د پروګرام د پیل راهیسې د ډیاګ د وسلو د راغونډولو ډلو ته ۲۴۰۰۰ وسلې تسلیم شوې دي. ډیاګ د ۱۳۸۲ کال د کب په میاشت کې پای ته رسېږي.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU)

www.areu.org.af

د دغه کتاب ث مخ وګورئ.

# د افغانستان لپاره د کوچني پانګې اچونې د ملاتړ اداره (MISFA)

www.misfa.org.af

د افغانستان لپاره د کوچني پانګې اچونې د ملاتړ اداره د افغان دولت او د بسپنه ورکوونکو د ټولنې لخوا په ګډه په ۱۳۸۲ کال کې جوړه شوه. دغه اداره د کوچنیو پانګو هغه ادارو ته پیسې برابروي چې بېوزلو او غریبو خلکو ته د

کوچني پورونو او نورو بانکي خدمتونو په برخه کې کار کوي. دغه اداره د هغو بېوزلو خلکو لپاره چې پرته لدې د عايد کومه وسيله او اقتصادي سرچينه نلري، د ملاتړ او عايد توليدوونکو کارونو د هڅولو په برخه کې کار کوي.

د افغانستان لپاره د کوچنيو پانګو د ملاتړ اداره د **۱۳۸۵** کال د کب په مياشت کې د نه توزيعي خپلواکې کمپنۍ په توګه ثبت شوه او يو خپلواک هيات لري چې د دولت او خصوصي سکتور د استازو او همدارنګه د کوچنيو پانګو اچونو د نړيوالو متخصصينو څخه جوړ شوې دی. دغه اداره په افغانستان کې د کوچنيو پانګو اچولو د پور ورکولو په برخه کې په خپل ډول کې تر ټولو لومړنۍ اداره ده، دغه اداره د کوچنيو پانګو اچونې له ادارو سره د بسپنه ورکوونکو د مرستو ميکانيزمونه دوامداره، انعطاف منونکي ملاتړ خوا ته بيايي. دغه اداره د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت، نړيوال بانک، د بېوزلو سره د مرستې مشورتي ډله (CGAP)، آکسفام نوويب، کاناډا، د برېتانيا ، د امريکې متحده ايالات، سويډن او ډنمارک دولتونو په مرسته خپل فعاليتونه سرته رسوي.

د **۱۳۸۶** کال د غبرګولي د مياشتې راهيسې د افغانستان لپاره د کوچنيو پانګو د ملاتړ ادارې د خپلو **۱۵** همکارو ادارو (د کوچنيو پانګو اچولو ادارې MFIs) سره تر **۲۲۷** ميليونو ډالرو څخه زيات پورونه ورکړي دي. دغه پلي کوونکي همکاران د کوچنيو پانګو اچونو يو لړ ميتودونه کاروي- انفرادي او ډله ايز پورونه، کليوالي بانکونه، او د اعتبار ټولنې- او په **۲۳** ولايتونو کې تر **۳۷۵۰۰۰** زيات مراجعه کوونکي لري چې **۶۸** په سلو کې يې ښځې دي. د کوچنيو پانګو اچولو د ملاتړ د ادارې د همکارانو د پور منځنۍ کچه **۲۲۷** ډالره ده او د پور د ادايني کچه **۹۵** په سلو کې ده. دغه سکتور تر **۳۷۰۰** څخه زيات افغانان ګمارلي چې **۴۳** په سلو کې يې ښځې دي.

## د افغانستان لپاره د مرستو د همغږۍ اداره (ACBAR)

www.acbar.org

د افغانستان لپاره د مرستو د همغږۍ اداره (ACBAR) داسې يوه اداره ده چې په افغانستان کې د ناحکومتي سازمانونو تر منځ د روڼوالي، حساب ورکونې او همغږۍ په اړه کار کوي. اکبر د ملګرو ملتونو، نادولتي سازمانونو، بسپنه ورکوونکو هېوادونو او افغان دولت تر منځ د معلوماتو د لېږد د وسيلې په توګه کار کوي. دغه اداره په **۱۳۷۲** لمريز کال کې د هغه نادولتي موسسو لخوا جوړه شوه چې په پاکستان کې يې د افغان کډوالو لپاره کار کاوه.

اوس مهال په اکبرکې **۹۷** ملي او نړيوالې نادولتي موسسې غړيتوب لري. په اکبر کې غړيتوب د نادولتي، غير انتفاعي، دفترونو لپاره چې ځانګړي شرايط ولري آزاد دي. ټول غړي بايد د افغانستان د ناحکومتي موسسو قانون او کړنود (**۵۰** م مخ) چې د **۱۳۸۴** کال د غويي په مياشت کې نافذه شوې لاسليک کړي. د اکبر عمومي اسامبله په کال کې دوه ځلې جوړېږي، او د **۱۲** غړو څخه جوړه د رهبرۍ کميټه په مياشت کې يو ځل په کابل کې غونډه کوي. د مشرتابه د کميټې رئيس تل افغان وي، پداسې حال کې چې نور غړي يې د نړيوالو او افغاني نادولتي موسساتو استازي دي. په کابل کې د اکبر د مرکزي دفتر سربېره دغه موسسه په هرات، جلال آباد، او مزار شريف کې ساحوي دفترونه لري.

اکبر خپل کارونه په دوه بنسټيزو برخو کې تنظيموي. د معلوماتو د همغږۍ ډله د معلوماتو د خپراوي، د غونډو د تنظيم، د اوونيزې خبرپاڼې د خپرولو او د نادولتي موسساتو د لاربنود د جوړولو، او د نورو ارتباطي نوښتونو دنده

لري، د پاليسۍ او مدافعې ډله د نادولتي موسساتو تر منځ د ارزښتناکو او کليدي مسائلو په اړه د ګډو غږ د درلودو لپاره د نظرونو او معلوماتو د ويشلو دنده لري.

اکبر د نادولتي موسساتو تر منځ د همغږۍ غونډې جوړوي کومې چې ځيني وخت د عامو خلکو پر وړاندې پرانيستې وي؛ د اکبر نورې مياشتنۍ غونډې د ځانګړو موضوعاتو په اړه جوړېږي. اکبر په منظمه توګه په کابل، مزار شريف، هرات او جلال آباد کې د نادولتي موسسو د قانون او د نادولتي موسساتو د کړندود د تشريح په موخه ورکشاپونه جوړوي. د دغه ادارې د فعاليتونو موخه د مدني ټولنې د سازمانونو او د نادولتي سازمانونو د ظرفيت لوړول دي، تر څو شريکانو ته د مرستې د بېلګو او د قانون جوړونې د اړتياوو په اړه معلومات ورکړي. همدارنګه اکبر د دولت لخوا د سازمان مينځي همغږۍ د ميکانيزمونو او د نادولتي موسساتو د استازو د کتنو لپاره لارې چارې برابروي. اکبر د افغانستان د پرمختګ مجتمع (۲۲ م مخ) کې په ۱۳۸۳، ۱۳۸۴ او ۱۳۸۶ کلونو کې د نادولتي موسساتو د ټولنې استازيتوب کړيدي.

په ۱۳۸۶ کال کې اکبر د نادولتي موسساتو په اړه د منفي پوهاوي سره د مبارزې لپاره يو مطبوعاتي کمپاين پيل کړ چې د هغه له لارې معلوماتي راډيويي ډرامې خپرېدې. دغه ادارې همدا ډول يو کتاب ډيزاين کړ چې په افغانستان کې د شته مختلفو نادولتي موسساتو په اړه د خبرتيا او د هغوی د پېژندلو په برخه کې مرسته وکړي. د افغانستان د معلوماتو د انسجام اداره (AIMS) سره په افغانستان کې د نادولتي موسساتو په اړه د معلوماتو د راټولولو او د "څوک، چېرې، څه کوي" په نامه ديوه لارښود په جوړولو کې همکاري وکړه.

اکبر همدارنګه په ۱۳۸۶ کال کې د مدني ټولنې او د آسيا د پراختيايي بانک سره په همکارۍ د افغانستان د بېوزلۍ پر ګډونيزه ارزونه(APPPA) کار کړئ دئ. د افغانستان د بېوزلۍ ګډونيزه ارزونه په بدخشان، ننګرهار، ارزګان، او هرات ولايتونو کې ترسره شوه او موخه يې د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتېژۍ (۲۹ م مخ) پياوړې کول دي. اکبر د هغه دارالانشا کوربه دي چې د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتېژۍ په پروسه کې د مدني ټولنې استازيتوب کوي.

د ۱۳۶۸-۱۳۸۵ کلونو په بهير کې دغه ادارې د اکبر سرچينه ايز او معلوماتي مرکز (ARIC) په نامه يو کتابتون درلود، چې په پېښور او کابل کې يې ټولګې درلودې. د ۱۳۸۴ کال د وږي په مياشت کې دغه کتابتون د کابل په پوهنتون کې د افغانستان پېژندنې مرکز (۴۵ م مخ) په بڼه راڅرګند شو.

# د افغانستان لپاره د ماين پاکۍ پروګرام (MAPA)

**www.af/cg/mineaction**

د افغانستان لپاره د ماين پاکۍ پروګرام (MAPA)، په نړۍ کې د ماين پاکۍ تر ټولو لوی پروګرام په ۱۳۶۸ کال کې په افغانستان کې د بشري او اقتصادي مرستو د همغږئ کولو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر (UNOCA) تر لارښوونې لاندې جوړ شو ترڅو افغانستان د ماينونو او ناچاوده مهماتو د ګواښونو څخه خوندي کړي.

د افغانستان لپاره د ماین پاکۍ د پروګرام څارنه او تنظیم د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژۍ د ماین پاکۍ د کاري ډلې تر لارښوونې لاندې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ د مرکز (UNMACA) دنده ده. دغه کاري ډله ستراتیژي ته وده ورکوي او د افغانستان لپاره د ماین پاکۍ د پروګرام چارې او موخې پلي کوي او څاري. په ۱۳۸۵-۱۳۸۶ کال کې داسې قوانین پاس شول چې هغوی د افغان دولت په دننه د ماین پاکۍ د ادارې د جوړېدو بنسټ کېښود. کله چې دغه اداره جوړه شي نو د ماین پاکۍ پروګرام پر کارونو به څارنه کوي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ مرکز د هېواد په کچه د افغانستان لپاره د ماین پاکۍ د پروګرام دغه پروګرام فعالیتونه په کابل، هرات، کندهار، مزار شریف، کندز، ګردیز او جلال آباد کې د د ماین پاکۍ د مرکزونو له لارې همغږي کوي. په دغه سیمه ایزو مرکزونو کې په بشپړ ډول افغانان ګمارل شوي، چې په سیمه ایزه کچه د ماین پاکۍ د فعالیتونو د همغږۍ او څارنې دنده لري. د افغانستان لپاره د ماین پاکۍ پروګرام ۲۴ پلي کوونکي همکاران لري، چې زیاتره یې ملي او نړیوال نادولتي سازمانونه دي، کوم چې د ماین پاکۍ او سروې، د ماین د ګواښونو د کموالي، د قربانیانو سره د مرستې، ظرفیت لوړولو، مدافعې، څارنې او روزنې چارې مخته بیایي.

د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه په ۳۲ ولایتونو کې کابو ۷۰۰ میلیون متر مربع ځمکه د پرسونل او ټانک ضد ماینونو په وسیله پوښل شوې ده. په ۱۳۸۵ کال کې د افغانستان لپاره د ماین پاکۍ پروګرام ۱۲۲ میلیون متر مربع ځمکه د ماینونو د شتون څخه پاکه او کابو ۱۳۰۰۰ د پرسونل ضد او ۵۰۰ د ټانک ضد ماینونه او ۷۰۰۰۰ توټې نه چاودېدونکې مهمات له منځه یوړل. د افغانستان لپاره د ماین پاکولو پروګرام کابو دوه میلیون افغانان د ماین څخه د خبرولو په برخه کې د ګرځنده تیاتر/ننداري، ټولنیزو غونډو او د همزولو د زده کړې له لارې روزلي دي.

# د افغانستان لنډمهاله اداره (AIA)

اتلسم مخ د افغانستان انتقالي حکومت (ATA) وګورئ.

# د افغانستان د ملي پرمختګ لنډ مهاله ستراتیژي (I-ANDS)

په ۲۹م مخ کې د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژۍ وګورئ.

# د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژي (ANDS)

**www.ands.gov.af**

د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژي به د افغانستان د پرمختګ لپاره مرکزي کاري چوکاټ کښل کېږي، چې هدف یې د خوارو خلکو د ملاتړ وده، د ډیموکراټیکو پروسو او بنسټونو د پرمختګ ملاتړ، او د بېوزلۍ او زیانمننې د کچې د کموالي دی. دا کړنلاره د دولت د ټولیز عمومي پرمختیایي لرلید د پلي کېدو لپاره ستراتیژیک لومړیتوبونه او میکانیزمونه طرح کوي او د هېواد د بېوزلۍ د کچې د کمولو د ستراتیژۍ پانه (۳۸ م مخ) په توګه کار وکړي چې د

نړيوال بانک او د پيسو د نړيوال صندوق لخوا د هبواد د مالي اعتبار د ارزولو په برخه کې کارېدونکي ډېر ارزښتناک سند دي. د افغانستان د پراختيايي کړنلارې نظريه د لمړي ځل لپاره په ۱۳۸۴ کال کې د افغانستان د پرمختګ په مجتمع (۲۲ م مخ) کې وړاندې شوه. او تمه ده چې کړنلاره د ۱۳۸۶ کال د کب تر مياشتې بشپړه شي.

دولت د افغانستان د پراختيايي کړنلارې لپاره په پام کې لري چې د پاليسۍ کاري چوکاټ او د پلي کولو کړنلارې، په اغېزمنو پروګرامونو کې د ستراتېژيکو لومړيتوبونو راوستل دواړه تشريح کړي کوم چې د افغان خلکو لپاره سملاسي او تلپاتې پايلې لري. د لومړيتوبونو د يوې باارزښته او ترلې ټولګې په وړاندې کولو سره، بشپړه کړنلاره او د افغانستان له تړون ليک سره يوځاي، کولاي شي د افغانستان د زريزې د پرمختيايي موخو (۴۰ م مخ) د سرته رسولو لپاره منسجمه لاره وټاکي.

د افغانستان لنډمهالې پراختيايي ستراتېژي د افغان دولت لخوا د ۱۳۸۴ کال د ليندۍ په مياشت کې تصويب شوه او د ۱۳۸۵ کال د مرغومې په مياشت کې د افغانستان د تړون ليک (۱۸ م مخ) سره يوځاي د لندن په کنفرانس کې وړاندې شوه. د ۱۳۸۵-۱۳۸۹ کلونو تر پوښښ لاندې نيولو سره د افغانستان لنډمهاله پراختيايي ستراتېژي او هر هغه شرط چې د افغانستان په لنډمهاله پراختيايي ستراتېژي کې د پنځه کلن ستراتېژيک هدف په توګه ځرګند شوي، په خپل ذات کې د افغانستان د تړون ليک له پلي کېدو سره تړلي دي. په ۱۳۸۵ کال کې افغان دولت او د هغه نړيوالو مرستندويانو د افغانستان د ملي پرمختګ لنډمهالې ستراتېژۍ په پلي کولو او په يوه بشپړه ستراتېژۍ د هغه پر اړولو پيل وکړ تر ځو وکولاي شي د بېوزلۍ د کچې د کمولو د ستراتېژۍ د سند ټولو اړتياوو ته ځواب ووايي.

د افغانستان د پرمختګ د کړنلارې بشپړه سمبالتيا د دغه کړنلارې د دارلانشا لخوا همغاړې کېږي او د دغه کړنلارې د څارنې د کميټې لخوا پرې څار کېږي، چې د کابينې له اوو غړو ځخه جوړه شوېده. د همغږۍ او څارګډ هيات د دولت لوړ پوړي چارواکي د افغانستان د تړون ليک پر پلي کېدو څارنه کوي، دوي همدا راز د افغانستان د پراختيايي کړنلارې د چمتووالي لپاره لارښووني کوي. د افغانستان بشپړه پراختيايي کړنلاره له ۱۸ سکتورونو ځخه جوړه شوېده چې په اتو پايو وېشل شوي دي: ۱) امنيت، ۲) ښه حکومتداري، ۳) بيخبناوې او طبيعې زېرمې، ۴) پوهنه او کلتور، ۵) روغتيا او خواړه، ۶) کرهنه او کليوالي پراختيا، ۷) ټولنيزه ساتنه او ۸) اقتصادي حاکميت او د خصوصي سکتور پرمختګ. همدا راز پدې کړنلاره کې شپږ ارزښتناکې موضوع ګانې راځي: ۱) د ظرفيتونو لوړوالي، ۲) جنسيتي برابري، ۳) د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه، ۴) سيمه ايزې همکارۍ، ۵) د فساد پر وړاندې مبارزه، او ۶) د ژوند چاپېريال.

سکتوري کړنلارې چې د ۱۳۸۵ کال په منځنيو کې بشپړې شوې، د سکتوري کړنلارو د پراختيا د ډلو لخوا چې د سکتوري وزارتونو استازي او د ماليې وزارت د استازو ځخه جوړې شوې، تسويد شوې. د افغانستان د پراختيايي کړنلارې د پرمختګ د پروسې لمړنی ګام د افغانستان د پراختيايي کړنلارې د دارالانشأ لخوا د بېلګې د چمتو کولو وروسته د هر وزارت او ادارې لخوا د ځانګړو کړنلارو چمتو کول وو. په ټوله کې ۴۳ ستراتېژۍ د ۱۳۸۶ کال د وري په مياشت کې بشپړې شوې. وروسته پياوړې کړل شوې او د هغوي ستراتېژيک لومړيتوبونه او بودجوي تخصيصات د پراخه مذاکرو په پايله کې يوځاي کړل شول.

د وزارتونو او سازمانونو کړنلارې د سکترونو د ستراتيژيو له مسودې سره د یو ځای کیدو څخه مخکې د مشورتي ډلو (۵۹ م مخ)، د بسپنه ورکوونکو سره د مذاکرې غونډو، او د ملي ګواښ او زیان مننې د ارزونې پر بنسټ د بېوزلۍ د تحلیل، له لارو، بیا وکتل شوې او اصلاح کړل شوې. د افغانستان د ملي پرمختګ په وروستۍ کړنلاره کې بل ستر وړاندیز د ولایتي پرمختګ پلانونه وو، چې په سیمه ییزې کچې د سلا او مشورو پایلې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې تنظیم شوې. د سلا بهیر داسې طرح شوی ؤ چې په افغاني ټولنه کې د پراختیایي لومړیتوبونو په اړه د افغانستان د پراختیایي کړنلارې څخه راټول کېدونکي پراخ رضایت ډاډمن کړي.

کله چې د ټولو سکتوري ستراتیژیو پایلې کښیښول شې، د افغانستان د پرمختګ کړنلارې د څارنې کمیټه به یې د هغوی د منل شویو معیارونو په بنسټ لومړیتوب بندي کړي چې په هغوی کې په پنځو راتلونکو کلونو کې د پلي کولو سرچینو، لکه څرنګه چې د افغانستان د پراختیایي کړنلارې په پراخه اقتصادي کړنلاره کې مشخص کړل شوي دي. ځینې سکتوري ستراتیژۍ بنايي د ۱۳۸۷مالي کال په ملي بودجه کې په پام کې ونیول شي، پداسې حال کې چې زیاتره به د ۱۳۸۸ مالي کال په بودجه کې په پام کې ونیول شي. د افغانستان د ملي پرمختګ د کړنلارې دارالانشا د اړونده وزارتونو سره په نږدې همکارۍ کې هڅه کوي تر څو سکتوري ستراتیژۍ د افغانستان د پراختیایي کړنلارې له مسودې سره یو ځای کړي. د افغانستان وروستنۍ پراختیایي کړنلاره به د مشورتي ډلو لخوا د افغان دولت د لومړیتوبونو او د افغانستان د تړون لیک له شرایطو سره د سمون څخه د ډاډ د ترلاسه کولو لپاره بیا وکتل شي او د تصویب لپاره به د افغانستان د پراختیایي کړنلارې د څارنې کمیټې ته واستول شي.

# د افغانستان ملي مرستندویه پولیس (ANAP)

د افغانستان ملي مرستندویه پولیس (ANAP) په ۱۳۸۵ کال کې د لنډمهالي، پر ټولنې ولاړ د ساکن پولیسي ځواک په توګه چې له افغان ملي پولیسو (۴ م مخ) سره مرسته کوي رامنځ ته شو، ترڅو د افغان ملي پولیسو د جوړېدو په بهیر کې په افغانستان کې امنیتي اړتیاوو ته ځواب ووایي. د افغان ملي مرستندویه پولیسو قومانده او کنټرول په ساحوي، ولایتي او دولسوالیو په کچه د افغان ملي پولیسو د مشرانو په لاس کې دي.

د افغان ملي مرستندویه پولیسو بېړني جوړښت د بلواوو د زیاتوالي په مهال زیات کسان ګډون ته وهڅول، ځکه د هغه موخه داوه چې په بلوا ضد عملیاتو کې د شبه نظامي ځواک په توګه خدمت وکړي، نه د یوه ملکي پولیسي ځواک په توګه. د کورنیو چارو وزارت که څه هم د ۱۳۸۶ کال د غبرګولي په میاشت کې افغان ملي مرستندویه پولیس د "نه مېشت کېدونکي فعاله ځواک؛ یوازې د افغان ملي پولیسو د ملاتړ لپاره د کارول کېدونکي ځواک په توګه معرفي کړ". پداسې حالکې چې افغان ملي مرستندویه پولیس د ۲۱ ولایتونو او ۱۲۴ ولسوالیو د پوښښ لپاره جوړ کړل شو، لمړی د دغه مرستندویه پولیسو پر روزنه، تجهیز او د افغانستان په شپږو سهیلي او ختیځو ولایتونو کې پر مېشت کېدو ټینګار کېده. د افغان ملي مرستندویه پولیسو لمړۍ ټولګې د ۱۳۸۵ کال د تلې په میاشت کې په زابل کې فارغ شول، چیرته چې آزمایښتي پروګرام په لاره اچول شوی ؤ.

د افغان ملي مرستندويو پوليسو نوي سرتيري په لومړيو کې لس ورځې روزنه اخلي- پنځه ورځې نظري او پنځه ورځې عملي ډزې کول تمرينوي. چې د دوي د يوه کال تړون په بهير کې په هرو دريو مياشتو کې د يوې اوونۍ بشپړوونکې روزنې ترلاسه کوي. د لنډو روزنو په بشپړولو سره نويو عسکرو ته د حملې يوه وسله او د افغان ملي پوليسو معياري يونيفورم او همدارنګه د افغان ملي مرستندويه پوليسو پاچ ورکول کېږي. دوي ته د افغان ملي پوليسو د ګرځندوي په شان په مياشتنۍ توګه ۷۰ امريکايي ډالره معاش ورکول کېږي.

د افغان ملي مرستندويو پوليسو مجازه شمېره ۱۱۲۷۱ تنه ده. په شپږو لومړنيو ولايتونو کې مېشت شوي شمېره د ۱۳۸۲ کال د وري په مياشت کې **۵۴۲۱** تنه وو، پداسې حال کې چې جلب او جذب په **۱۵** نورو ولايتونو کې پيل شوي ؤ. د افغان ملي مرستندويه پوليسو نوماندي د هغوي په ځايي ولايتونو او ولسواليو کې لدې ځخه د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه چې افغان ملي مرستندويه پوليس د خپلې ټولنې، توکم او کلتور استازيتوب کوي، ګماري. د افغان ملي مرستندويه پوليسو لپاره ښځينه نوماندې نه ټاکل کېږي.

د افغان ملي مرستندويه پوليسو د خدمت يو کلنۍ معياري موده د پوليسو د ولايتي يا د ولسوالۍ په کچه د پوليسو د مشر په تاييد سره د يوه کال لپاره اوږدېداي شي. د دغه ترتېولو زياتې دوه کلنې دورې په پاي کې د افغان ملي مرستندويه پوليسو ګرځندوي پوليس د افغان ملي پوليسو سره د يوځاي کېدو غوښتنليک وړاندې کولاي شي. د افغان ملي پوليسو سره د افغان ملي مرستندويو پوليسو د ګرځندوي د يوځاي کېدو لپاره معيارونه داسې دي: کم تر کمه ۹۰ په سلو کې حاضري؛ په اداري يا جنايي جرمونو نه ککړتيا؛ د دندې پر مهال ښه فعاليت؛ په فساد او بډې اخستنې متهم نوي، ښه اخلاقي خصوصيت. که چېرې د افغان ملي پوليسو سره د افغان ملي مرستندوی ګرځندوی پوليس يو ځای کېدل ومنل شي، نوموړي پوليس بايد د افغان ملي پوليسو معياري اته اوونيز روزنيز کورس بشپړ کړي.

# د افغانی ناحکومتې موسسو د همغږۍ اداره (ANCB)

www.ancb.org

د افغاني ناحکومتي موسسو د همغږۍ اداره (ANCB) په ۱۳۷۰ ل (۱۹۹۱ زېږديز) کال کې د افغان نادولتي سازمانونو او دولت، ملګرو ملتونو، نړيوالو سازمانونو او بسپنه ورکوونکو هېوادونو تر منځ د فعاليتونو د همغږي کولو په موخه جوړه شوه. دغه اداره هڅه کوي چې د هغه د غړو سازمانونو ظرفيت ته د ورکشاپونو، سيميناروننو او ګډون له لارې وده ورکړي.

د افغانستان لپاره د مرستو د همغږۍ د ادارې (۱۷ م مخ) پر خلاف د افغان نادولتي سازمانونو د پيوستون د ادارې غړيتوب يوازې پر افغان نادولتي سازمانونو پورې محدود دي. د افغاني ناحکومتي موسسو د همغږۍ اداره د ۲۰۰ په شاوخوا کې غړي لري، ځينې يې د اکبر غړي هم دي. د دغه ادارې د غړيتوب غوښتنليکونه د مشرتابه پلاوي لخوا په پام کې نيول کېږي او وروسته بيا په عمومي غونډه- د غړو درې مياشتني غونډه کې پرې رايې اچول کېږي.

په ۱۳۸۳-۱۳۸۴ کلونو کې دغه اداره د نادولتي موسسو د قانون د کړندود په تصویب کې شامله وه (۵۰ م مخ). دغه سازمان همدارنګه د اساسي قانون د لويې جرګې او د ولسمشرۍ او د ولسي جرګې ټاکنو لپاره د عامه خبرتيا کمپاينونه سرته رسولي دي. نوموړې اداره اوس مهال د نادولتي موسسو د پياوړتيا او همغږۍ د ظرفيت جوړولو په پروژه کې، د افغان مدني ټولنې د پرمختګ په نوښت او د نادولتي موسساتو د ظرفيت لوړولو په نورو زياتو پروګرامونو بوخت دي.

د افغاني ناحکومتي موسسو د همغږۍ اداره د روغتيا، پوهنې، کرنې، د چاپيريال پاکي، بيارغونه او د دولت د پاليسيو تر سرليک لاندې د غړو مياشتنۍ غونډې جوړوي. دغه سازمان همدارنګه د مديريت، مالي، اداري پرمختګ، پروپوزل ليکنې او کمپيوټر په برخو کې د غړو موسسو د ظرفيت د لوړوالي په موخه سيمينارونه او روزنيز کورسونه جوړوي، د خپلو غړو لپاره په خپل دفتر کې د انټرنټ آسانتيا برابروي، او يوه اوونيزه خبرپاڼه خپروي. او همدارنګه درې مياشتنۍ مجله (*پيوستون*) او د خپلو ټولو غړو لارښود خپروي.

دغه اداره د خپل خوښيز ادارو د نړيوالي شورې، د نړيوالي مدني ټولنې مجتمع، او د ملي موسسو د پيوستون د ډلې غړې ده. دغه اداره همدارنګه د افغان مدني ټولنې په مجتمع (۱۵ م مخ) کې په فعاله توګه ونډه لري. د دغه ادارې مالي سرچينې د حق العضويت او د ډيموکراسۍ لپاره ملي هديه (NED) دي.

# د افغانستان لپاره د متحده ايالاتو د امنيت ګډه قومنداني (CSTC-A)

په ۳م مخ کې ائتلافي ځواکونه وګورئ.

# د امنيتي سکتور سمون (SSR)

کمزوری امنيت لاتراوسه هم په افغانستان کې د بيارغونې او پراختيا د پروګرامونو په وړاندې يو لوی خنډ دي. د امنيتي سکتور په سمون کې د حکومت د ستراتيژۍ موخه داده چې دغه ستونزه وڅېړي. دغه پروسه په افغانستان کې د سولې د ټينګښت په اړه د ۱۳۸۱ کال د سلواغې په مياشت کې د ټوکيو په غونډه کې اعلان شوه، د امنيتي سکتور سمون پنځه برخې لري:

- د افغان ملي پوځ (۲ م مخ) جوړونه؛
- د افغان ملي پوليسو (۴ م مخ) جوړونه؛
- د عدلي سکټور سمون (۳۳م مخ)؛
- بې وسلې کول، ملکي کول او عادي ژوند ته د راستنولو پروګرام (۸ م مخ)؛ او
- د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه (۵۲ م مخ)؛

د ۱۳۸۴ کال د غبرګولي په میاشت کې د بې وسلې کولو او ملکي ژوندانه ته د راګرځولو د پرګرام په بشپړېدو سره د غیر قانونې وسله والو ډلو د انحلال پروګرام (۸ م مخ) پیل شو. د غیرقانونې وسله والو ډلو د انحلال پروګرام ددې لپاره طرح شوی ترڅو هغه غیرقانوني وسله والی ډالې بې وسلې او منحل کړي چې د مرکزي دولت د ولکې څخه بهر کار کوي، مګر دغه پروګرام په رسمي توګه د امنیتي سکتور د سمون یو عنصر ندي.

د بې وسلې کولو، ملکي کولو او عادي ژوند ته د بېرته راګرځولو د پروګرام پرته دغه برخې د دولت د وزارتونو د سمون او جوړښت اړوندې دي- د دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت او د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت. د بن (۳۷ م مخ) او ټوکیو په غونډو کې، پنځه بسپنه ورکوونکو موافقه وکړه چې هر یو د امنیتي سکتور د سمون یوه برخه په غاړه واخلي؛ متحده ایالات د ملي پوځ؛ آلمان د ملي پولیسو (چې اوس مهال اروپایي ټولنه پرې کار کوي)؛ ایټالیا د عدلي سکټور؛ جاپان د بې وسلې کولو، ملکي کولو او عادي ژوند ته د راستنولو پروګرام؛ او بر یټانیا د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې برخې په غاړه واخیستې. دغه هېوادونو ته د "لوي بسپنه ورکوونکي" نوم ورکړل شوي، دغه کلیدي پارټنر د دوي اړونده سکتورونو د څارنې دنده لري که څه هم چې دوي هرومرو د زیاتو مرستو کوونکي ندي. نور بسپنه ورکوونکي په بېلابېلو برخو کې په مختلفو کچو برخه لري، مګر متحده ایالات په ټولو سکتورونو کې برخه اخلي.

په امنیتي سکتور کې د شریکو پلي کوونکو دغه پراخه شمېرې، په هېواد کې د دولت د واکو محدودیت، او د سمون په مخکې موانع په هرو پنځو برخو کې د سمون د پلي کولو لپاره خنډونه رامنځته کړي دي. د امنیتي سکتور د سمون د زیات شمېر فعالیتونو اداره هم یوه ننګونه ده.د ۱۳۸۳ کال راهیسې د ملي امنیت شورا (NSC) او د ملي امنیت د شورا دفتر د امنیتي سکتور د سمون د عمومي همغږۍ دنده په غاړه لري او د همغږۍ دوه کمیټې یې جوړې کړې چې دواړو یې نړیوال استازیتوب لري: د امنیتي سکټور د سمون کمیټه او د امنیت د همغږۍ مجتمع. د ائتلاف د ځواکونو (۳ م مخ)، د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (۲۳ م مخ) او د افغان امنیتي ځواکونو تر منځ همغږي ځینې وخت ستونزمنه ده. د خصوصي امنیتي شرکتونو حضور په افغانستان کې د امنیتي مسئلو په پېچلتیا کې ونډه لري، سره لدې چې د دوی د موخې او عملیاتو د راجستر کولو لپاره قانون جوړ شویدی.

د امنیتي سکټور یوه نوې ستراتېژي به د افغانستان د ملی پرمختګ په وروستنۍ ستراتیژی کې ځای په ځاي شي (۲۹ م مخ)، کومه چې د ۱۳۸۲ کال د کب په میاشت کې بشپړ کېږي.

# د برلین غونډه او اعلامیه

www.af/recosting/berlinconference.html

د ۱۳۸۳ کال د وري د میاشتې له ۱۲نېټې څخه تر ۱۳ نېټې پورې د افغانستان لویو بسپنه ورکوونکو هېوادونو او پرمختیایي پارټنرو د برلین په غونډه ګډون وکړ. په هغه کې د افغانستان دولت د افغانستان د راتلونکي خوندیتوب تر سرلیک لاندې د یوې سترې مرستې د ترلاسه کولو لپاره ښه اسناد چمتو کړي وو. پدې اسنادو کې راغلي وو چې داسې ځای ته د افغانستان د رسولو لپاره چې باثباته دولت ولري پخپلو پښو ودرېږي په راتلونکو اوو

کلونو کې ۲۷.۴ میلیارد ډالرو ته اړتیا ده. داپداسې حال کې ده چې د ۱۳۸۰ کال د مرغومي په میاشت کې د ټوکیو په کنفرانس کې د وزیرانو د غونډې(۵۲ م مخ) په مهال د راتلونکو لسو کلونو لپاره د ۱۵ میلیاردو ډالرو غوښتنه شوې وه. د برلین په غونډه کې بسپنه ورکوونکو هېوادونو په راتلونکو دریو کلونو کې د ۸.۲ میلیارد ډالرو د ورکړې ژمنه وکړه او د دولت د سملاسي اړتیا د پوره کولو په موخه یې د ۱۳۸۳ مالي کال لپاره ۴.۲ میلیارډ ډالره ورکړل.

د افغانستان د راتلونکي د خوندیتوب پر اسنادو برسېره د برلین پدې غونډه کې د افغانستان حکومت ته ددې فرصت ورکړل شو ترڅو د بن د تړون دپلي کېدو په اړه خپل رپوټ او خپل اوسنی کاري پلان وړاندې کړي. "وروسته بیا: د افغان دولت کاري پلان د ډي ډي آر (۸م مخ)، د ټاکنو اړوند فعالیتونو، د عامه ادارو لپاره نوښتونه، اقتصادي مدیریت، ټولنیز او اقتصادي پرمختګ، جنسیت، د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې، د قانون د حاکمیت او د بشري حقوقو لپاره یوه پیاوړې اجنډا ترتیب کړه.

په غونډه کې ګډون کوونکو د برلین اعلامیه لاسلیک کړه، په کومه کې چې نړیوالې ټولنې ژمنه کړې چې د دولت سره د بن د تړون په پلي کولو، د امنیتي وضعې په ښه والي او د هغه د پرمختیایي اجنډا سره مخته خوځښت کې مرسته وکړي. یو بل تړون لیک د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه د برلین تړون لیک د افغانستان،چین، ایران، پاکستان، ازبکستان، ترکمنستان، او تاجکستان لخوا لاسلیک شو. پدې اعلامیه کې افغانستان او دهغه ګاونډیانو موافقه وکړه چې د غیر قانوني توکو د کښت، تولید او قاچاق د له منځه وړلو په برخوکې د هڅو همغږۍ ته پراختیا ورکړي.

# د بسپنه ورکوونکو د مرستو د معلوماتو سرچینه (DAD)

http://۲۰۳.۲۱۵.۴۳.۳۵/html/dad/index.html

افغان دولت د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري په مرسته د ۱۳۸۱ کال د غبرګولي په میاشت کې د بسپنه ورکوونکو د مرستو د معلوماتو سرچینه جوړه کړه. د بسپنه ورکوونکو د معلوماتي سرچینې موخه داده چې د افغانستان د ملي پراختیایي بودجې (۲۰ م مخ) له لارې د ټولو پلي کېدونکو پروژو او نورو بودجوي پروژو په اړه وروستني معلومات د چمتو کړي. د معلوماتو زېرمه د پروژو د موقعیت، مرسته کوونکو او هغه سازمانونو په اړه چې د هغه په پلي کولو کې ګډون لري، تفصیلي معلومات ساتي. د بسپنه ورکوونکو د معلوماتو د زېرمې د وېب پاڼې له لارې د پروژو مدیران کولای شي اسناد او نور معلومات وړاندې کړي، کوم چې وروسته په دري او انګریزي دواړو ژبو د لاسرسي وړ شوي.

د بسپنه ورکوونکو د معلوماتو زېرمه په اصل کې پدې موخه طرح شوی چې په هېواد کې د مرستو د جریان څرک تعقیب کړي او د پراختیا او بشري پروژو بهیر ثبت کړي. که څه هم چې دغه پروژه لا تراوسه پدې موخه خدمت کوي، خو له کومه ځایه چې افغان دولت هڅه کوي خپله کمزورې بودجه پیاوړې کړي، د بسپنه ورکوونکو د معلوماتو زېرمه هم د بودجې د فارمول جوړولو د معلوماتو د سرچینې په توګه کارول کېږي. لدې کبله اوسنۍ ملي پراختیایي بودجه په پراخه کچه پر همدغه پروګرام ولاړه ده. نښایي په

راتلونکو کلونو کې بدلون ومومي، که څه هم، چې ملي پرمختګ بودجې د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژۍ (۲۹م مخ) د لومړیتوبونو په یوځای کولو پیل کوي.

## د بشري پراختیا ملي رپوټ (NHDR)

www.cphd.af/nhdr/nhdr۰۷/nhdr۰۷.html

د بشري پراختیا ملي رپوټونه د بشري پراختیا پر عمومي مفهوم ولاړ دي، چې د انساني اړتیاوو پر تنوع لکه عاید، پوهنې ته لاسرسي، تغذیه او روغتیا، امنیت، سیاسي او کلتوري خپلواکي او په ټولنه کې پر ګډون ټینګار کوي. د ۱۳۷۱ کال راهیسې تر ۵۰۰ زیات د بشري پراختیا ملي رپوټونه په لمړنۍ بڼه د مخ پر ودې هېوادونو لخوا د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري په مرسته جوړ شوي دي.

د افغانستان د بشري پراختیا لمړي ملي رپوټ د ۱۳۸۴ کال د سلواغې په میاشت کې خپور شو، دغه رپوټ د امنیت او پراختیا پر اړیکو تمرکز کاوه. د کابل پوهنتون او د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري لخوا د افغان دولت په استازیتوب د یو لړ سکتوري او موضوعي سابقه لرونکو اسنادو پر بنسټ چې د ملي څېړونکو لخوا مجاز ګڼل شوي، چمتو شو.

د افغانستان د بشري پراختیا دوهم ملي رپوټ د ۱۳۸۲ کال په منځنیو کې خپور شو، چې د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري د پالیسۍ او بشري پراختیا د مرکز (CPHD) په مرسته د کابل په پوهنتون کې چمتو شو. دغه رپوټ د قانون د حاکمیت او د بشري پراختیا پر اړیکو تمرکز کوي، نوموړي رپوټ په افغانستان کې د قانون د حاکمیت د پراخوالي په وړاندې کلیدي ننګونې په ګوته کوي، او د ټولنیز عدالت په څېړنه کې د معاصر او مروج اصولو وړاندیز کوي.

دغه رپوټ لاندی مسایل وړاندی کوي:

- د افغانستان د زریزې پراختیا د موخو پرمختګ ته یوه بیا کتنه
- د قانون حاکمیت ته د لویو ګواښونو لکه شخصي ناامني، د بشري حقوقو تېرې سرغړونې، د ښځو او ماشومانو پر وړاندې بې عدالتي، د نشه یي توکو سوداګري، اداري فساد او د ځمکې پر سر د شخړو یوه ارزونه
- د افغانانو د اړتیاوو په پوره کولو کې د قضائیه، مقننه او پولیسو د نه بریالیتوب ارزونه
- د افغانستان د عدالت یوه انتقالي بېلګه چې د بشري پراختیا او د قانون د حاکمیت په اړه د افغانستان پخواني او سني او اسلامي سیستمونه یوځای کوي.

د ملي بشري پراختیا د ۱۳۸۲کال رپوټ پدې باور دی چې د قانون د حاکمیت دودیز ارګانونه باید د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژۍ (۱۳م مخ) او د عدالت د اغیزناکه، عصري سیستم په لور د اړونده هڅو یوه بشپړه برخه شي.

په دغه رپوټ کې شامل شیان ؛یوائې هغه وخت چې د افغانانو حقوق تامین شي او خپلې دندې تصدیق کړي، عدالت به غالب شي او ګاونډۍ سیمې به د دوامداره سولې لپاره بنسټ کېږدي".

# د بُــن تــــــړون

www.af/resources/research/Bonn٪۲۰Agreement.pdf

د بن تړون په افغانستان کې د تلپاتې حکومتي اداری د بیاجوړولو لپاره یو مهال وېش ترتیب کړی دي، او همدارازیې د لنډمهالو پروګرامونو د جوړولو لپاره د مهال وېش په جوړولو کې هم هڅې کړېدي تر څو دایمي اداره رامنځ ته شي. د بن تړون د ۱۳۸۰ کال د لیندۍ د میاشتې په ۱۴ نېټه د افغانانو د بېلابېلو ډلو د استازو لخوا (پرته له طالبانو) لاسلیک شو.

د بن په تړون کې بېلابېلې پروسې ترتیب شوی، لکه بېړنۍ لویه جرګه (۸ م مخ) او د اساسي قانون لویه جرګه (۱۴ م مخ) چې د هغه په وسیله قدرت و آزمایل شو او د وخت په تېرېدو د آزادو او منصفانه ټاکنو په پایله کې یو ټاکل شوي حکومت ته ولېږدول شو. هغه د افغانستان حاکمیت لپاره دا زمینه برابره کړه چې لمړئ لنډمهالي حکومت وروسته انتقالي حکومت (۱۸ م مخ) او بلآخره یو ټاکلي دولت ولري.

د بن تړون ته په پراخه کچه ژمنتوب موجود ؤ، که څه هم چې امنیتي وضعې پر مهال وېش اغېزه وکړه. افغان دولت او ملګرو ملتونو په بریالیتوب سره زیاتره غوښتل شوي لنډمهالي پروګرامونه عملي کړل. مګر په استثنا ددې چې له کابل او نورو هغو ښارونو یا سیمو څخه چې هلته د ملګرو ملتونو ځواکونه مېشت شوي وو، باید پوځي قطعات وېستل شوي واي، د بن د تړون وروستي پړاوونه د ولسمشرۍ او د ولسي جرګې ټاکنې وې چې د ۱۳۸۳ کال د تلې په میاشت او د ۱۳۸۴ کال د وږي په میاشت کې ترسره شوی، د دغه تړون ځاي وروسته د افغانستان تړون ونیو.

# د بشري حقونو د څېړنې او مدافعې کمیټه (HRRAC)

www.afghanadvocay.org.af

د بشري حقوقو د څېړنې او مدافعې کمیټه یوه څېړنیزه دفاعي کمیټه ده چې د هغه موخه د بشري حقوقو په بحثونو کې د افغانانو د غږ پورته کول دي. دغه کمیټه په ۱۳۸۲ کال کې پدې موخه جوړه شوه چې افغانې او نړیواله موسسې چې د دولت د پالیسیو او ټولنیزو فعالیتونو د پرمختګ او پلې کولو په ارتقا باندې کار کوی، سره یو ځاي کړي، تر څو په افغانستان کې د بشري حقوقو نړیواله معیارونه وساتل شي.

د دغـه کمیټې کارونـه د سـولې او فزیکـي امنیـت، سیاسـي ګـډون، او پـه اقتصـادي سـرچینو او پرمختـګ کـې د ټولـو افغانـانو د ګـډون پـر حقوقـو تمرکـز لـري. د دغـه کمیټـې وروسـتنی څېړنیـزې پـروژې پـه ځـانګړي ډول پـر امنیـت، د ښـځو پـر مسـئلو، پـوهنې اوپـه ټـاکنو کـې پـر ګـډون تمرکـز کړېدي. د دغـه کمیټـې د مونـدنو پـر بنسـټ د هغـه دفـاعي چـارې دولـت او د ټـولنې مشـرانو تـه رپوټونـه، راډیـویي پروګرامونـه، فلمونـه او د تیـاتر ننـدارې دي.

نومـوړې کمیټـه لـه پنځـو افغـانو او شـپږو نړیوالـو سـازمانونو څخـه جـوړه شـوېده، او دوه مشـورتي غـړي لـري. د ۱۳ غـړو سـازمانونو اسـتازي د مشـرتابه پـلاوی جـوړوي، کـوم چـې پـه هـره میاشـت کـې یوځـل د دغـه کمیټـې د سـتراتیژیک لـوري د تنظـیم او څـارنې پـه موخـه غونـډه کـوي. د مشـرتابه پـلاوی دارالانشـاء تـه چـې د بشـري حقوقـو د څېړنـې او دفـاع لـه دوه یـا دریـو دایمـو کـارکوونکو څخـه جـوړه شـوې، مشـوره ورکـوي. دارالانشـاء مخکـې د سـولې او یـووالي لپـاره د همکـارۍ پـه دفترکـې مېشـت وه، مګـر د ۱۳۸۶ کـال پـه بهیـر کـې د بشـري حقوقـو د څېړنـې او دفـاع کمیټـې خپـل شخصـي دفترونـه او اداري پرانیسـتې. د بشـري حقوقـو د څېړنـې او دفاع د کمیټې اصلي بودجه د آکسفام نووېب او د کلني حق العضویت څخه لاسته راځي.

# د بېوزلۍ د کموالي ستراتېژي پاڼه (PRSP)

د بېـوزلۍ د کمـوالي د سـتراتېژۍ پـاڼې ددې لپـاره طرحـه شـوې چـې د بسـپنه ورکوونکـو هېوادونـو او د بېوزلـو هېوادونـو د حکومتونـو لپـاره د عمـل یـو کـاري چوکـاټ رامنځتـه کـړي. کـه څـه هـم چـې د دغـه پـاڼو جوړښت نرمښت لري مګر پر یو شمېر اصولو ولاړې دي. د بېوزلۍ د کموالي ستراتېژي باید:

- د مدني ټولنې او خصوصي سکتور د نظرونو په مرسته جوړ شوي د هېواد شخصي پروګرام وي؛
- د بېوزلو د ګټې لپاره څرګندې پایلې ولري؛
- د بېوزلۍ د څو اړخیزه طبیعت د پېژندلو په برخه کې پراخ وي؛
- په ګډون (د دوه اړخیزه، څو اړخیزه او نادولتي موسساتو په همغږۍ) سره جوړ شوي وي؛ او
- د بېوزلۍ د کموالي لپاره په اوږدمهال کې د ګټې اخیستنې وړ وي؛

د بېوزلۍ د کمولو د ستراتېژۍ لنډمهالي پروګرامونه د هغه شمېر هېوادونو لخوا جوړ شوي چې لاتراوسه د بېوزلۍ د کمولو د ستراتېژۍ د بشپړ پروګرام منلو ته چمتو ندي. دوي زیاتره وخت مشورو ته کمه پاملرنه او ځینې وخت هېڅ پاملرنه نه کوي، او هېواد د بېوزلۍ د کمولو د ستراتېژۍ د بشپړ پروګرام خواته د څلورمې برخې لارې په اندازه خوځوي. د ۱۳۸۰ کال د برلین په غونډه کې افغانستان دا ومنله چې همداسې یو پروګرام چمتو کړي، له همدې امله افغان دولت د ۱۳۸۴ کال د غبرګولې په میاشت کې د دغه پروګرام لمړنۍ بڼه جوړه کړه. د ۱۳۸۴ کال د وري د میاشتې د افغانستان د ملي پراختیا په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي به د دغه پروګرام له

موادو سره سمون لري. د ۱۳۸۴ کال د مرغومي په میاشت کې د افغانستان د ملي پراختیا لنډمهالې ستراتېژۍ په خپل کار پیل وکړ. د چمتووالي په موده کې پرې ځانګړې مشورې وشوې چې په پایله کې یې د بېوزلۍ د له منځه وړلو د ستراتېژۍ د بشپړ پروګرام تر نیمايي پورې پرمختګ وشو.

کله چې د ۱۳۸۷ کال په لومړیو کې د افغانستان د ملي پراختیا ستراټیژي وروستنۍ شي، دغه کړنلاره به نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق ته د افغانستان د بېوزلۍ د کمولو د بشپړ پروګرام په توګه وړاندې شي. که چېرې دغه ستراټیژي تصویب شي نړیوال بانک به د افغانستان لپاره د هېواد په کچه یوه مرستندویه ستراتېژي جوړه کړي. دغه ستراتېژي په یوه ځانګړي هېواد کې د نړیوال بانک پلان شوي کارونه بیانوي چې زیاتره د دریو کلونو لپاره پلان شوي وي،او د پورونو، څارنې او څېړنې، او تخنیکي مرستو دکړنلارو په اړه معلومات پکې شامل دي.د هېواد په کچه د مرستندویه ستراتېژۍ د جوړېدو څخه مخکې په افغانستان کې د نړیوال بانک حضور د هغه لنډ مهالي ستراتېژۍ پر بنسټ تنظیم کېده چې پر هغه د ۱۳۸۵ کال د غویي په میاشت کې پرې هوکړه شوې وه. دغه ستراتېژي د ملاتړ د لنډمهالو هغه دوه ستراتېژي ګانو ورسته رامنځته شوه چې د ۱۳۸۱ او ۱۳۸۲ لمریز کلونو د کب په میاشتو کې خپرې شوې. د ۱۳۸۱ل کال دملاتړ لنډمهالې ستراتېژید ملګرو ملتونو د پرمختګ پروګرام او د آسیا پراختیایي بانک لخوا د سرته رسېدلې د لمړنیو اړتیاوو د ارزونې د پروګرام پر بنسټ جوړه شوې وه، او د ۱۳۸۲ ل کال د ملاتړ لنډمهالې ستراتېژي د دولت د ملي پرمختګ کاری چوکاټ (۲۱ م مخ) سره سمه طرح شوې وه.

# د پالیسۍ د عمل ډله (PAG)

د پالیسۍ د عمل ډله یوه لوړ پوړې کاري او د بحران د اداري ډله ده، چې د ۱۳۸۵ کال د غبرګولي په میاشت کې د ولسمشر حامد کرزي او د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو(۲۳م مخ) د قوماندان ډیوېډ ریچارډز په وسیله تاسیس شوه تر څو د افغانستان په سهیلي ولایتونو کې د زیاتېدونکو بلواوو ګواښ په ګوته کړي.

د دغه ډلې موخه داده چې د بحران په اړه دافغانستان لوړ پوړي ظرفیت ته وده ورکړي، د افغان دولت د مصرف کوونکي کچې، همغږۍ او تمرکز زیاتوالي؛ او د دولت مینځي او سازمان مینځي همغږۍ د ودې له لارې خطرناکو سیمو ته د پراختیایي مرستو د رسولو بهیر ګړندي کول. دغه ډله د څلورو برخو څخه جوړه شوې چې په ټاکل شویو افغان پراختیایي زونونو کې د څارګرۍ پر رامنځته کولو، امنیتي عملیاتو، ستراتېژیکو اړیکو او بیارغونه او پراختیا- او همدارنګه پر سهیل د جغرافیایي تمرکز سره راڅرخي. د پالیسۍ د عمل ډله د دغه مسئلو په اړه مشورې ورکوي او پر پلي کوونکې ډلې څار کوي.

د پالیسۍ د عمل ډله په اوونۍ کې یو ځل غونډه کوي، چې په هغه کې د ۱۳۸۲ کال د مرغومي له میاشت څخه راهیسې ولسمشر کرزي د رئیس په توګه؛ د دفاع، کورنیو مخابراتو، او پوهنې وزیران؛ د یوناما (۹م مخ)، نړیوالو سوله ساتو ځواکونو او د ائتلاف د ځواکونو لوړ پوړي استازي؛ او د برتانیا، کاناډا، او هالنډ سفیران پکې ګډون کوي.

# د روغتیایي خدماتو بنسټیزه ټولګه (BPHS)

د روغتیایي خدماتو بنسټیزه ټولګه (BPHS) د روغتیا وزارت لخوا د ځینو لویو بسپنه ورکوونکو په همکارۍ په ۱۳۸۱ کال کې په کار پیل وکړ. دا پروګرام دوه موخې لري: ۱) چې د روغتیایي خدماتو یوه معیاري ټولګه وړاندې کړي چې په لمړنیو روغتیایي کلینیکونو کې د روغتیایي خدماتو د وړاندې کولو بنسټ جوړوي، او ۲) د او سېدونکو د شمېر په بنسټ روغتیایي خدماتو ته د برابر لاسرسي د چمتو کولو له لارې د روغتیایي خدماتو بیا توزیع کول.

د روغتیایي خدماتو بنسټیزه ټولګه په ټیټه بیه روغتیایي خدمات وړاندې کوي او د ناروغتیا او د مړینې اصلي لاملونه په ګوته کوي. دغه پروګرام پر هغه حالاتو چې پر ښځو او ماشومانو اغېزه کوي زیات تمرکز لري. د افغانستان د زریزې د پرمختیایي موخو (۴۰م مخ) سره سم د روغتیایي خدماتو د بنسټیزې ټولګې موخه داده چې ټولو افغانانو ته روغتیایي خدمات وړاندې کړي، په ځانګړې ډول هغو کسانو ته چې بېوزله دي او په لیرې پرتو کلیوالو سیمو کې ژوند کوي.

دغه پروګرام دخپل سترو بسپنه ورکوونکو - په لومړي سر کې نړیوال بانک، د امریکې متحده ایالات او اروپایي کمیسیون، سره د موافقې په بنسټ د عامې روغتیا وزارت د نادولتي موسساتو سره تړون وکړ چې په زیاتره ولایتونو کې د روغتیایي خدماتو بنسټیزې ټولګې د نادولتي موسساتو لخوا ، او په یو کم شمېر ولایتونو کې د خپلو ولایتي روغتیایي دفترونو له لارې دغه ټولګې توزیع کړي. که څه هم زیاتره خلکو په لومړیو کې دغه عامه-خصوصي شرکت ته د بدګمانۍ په سترګه کتل، مګر هغه ډېر ښې پایلې لاسته راوړې او د روغتیا سکتور یې په افغانستان کې د ترټولو زیاتو اغېزمنو سکتورونو په ډله کې راوست.

نومړې ټولګه د آسانتیاوو په څلورو مرحلو کې وړاندې کېږي: ۱) روغتیایي پستونه، ۲) بنسټیز روغتیایي مرکزونه، ۳) هر اړخیز روغتیایي مرکزونه، ۴) د ولسوالیو روغتونونه. د روغتیایي خدماتو بنسټیزه ټولګه همدارنګه د کارکوونکو د روزلو او ددغه اسانتیاوو د بنسټیزې بیارغونې او بیا احیأ لپاره معیارونه ټاکي.

د عامې روغتیا د وزارت د ۱۳۸۲ د تلې د میاشتې د احصائیې له مخې د روغتیایي خدماتو بنسټیزه ټولګه د افغانستان د نفوسو ۸۲ په سلو کې خلکو ته د لاسرسي وړ ده.

# د زریزې پرمختیایي موخې (MDG)

www.un.org/millenniumgoals

په ۱۳۸۳ کال کې د افغانستان انتقالي حکومت اعلان وکړ چې د ملګرو ملتونو د زریزې پرمختیایي موخې (MDGs) چې د ملګرو ملتونو د سرمشریزې لخوا په ۱۳۷۹ کال کې رامنځ ته شول، سرته ورسوي. د زریزې پرمختیایي موخې ددې لپاره رامنځته شوي چې په ټوله نړۍ کې د ملي پرمختیایي پالیسیو او د بیارغونې د لومړیتوبونو لپاره د کاري چوکاټ په توګه کار وکړي، چې معیارونه یې د ۲۰۱۵ او ۲۰۲۰ کلونو لپاره ټاکل شوي دي. د زریزې پرمختیایي موخې د

افغانستان د ملي پرمختګ د لنډمهالې ستراتیژۍ (۲۹م مخ)، او د افغانستان د تړون لیک سره یوځای کېږي. اته پرمختیایي موخې دادي:

۱. د بې ساري لوږې او بېوزلۍ له منځه وړل؛

۲. د لومړنیو عمومي زده کړو سرته رسول؛

۳. د جندر د برابرۍ ارتقا او د ښځو پیاوړیتوب؛

۴. د ماشومانو د مړینې د کچې کمول؛

۵. د مورګانو د روغتیا پرمختګ؛

۶. د ایچ آي وي/ ایډز، ملاریا او نورو ناروغیو سره مبارزه؛

۷. د چاپېریال ثبات ډاډمنول؛ او

۸. د پرمختګ لپاره د نړیوال ګډون رامنځ ته کول

په دغه لست کې افغان دولت د خپلو نوښتونو د پرمختګ لپاره یوه نهمه موخه: د امنیت ښه کول، ور زیات کړه. د ۱۳۸۴ کال د غبرګولي په میاشت کې افغان دولت د زریزې د پراختیایي موخو پر پلي کولو او د هغه په پرمختګ د بحث لپاره یو کنفرانس جوړ کړ. د غونډې پایله د "۲۰۲۰ کال لرلید" رپوټ ؤ چې په هغه کې تر ۲۰۲۰ کال پورې د ۲۰۱۵ کال د زیاتره موخو ځنډول، دهېواد د پرمختګ لپاره د ظرفیت د جوړولو پر وړاندې د شته خنډونو تشخیصول راغلي دي.

# د سهیلي او لویدیځ افغانستان او بلوچستان د همغږۍ اداره (SWABAC)

دغه ټولنه د افغانستان په سهیل کې د افغاني او نړیوالو نادولتي موسسو د همغږۍ په موخه جوړه شوېده. د دغه ټولنې مرکزي دفتر په کندهار کې دي.

دغه ټولنه د ۱۳۶۷ل کال د وږي په میاشت کې د هغه ۱۲ نادولتي موسسو لخوا رامنځته شوه چې په بلوچستان او افغانستان کې دننه د افغان کډوالو سره مرسته کوي، د دغه ټولنې د غړیتوب د لاسته راوړلو لپاره نادولتي موسسه باید په سهیلي افغانستان کې کار وکړي، همغږۍ ته لېوالتیا ولري او همدارنګه د بودجې ثبوت ولري، د پنځو نادولتي موسساتو لخوا تصدیق شوي د سازمان په اړه معلومات ولري. د ۱۳۸۲ کال د وږي د میاشتې راهیسې دغه ټولنه ۳۸ غړي لري. دغه ټولنه د غړیتوب منظمې غونډې، د عمومي اسامبلې میاشتنۍ غونډې او د مشورتي کمیټې لپاره په هرو دوو اوونیو کې ګردځ مېز جوړوي، برسېره پردې د اړتیا په وخت کې غونډې جوړوي.

د سهیلي او لویدیځ افغانستان او د بلوچستان د همغږۍ د ټولنې فعالیتونه په درېو برخو وېشل کېږي: همغږي، مدافعه او ظرفیت جوړونه. دغه ټولنه خپل غړو ته یو جرګه ځای برابروي څو د مرسته رسولو لپاره د پالیسۍ د لارښوونکو کرخو، د سرچینو مدیریت او نورو عملیاتي مسئلو او په سهیلي افغانستان کې د مرستندویه ټولنو په منځکې د همغږۍ د پیاوړتیا د وروستنۍ موخې په اړه د خپلو اندیښنو په هکله څرګندونې وکړي. دغه ټولنه د نادولتي موسساتو د کړندود (۵۰م مخ) په تسوید کې د افغان نادولتي موسساتو د همغږۍ د اداري (۲۷ م مخ) او د افغانو مېرمنو سازمان (۱۲م مخ ) په ګډون، برخه درلوده.

# د سیمه ایز حکومت خپلواکه اداره (IDLG)

د سیمه ایز حکومت خپلواکه اداره (IDLG) د ۱۳۸۶ کال د زمري د میاشتې په ۸مه د ولسمشرۍ د فرمان په بنسټ او د یوه حکم سره چې په سیمه ایزه کچه حکومتدارۍ غښتلېاو ثبات تامین کړي، تاسیس شوه. د سیمه ایزې حکومتدارۍ خپلواکه اداره د افغانستان د ترون د ټاکل شوي معیارونو او د افغانستان د ملی پرمختګ لندمهالې ستراتیژۍ د شاخصونو د پلي کولو په اړه پر والیانو، ولسوالانو، ولایتي شوراګانو (۷۴ م مخ) او ښاروالیو (د کابل ښاروالۍ پرته) د څارنې دنده لري.

د دغه اداري دنده داده چې: "سوله او ثبات پیاوړي کړي، د پراختیا او مساوي اقتصادي ودې پروسه پلې کړي او چې د خدماتو په توزیع کې د منصفو، دیموکراتیکو پروسو او په سیمه ایزه کچه د ښه حکومت کولو د ارګانونو د جوړولو له لارې پرمختګ او له همدغه لارو د افغانانو د ژوند ښه کول". د دغه ادارې موخې دادي:

۱. په سیمه ایزه کچه د ددولتي ارګانونو جوړول او پیاوړي کول ترڅو د قانون د حاکمیت او عام رضایت پر بنسټ رونې، حساب ورکوونکي، ګډون کوونکي، ګټور، اړیکه لرونکي او جامع سیمه ایزه حکومتداري رامنځ ته کړي.

۲. په سیمه ایزه کچه د دولتي ارګانونه تاسیسول او پیاوړي کول ترڅو په حکومتدارۍ کې د خلکو ګډون باوري کړي او د خدماتو په توزیع او د حقوقو په ساتنه کې د اندازه کولو وړ پرمختګ ترلاسه کړي.

۳. د ښځو په وړاندې د تبعیض له منځه وړل، د دوی د بشري مقام لوړول او د دوی مشرتابه ته پرمختګ ورکول؛ او

۴. په اوږد مهال کې، په عام سکتور کې د فساد پر وړاندې مبارزه ترڅو د دولت اغېزمنتیا، روښوالي او حساب ورکونه زیاته کړي او د پانګې اچونې لپاره مناسب چاپېریال رامنځ ته کړي.

دغه خپلواکه اداره به د یو شمېر وزارتونو او ادارو سره په همکارۍ کارونه سرته ورسوي چې د دغه ادارو او وزارتونو له ډلې څخه د اداري سمون او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون (۱۳ م مخ)، د ټاکنو خپلواک کمیسیون (۵۵ م مخ)، د

احصایې مرکزي دفتر (۱۱م مخ)، د فساد پر وړاندې د مبارزې خپلواکه عمومي اداره (GIAAC)، د اداري چارو دفتر (۱۳م مخ) او یو شمېر وزارتونه دي.

د سیمه ایزې حکومتدارۍ د خپلواکې ادارې د ستراتېژیک کاري چوکاټ سند بیانوي چې په ۱۳۸۹ کال کې به دولت د سیمه ایزې حکومتدارۍ د پالیسۍ او د هغه د قانوني، نظم ورکوونکي او رسمي کاري چوکاټ د جوړولو او پلي کولو ډاډ ورکوي.

# د عدلي سکتور سمون (JSR)

د عدلي سکتور سمون د حکومت د امنیتي سکتور د سمون د ستراتېژۍ (۳۳ م مخ) د پنځو پایو ځخه یوه پایه ده. پدې پروسه کې یو پراخ شمېر پروژې په مساوي ډول د یو پراخ شمېر فعالینو لخوا پلې کېږي. د افغان دولت په دننه کې دایمي ارګانونه چې د عدلي سکتور د سمون سره اړیکه لري دادي: ستره محکمه، د عدلیې وزارت او د لوی ځارنوالۍ دفتر. په عدلي سکتور کې اصلي بسپنه ورکوونکي دادي: ایټالیا "د کلیدي شریک" په توګه، متحده ایالات، کاناډا، ناروې، آلمان او بریټانیا. د ملګرو ملتونو یو شمېر دفترونه هم د عدلي سکتور له سمون سره مرسته کوي چې د دغه دفترونو له ډلې ځخه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستو هیات (۹م مخ) ، د ملګرو ملتونو پراختیایي اداره، د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو دفتر (UNODC)، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (UNICEF) او د ښځو لپاره دملګرو ملتونو وجهي صندوق دی. د عدلي سکتور په سمون کې له لوړپوړو ځخه کښته سازماني پراختیا او له کښته ځخه پورته د عامه لاسرسۍ نوښتنونه شامل دي، لکه:

- د عدلي ادارو د بېخبنا رغول او بیارغول او د عدلي سکتور د مامورینو د ظرفیت لوړول او روزل؛
- د پوهنتون په کچه د عدلي تعلیمي نصاب نوي کول؛
- د قوانینو تسوید ؛
- د قانوني مرستو د چمتو کولو او د عامه پوهاوي د کمپاینونو پراخول؛
- د دودیزو عدلي میکانیزمونو ښه کول (په لومړي سر کې سیمه ایزې جرګې او شوراګانې) ترځو ډاډ ترلاسه شي چې دوي له ملي عدلي نظم او د بشري حقوقو له نړیوالو معیارونو سره سمې دي؛ او
- له نورو حکومتي لومړیتوبونو لکه د نشه یي توکو پروړاندې مبارزه، د فساد پر وړاندې مبارزه او د ځکمو سمون سره همغږي کول.

د ۱۳۸۰ کال راهیسې د عدلي سکتور د سمون په برخه کې لاسته راوړنې عبارت دي له: د ځو کلیدي قوانینو پاس کېدل، د قاضیانو، قضایي پولیسو، ځارنوالانو او مدافع وکیلانو روزل؛ د قانون او قضا په اړه د اکاډمیک نصاب بیاتسوید ؛ د ځینو محکمو، د ځارنوالانو د دفترونو، زندانونو او د قضائي سکتور د ارګانونو رغول.

ديارلس شپږ اتياووم کال د کابل په پوهنتون کې د ملي قانوني روزنيز مرکز د پرانيستلو شاهد ؤ. دغه مرکز د فارغ التحصيلو زده کوونکو، د قضا د متخصصينو او د افغان قضايي ارګانونو مامورينو ته قضايي روزنيز پروګرامونه جوړوي. بله پروژه ولايتي قضايي نوښت دي چې په سيمه ايزه کچه د افغان روزونکو په ګمارلو سره په ټول هيواد کې د قضايي ظرفيت لوړولو لپاره زمينه برابروي.

د ۱۳۸۰-۱۳۸۴ کلونو په بهير کې په پام کې ؤ چې د عدلي سکتور سمون د نورو سکتورونو تر سمون پورې وځنډول شي. مګر د ۱۳۸۲ کال په منځنيو کې عدلي سکتور په افغانستان کې د سکتوري سمون په برخه کې د مشرتابه رول ولوباوه. د عدلي سکتور سمون ته ژمنتوب د ۱۳۸۵ کال د تلې په مياشت کې د عدلي سکتور د سمون لپاره د نړيوالې همغږۍ د ډلې، په افغانستان کې د قانون د حاکميت په اړه د ۱۳۸۵ کال د ليندۍ د دوبۍ کنفرانس، او په افغانستان کې د قانون د حاکميت په اړه د ۱۳۸۶ کال د چنګاښ د مياشتې د روم د کنفرانس په جوړېدو سره بيا پياوړې شو.

د روم په کنفرانس کې ګډون کوونکي – د افغان دولت، د بسپنه ورکوونکو او نړيوالې ټولنې استازو د اصولو او کليدي فعاليتونو تر چتر لاندې پر يو لړ ګډو موخو هوکړه وکړه. د کليدي کارونو پلي کېدل د کنفرانس څخه وروسته په سملاسي توګه پيل شول، چې پدې فعاليتونو کې د ملي قضايي پروګرام (NJP) جوړول، د ملي قضايي پروګرام لپاره د مرسته کوونکو هيوادونو څخه د بسپنې د ترلاسه کولو لپاره ديو ميکانيزم رامنځته کول، او د بسپنه ورکوونکو د پلي کېدو پلان (DIP) چې د لنډمهاله پروژو لپاره سملاسي مرستې او د اوږدمهاله پروژو لپاره همغږې مرستې چمتو کوي چې بايد د افغانستان د ملي پرمختګ په ستراتيژۍ (۲۹م مخ) کې وروستنۍ شي، شامل وو.

د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتيژۍ د يوې برخې په توګه هر عدلي ارګان، ستره محکمه، د عدليې وزارت او لوي ځارنوالي د سمون لپاره يوه ستراتيژي جوړه کړه. د يوناما د قانون د حاکميت د څانګې په لارښوونه او تخنيکي مرسته دغه ستراتيژي ګانې د ۱۳۸۶ کال د لړم په مياشت کې د عدلي سکتور د يوې ستراتيژۍ په بڼه جوړې شوې چې د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتيژۍ د تر ټولو ښې پرمختللې ستراتيژۍ په توګه وګڼل شوه.

د عدلي سکتور د سمون د زيات شمېر پلي کوونکو د چارو د څارنې او همغږۍ په موخه متعدد ميکانيزمونه طرحه شوي دي. اوس مهال د عدلي سکتور د سمون د همغږۍ دنده د دولت په دننه کې د قانون د حاکميت د کاري ډلې او د افغانستان د پراختيايي کړنلارې په پروسه کې د قانون د حاکميت او د بشري حقوقو د مشورتي ډلې (۵۹م مخ) په غاړه ده. کاري ډله د افغانستان په تړون ليک (۱۸ م مخ) کې د عدلي سکتور د موادو د پلي کېدو پر بهير د څارنې دنده لري کاري ډله دنده لري څو په عدلي سکتور کې د هغه ټاکل شويو معيارونو د پرمختګ څارنه وکړي چې د افغانستان په تړون ليک (۱۸م مخ) کې مشخص شوي وي. د روم د کنفرانس ګډونوالو همدارنګه موافقه وکړه چې د افغانستان په مشرۍ د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتيژۍ د دارالانشاء او د همغږۍ او څارنې د ګډ هيات تر څارنې لاندې د عدلي سکتور د څارنې او ارزونې لپاره يو سيستم جوړ کړي.

# د قضاء او د قانون د حاکميت په اړه د روم کنفرانس

په ۴۳ مخ کې د عدلي سکتور سمون وګورئ.

# د کابل په پوهنتون کې د افغانستان پېژندنې مرکز (ACKU)

www.ackuaf.org

د کابل په پوهنتون کې د افغانستان پېژندنې مرکز یو غیر انتفاعي سازمان دی چې سرچينې راغونډوي او هغه څېړنو ته لاره برابروي چې د افغانستان ملي جوړښت د ننګونو په اړه وي. دغه مرکز له ۱۵۰۰۰ څخه زيات لست شوي توکي لري، چې په هغوي کې د افغانستان لپاره د مرستو د همغږۍ د ادارې (۲۷ م مخ) د سرچينه ايز مرکز توکي هم شامل دي. دغه مرکز په سيمه کې د افغانستان د اړونده توکو د راغونډولو تر ټولو پراخه ټولګه چمتو کوي.

توکي په پښتو، دري او مختلفو غربي ژبو د افغان دولت، د ملګرو ملتونو د دفترونو، نادولتي موسساتو او نړيوالو پوهانو او څارونکو لخوا په پراخه کچه توليد بړي او د ښې روغتيا او د کرهڼې کرنلارې، سياسي تحليل، بې ساري کورني اسناد چې د ښځو د حقوقو لپاره مبارزه ښيي، وروستني قوانين، د مجاهدينو کميابې خپرونې، ميراثي کلتوري مسائل او د افغاني ادبياتو زيات شمېر کارونه پکې شامل دي.

د نوموړي مرکز د لوستلو کوټه زده کوونکو، محصلينو او پاليسي جوړوونکو ته له انټرنټ سره تړلي د کمپيوټر آسانتيا او د دغه مرکز د معلوماتو سرچينه (ډيټا بېس) چمتو کوي. په سمعي-بصري څانګه کې د اوسنيو خبرونو رپوټونه او د نادولتي موسساتو د پروګرامونو په هکله راز راز ويډيوګانې، د افغانستان په وروستني تاريخ کې پېښې او د توکم د پېژندنې او کلتوري فلمونه پکې شامل دي. د دغه مرکز د کتابونو کوټې اود لوست کوټې اوس مهال د کابل پوهنتون په مرکزي کتابتون کې واقع دي، مګر ددغه مرکز موخه داده چې بالآخره د کابل پوهنتون په ساحه کې خپله ودانۍ تر ولکې لاندې راولي.

د نوموړي مرکز لويه موخه داده ترڅو هغه پوهې ته لاسرسي رامنځ ته کړي کومه چې د افغاني ټولنې د تېرو، اوسنيو او راتلونکو وختونو کې د ټولنيزو، اقتصادي، سياسي او کلتوري خوځښتونو په پوهېدو کې مرسته کوي. د هغه ځانګړې موخې دا دي:

- د معلوماتو د زېرمې چمتو کول ترڅو په افغانستان او بهر کې څېړنې آسانه کړي؛
- چې د افغاني چارو د څېړلو لپاره د ښې سرچينې او مسلکي کتابتون په توګه کار وکړي، د بشپړوونکو خدماتو لکه د ټولګو مديريت، د لوستونکو خدمات، معلوماتي ټکنالوژي او پراختيايي پروګرامونه، سيمينارونه، ننداري، خپرونې او د رسنيو پلورنځۍ لرونکي وي؛
- د افغانستان او د هغه د خلکو په اړه د څېړنو د ټولو ارزښتناکو اسنادو د راغونډېدو، خونديتوب او هغه ته د اکاډميسينو، محصلينو، مرستندويه ټولنې، د مدني ټولنې د سازمانونو او عامه خلکو د لاسرسي څخه ډاډ تر لاسه کول.
- د معلوماتو د سرچينې (ډيټابېس)، ويب پاڼې، PDFs، او CD-ROMs په ګډون د نوي معلوماتي ټکنالوژيو په کارولو سره اسنادو ته د زيات لاسرسي چمتو کول؛ او

- په ټول افغانستان کې د ولايتي عامه او د پوهنتون د کتابتونونو همدارنګه په بهر کې له علمي سازمانونو سره د اړيکو ټينګول.

د افغانستان پېژندنې مرکز همدارنګه د اريک ګرځنده کتابتون (ABLE) چلوي چې په ولايتونو کې د ټولنو او ليسو لپاره د کتابتونونو د چمتو کولو په موخه جوړ شوی دی. د ښوونکو، د نادولتي موسسو د کارکوونکو، هټيوالو او ملايانو په ګډون د ټولنې د ځايي رازلرونکو لخوا اداره کېدونکي د اريک ۱۵۰ ګرځنده کتابتونونه چې د تاريخ څخه تر چاپېريال، دکورنۍ اداري څخه تر ښو روغتيايي کړنلارو پورې زيات راز راز کتابونه لري. د اريک ګرځنده کتابتون همدارنګه د نوو لوستو خلکو لپاره د مور او ماشوم د ساتنې، د ژوو د هوساينې او اسلام تر عنوانونو لاندې په زړه پورې د لوستلو آسانه کتابونه خپروي.

# د لندن کنفرانس

www.afghanistanconference.gov.uk

د ۱۳۸۴ کال د سلواغې په ۱۱ او ۱۲ نېټه د برتانيې حکومت د لندن په ښار کې د افغانستان په اړه د يو لوي نړيوال کنفرانس چې مشري يې د افغان دولت او ملګرو ملتونو لخوا کېده، کوربه توب وکړ. پدغه کنفرانس کې د ۷۰ هېوادونو او نړيوالو سازمانونو تر ۲۰۰ زياتو استازو ګډون وکړ، او د افغانستان پر راتلونکي پراختيا بحث وشو. دغه کنفرانس درې موخې درلودې: د افغانستان د تړون ليک (۱۸م مخ) رسمي پيلول، نړيوالې ټولنې ته د افغان دولت لخوا د افغانستان د ملي پرمختګ لنډمهالې ستراتيژۍ (۲۹ م مخ) وړاندې کول او کورنيو غوښتنو او نړيوالو ژمنو ته د افغان دولت د بسيا کوونکو سرچينو څخه ډاډ ترلاسه کول.

د لندن په کنفرانس سره د بن تړون (۳۷م مخ) او د طالبانو د نسکورېدو وروسته د افغانستان د پراختيا لمړۍ مرحله پای ته ورسېده، کومه چې د کليدي سياسي ارګانونو د بياجوړېدو او په ډيموکراتيکه توګه د ملي حکومت د جوړېدو شاهده وه. دغه کنفرانس همداراز د نړيوالې ټولنې غړو ته فرصت ورکړ چې د افغانستان د بيارغونې په اړه خپلې سياسي او مالي ژمنې بيا تاييد کړي.

# د معيشت نورې لارې (AL)

د معيشت نورې لارې يوه اصطلاح ده چې د هغه شمېر کليوالي پرمختايي فعاليتونو لپاره چې بزګرانو او نورو کليوالي کارکوونکو ته مشروع اقتصادي نورې لارې چمتو کوي،او دترياکو پر کښت د تکيې کولو څخه يې ژغوري، کارول کېږي. د معيشت نورې لارې د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې په ستراتيژۍ کې د افغان حکومت يو کليدي عنصر دی. د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت، د معيشت نورو لارو ته ځانګړې شوې ځانګه لري، کومه چې د ۱۳۸۴ کال د چنګاښ په مياشت کې د حامد کرزي لخوا تصويب شوې د دغه پروګام د پلي کولو پر پلان څارنه کوي. دغه ځانګه همدارنګه د "ښې بوختيا ، له بسپنه ورکوونکو څخه د معيشت د نورو لارو د پروګرام لپاره د مالي او تخنيکي ملاتړ، او په ښه توګه د مرستو د توزيع" په برخو کې کار کوي"

د معیشت د نورو لارو پروګرامونه په لنډ مهال کې هڅه کوي ترڅو هغه کسانو سره چې خپل معیشت یې د کرنې څخه د خپل ځاني مخنیوي/ډډې پوسیله له لاسه ورکړي وي یا محصولات یې په اجباري توګه لمنځه وړل شوي وي مرسته وکړي. دا پروګرامونه د کار پر وړاندې د پیسو پروژې لري کومې چې کلیوالي ښځبناوې بیارغوي، عاید زیاتوي او ښوزلو کورنیو ته د مسلک زده کولو زمینه برابروي. په اوږد مهال کې د بدیل معیشت پروګرامونه ښايي د کلیوالي پرمختګ جامع نوښتونه وي، چې د هغوي موخه د تریاکو کرونده ګرو او کارکوونکو ته د کښت نور بدیلونه، د اعتبار میکانیزمونه، د سوداګرۍ ملاتړ، بازارونو ته لاسرسي او د ټولنیزې ساتنې پروګرامونه وړاندې کوي.

د معیشت د نورو لارو د پروګرام اصلي کارونه د کلیدي وزارتونو لکه د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت، د کرنې، مالدارۍ او خوړو وزارت، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت، د ټول ګټو وزارت او د اوبو او بریښنا وزارتونو سره په شریکه هغه تړون کوونکو په غاړه اخیستي چې د امریکې د متحده ایالاتو، اروپایي ټولنې او برتانیې د هېوادونو لخوا تمویلېږي.

د دوي کار په پراخه کچه په هغه ولایتونو تمرکز کړئ چې تریاک پکې زیات کرل کېږي لکه ننګرهار، لغمان، کندهار، هلمند، بدخشان، ارزګان، غور، فراه، بلخ او کنړ. پدې خبره لا تر اوسه بحثونه شته چې آیا د بدیل معیشت پروګرامونه باید لمړئ په هغه سیمو تمرکز وکړي چې د تریاکو کر پکې نوي رواج موندلي، که هغه سیمې چې د تریاکو کر پکې اوږد تاریخ لري.

# د ملکي خدمتونو کمیسیون

د اداري سمون او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون (IARCSC) وګورئ (۱۳م مخ)

# د ملي پیوستون پروګرام (NSP)

**www.nspafghanistan.org**

د ملي پیوستون پروګرام (NSP) په ملي پرمختګ کاری چوکاټ کې تعریف شویدي او لاتراوسه د فعالو د ملي لومړیتوبونو د پروګرامونو له ډلې څخه دي. د ملي پیوستون پروګرام تر ټولو ارزښتناکه موخه داده چې د پرمختیا په پروسه کې د سیمه ایز ګډون کچه لوړه کړي. په ځانګړي ډول د دغه پروګرام دوه لمړنۍ موخې په لاندې ډول دي:

- د کلیو په کچه مشورتي پربکړو ته د یوه کاري چوکاټ جوړول ترڅو له یوې خوا خپله د ټولنو تر منځ او له بل لوري د مرستندویه ادارو تر منځ یو پوهاوي رامنځته کړي.
- په سیمه ایزه کچه د بیارغونې، پراختیا او ظرفیت جوړولو ته پرمختګ ورکول څو چې د هغه په لړ کې د ښوزلۍ کچه هم راټیټه شي.

د ملي پیوستون پروګرام هڅه کوي چې دغه موخو ته د څلورو لارو ورسېږي: ۱) د ټولنیزو پراختیایي شوراګانو جوړول، او د پرېکړه کولو استازي هیئتونه چې د پټو او منصفانه ټاکنو له لارې ټاکل شوي وي؛ ۲) د ټولنیزو پراختیایي شوراګانو سره د ټولنې د پراختیا د پلان په جوړولو کې مرسته، کوم چې د پراختیا لومړیتوبونه واضح کوي او د بیارغونې پروژې او کوچنۍ پروژې چې په ګډه سره طرح شوېدي، وړاندیز کوي؛ ۳) فرعي پروژو ته د پیسو مستقیمه ورکړه؛ او ۴) له دولتي ارګانونو، نادولتي سازمانونو او بسپنه ورکوونکو سره د ټولنې د پراختیایي شوراګانو تړل ترڅو خدماتو او سرچینو ته لاسرسي زیاته شي. دغه مرحلې د ملي پیوستون د آسانولو د شریکانو- د ملګرو ملتونو هبیتات او تر ۲۰ زیاتو نړیوالو او سیمه ایزو نادولتي سازمانونو په مرسته پلي کېږي.

د ۱۳۸۲ کال د تلې د میاشتې راهیسې د ملي پیوستون پروګرام د ۱۸۵۰۰ ټولنیزو پراختیایي شوراګانو د ټاکنو لپاره لاره برابره کړې او په ۳۴۶ ولسوالیو کې یې د ۱۸۳۰۰ ټولنیزو پراختیایي پلانونو د لارښوونې چارې سرته رسولې دي. د پروګرام د پیل راهیسې تر ۴۰۰ میلیونو ډالرو زیاتې پیسې لګول شوې، ۱۴۵۰۰ فرعي پروژې بشپړې شوې او ۳۳۰۰۰ نورې تصویب شوېدي. زیاتره فرعي پروژې د اوبو رسولو او د چاپېریال پاکي، ټرانسپورټ، د اوبو لګولو او د پوهنې په برخو کې پغاړه اخستلې شوې دي.

د ملي پیوستون پروګرام د اداري او څارنې دنده د کلیو د بیارغونې او پراختیا د وزارت په غاړه ده. اداري مشاورین د کلیو د بیارغونې او پراختیا له وزارت سره پدې کار کې مرسته کوي، او د ملي پیوستون د مشرتابه کمیټه او د وزارت مینځي کاري ډله د پروګرام د پالیسۍ، پلي کولو او همغږۍ د مشورتي ظرفیت په توګه کار کوي.

د ملي پیوستون یوه نوې مرحله چې د ۱۳۸۲ کال په لومړیو کې پیل شوه. د ملي پیوستون دوهمه مرحله د لمړۍ مرحلې په شان جوړه شوېده، مګر د تسهیل لپاره کم وخت ورکوي او د ډېر کم توپیر لرونکي اداري جوړښت لري. دغه پروګرام به د ملي پیوستون پروګرام هغه ټولنو ته پراخ کړي چې د ملي پیوستون د لمړۍ مرحلې په وسیله تر پوښښ لاندې نه وې راغلې، او د دریو کلو لپاره جوړ شوي دي. په ابتدائي ډول د ملي پیوستون د پروګرام لپاره بودجه د نړیوال بانک، د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (۲۱م مخ)، اروپایي کمیسیون، متحده ایالاتو، کاناډا، جاپان، ناروې، ډنمارک، سویزرلنډ، هالنډ او آلمان لخوا تمویلیږي.

# د ملي څارنې سیستم (NSS)

www.mrrd.gov.af/vau

د بېوزلۍ، زیان منني او خوړو د امنیت د څارنې ملي سیستم، یا په ساده وینا د څارنې ملي سیستم (NSS) د دې لپاره طرح شوي چې تر یوه چتر لاندې د خوړو د امنیت او زیان منني په اړه معلومات راغونډ کړي. د دغه پروګرام چارې په ۱۳۸۲ کال کې پیل شوې. د دغه پروګرام موخې دادي چې هغه معلومات راغونډ کړي چې د پرمختللې پالیسۍ په پراختیا او پروګرام کولو په برخه کې مرسته کوي، او لدې څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې اړونده دولتي اداري د دې ظرفیت لري چې په راتلونکي کې د ملي څارنې فعالیتونه سرته ورسوي. د ملي څارنې سیستم څلور لویې برخې لري:

۱. د ملي ګوابښونو او زيان منلو په اړه شپږمياشتنۍ سروې او ارزونه؛
۲. د بېړنيو اړتياوو ارزونه؛
۳. د مخکيني خبر ورکولو او معلوماتو سيستم؛ او
۴. څېړنې او ځانګړې مطالعې؛

دغه پروژه د کليو د بيارغونې او پراختيا د وزارت لخوا د خوړو د نړيوال پروګرام (WFP)، د عامې روغتيا د وزارت، د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د وجهي صندوق (UNICEF) او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د وزارت سره په نږدې همکارۍ مخته بېول کېږي.د زيان منني د څېړلو اداره (VAN) د کليو د بيارغونې او پراختيا په وزارت کې تاسيس شوه ترڅو د ملي څارنې سيستم نوښتونه پلي کړي. په ۱۳۸۴ کال کې د ملي څارنې سيستم د مرکزي احصائيې د دفتر سره همکاري پيل کړه او د مرکزي احصائيې په دفتر کې د ملي څارنې د سيستم څانګه منځته راغله څو د ملي ګوابښونو او بېوزلۍ د ارزونې د معلوماتو راغونډول په غاړه واخلي. د ملي څارنې سيستم هڅه کوي څو هغه ميتودونو ته چې په بحراني حالاتو لکه زلزله او د شديدو سيلابونو په مهال د دولت د اړتيا وړ معلومات چمتو کوي پراختيا ورکړي ، او مخکې له مخکې د خبر ورکولو سيستمونو او د بېړنيو ارزونو خدماتو ته وده ورکړي.

# د ملي ګوابښونو او زيانمننې د ارزونې اداره (NRVA)

د ملي ګوابښونو او زيانمننې د ارزونې اداره يوه اصلي آله ده د کومې له لارې چې د احصايې د مرکزي دفتر د څارنې ملي سيستم څانګه د افغانانو د زيانمننې په هکله معلومات راغونډوي. د دغه ادارې دوه لمړنې رپوټونه د ۱۳۸۲ او ۱۳۸۴ کلونو په ترځ کې سرته ورسېدل. د دغه ادارې د ۱۳۸۲ کال ساحوي کار چې د ۱۲ مياشتو به ترځ کې د پلي کيدو لپاره طرح شوی دی، د ۱۳۸۲ کال د زمري په مياشت کې پيل شو.

د دغه ادارې سروې پدې اړه خدمت کوي چې د خوړو د امنيت، بېوزلۍ او زيانمننې په اړه د ټولنيزې ساتنې د پروګرامونو او پاليسيو په ډيزاين او پلي کولو کې د دولت او مرستندويو پلي کوونکو د استعمال لپاره په وخت او معتبر معلومات چمتو کړي. د ۱۳۸۲ال کال د ملي ګوابښونو او بېوزلۍ د ارزونه به د: پوهنې او روغتيا؛ هستوګن ځاي جوړول او د کورنۍ آسانتياوې؛ اوبه او حفظ الصحه؛ کرهنيز فعاليتونه او د څارويو ساتنه؛ کډوالېتوب، د پيسو لېږد او ټولنيزې شبکې؛ د کورنيو د عايد سرچينې، لګښتونه، شتمنۍ، او عايد ته لاسرسي؛ کورني لګښت؛ د ښځو فعاليتونه؛ او د ګوابښونو، زيانونو او د مبارزې ستراتېژۍ په اړه معلومات راغونډ کړي.

د دغه ادارې د لويې بېلګې له مخې – په ۱۳۸۴ کال کې تر ۳۱۰۰۰ زياتې کورنۍ او په ۱۳۸۲-۱۳۸۷ کلونو کې تر ۲۱۰۰۰ زياتې کورنۍ- د ملي ګوابښونو او زيانمننې د ارزونې اداره ددې وړتيا لري چې د ټولو ولايتونو، کوچيانو او ښاري مرکزونو په اړه د لوړ کيفيت احصائيې وکړي.د ملي ګوابښونو او بېوزلۍ د ارزونې د ادارې د ټولو فعاليتونو رپوټونه او د معلوماتو پايلې د کليو د بيارغونې او پراختيا د وزارت په ويب پاڼه کې موندل کېداي شي.

# د ناحکومتي موسسو قانون او کړنلاره

د ۱۳۸۱ ل کال راهیسې دوه ستر نوښتونه رامنځ ته شوي ترڅو روښانه کړي چې کومو سازمانونو ته غیر انتفاعي نادولتي سازمان وایي او کومو ته نه، او په افغانستان کې د نادولتي موسساتو په فعالیتونو کې روڼوالي او حساب ورکونه زیاته کړي. لومړی نوښت هغه قانون ؤ چې د نادولتي موسساتو او د هغوي د مجازو فعالیتونو د پېژندلو لپاره استعمالېږي، د نادولتي موسسې د جوړولو لپاره یو شمېر معیارونه برابرول، د دوي د چمتو شویو رپوټونو څرګندتیا ، او ډله انتفاعي موسسې چې اوس مهال د نادولتي موسساتو په بڼه ثبت شوېدي دې ته اړ ایستل چې ځان په سوداګریزه بڼه جوړ کړي، ترڅو د ناحکومتي موسساتو په کارونو کې روڼوالي او حساب ورکونه رامنځته شي. دوهم نوښت د نادولتي موسساتو کړندود وه چې د هغه نادولتي موسساتو د ټولنې پوسیله چې په افغانستان کې په فعالیت بوخت دي د یو خودمختاره میکانیزم په څیر طرح شو څو د روڼوالي، حساب ورکونې او مسلکي معیارونو په اړه د ټولو لاسلیک کوونکو هوډ باوري کړي.

د نادولتي موسساتو سره په سلا او د ناحکومتي موسسو لپاره د نړیوال مرکز په تخنیکي مرسته د نادولتي موسسو د قانون لمړی مسوده په ۱۳۸۲ ل کال کې د عدلیې وزارت ته وړاندې شوه. نادولتي موسسو د افغانستان په پراختیایي غونډو کې هم د ۱۳۸۳ل کال د ورې د میاشتې او هم د ۱۳۸۴ کال د ورې د میاشتې په غونډو کې د نادولتي موسساتو د قانون جوړونې په وخت پاې ته رسېدو غوښتنه وکړه، د نادولتي موسساتو قانون بالآخره د ۱۳۸۴ کال د غبرګولي په میاشت کې پاس شو. دغه قانون رښتینې نادولتي موسسې د ټرونوالو په وسیله د ثبت شوو نادولتي موسساتو څخه بېلې کړي. د ۱۳۸۰ل کال د ورستیو او د ۱۳۸۳ ل کال تر وروستیو پورې کابو ۲۴۰۰ ادارې د نادولتي موسساتو په نوم له حکومت سره ثبت شوې، سره لدی چې د راجستر کېدو لپاره کوم رسمي شرایط موجود نه وو.

کله چې د ۱۳۸۲ کال د چنګاښ په میاشت کې د نادولتي موسسو دقانون لمړی مسوده حکومت ته وړاندې شوه نو ۱۲۰ نا دولتي موسسو په یو ورکشاپ کې ګډون وکړ څو د نادولتي موسسو د کړندود په محتوا بحث وکړي. ددغه کړندود مسوده د ناحکومتي موسسو د ۴ سترو تنظیموونکو ادارو: اکبر (۲۷م مخ)، د افغانی ناحکومتي موسسو د همغږۍ اداره(۳۲م مخ)، د سهیلې او لویدیز افغانستان او بلوچستان د همغږۍ اداره (۴۱ م مخ) او د افغان مېرمنو د سازمان (۱۲م مخ) لخوا طرحه شوې وه. د دغه کړندود دارالانشاء د اکبر تر څارنې لاندې جوړه شوه ترڅو مسوده تنظیم او وروستنۍ کړي، کومه چې ۱۳۸۳ کال د غویي په میاشت کې بشپړه شوه. د نادولتي موسساتو کړندود بالآخره د ۱۳۸۴ ل کال د غبرګولي د میاشتې په ۹ نېټه په عمومي ډول د نادولتي موسساتو لخوا خپره شوه. د دې لپاره چې د دغه کړندود لاسلیک کوونکې شي موسسې باید د خپل نادولتي توب په هکله ځینې اسناد حاضر کړي چې پدغه اسنادو کې د راجستر کېدو سند، د همغږۍ د ادارو غړیتوب، مالي ریکارډونه او اړونده وزارت ته د رپوټ ورکولو ثبوت شامل دي. د نادولتي موسساتو کړندود ۱۰۰ افغاني او نړیوالو لاسلیک کوونکي لري.

د موسساتو د کړندود د بشپړ متن لپاره د دغه کتاب ۱۲۸ پاڼې ته مراجعه وکړئ.

# د ناقانونه وسله والو ډلو د انحلال پروګرام (DIAG)

www.diag.gov.af
په ۲۵م مخ کې د افغانستان د نوي پیل پروګرام وګورئ.

# د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وجهي صندوق (CNTF)

د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې وجهي صندوق د ۱۳۸۴ کال د تلې په میاشت کې د ملګرو ملتونو د پرمختګ پروګرام لخوا د افغان حکومت د غوښتنې په بنسټ د درملو د کنټرول د ملي ستراتېژۍ (NDCS) د پلي کولو په موخه د دولت ظرفیت د لوړولو لپاره جوړ شو. د دغه ادارې لویې موخې دادي چې: زیاتې سرچینې برابرې کړي، په تخصیصاتو کې روڼوالي او حساب ورکول ډاډمن کړي، د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په هڅو کې د دولت برلاسیتوب زیات کړي او د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې فعالیتونو ته د بسپنه ورکونې په برخه کې ښه همغاړیتوب رامنځ ته کړي.

د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وجهي صندوق د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د فعالیتونو لپاره د بسپنه ورکولو لمړنی میکانیزم ګڼل کیږي. د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د وجهي صندوق له لارې د مرستو د وړتیا لپاره پروژې باید د درملو د کنټرول د ملي ستراتېژۍ له موخو سره سمې وي، په یوه ځانګړې جغرافیایي سیمه کې اړتیا څرګنده کړي، د اړونده وزارتونو او ادارو لخوا د جذب د ظرفیت سپارښتنه وښیي. د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د وجهي صندوق هیات د دولت، یوناما، د آسیا پراختیایي بانک، د ملګرو ملتونو د پراختیایي ادارې، د بریتانیا د دولت له استازو څخه جوړ شوی او نړیوال بانک پکې د څارونکي په توګه ګډون کوي.

# د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه (CN)

www.mcn.gov.af

د نشه يي توکو سره د مبارزې لپاره هڅې په افغانستان کې د پرمختيا د نوښتونو سره نه شلېدونکې اړيکې لري، لکه څرنګه چې د ترياکو د اقتصاد اړوند بې ثباتي او ناامني د پرمختګ پر وړاندې يو لوي خنډ دي، د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه د امنيتي سکتور د سمون د ستراتېژۍ (۳۳م مخ) د پنځو پايو څخه يوه ګڼل کېږي چې د افغانستان په تړون او د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتيژۍ کې د يوې ارزښتناکې موضوع په توګه راغلي ده. په ۱۳۸۱ کال کې د طالبانو د نسکورېدو څخه وروسته افغان دولت د نشه يي درملو کښت، توليد ، استعمال او قاچاق ناقانون اعلان کړ. د ۱۳۸۳ کال د لينديۍ په مياشت کې د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې په ملي کنفرانس کې نوي ټاکل شوي ولسمشر حامد کرزي د نشه يي توکو پر ضد مبارزه د دولت د يوه لومړيتوب په توګه اعلان کړه.

د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې او جرايمو دفتر (UNODC) د کلنۍ سروې په بنسټ، په افغانستان کې د نشه يي توکو توليد په ۱۳۸۵ کال کې تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلی دی. تر کښت لاندې سيمې ۱۹۳۰۰۰ هکتارو ته رسېدلې دي (چې په ۱۳۸۴ کال کې ۱۲۵۰۰۰ هکتاره وې) ، او د ترياکو محصول ۸۲۰۰ ټن ته رسېدلی دی (په ۱۳۸۴ کې ۴۱۰۰ ټن). کابو ۸۰ په سلو کې خاشخاش د پاکستان سره سرحد ته نږدې پرتو ځينو ولايتونو کې کرل کېږي، چې له هغې ډلې ۱۰۲۰۰۰ هکتاره يوازې د هلمند په ولايت کې کرل شوي دي. په يوه خوشحاله کوونکې ليکنه کې د افغانستان په مرکزي او شمالي سيمو کې له ترياکو څخه د خلاصو ولايتونو شمېر له دوه برابره څخه زيات شوي، دغه شمېره په ۱۳۸۴ کې ۶ وه او په ۱۳۸۵ کال کې ۱۳ ته ورسېده.

د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت د دغو توکو پر وړاندې د مبارزې ټول کارونه همغږي کوي، د کورنيو چارو، کرنې، او د عامې روغتيا له وزارتونو او د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر سره په نږدې همکارۍ کار کوي. د دغه د مبارزې نوښتونه د درملو د کنټرول د ملي ستراتېژۍ (NDCS) لخوا لارښوونه کېږي چې د ۱۳۸۴ کال د مرغومي په مياشت کې نوې شوه. د درملو د کنټرول ملي ستراتېژۍ د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د دولت د هڅو لپاره د ستراتېژيک پلان په توګه څلور لوي لومړيتوبونه وړاندې کوي.

۱. د قاچاقچيانو او د هغوی د ملاتړ کوونکو په نښه کولو سره د درملو د سوداګرۍ ختمول او د سوداګرۍ د بنسټونو له منځه وړل؛

۲. د کليوالي مشروع معيشتونو پياوړي کول او متنوع کول؛

۳. د ناقانونه درملو د غوښتنې کمول او د معتادينو درملنه، او

۴. په مرکز او ولاياتو کې د دولتي ارګانونو پياوړي کول.

د دغه لومړيتوبونو سربېره، د درملو د کنټرول ملي ستراتېژي د "فعاليتونو اته پايو" ته اشاره کوي: عامه خبرتيا، نړيواله او سيمه ايزه همکاري، بديل معيشت، د تقاضا کمول، د قانون پياوړتيا، جنايي عدالت، ريښې ايستل، او بنسټ پالنه".

زیاته پاملرنه د بدیل معیشت پروګرامونو ته شوې، چې دهغه موخه د تریاکو بزګرانو او کارګرو ته د بدیل معیشت د پروګرامونو، د کریډټ د میکانیزمونو، د سوداګرۍ د ملاتړ، بازارونو ته لاسرسي او د کار فرصتونه چمتو کول دي.

تر نن ورځې پورې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې هڅې په افغانستان کې د نشه یي توکو د ریښې ایستلو یعنې د کښت فزیکي ویجاړونې په برخه کې کومه ښه لاسته راوړنه نه لري. د کوکنارو له ریښه ایستنه چې د کورنیو چارو په وزارت کې د کوکنارو له ریښه ایستنې د مرکزي پلان جوړونې او څارنې څانګې لخوا طرحه شوې ده او د کوکنارو د له ریښه ایستنې د مرکزي ځواک پوسیله د نړیوالې ټولنې په مرسته تر سره شوه.. د ریښې ایستلو ځینې نور پروګرامونه د والیانو لخوا د افغان ملي پولیسو (۴م مخ) په مرسته سرته رسېدلي دي.

د درملو د کنټرول د ملي ستراتېژي ملاتړ د نشه یي درملو سره د مبارزې د قانون پوسیلهچې د ۱۳۸۴ کال د لیندۍ په میاشت کې د ولسمشرۍ د فرمان په اساس او د اساسي قانون د ۷ مادې په بنسټ عملي شو، کیږي، چې داسې څرګندتیا لري: "دولت د هر ډول ترهګریز عمل، د نشه یي درملو د کښت او قاچاق، او د الکولي مشروباتو د تولید او مصرف د مخنیوي دنده لري". د عدلیې وزارت د نشه یي توکو سره د مبارزې د یوه اغیزمن کاري چوکاټ د جوړولو په لړ کې د ۱۳۸۳ کال د سلواغې په میاشت کې د جنایي عدالت کاري ډله جوړه کړه تر څو د نشه یي توکو سره د مبارزې دوسیې وڅېړي او د نشه یي توکو سره د مبارزې د کړنلارو په برخه کې قاضیان، څارنوالان، او څېړونکي وروزي.

د نشه یي توکو سره دمبارزې د قانون جوړولو د پیاوړتیا لپاره دوه ارګانونه شته، دواړه یې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د کورنیو چارو د مرستیال وزیر تر مشرۍ لاندې کار کوي. د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې لپاره د افغانستان پولیس (CNPA) چې تمه کېږي چې په څو راتلونکو کلونو کې د ۲۰۰۰ افسرانو لرونکي یو مسلکي او متخصص ځواک شي، لمړنۍ اداره ده چې د درملو د قاچاق اړوند جرایم کشفوي او څېړي. د نشه یي توکو لپاره د افغانستان ځانګړې ځواک چې په ټول افغانستان کې د نشه یي توکو د مخنیوي عملیات سرته رسوي، د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې لپاره د افغانستان د پولیسو سره په نږدې همکارۍ کار کوي. افغان ملي پولیسو ته هم د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې روزنه ورکول کېږي.

د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د نوښتونو لپاره بودجه د یو شمیر سرچینو څخه تر لاسه کېږي، چې ځینې یې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د وجهي صندوق(۵۱ م مخ) له لارې ورکول کېږي چې په ۱۳۸۴ کال کې جوړ شو. د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې لپاره د کابینې یوه فرعي کمیټه په میاشت کې دوه ځله غونډه کوي؛ پدغه کمیټه کې اړونده وزارتونه، سفارتوونه او د بسپنه ورکوونکو استازي شامل دي. همدارنګه د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې لپاره د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتېژۍ په دننه کې یوه مشورتي ډله (۵۹ م مخ) او د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د وزارت تر ملاتړ لاندې مسئلو ته ځانګړې شوي څو کاري ګروپونه هم شته. د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه د پالیسۍ د عمل ډله (۳۹ م مخ) په اجنډا کې هم راځي.

هغه کلیدي مسائل چې پلي کوونکي له هغوي سره د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په سکتور کې مخ دي عبارت دي له: د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د فعالیتونو ګډول او لومړیتوب بندي؛ د تریاکو د اقتصاد او ناامنۍ تر

منځ د اړیکو پراخوالي؛ څه ډول د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې فعاليتونه د نورو پراختيايي فعاليتونو له لارې سرته ورسوي؛ او د ترياکو د له منځه وړلو او پراختيايي مرستو تر منځ تنظيم او تړون. بله لويه پوښتنه داده چې څه ډول کېداي شي د يوه سوکاله او باثباته افغانستان د جوړولو لنډمهالې موخه چې په هېواد کې د ترياکو د اقتصاد باثباته کمښت رامنځه ته کوي، ترلاسه شي.

# د ولايتي بيارغونې ډله (PRT)

د ولايتي بيارغونې ډلې هغه کوچني مرکزونه دي چې پکې پوځي او ملکي کارکوونکي کار کوي چې په ولايتي کچه د امنيت د ټينګښت او بيارغونې په برخه کې کار کوي. دغه پروګرام د لمړي ځل لپاره د ائتلاف د ځواکونو او د متحده ايالاتو د سفارت لخوا د ۱۳۸۱ کال په لومړيو کې د خپلواکۍ تر نامه لاندې د عملياتو د دريمې مرحلې (د جګړې له مرحلې) څخه د خپلواکۍ د عملياتو څلورمې مرحلې (د بيارغونې مرحلې) ته د اړولو لپاره وړانديز شوي ؤ. د ولايتي بيارغونې د ډلو جوړښت په رسمي توګه د ۱۳۸۱ کال د لړم په مياشت کې د ولسمشر کرزي لخوا اعلان شو.

د ولايتي بيارغونې د ډلو ماموريت لکه څرنګه چې د ولايتي بيارغونې د اجراآتو د مشرتابه کميټې لخوا بيان شوي، دادې چې:

*دافغانستان اسلامي جمهوريت سره مرسته ترڅو د عملياتو په ځانګړو سيموکې د باثباته او خوندي پرمختګ د آسانتيا لپاره خپله واکمني پراخه کړي، او د امنيتي سکتور د سمون او بيارغونې هڅې پياوړې کړي*

دغه هراړخيز تعريف د کوم تفصيلي فرمان په واسطه ندي بيان شوي، او همدارنګه د ولايتي بيارغونې د ډلې کومه واحده بېلګه هم نشته. د دې پرخلاف د ولايتي بيارغونې د ډلو جوړښت او عمليات په ځانګړو ولاياتو کې د هغه ولايت د حالاتو او همدارنګه د سرتېرو ورکوونکو هېوادونو د رايو او لارښوونو څخه اغېزمن دي. د پايلې په توګه د لومړيتوبونو سره مغشوشتيا، محدودې سرچينې او د همغږۍ نشتوالي زياتره وخت د ولايتي بيارغونې د ډلو هڅې له خنډ سره مخ کوي.

د ولايتي بيارغونې ډلې په اصل کې د ائتلاف د ځواکونو لخوا جوړې شوې. آيساف بيا په ۱۳۸۳ل کال کې د افغانستان په شمال او لويديځ کې تر هغه وروسته د ولايتي بيارغونې د ډلو پر جوړولو پيل وکړ چې د ۱۳۸۲ل کال د ملګرو ملتونو د امنيت دشورا د يوې مسودې په ترڅ کې دوي ته د کابل څخه بهر د کار کولو اجازه ورکړل شوه.

په سهيل او ختيځ کې د ولايتي بيارغونې د ډلو قومانده په ۱۳۸۵ کال کې آيساف ته وسپارل شوه، چې پدې سره آيساف د ټولو ۲۵ ولايتي بيارغونې د ډلو مسئوليت په غاړه واخيست.

د ولايتي بيارغونې ډلې د هغه موقعيت ته په پام له ۱۰۰-۲۰۰ کارکوونکو څخه جوړې شوېدي. پوځي پرسونل يې د ملکي کسانو امنيت ټينګوي په کوم کې چې د بهرنيو چارو استازي، پراختيايي مامورين او مرستندويان شامل دي.

د ولایتي بیارغونې په ځینو ډلو کې د کرنې او ویترنرۍ سلاکاران او همدارنګه د ملکي پولیسو روزونکي هم کارکوي. د ولایتي بیارغونې د ډلو د کارونو همغږي د دغه ډلو د ملکي کارکوونکو په غاړه ده.

د ولایتي بیارغونې ډلې د دغه ډلو د اجرائي کمیټې لخوا څارل کېږي چې مشري یې په ګډه د کورنیو چارو د وزارت او د ائتلاف او آیساف د قوماندانانو په غاړه ده. په دغه کمیټه کې د مالیې د وزارت، د کلیو د بیارغونې او پراختیا د وزارت، دائتلاف ځواکونو، آیساف، یوناما او سرتیري ورکوونکو هېوادونو استازي شامل دي. د ولایتي بیارغونې د ډلې یو کاري ګروپ د مشرتابه د کمیټې سره د هغوي په کارونو کې مرسته کوي.

نادولتي موسسې پدې اړه اندېښمنې دي چې په بشري مرستو کې د ولایتي بیارغونې د ډلو ورګډېدل د پوځي او مرستندویه سکتورونو تر منځ جلاوالي او توپیر له منځه وړي. استدلال کوونکي دا دلیل راوړي چې د پي آر ټي ډلې لدې کبله چې وسلې او یونیفورم لري، کولای شي د خطر څخه ډکو او د مرستندویه ادارو لپاره د نه لاسرسي وړ سیمو کې د بیارغونې پروژې پلې کړي.

# د ټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC)

www.iec.org.af

د ټاکنو خپواک کمیسیون (IEC) په افغانستان کې د ټاکنو او ریفرنډم لپاره د چمتووالي، تنظیم، جوړولو او څارلو لپاره ترټولو لوړپوړې اداره ده. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون غړیتوب، تنظیم، مسئولیتونه، او فعالیتونه د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون (۷۵ م مخ) په وسیله تنظیمېږي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دولت د نورو څانګو او اداري ارګانونو څخه خپلواک دی، او د رئیس، د رئیس د مرستیال،او اوه غړو حاکمه هیات او د دارالانشاء په بڼه د اجرائیوي هیات لرونکي دي. د دارالانشاء مشري د ټاکنو د لوړ رتبه مامور له لوري کېږي چې د افغانستان د ولسمشر لخوا ټاکل کېږي او کمیسیون ته ځواب ورکوونکی دی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون په ټولو ۳۴ ولایتونو کې دایمي حضور لري.

د رسمي کاري چوکاټونو جوړول، په اداره کې پر دارالانشاء څارنه او د ټاکنو دایرول، د نوماندو ثبتول، د شکایتونو او شخړو حل کول، د ټاکنو د بهیر د څارنې لپاره د بهرنیو څارونکو رابلل، او د منصفانه او آزادو ټاکنو د سرته رسولو لپاره د سلامشورو ورکول د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له دندو څخه دي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون همدارنګه دنده لري چې د ټاکنو پایلې تصدیق او اعلان کړي او د قدرت لېږد ته لاره برابره کړي.

ولسمشر کرزی د ۱۳۸۳ کال د تلې په میاشت کې د ټاکل کېدو څخه وروسته د ټاکنو د خپلواک کمیسیون غړي د درې کلنۍ دورې لپاره وټاکل. د هغوي د لومړي کاري کال لپاره هغوي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خپلې مخکینۍ کاري ادارې (د ټاکنو د تنظیم ګډ دفتر چې قانوني مهلت یې د ۱۳۸۴ کال د وږي په میاشت کې د پارلماني ټاکنو سره پای ته ورسید ) سره یو ځای کار کاوه. د ټاکنو د تنظیم ګډ دفتر د ۱۳۸۲ کال د چنګاښ په میاشت کې جوړ شوي او افغان او بهرني غړي لري. دغه دفتر د ۱۳۸۳ د ولسمشرۍ او په ۱۳۸۴ کال کې د ولسي جرګې ټاکنو د چمتووالي،

تنظیم، دایرولو او څارلو دنده درلوده، د کومو د سرته رسېدو وروسته چې دغه ګډ دفتر منحل شو او ټولې دندې یې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته وسپارل شوې.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون اوس مهال هڅه کوي چې خپل فعالیتونه ښه کړي او د افغانستان د راتلونکو ټاکنود چمتووالي لپاره خپل ظرفیت لوړ کړي. د ولسمشرۍ ټاکنې د ۱۳۸۸ کال لپاره پلان شوېدي. د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره نېټه نده ټاکل شوې. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټولنیزو راي ورکوونکو د ثبت د ادارې د جوړولو په حال کې دي، چې پدې موخه په لاره اچول شوي چې د راي ورکولو وړ افغانانو لپاره د پېژندنې د کارت ورکړه آسانه کړي او چې رایه ورکوونکي د راي ورکولو له ځانګړی مرکزونو سره وتړي.

په افغانستان کې د ټاکنو په اړه د زیاتو معلوماتو لپاره **۷۵**، **۷۲**، **۷۷** پاڼو ته مراجعه وکړئ.

# د ټاکنو د تنظیم ګډ دفتر (JEMB)

په **۵۵** م مخ کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون وګورئ.

# د ټوکیو غونډه

د ټوکیو د وزیرانو په غونډه کې چې په رسمي توګه په افغانستان کې د بیارغونې د مرستو د یوه نړیوال کنفرانس په توګه پېژندل کېږي، په حقیقت کې د افغانستان د بیارغونې د اداره کوونکي ډلې (ARSG) یو کنفرانس ؤ کوم چې مرستندویه هېوادونه یې وهڅول چې د طالبانو د راوروسته افغانستان له بیارغونې سره ژمنې وکړي. دا غونډه د ۱۳۸۰ کال د سلواغې د میاشتې په لومړۍ او دوهمه نېټه جوړه شوه، مشري یې د جاپان، امریکا، اروپایي کمیسیون، او سعودي عربستان کوله. د ۲۱ هېوادونو وزیرانو او استازو او ۲۱ نړیوالو سازمانونو پکې ګډون وکړ. نادولتي موسساتو یوه ګوښې غونډه جوړه کړه چې پایلې یې د وزیرانو غونډې ته وړاندې کړل شوې.

په دغه غونډه کې په اوږدمهال کې د بیارغونې لپاره د پراخ کاري چوکاټ پر جوړولو متمرکز وو او په راتلونکو لسو کلونو کې یې د افغانستان د ژغورنې د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د **۱۵** میلیارډ امریکایي ډالرو غوښتنه وکړه. دغه شمېره بیا د برلین د غونډې په رپوټ کې چې د **۱۳۸۴** کال د وري په میاشت کې جوړه شوه، **۲۷.۴** میلیارد ډالرو ته ورسېده.

د ۱۳۸۱ کال د سلواغې په میاشت کې په ټوکیو کې بله غونډه جوړه شوه: په افغانستان کې د سولې د ټینګښت په اړه د ټوکیو کنفرانس. دغه غونډه په افغانستان کې د امنیت دسمون په اړه جوړه شوې وه او پایله یې د امنیتي سکتور دسمون پنځه فقره ایزه ستراتېژي وه.

# د ټولنې پراختیایي شوري (CDC)

په ۴۸ مخ کې د ملي پیوستون پروګرام وګورئ.

# د څارنې او همغږۍ ګډ هیات (JCMB)

www.ands.gov.af/ands/jcmb

د څارنې او همغږۍ ګډ هیات یوه لوړ پوړې دولتي اداره ده چې په ۱۳۸۵ کال کې د افغانستان د تړون(۱۸م مخ) د پلي کولو په بهیرکې د عمومي همغږۍ رامنځته کولو لپاره جوړه شو. د څارنې او همغږۍ ګډ هیات د افغان دولت او نړیوالې ټولنې لخوا د لندن په کنفرانس کې د افغانستان د ملي پرمختګ لنډمهالې ستراتېژۍ د لاسلیک کېدو وروسته جوړ شو. د دغه اداري موخه دافغانستان په تړون کې د ذکر شویو موخو د لاسته راوړلو لپاره د افغان دولت او نړیوالې ټولنې د هڅو یو کول دي. د څارنې او همغږۍ د ګډ هیات دندې په لاندې ډول دي:

۱. د افغانستان د تړون د سیاسي ژمنو د پلي کېدو پر بهیر د لوړې کچې څارنه

۲. د افغانستان په تړون کې د مهال ویش او ټاکل شویو معیارونو لپاره د همغږۍ، بشپړونې او مالي سرچینو د خاصو مسائلو په برابرولو او هر هغه خنډ چې د دولت یا نړیوالې ټولنې لخوا پېژندل کېږي، په ګوته کولو کې مرسته وکړي.

۳. ولسمشر، ملي شورا، د ملګرو ملتونو سرمنشي، بسپنه ورکوونکو او عامه خلکو ته د تړون د پلي کېدو په اړه رپوټ چمتو کول.

د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتېژۍ د څارنې د کمیټې او یوناما په ګډه مشرۍ، د څارنې او همغږۍ ګډ هیات دڅارنې کمیټه له ۱۷ استازو، د نړیوالې ټولنې ۲۱ استازي چې په هغوي کې یوناما، نړیوال سوله ساتي ځواکونه، د امنیت د اوښت ګډه قوماندانې- افغانستان، نړیوال بانک، د آسیا پراختیایي بانک، اروپایي کمیسیون او بسپنه ورکوونکي هېوادونه شامل دي. د څارنې او همغږۍ ګډ هیات د خپلو ارزونو په سرته رسولو کې د افغان دولتي ارګانونو، مشورتي ډلو(۵۹م مخ) د میکانیزمونه، او یو شمیر نورو فعالینو نظرونه په پام کې نیسي.

د افغانستان د تړون سره سم د څارنې او همغږۍ ګډ هیات د پنځه کلونو لپاره (د ۱۳۸۵ کال د وري د میاشتې څخه د ۱۳۸۹ ل کال د کب تر میاشتې پورې) جوړ شوي دي. دغه اداره په کال کې دری یا څلور ځله زیاتره په کابل کې او کله کله د افغانستان څخه بهر غونډه کوي. د څارنې او همغږۍ د ګډ هیات د حکم سره سم دغه اداره په کال کې دوه شپږ میاشتني رپوټونه چمتو کوي، دغه کړنلاره وروسته په کال کې پر یوه کلنې راپور بدله شوه چې نوموړې کړنلاره له ۱۳۸۷ کال څخه پیل کېږي. د څارنې او همغږۍ ګډ هیات همدارنګه د عامو خلکو لپاره اضافي رپوټونه چمتو کوي.

د څارنې او همغږۍ ګډ هیات د هغه د جوړېدو راهیسې د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتېژۍ (۲۹م مخ) د پلې کېدو لپاره لاربنوونې چمتو کړې. د امنیت د برخې د همغږۍ، بیارغونې او پرمختګ، د

همغږې څو نورو ميکانيزمونو د مرکزي اداري لکه د پاليسۍ د عمل ډله (۳۹م مخ)، د څارنې او همغږۍ ګډ هيات ته رپوټ ورکوي.

# عامه اداري سمون (PAR)

د حکومت د عامه ادارو د سمون کاري چوکات پدې هڅه کې دی چې په افغانستان کې ګټور، اغېزناک او روڼ ملکي خدمات رامنځته کړي. دغه پروسه د اداري سمون او ملکي خدماتو د خپلواک کميسيون (۱۳م مخ) لخوا څارل کېږي، او د افغانستان په تړون ليک (۱۸م مخ) او د افغانستان د ملي پرمختګ په لنډمهاله ستراتيژۍ (۲۹م مخ) کې وضع شوي يو لومړيتوب دی.

د دغه پروسې موخه داده چې د مختلفو ستونزو څېړنه وکړي چې د هغوي له ډلې: د دولتي جوړښتونو شو په شو حالت او د فعاليتونو مغايرت (يو د بل سره سمون نه درلودل)، او همدارازد ادارو تر منځ د همغږۍ کموالي؛ د مرکز (کابل) او ولاياتو ترمنځ نيمګړې او کم ارزښته اړيکې؛ د حساب ورکونې ناڅرګنده کرښې او د پياوړتيا کمزوري ميکانيزمونه؛ د مسلکي او تجربه لرونکو کارکوونکو کموالي؛ د وړتيا پر بنسټ د ګمارلو لپاره د ځواکمنو کړنلارو نشتوالی، کوم چې د واسطې په بنسټ د ګمارلو زمينه برابروي؛ د معاش او رتبې ورکولو داسې جوړښت ته اړتيا چې د مدني کارکوونکو د جذب، ساتنې او هڅولو لامل کېږي؛ کمزورې فزيکي بېخبناوې؛ او بې سيکه او پخواني اداري سيستمونه.

د عامه اداري سمون يو مرکزي عنصر د لومړني سمون او بياجوړښت پروګرام دي، چې موخه يې په وزارتونو کې د اداري ظرفيت جوړښت او د پام وړ معاش زياتوالی دی. د لومړني سمون او بياجوړښت پروګرام هم پدې موخه جوړ شوي چې د هغه وزارتونو ترمنځ د ثبات څخه ډاډ ترلاسه شي چې د مختلفو بسپنه ورکوونکو په مرسته سمون مومي.

په ۱۳۸۴ کال کې د عامه اداري سمون پروګرام له سره طرحه او د **۱۳۸۵-۱۳۸۹** کلونو لپاره يو کاري چوکاټ ورته جوړ کړل شو، چې د هغه له مخې تمرکز له کوچنيو پروګرامونو څخه د سکتورونو پراخه سمون چې په هغه کې بشپړ وزارت هم راتلاي شي، او اوښت او همدارنګه سمون له مرکز څخه ولايتونو او ولسواليو ته هم وغزول شو. د عامه اداري سمون دغه نوې مرحله په پنځو برخو کې جوړه شوې: ۱) اداري سمون؛ ۲) معاشونه او امتيازونه؛ ۳) د ملکي خدماتو اداره؛ ۴) د وړتيا پر بنسټ د ګمارلو ډاډمن کول او پراخوالی؛ ۵) د ظرفت لوړوالي. له ۱۳۸۰ کال څخه را پدې خوا د عامه اداري سمون د پروګرام پرمختګونه دادي: ۱) د اداري سمون او ملکي خدماتو د خپلواک کميسيون جوړول او د هغه د څانګو فعالول؛ ۲) په ۱۳۸۴ کال د ملکي خدماتو د نوي قانون تصويب؛ ۳) د دندې د پلټنو په اړه يو څه پرمختګ چې په مرکزي کچه د عامه اداري سمون له لارې د کليدي وزارتونو د نويو جوړښتونو لپاره غوښتنې رهبري کوي؛ ۴) د نويو معاشونو او رتبو پر جوړښت د پاليسۍ لمړني کارونه؛ ۵) د سمون او

بیا جوړښت لپاره د نوي کاري چوکاټ او میتود د جوړښت په برخه کې پرمختګ؛ او ۲) د ملکي کارکوونکو په دواړو لوړ رتبه او مینځ رتبه ټاکنو کې د وړتیا پر بنسټ د ټاکلو په برخه کې پرمختګ.

د عامه اداري سمون د پروګرام او په ځانګړي ډول د ګړندي سمون او د تشکیلاتو تجدید د ځینو په اند یو بریالیتوب دي مګر نور شکایت کوي چې سمون په پراخه ډول یوه ظاهري بڼه درلوده او په زیاته کچه د بنسټیز بدلون او د وړتیا پر بنسټ د ټاکلو د غوښتنلیکونو په پرتله د معاشونو پر کچې متمرکزو.

د افغانستان د عامه سکتور په اړه د زیاتو معلوماتو لپاره ۲۸م مخ وګورئ.

# مشورتي ډلې (CG)

مشورتي ډلې د سکتورونو ځانګړي اداري دي چې مشري یې د دولت لخوا کېږي، او دولت، بسپنه ورکوونکي، او مدني ټولنه سره یوځای کوي ترڅو د افغانستان د تړون د شرایطو پر پلي کېدو څارنه وکړي او د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژۍ (۲۹م مخ) بیا وګوري. دغه اداري همدارنګه پر سکتور پوري د تړلو مسئلو او ننګونو د حل په برخه کې خدمت کوي، او په افغانستان کې پرمختیایي هڅې همغږې کوي.

مشورتي ډلې د لمړي ځل لپاره په ۱۳۸۲ کال کې جوړې شوې، ترڅو د ملي پرمختګ په کاري چوکاټ (۲۱م مخ) کې د ذکر شویو ۱۲ پراختیایي پروګرامونو پر سر د دولت، بسپنه ورکوونکو، ملګرو ملتونو د دفترونو او د نادولتي موسسو ترمنځ د تفاهم په راوستلو کې مرسته وکړي. د مشورتي ډلو میکانیزم د افغانستان د تړون لیک (۱۸م مخ) او د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژۍ سره د یوځای کېدو په موخه له سره جوړ شو. اوس مهال ۸ مشورتي ډلې شته چې د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژۍ پر سکتورونو پوري اړوندې دي: ۱) امنیت، ۲) حکومتداري، ۳) ښځبناوې، ۴) پوهنه، ۵) روغتیا، ۶) کرنه او کلیوالي پراختیا، ۷) ټولنیز ساتنه او ۸) اقتصادي څارنه او د خصوصي سکتور پرمختګ. د دوی دندې په لاندې ډول دي:

- د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژۍ په لړ کې د افغانستان د تړون د پلي کېدو د همغږۍ او څارنې په برخه کې کار کول؛
- د ملي بودجې د فارمول جوړونې په برخه کې مرسته؛
- په اړونده سکتور کې د مرستو پر اغېزمنتیا څارنه؛ او
- د افغانستان تړون د ټاکل شویو معیارونو د ودې او پرمختګ په اړه د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژۍ لپاره د ولسمشرۍ د څارنې کمیټې ته رپوټ ورکول.

د مشورتي ډلو میکانیزم د همغږۍ او څارنې د ګډ هیات د غړي په توګه د څارنې کمیټې سره چې د افغانستان تړون د ټاکل شویو معیارونو ترسره کیدل او بشپړتیا څاري، مرسته کوي. د مالیې وزارت چې د څارنې د کمیټې یو غړی دی د مشورتي ډلو په جوړښت کې د ټولو مشورتي ډلو لپاره د همکارانو د موندلو له لارې لوی لاس لري. مشورتي ډلې د تنظیم او څارنې د ګډ هیات څخه مخکې په هرو دریو میاشتو کې غونډه کوي.

# ملي بودجه

www.af/mof/budget

د افغانستان ملي بودجه د اصلي بودجې او بهرنۍ بودجې څخه جوړه شوېده. بهرنۍ بودجه هغه بودجه ده چې ژمنه یې شوې مګر د دولت په واک کې نده- هغه بسپنې چې د بسپنه ورکوونکو لخوا د دوي د تړون شویو همکارانو په واک کې ورکول کېږي. په اصلي بودجه کې ټولې هغه بودجې دي چې د دولت په واک کې دي؛ دغه مرستې د خزانې له لارې لېږدول کېږي. د ۱۳۸۲ مالي کال په پیل کې بهرنۍ بودجه کابو ۱.۱ میلیارد ډالره او اصلي بودجه **۲.۵** میلیارد ډالره وه.

افغان دولت بسپنه ورکوونکي هڅوي چې خپلې مرستې د اصلي بودجې له لارې وکړي ترڅو د بیارغونې په پروسه کې د افغان دولت لاس بري زیاته کړي. د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (**۲۱**م مخ) د همدې موخې لپاره جوړ شو؛ دا د بسپنه ورکوونکو لپاره د ملاتړ داسې میکانیزم چمتو کوي چې د نړیوال امانتي سیستم له معیارونو سره سم دي. د حساب له مخې د مرستو زیاته برخه د اصلي بودجې له لارې لګول کېږي، مګر دا ښایي د اصلي بودجې نیمګړې لګښت یا بسپنه ورکوونکو ته د اصلي بودجې څخه بهرنۍ بودجې ته د اوښتو پروژو په اړه بشپړ یا په وخت رپوټ نه ورکولو له امله بې لارې کوونکې وي.

اصلي بودجه د لګښت دوه لارې لري، پراختیایي بودجه او عادي بودجه (چې ځینې وخت ورته عملیاتي بودجه وایي):

۱. پراختیایي بودجه پر لویو پروژو یا پانګه اچونو لګېږي. په **۱۳۸۲** مالي کال کې د دغه بودجې کچه **۱.۵** میلیارد ډالره وه.

۲. عادي بودجه په لومړي سر کې د معاشونو، اداري چارو او ساتنې لپاره کارول کېږي. په **۱۳۸۲** مالي کال کې دغه بودجه ۱ میلیارد امریکایي ډالر وه.

د بودجې د پلي کېدو بهیر لا تراوسه په تحول کې دي؛ د **۱۳۸۵** مالي کال یوازې **۵۵**-۲۰ په سلو کې پراختیایي بودجه په مصرف رسېدلې وه. د بودجې کم لګښت ښایي په یوه بې ثباته چاپېریال کې په

اجرائي پروژو کې ستونزو، له حده زياتې غوښتنې او د وزارتونو د مصرف د لګښت متفاوتو وړتياوو ته منسوب شي.

د ملي بودجې جوړښت، اجراء او رپوټ ورکونه د ماليې وزارت د بودجې د څانګې لخوا، د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري لخوا د تمويل شوي پروژې (د بودجو جوړولو او د کار په وړاندې د مرستو د پروګرام) په مرسته همغږي کېږي. ملي بودجه د افغانستان د تړون ليک او د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتيژۍ (۲۹م مخ) په وسيله مشخص شويو پروګرامونو سره انډول کېږي لدې کبله د بودجې رياست د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتيژۍ د سکتورونو سره سم جوړ شوی دی. د دې رياست مو خه داده چې پراخه، پر پاليسۍ ولاړه او باثباته بودجه جوړه کړي چې د ګټورې همغږۍ، ګروپ بندۍ او د نړيوالو پراختيايي مرستو د اغېزمنتيا لپاره د يوې وسيلې په توګه هم وکارول شي.

# ملي پراختيايي پروګرامونه (NDP)

په ۲۱م مخ کې د ملي پرمختګ کاري چوکاټ وګورئ.

# د ملي پرمختګ کاري چوکاټ (NDF)

د ملي پرمختګ کاري چوکاټ د افغان لنډمهالې اداري (۲۹م مخ) لخوا د ۱۳۸۱ کال په وروستيو کې په افغانستان کې د پراختيا او بيارغونې د پروسې د کړنلارې په توګه رامنځ ته شو. دغه چوکاټ ۱۲ ملي پراختيايي پروګرامونه او تر دريو پايو لاندې شپږ ارزښتناکې مسئلې تشخيصوي: ۱) د انساني کرامت او ټولنيزه ساتنه، ۲) فزيکي بېخبناوې، او ۳) د پراختيا لپاره پياوړي کوونکي چاپېريال. د ملي پرمختګ کاري چوکاټ همدا راز شپږ د لومړيتوب حق لرونکي پروګرامونه مشخص کړي چې تر نورو فعاليتونو بايد لومړيتوب ولري. همدا رنګه په ۱۳۸۳ کال کې شپږ نور د لومړيتوب پروګرامونه پرې زيات کړل شول چې د دولت لپاره د پاليسۍ لوي لومړيتوبونه وو.

د ۱۲ ملي پراختيايي پروګرامونو څارنه د مشورتي ډلو (۵۹م مخ) لخوا کېده. دغه ۱۲ تيوريکي مشورتي ډلې د يوه مجتمع په توګه کار کوي چې پکې د هرې پراختيايي او بيارغنيزې پروژې په تفصيلاتو بحث کېږي، که څه هم چې د انفرادي مشورتي ډلو اغېزمنتيا توپير لرونکې دی. هرې مشورتي ډلې د هغوی د سکتور پلانونه ملي پراختيايي بودجې ته د عامه پانګې اچونې د پروګرام (PIP) په وړاندېز کولو سره پلي کړل. برسېره پردې د شپږو مسئلو د هرې يوې لپاره مشورتي ګروپونه وجود درلود.

د ماليې وزارت تر ملاتړ لاندې د ملي پرمختګ کاري چوکاټ د دولت او بسپنه ورکوونکو د پلان جوړولو لپاره د ۲۰۰۶ کال تر جنوري پورې د لومړني بنسټ په توګه پاتې شو، وروسته لدې د دغه چوکاټ ځای د افغانستان د ملي پرمختګ لنډمهالې ستراتيژۍ (۲۹م مخ) ونيو.

# ملی سیمه ایز پراختیایي پروګرام (NABDP)

www.mrrd.gov.af/nabdp

دا د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري لخوا تمويلېدونکي پروګرام دی چې د کلیو د پراختیا او بیارغونې د وزارت لخوا پلي کېږي. نوموړی پروګرام په ۱۳۸۱ کال کې د ملي پرمختګ په کاری چوکاټ (۲۱م مخ) کې ذکر شويو د افغان دولت د لومړيتوبونو د پروګرامونو څخه د يوه په توګه پیل شویدي.

د دغه پروګرام موخه داده چې "د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د بېوزلي د دوامداره کمښت او د ټولنو سره د هغوي د اړتیاوو او لومړيتوبونو د بیان د جوګه کولو له لارې د معیشتونو په ښه والي، او له دولت سره مرسته په مرتبط، پر خلکو متمرکز پراخ او اشتراکي ډول کلیوالي سیمو د پراختیا په برخو کې مرسته وکړي". دغه پروګرام څلور برخې لري:

١. د ټولنې پیاوړتیا: د ولسواليو د پراختیایي شوراګانو (DDAs)، د ولسواليو پراختیایي پلانونو (DDPs) او ولايتي پراختیایي پلانونو (PDPs) له جوړښت سره مرسته؛ د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتېژۍ (۲۹م مخ) لپاره د ولايتي سلامشورو د پروسې همغږي کول.

٢. اقتصادي احیاء: د کلیو د پراختیا او بیارغونې له وزارت سره د ظرفیت په جوړولو کې مرسته تر څو د اقتصادي احیاء د سیمه ایزې ستراتېژۍ، د اقتصادي پانګه اچونې او د بېوزلۍ د کمولو لپاره د مداخلاتو د پېژندنې او د کلیوالي پراختیايي پلانونو لپاره د کاري چوکاټ د جوړولو جوګه شي.

٣. سازماني پراختیا: د کلیو د پراختیا او بیارغونې د وزارت د سازماني ظرفیت او تخنیکي وړتیاوو پیاوړتیا ترڅو خپلې دندې سرته ورسوي.

۴. تطبیقي ملاتړ: د کلیو د پراختیا او بیارغونې د پلي کولو د ظرفیت پیاوړتیا ترڅو خپلې سرچینې او همدارنګه د عمومي او خصوصي سکتور سرچینې وهڅوي تر څو د اقتصادي احیاء او کلیوالي پراختیا پروژې په ګټوره توګه همغږې او پلي کړي.

ملی سیمه ییز پراختیایي پروګرام همدارنګه د ناقانونه وسله والو ډلو د انحلال د پروګرام له پلي کولو سره مرسته کوي. په ۱۸ ولایتونو کې د ۱۲۷ د ولسواليو د پراختیایي شوراګانو جوړښت او د کلیو د پراختیا او بیارغونې د وزارت د ۸۰۰ څخه زیاتو کارکوونکو مسلکي روزنه ددغه پروګرام له لاسته راوړنو څخه دي. د ۱۳۸۲ کال د وربي په میاشت کې ملي سیمه ییز پراختیا پروګرام د افغانستان په سهیلي سیمو او په ځانګړي ډول د کندهار ولایت چې د دغه پروګرام د ترټولو زیاتو پروژو شاهدؤ، ۲۲ پروژې درلودې چې ټولیز لګښت یې ۴ میلیون ډالرؤ.

# نړیوال سوله ساتي ځواکونه (ISAF)

د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو دنده داده چې د افغان خلکو لپاره د باثباته او خوندي چاپېریال په رامنځته کولو کې له افغان دولت سره مرسته وکړي. آیساف د لومړي ځل لپاره د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۱۳۸۲ ګڼې پرېکړې په بنسټ جوړ شو، او د ۱۳۸۰ کال د لیندۍ د میاشتې په ۲۹ نېټه لکه څرنګه چې د بن د تړون په لومړي پایڅوړ (ضمیمه) کې راغلي دي او د افغان لنډمهالي اداري (۲۹م مخ) د غوښتنې سره سم افغانستان ته راغلل. آیساف د ملګرو ملتونو څوملیتي ځواک دی، نه د ملګرو ملتونو سوله ساتی ځواک، او د آیساف لګښتونه د هغوی د مرستندویو هېوادونو لخوا ورکول کېږي نه د ملګرو ملتونو لخوا.

د ۱۳۸۳ کال د زمري په میاشت کې د آیساف مشري ناټو (د شمالي اټلانتیک پیمان) په غاړه واخیسته کومه چې د هغه د سیمې څخه بهر لمړنی ماموریت ؤ. د ۱۳۸۵ کال د سلواغې تر میاشتې د آیساف مشري څو ځلې د ګډون کوونکو هېوادونو ترمنځ په نوبتي شکل سرته ورسېده. د آیساف لمړنی ماموریت د برتانیا، ترکیه، آلمان او هالنډ لخوا رهبري کیده. هر وروستنی نوبت د رومي شمېرې په بنسټ راجع کېږي. د ۱۳۸۵ کال د سلواغې په میاشت کې د ۵م شمیره نړیوال سوله ساتې ځواک په پلې کېدو سره آیساف د ((مختلطه قوماندانی)) په توګه جوړ شو نسبت دی ته چې د یو واحد هیواد لخوا پر مخ بیول شي. د دې مانا داده چې انفرادي هېوادونه چې پدې اړه برخې اخیستنې ته چمتو دي، ورګډېل کېږي. لکه چې د ۱۳۸۲ کال د سلواغې په میاشت کې امریکایي جنرال دن مکنیل **(Dan McNeil)** د آیساف قوماندان ؤ.

آیساف او د هغه عملیات د متحده ایالاتو په مشرۍ له ائتلافي ځواکونو (۳م مخ) څخه جلا دي، کوم چې د طالبانو پاتې شوني او القاعده غړو پر ضد د آزادۍ تر نامه لاندې عملیات کوي. آیساف په لومړیو کې یوازې په کابل کې د امنیت مسئولیت درلود، پداسې حال کې چې د ائتلاف ځواکونه د هېواد په پاتې سیمو کې د امنیت تر قوماندانۍ لاندې وو. د ۱۳۸۲ کال راپدېخوا که څه هم چې اوږدمهاله موخه داوه چې آیساف پراختیا ومومي او دواړه پوځي ځواکونه تر یوه مرکزي قوماندانۍ لاندې راشي. لدې کبله د ولایتي بیارغونې د ډلو (۵۴م مخ) سیمه ایزه قوماندانۍ د ۱۳۸۳-۱۳۸۵ کلونو په بهیر کې آیساف ته وسپارل شوه. د هېواد د ختیځو سیمو قوماندانۍ د ۱۳۸۵ کال د تلې په ۱۳مه نېټه تسلیم شوه چې پدې سره آیساف د ټولو ۲۵ ولایتي بیارغونې د ډلو او په ټول افغانستان کې د امنیت دنده په غاړه واخیسته. آیساف همدارنګه د عملیاتي څارونکو او اړیکو د ډلې پروګرام پلي کوي، کوم چې د متحده ایالاتو په مشرۍ د افغان ملي پوځ (۲م مخ) په روزنه کې د هر کنډک سره د څارونکي په ګمارلو کې مرسته کوي.

د۱۳۸۲ د تلې د میاشتې راهیسې ۳۷ هېوادونو (چې ۲۲ یې د ناټو غړي دي) په آیساف کې تر ۳۳۰۰۰ زیات سرتیري درلودل: البانیا، استرالیا، استریا (اتریش)، اذربایجان، بیلجیم، بلغاریا، کاناډا، کروشیا، د چک جمهوریت، ډنمارک، ایستونیا، فنلنډ، فرانسه، آلمان، یونان، هنګري، آیسلنډ، آیرلنډ، ایټالیا، لیتویا، لیتوانیا، لوکزامبورګ، مقدونیه، هالنډ، نوي زیلانډ، ناروې، پولنډ، پورتګال، رومانیا، سلواکیا، سلوانیا، هسپانیا، سویډن، سویتزرلنډ، ترکیه، برتانیا او متحده ایالات. د آیساف ټولیزه

شمېره له ملي محتمل الوقوع قوماندانۍ سره د یوځای کېدو په وخت کې ۴۱۰۰۰ تنه ده. د سرتېرو په ورکړه کې د مرستندویه کوونکو هېوادونو حکمت، ګواښونه او لارښوونه د آیساف د سرتېرو په کارولو کې محدودیت رامنځته کوي.

د شمالي اتلانتیک شورا د ناټو پرېکړه کوونکي اداره د ناټو نا- غړي سرتیري ورکوونکي هېوادونو سره په سلا د آیساف لپاره سیاسي لارښووني کوي. د آیساف په عملیاتي کچه مدیریت د برنسم (Brunssum) د متحد ګډ ځواک مرکزي قوماندانۍ لخوا کېږي، کومه چې په اروپا کې د ناټو د متحدو ځواکونو د ګډې اصلي قوماندانۍ (SHAPE) تر څارنې لاندې کار کوي. ناټو په کابل کې د لوړپوړي ملکي استازي دفتر لري، په کوم کې چې سیاسي او پوځي سلاکاران شته او له افغان دولت او په افغانستان کې له نړیوالې ټولنې سره د ناټو او آیساف سیاسي او ډیپلوماټیکي اړېکې ساتي.

# ولایتي پراختیایي پلان (PDP)

په ۲۹ م مخ کې د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژي وګورئ.

# د افغانستان حکومت: منځپانګه

شالید ........ ۶۶
عامه سکتور ........ ۶۷
جوړښت ........ ۶۷
تنخاوی او بستونه ........ ۶۹
د افغانستان دموکراتیک نظام ........ ۷۰
اجرائیه ........ ۷۰
قضاییه ........ ۷۱
ولایتي شوراګانې ........ ۷۳
د ولسوالیو شوراګانې ........ ۷۳
د کلیو او ښاروالیو شوراګانې ........ ۷۳
د ټولټاکنې سیستم ........ ۷۴
د کرسیو ویش ........ ۷۵
د ټولټاکنو مهال ویش ........ ۷۶
سیاسي ګوندونه ........ ۷۷
قضاییه ........ ۷۷
ستره محکمه ........ ۷۹
د استیناف محکمې ........ ۷۹
لومړنۍ محکمې ........ ۷۹
د افغان حکومت وزارتونه او وزیران، د ۱۳۸۶ کال د لیندۍ میاشت ........ ۸۰
د حکومت نورې څانګې او چارواکي، د ۱۳۸۶ کال د لیندۍ میاشت ........ ۸۱

# شالید

د ۱۳۸۰م لمریز کال د لړم په میاشت کې د طالبانو د رژیم له نسکوریدو څخه وروسته، د افغان سیاسي ډلو رهبرانو د بن په غونډه کی چې د ملګرو ملتونو په ملاتړ په جرمنی کې د بن موافقه لیک (۳۷۰م مخ) لاسلیک شو، سره راغونډ شوي وو. دغه موافقه لیک د افغانستان لنډمهاله اداره (۲۹م مخ) وټاکله او افغانستان ته یې د یوه تلپاتې، پراخ بنسټه، جنسیت مننونکي، څو ملیتي او د یوه بشپړ استازي حکومت د بیا جوړولو مهال وېش یې د دوه نیمو کالو لپاره ترتیب کړ. د ۱۳۸۱ لمریز کال د غبرګولي د میاشتې بیړنۍ لویې جرګې (بیړنۍ لویه جرګه ۲۷م مخ)، د افغانستان انتقالی حکومت یې د لنډمهالي اداري ځایناستی کړ او حامد کرزی یې د دولت د موقت ریس او د افغانستان د اسلامی انتقالی دولت د مقننه هیات په نه شتون کې د حکومت د لارښود په حیث وټاکه.

د بن له مهال وېش سره سم، په یوه نوي اساسي قانون باندې (د اساسی قانون بشپړ متن د دغه لارښود د اسنادو په برخه کې موجود دی) خبرې اترې وشوې او اساسي قانون د لویې جرګې (۲۲م مخ) لخوا چې د ۱۳۸۲ کال د لیندۍ له ۲۳مې څخه د مرغومې تر ۱۴مې نیټې پورې یې دوام درلود تصویب شو. اساسي قانون یو ټاکل شوی ولسمشر، دوه نومول شوی مرستیالان او یوه ملی شورا چې له ولسي او مشرانو جرګې څخه جوړېږي، وړاندې کوي. په سیمه ییزه کچه، اساسي قانون د ولایتي، ولسوالیو، کلیو او د ښاروالیو شوراګانو ټاکنې، همدا شان د ولسمشر لخوا د والیانو او ښاروالانو د ټاکلو وړاندیز کوی.

په هغو ټولټاکنو کې چې د ۱۳۸۳ کال د تلې په ۱۸مه نیټه تر سره شوی، حامد کرزی د ۵۵٪ رایو په لرلو سره د افغانستان ټاکل شوی جمهور ریس وټاکل شو. هغه د ۱۳۸۳ کال د لیندۍ په ۱۷مه نیټه تحلیف پر ځای کړ چې له هغه سره سم انتقالي دولت په رسمي توګه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته واوښت. جمهور ریس کرزي د موقتې کابینې چې د افغانستان د قانون جوړونې په حیث یې د ملي شورا تر ټاکل کیدو او غونډېدو پورې اغیزمن عمل کاوه، ریاست وکړ.

داسې انګیرنه شوي وه چې د قانون جوړونې او ولایتي او د ولسوالیو ټولټاکنې به د جمهوري ریاست له ټولټاکنو سره سم په لاره واچول شي خو، د امنیتي او تخنیکي ستونزو له کبله وځنډول شوې. بالاخره، د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو ټولټاکنې د ۱۳۸۴ کال د وږي په ۲۷مه نیټه په لاره واچول شوې، پداسې حال کې چې د ولسوالیو د شوراګانو ټولټاکنې، د ولسي جرګې لخوا د ولسوالیو د پولو د شخړو تر حل پورې ځنډول شوي وې. لکه څرنګه چې د ۱۳۸۶ کال تر سلواغې پورې د ولسوالیو د شوراګانو ټولټاکنې په لاره اچول شوي یا پلان شوي نه وی.

که څه هم چې د ۱۳۸۴ کال د وږي د میاشتې ټولټاکنو د افغانستان انتقالي دوره یې په رسمي توګه پای ته ورسوله، خو لا تر اوسه هم د دغه هیواد دولت ډېر په انتقال کې دی. ځینې حکومتي دفترونه چې پدې برخې کې بحث پرې شوی یواځې رسمي شتون لري او ډېر سمونونه به یو د پام وړ اورږد وخت ونیسي چې د حکومتي سیستم لخوا چاڼ یا ولایتونو او ولسوالیو ته ورسیږي. د عامه اداري سمون (۵۹م مخ) لخوا د حکومتي دفترونو د اداري سمون د یوې

پراخې ټولګې په حیث بهیر لري. د نوو حکومتي آژانسونو جوړول او د وزارتونو یو ځایول هم روان دي او داسې ښکاري چې حکومتي دفترونه به د راتلونکو څو کلونو لپاره پدریجي توګه پرمختګ ته دوام ورکړي.

# عامه سکتور

## جوړښت

د افغانستان عامه سکتور له مرکزي حکومت، ولایتونو، ښاروالیو (د ولایتونو ښاري ناحیې) او له ولسوالیو، همدا شان له دولتي تصدیو څخه (چې په عمده ډول او ډېرې دولت پرې ملکیت لري) جوړ دی. دولتي اورګانونه، د مرکزي دولت، وزارتونو او انستیتیوتونو په ګډون د هغوی له جلا جلا بودجو سره د لومړنیو بودجوي واحدونو په توګه انګېرل کیږي.

**په قانوني توګه د حکومت پېژندل شوي واحدونه**

- څلور دیرش ولایتونه
- کابو ۳۸۴ ولسوالۍ- د هر ولایت ولسوالۍ د شمیر له مخې د ۴ او ۲۷ په منځ کې توپیر کوي.
- د ولایتونو ښاروالۍ- د اصولو له مخې هر ولایت یوه ښاروالۍ لري.
- د ولسوالیو ښاروالۍ- تر ډېره حده هره ولسوالۍ یوه ښاروالۍ لري خو ځینې یې بیا نه لري.

په نظري توګه، افغانستان یو والۍ پلوه هیواد دی: ټول سیاسي ځواک په کابل کې له حکومت سره ده. د ولایتونو او د ولسوالیو د ادارې قدرت او مسوولیت د مرکزي حکومت له خوا تعیینیږي (همدا شان لرې کیږي). خو بیا هم ولایتونه او ولسوالۍ د سیمه ییز حکومت د قانوني واحدونو په څیر پیژندل کیږي ، هغوی دخپلو پالیسیو په پریکړو کې خپلواک ندي. ځینو سیمه ییزو ځواک لرونکو ته د سیاسی او پوځي ځواک په ورکولو سره، په عملي توګه په واقعیت کې ځینې ولایتونه په پرېکړه کولو کې د پام وړ صلاحیت لري.

اساسي قانون په واضیحه توګه، د مرکزیت د نه ساتلو یو اقدام ته د "حکومت د مرکزیت د اصل په ساتلو سره د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي چارو د ګړندي کولو او ښه والي او د ملي ژوند په پرمختګ کې د خلکو د لازیاتې ونډې اخیستو په منظور، لازم صلاحیتونه د قانون له حکمونو سره سم محلي اداري ته سپاري(دویمه ماده اتم فصل)." په ویلو، اجازه ورکوي. همدارنګه ځانګړې کوي چې یوه ولایتي شورا له ټاکل شوو غړو سره به په هر ولایت کې جوړه شي او هم دا چې د ولسوالیو او کلیو شورا ګانې به وټاکل شي.

د هیواد ۳۴ ولایتونه د سیمه ایزې ادارې اساسي واحدونه دي. والي چې د جمهور ریس لخوا ګمارل کیږي، د ولایت په کچه د اجرائیه ځواک استازی دی. په هره قانوني مانا، ولایتونه جلا سیاسي اجزاوې ندي او رسماً، په پرېکړو کې هغوی د خپلو جوړښت، د لوړرتبه کارکوونکو ګمارل او د کار د ځواک د اندازې او ترکیب په اړوند څه نا څه رول لري. په حقیقت کې، د هر ولایت اداره د مرکزي حکومت د وزارتونو د ځانګو ټولګه ده. د ولایتي کارکوونکو د ګمارنې ډېرې پرېکړې په کابل کې د آمر وزارت لخوا د اداري چارو دفتر په تفاهم سره او د اداري سمون او ملکي خدمتونو د

خپلواک کميسيون په څارنې تر سره کيږي (۱۳م مخ). د ۱۳۸۲ لمريز کال پېيل سره سم به ځينې مهم پوستونه د اداری چارو دفتر د ګمارنې د خپلواکې شورا په موافقې تر سره کيږي.

ولايتونه په ولسواليو او ښاروالیو وېشل کيږي. د ولايت او د هغه د اړوندو ولسواليواداري چارې د ولايت او د مرکز ترمنځ د اړيکې په څير دی. په کابل کې مرکزي وزارت د ولسواليو کارکوونکي ګماري او بودجه يې تخصيصوي، خو يوازې په رسمي توګه، ولايتي چارواکو ته په دې برخه کې څه نا څه واک ورکوي. ښاروالۍ په کابل کې د کورنيو چارو د وزارت لخوا او په ځينو ولايتونو کې د والي لخوا چې د پام وړ نفوذ لري څارل کيږي. د کورنيو چارو وزارت په هره ښاروالۍ کې د کارکوونکو شمير او بودجه تصويبوي، که څه هم چې ښاروالۍ خپله د خپلو ماليو په راټولولو او ساتلو مکلف شوي دي. په ځينو ولايتونو لکه په هرات او کندهار کې، کليواله ښارواالۍ همدا شان له ولايتي ښاروالیو سره د راپور ورکولو اړيکه لري که څه هم چې دا کار د جوړ شوي حکومت د جوړښت سره په ټکر کې دی.

د کليواله اداري لپاره د حکومت يوه نوي څانګه، د سيمه ييز حکومت خپلواکه اداره (۴۲م مخ)، د ۱۳۸۲ کال د زمرې په مياشت کې منځته راغله. د سيمه ييز حکومت خپلواکه اداره مکلفه ده چې د ولايتونو په کچه حکومت ته ترقی او ټيکاو منځته راوړي او د واليانو، ولسوالانو، ولايتی شوراګانو، او ښاروالیو (د کابل له ښاروالۍ څخه پرته) د څارنې مسئوليت لري. کله چې دغه اداره په بشپړه توګه فعاله شي، نو د حکومت د زيات شمير وزارتونو او دفترونو تر څنګ به کار وکړي.

د مرکزي حکومت وزارتونه او سازمانونه د قانون له مخې د ځانګړې بودجې په لرلو سره د بودجې لومړني واحدونه دي، په داسې حال کې چې د مرکزي حکومت د وزارتونو ولايتي څانګې د بودجې د دويمې درجې واحدونه دي او خپل تخصيصونه د بودجې د لومړی درجې واحدونو په صلاحيت تر لاسه کوي. د ولايتي بودجې ځانګړې ديپارتمنت نشته. ولسوالۍ د بودجې دريمه درجه واحدونه دي، د دوی د بودجو تخصيصونه د ولايتي کچې رياستونو چې د کابل له وزارتونو څخه رهبري کيږي په پرېکړې پورې تړلي دي. ټول عوايد چې د ولايتونو او ولسواليو لخوا راټوليږي ملي عوايد دي، او ولايتونه يوازې د ماليو د راټولولو دنده لري. له دې سره، د ولايتونو او ولسواليو د کارکوونکو او د بودجې کچه د ډېرې زاړه معيار باندې ترتيب کيږي نه د يوه منطقي پلان له مخې. دغه سيستم کابل ته د ولايتونو د لګښت د پاليسی د کنټرول لپاره ډېر سياسی صلاحيت ورکوي که څه هم چې واليان او ولسوالان له يوه اغيزمن صلاحيت څخه برخمن دي.

دولتي تصدۍ پخپل اړونده سکتور کې خپل وزارت يا ديپارتمنت ته راپور ورکوي. د مثال په توګه، د تيږو د سکرو د کان رئيس د کانو د وزارت ولايتي رياست همدا شان په کابل کې د کانو وزارت ته راپور ورکوي. هيڅ داسې تصدی چې په ولايت پورې اړه ولري شتون نه لري.

محلي شوراګانې يا جرګې هم کولای شي سيمه ييزه نفوذ لرونکې نهادونه واوسي، که څه هم چې هغوی رسمي ځواک نلري. شوراګانې د افغان سياسی ټولنې له ډېره راپاتې دود دی. هغوی په ځانګړې توګه سره راټوليږي او د ځانګړو استازو په ترکيب کې د تلپاتې ارګانونو په توګه ندي. د علماوو شوراګانې د مشرانو او سپين ږيرو د شورا ګانو په

توګه د ولایت په کچه منځته راځي، که څه هم چې ډېرى سیال سیمه ییز او د ولسوالیو شورا ګانې شتون لري چې ځینې یې د ځینو زبرځواکو له خوا چې ټاکل شوي هم ندي په مخ بیول کیږي. پدې چې د ولسوالیو شوراګانې باید لا وټاکل شي، یو شمیر زیات ولسوالان پخپلو فعالیتونو کې له شوراګانو څخه کار اخلي. ډېرى ولسوالۍ همدا شان په اغیزمنه توګه په سیمو چې د سرچینو له ګډو سیمو سره اړخ لګوي ویشل شوي دي.

د ولایتي او د ولسوالیو د اداري جوړښتونو بر سیره په افغانستان کې له تاریخي نظره د سیمو یا زونونو [حوزو] یو تعریف شتون لري په تیره بیا د پوځي مقصدونو لپاره. دغه حوزې د اداري واحدونو په توګه کوم قانوني پاینښت نلري، او ولسوالۍ او ښاروالۍ ګانې د ولایتونو په څیر، د ۱۹۲۴ کال په اساسي قانون یا د ۲۰۰۴ کال په نوي اساسي قانون کې ذکر شوي ندي. که څه هم کله نا کله د اداري آسانتیا لپاره کارول شوي دي. په رسمي توګه، دغه د زونونو جوړښت نور شتون نلري خو په ولایاتو کې د دننه ځینې همغږۍ او سکتوري فعالیتونه د زونونو پر بنسټ دوام لري.

ولسمشر د افغانستان د ملي پوځ سر اعلی قوماندان دی (د افغانستان ملي پوځ ۲م مخ)، او حکومت کوم بل پوځ یا د ملیشې واحدونه په رسمیت نه پیژني. د افغانستان ملي پوځ او د افغانستان ملي پولیس (د افغانستان ملي پولیس ۴م مخ) دواړه په کابل، ګردېز، هرات، مزار شریف او کندهار کې د پنځو سیمه ییزو قوماندو لاندې دي. د افغانستان د ملي پوځ سیمه ییز قوماندانان په کابل کې د ملي دفاع وزارت ته د خپل کار راپور ورکوي او د افغانستان د ملي پولیسو قوماندانان په کابل کې د کورنیو چارو وزارت ته راپور ورکوي.

## تنخاوې او بستونه

هر حکومتي کارکوونکی په کابل، ولایتونو او د ولسوالیو په کچه خپل بست لري. په ټول افغانستان کې دوه نظمه په کار اچول شوي دي، یو د کارمند او بل د اجیرانو لپاره. کارمندان منظم، دایمي او دولتي مامورین دي، پداسې حال کې چې اجیران د قرارداد له مخې د پوره دور لپاره په رسمي توګه نیول کیږي. په عملي توګه ډېرى اجیر کارکوونکي د ډېرو کلونو لپاره په حکومت کې پاتې کیږي او په یوه څانګه کې یوه کارمند ته ورته دنده تر سره کوي. همدارنګه د هغوی تنخا هم څه نا څه یو شان وي.

د یوه اجیر او رسمي مامور مهم توپیرونه دا دي:

- اجیر کارکوونکي د ټیټې کچې د مهارتونو او زیات فزیکي کارونو لپاره ګمارل کیږي، (لکه موټر چلوونکي، پخلنکاران، رنګمالان او داسې نور).
- د زیاتو اجیر بستونو د رتبې او تنخاوو ارتقا تر یو خاص حد پورې وي (د بیلګې په توګه، موټر چلوونکي له څلورمې درجې څخه پورته ارتقا نشي کولای) خو، د مهارت اعلی درجه اجیران تر لوړې درجې (مافوق رتبه) پورې پرمختګ کولای شي. او
- اجیر کارکوونکي د تنخا تر څنګ حرفه یي اضافي امتیازات نه تر لاسه کولای.

په افغانستان کې ټولو دولتي کارکوونکو ته د تنخا د ورکړې پالیسی په مرکز کې جوړیږي. د تنخا د تادیې سیستم د کارکوونکو په رتبو باندې ټینګار کوي-ان تر دی چې که کارکوونکي په عین بست کې پاتې شی بیاهم د رتبوي د پروګرام له مخې ارتقا کوی نه دا چې رتبې د بست په ترفیع باندی چې معمولاً ترفیع د نوی دندې سره را منځته کیږي. همدا شان، د کلونو چوپړ په ترڅ کې او منظم ترفیعات (په دریو کلونو کې یوه ترفیع) د صلاحیت د ټیټې کچې کارکوونکي یوې لوړې درجې ته رسیږي او تر خپلو مدیرانو لوړې تنخاوې اخلي. بیلابیل مسلکې کارمندان شته چې د ترفیع لپاره یو حد لری او هیڅکله هم ترفیع نشي کولای.

د تنخاوو اوسنی کچه د ۱۳۴۹ کال د قانون او د دولتي کارکوونکو د وضعیت او حالت له مخې جوړه، او په کال۱۳۵۲ د ۱۴۳ شمیره فرمان له مخې تعدیل شوه، چې د اصلی تنخا مناسبه کچه ده. د دولتي کارکوونکو د ریښتینې تنخا کچه ټیټه ده، ماکولات (چې ټولو دولتي کارکوونکو ته په مساوي توګه ورکول کیږي) د ټولې تنخا ۹۰٪ برخه جوړوي. له کال ۲۰۰۴ څخه راهیسې، د اداري سمون او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون (۱۳م مخ) د حکومت د تنخا او د بستونو د رجه بندي د جوړښت په نوی کولو باندې کار کوي، د دولت د مهمو هڅو پر بنسټ چې غواړي ور کارکوونکي جذب او د ملکي خدمت په ترڅ کې د فساد کچه راټیټه کړی. د ملکي خدمت یو نوی قانون په ۱۳۸۴ کال کې تصویب شو او په ۲۰۰۷ کې یو د اتو رتبو لرونکی چوکاټ طرح شو چې دغو اتو درجو ته د تنخاوو نوی نظم برابر شو چې ټیټه تنخا یې ۸۰ امریکایی ډالره او لوړه یې ۸۰۰ امریکایی ډالره ده. د دغه سمون د تر سره کول به لومړې له لوړو دولتي پوستونو (رتبه ۱ او ۲) پیل او بیا به ټیټو رتبو ته له یوه وزارت څخه به بل ته وغزیږي.

تنخاوو او بستونو سمون د عامه اداري سمون یو عنصر دی چې د اداري سمون او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون په چوکاټ کې پر مخ بیول کیږي (عامه اداری سمون ۵۹) چې د ملکي خدمتونو د بیا جوړښت او د ورِوالي پر بنسټ د بیطرفه ګمارنې هڅه کوي. په کلونو ۷-۲۰۰۲ کې په ځینو دولتي دفترونو او آژانسونو کې عملي سمون د ګرنده سمون او د تشکیلاتو تجدید د بهیر له لارې تر سره شو، چې د مهمو ځانګو جوړښت او کار ترتیبوی، لګښتونه کموي او اغیزمنتوب منځته راوړي.

د تنخاوو او رتبو د سمون اغیزمنتوب ښایی چې د مرستندویه تړون کوونکو او نړیوالو سازمانونو د مقاماتو، مشاورینو او کارمندانو له امله، کوم چې لوړې تنخاوی تر لاسه کوی، د اغیزی لاندی راشی.

# د افغانستان دموکراتیک نظام

## اجرائیه

د افغانستان د مرکزي حکومت اجرائیه ځانګه د ولسمشر د دفتر، دوو مرستیالانو، لویې څارنوالی، ۲۵ وزیرانو او همدا شان زیاتو خپلواکو ادارو او نور دولتي آژانسونو څخه جوړ دی. د افغانستان د انتقالي دولت (۱۸م مخ) پر مهال ۳۰ وزارتونو شتون درلود خو، په ۲۰۰۴ او بیا د ۲۰۰۶ په لومړیو کې د څو وزارتونو فعالیتونه سره مدغم شول چې په پایله کې یوه زیاته منسجمه کابینه جوړه شوه.

ولسمشر نيغ په نيغه د پټو رايو له لارې د پنځو کلونو لپاره ټاکل کيږي او کولای شي حد اعظم دوه دورې خدمت وکړي. څوک چې د ولسمشرۍ په ټولټاکنو ځان نوماند کوي بايد په همغه وخت کې خپل دوه مرستيالان هم په ډاګه او ونوموي. ولسمشر د غوښ اکثريت لخوا ټاکل کيږي، که چيرې هيڅ نوماند ونتوانيږي چې د ٪۵۰ څخه زياتې رايې يوسي د دويم ځل لپاره د دوو نوماندانو ترمنځ چې ډېرې رايې يې ګټلي وي ټولټاکنې په لاره اچول کيږي.

ولسمشر د دولت او د کابينې مشر او د مسلح قواوو اعلی سرقوماندان دی، او د وزيران، لوی څارنوال، د افغانستان د بانک رئيس، د ستري محکمې غړي او د ملي شورا په تصويب سره يو شمير نور بيلا بيل پوستونه ټاکي.

د وزيرانو او نورو دولتي چارواکو د لست لپاره لړنوم په پاڼو ۲۲-۲۵ مخ وګورئ.

## قضاييه

لکه څرنګه چې د ۱۳۸۲ کال د اساسی قانون لخوا تصويب شو، ملي شورا چې عموماً ولسي جرګې ته راجع کيږي – د دوه جرګو څخه - ولسي جرګه (د خلکو لخوا د ټاکل شويو استازو شورا ) او د سنا مجلس (مشرانو جرګه چې غړي يې د ولسمشر، ولايتي شورا او ولسواليو شوراګانو لخوا په انتصابي ډول ټاکل کيږي ) جوړه ده. نوی پارلمان د لومړي ځل لپاره د ۱۳۸۴ کال د ليندۍ په مياشت کې د ۱۳۸۴ کال د زمرې د مياشت د پارلماني ټولټاکنو څخه وروسته راغونډ شو.

د ولسي جرګې غړي د پنځو کلونو لپاره د آزادو او پټو رايو پوسيله په ولايتي حوزو کې ټاکل کيږي. په ولسي جرګې کې اوس مهال ۲۴۹ کرسۍ شته، اساسي قانون په حد اکثر ۲۵۰ کرسيو باندې ټينګار کوي. ټولې کرسۍ د ولايتونو د وګړو په کچه وېشل کيږي (۷۲م مخ کې جدول وګورئ). په منځنۍ توګه دوه کرسۍ له هر ولايت څخه چې ټولګه يې ۶۸ کرسۍ کيږي د ښځو لپاره ځانګړې شوي دي. ۱۰ کرسۍ د کوچيانو لپاره سپمول کيږي چې درې کرسۍ يې بايد ښځو ته ورکړل شي.

د مشرانو جرګه ۱۰۲ غړي لري چې د ولسي جرګې، د ولايتونو او ولسواليو د شورا ګانو له ټولټاکنو څخه وروسته د دولت د ګډو انتصابي غړو او د نيغو ټولټاکنو له لارې ټاکل کيږي. له دريو څخه د غړو دوه برخې په نامستقيمه توګه ټاکل کيږي او له دريو څخه يوه برخه انتصابيږي. اساسی قانون يادونه کوي چې د مشرانو جرګې غړی په لاندې توګه ټاکل او انتصابيږي.

- د هرې ولايتي شورا د غړو له منځ څخه، اړونده شورا يو کس د څلورو کلونو لپاره ټاکي.
- د هر ولايت د ولسواليو د شوارګانو څخه، اړونده شوراګانې يو کس د دريو کلونو لپاره ټاکي.
- رئيس د متخصصينو او تجربه لرونکو، د معلولينو د دوو استازو په ګډون او دوه د کوچيانو استازي او نور پاتې د غړو دريمه برخه د پنځو کلونو لپاره انتصابوي. البته د جمهوري رياست په انتصاب شوي غړو کې ٪۵۰ ښځې دي.

له کومه ځایه چې د ولسوالیو د شورا ګانو ټولټاکنې د یوه نامالومه وخت لپاره ځنډول شوي دي، یوه لنډمهاله حل لاره په کار اچول شوې ده. هره ولایتي شورا خپل دوه غړي مشرانو جرګې ته ټاکي چې یو د څلورو کلونو او بل د دریو کلونو لپاره تر هغه چې د ولسوالیو ټولټاکنې په لاره اچول کیږي. د ۲:۱ نسبت په پام کې نیولو سره د دغه جرګې غړي په انتصابي ډول، د ولسوالیو د شوراګانو تر جوړېدو پورې، ټاکل کیږي.

د ملي شورا غړي باید د افغانستان اتباع اوسي. او ولسی جرګې ته د نوماندۍ په مهال نوماند باید لږ تر لږه **۲۵** کاله او **۳۵** کاله مشرانو جرګې ته د ټاکنې لپاره د ټاکنو په وخت، عمر ولري. په یو مهال دواړو جرګو کې غړیتوب هیڅ شونې ندی.

ملي شورا په کال کې دوه ځلې عادي غونډې کوي او د کار موده یې په کال کې **۹** میاشتې ده. ناستې آزادې او د خلکو په مخ خلاصې دي تر هغه چې د ناستو خونډې ساتنه د ملي شورا د رئیس له خوا یا د شورا د لسو تنو غړو له خوا وغوښتل شي او شورا یې تفویض کړي.

د اساسی قانون د ۹۰مې مادې په اساس، ملي شورا لاندې صلاحیتونه لري:

- د قوانینو او تقنیني فرمانونو تصویب، تعدیل یا لغو کول،
- د ټولنیزو، فرهنګي، اقتصادي او تکنالوژي پرمختیایي پلانونو تصویب،
- د دولتي بودجې تصویب او د پور اخیستو یا ورکولو اجازه،
- د اداري واحدونو منځته راوړل، تعدیل او یا لغو کول،
- د دولتونو تر منځ د تړونونو او نړیوالو میثاقونو تصدیق او یا له هغو څخه د افغانستان بېلول، او
- نور هغه واک او صلاحیتونه چې د اساسي قانون په وثیقه کې څرګند شوي.

پالیسۍ او قانون جوړونه هم کیدای شي د ولسمشر د دفتر، انفرادي وزارتونو یا د ملي شورا لخوا ترسره شي، چې بیا د ملي شورا د دواړو جرګو د تصویب او د ولسمشر له خوا توشیح کیږي. د اساسی قانون ۹۴مه ماده بیانوي چې:

- قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شورا د دواړو جرګو له خوا تصوب او د جمهور رئیس له خوا توشېح شي، مګردا چې په اساسي قانون کې بل ډول څرګنده شوې وي.
- که جمهور رئیس د ملي شورا له مصوبې سره موافقه ونه لري کولای شي چې د وړاندې کېدو تر نېټې وروسته یې په پنځلسو ورځو کې د دلایلو له ښوولو سره ملي شورى ته مسترد کړي.
- ددغه وخت په تیریدو سره یا په هغه صورت کې چې ولسي جرګه یوه ځانګړې موضوع د اکثریت – د دریو څخه د دوه برخو په رایو بیا تصویب کړي، نوموړې مسوده توشیح ګڼل کیږي او تعمیلیږي.

ځیني قانوني اسناد لکه (نظامنامې، لایحې او لارښوونې) د انفرادي وزارتونو لخوا هم صادریدی شي. یوه لایحه یا توشیح شوی فرمان باید د ملی شورا لخوا د هغه د لیږد څخه د یوې میاشتې په ترڅ کې تصویب کړای شي. په ولسي جرګه کې ۱۸ او د مشرانو په جرګه کې ۱۴ کمیسیونونه شته.

د ۲۰۰۷ کال په مارچ کې، د افغانستان ملي شورا د ټولیزه بخښنې یوه لایحه تصویب کړه، چې ټول هغه ړومبي جنګیالي چې د افغانستان اساسي قانون او نورو قوانینو ته غاړه کیږدی و بخښي. د دغې لایحې قانون ته د اوښتو تر مهال، د ملي شورا غړي چې تر تحقیق لاندې دي د دغه لایحې پر اساس د مجازات سزاوار دی.

## ولایتي شوراګانې

ټولې ۳۴ ولایتي شوراګانې د ولایتونو د وګړو د شمېر په اساس له ۹ څخه تر ۲۹ پورې غړي لري او د هر ولایت نوماندې په همغه ولایت کې ټاکل کیږي. نوماندي باید د همهغه ولایت او سیدونکي وي په کوم کې چې هغوی ټاکنو ته اودریږي، او دوی نشي کولای چې په یوه وخت کې هم ملي شورا او هم ولایتي شورا ته ځانونه ونوموي. د ټولټاکنو قانون بیانوي چې د ولایتي شوراګانو د کرسیو څلورمه برخه باید ښځو ته وسپارل شي. له هرې ولایتي شورا څخه دوه تنه مشرانو جرګې ته خدمت کوي (چې دغه شمیر د ولسوالیو د شوراګانو په ټاکل کیدو او تشکیلیدو سره به د هر ولایتي شورا څخه یو غړي ته کم شی).

د ۲۰۰۷م کال د ولایتي شورا ګانو قانون د دغو شوراګانو د مسئولیتونو په هکله ناڅرګنده ده او د دوی د دقیق او څرګند رول په اړوند د پام وړ مغشوشتیا موجوده ده. تر دغه مهاله پوری د ولایتي شوراګانو برخه: د ولایتي استازي له خپله منځه مشرانو جرګې ته ټاکل؛ د ولایتونو په پراختیا کې ګډون او د اداري چارو په ښه والي کې مرسته؛ او د ولایتي چارواکو سره یوځای د پرمختیایي پلانونو په ګډون د بیلابیلو موضوعاتو په اړه سلا مشورې ورکول او پدی لړ کې مرسته کول.

## د ولسوالیو شوراګانې

د اساسي قانون په اساس، د ولسوالیو شوراګانې به د ولسوالیو د وګړو په اندازه له پنځو څخه تر پنځلسو تنو پورې غړي ولري. کاندیدان باید د هم هغه ولسوالۍ اوسیدونکي اوسي په کوم کې چې هغوی ټاکنو ته اوریږي. کله چې د ولسوالیو شوراګانې جوړی شی بیا به د مشرانو د جرګې له دریو برخو یوه برخه وټاکي. د ولسوالیو د شوراګانو ټولټاکنې تر هغو چې ولسي جرګې د ولسوالیو د پولو په سر پرتې شخړې نه وي حل کړي ځنډول شوي دي. د ۱۳۸۲ کال تر مرغومې پورې لا د ولسوالیو ټولټاکنې په لاره اچول شوي یا پلان شوي ندي.

## د کلیو او ښاروالیو شوراګانې

اساسي قانون همدارنګه د آزادو، عمومي، پټو او نیغو ټولټاکنو له لارې د کلیو د شوراګانو، د ښاروالیو د شوراګانو او د ښاروالانو د ټاکنو غوښتنه کوي. د کلیو شوراګانې به د دریو کلونو لپاره وټاکل شي. د ښاروالیو د

شوراګانو او د ښاروالانو دورې لا مالومې ندي، او د ولسواليو او د ښاروالیو د شوراګانو احکام په اساسي قانون یا د ټولټاکنو په قانون کې ترتيب شوي ندي. داسې نه ښکاري چې د دغه اورګانونو ټولټاکنې به په راتلونکو څو کلونو کې په لاره واچول شي.

لکه څرنګه چې یادونه وشوه، د ولایتي، ولسواليو او د کليو د شوراګانو احکام او رول لا تر اوسه په بشپړه توګه تعریف شوی ندی. د دغو نویو شوراګانو او د موجودو ارګانونو په منځ کې لکه د عامه ادارو، نارسمي شوراګانو او د ټولنې د پراختیا شوراګانو چې د ملي پیوستون د پروګرام له خوا رامنځته شوی، د همغږۍ اړتیا لیدل کیږي.

## د ټولټاکنې سیستم

هر افغان چې ۱۸ او یا له هغه څخه پورته عمر ولری، ښځه او نارينه دواړه، د رایې ورکولو حق لری.

د افغانستان له جګړې څخه وروسته لومړنی د ټولټاکنو قانون د هغه مهال د لنډمهالې ادارې د مشر، حامد کرزي لخوا د ۱۳۸۲ کال د غويي په میاشت کې لاسلیک شو. د قانون یو نوی شوی ټوک د ۱۳۸۴ کال د غويي په نهمه نیټه د ولسمشرۍ د فرمان له مخې تصویب شو چې د ولسي جرګې د استازو د ټاکلو د سیستم لپاره یې د یوې اوږدې مودې بحث ته د پای ټکی کېښېښود.

د افغانستان لپاره د ټولټاکنو غوره شوې بڼه د نه لیږدیدونکي واحدې رایې سیستم وو. چې یو رایه ورکوونکې یوازی په یوه حوزه کې د یو نوماند لپاره رایه ورکولای شی. د دغه سیستم اساسي ګټې دادي چې په هکله یې رایه ورکوونکو ته د مالوماتو ورکول آسانه او شمېرل یې ساده دي. همداشان دغه سیستم د خپلواکه نوماندونو استاریتوب ډاډمنوي، چې کولای شي په یو هیواد کې چې سیاسي ګوندونه (لاندی معلومات وګورئ) شکمن وي، اړين ثابت شي.

له بل پلوه، دغه سیستم فردی سیاستونه تشویقوی او د سیاسي ګوندونو رول او د ټاکنیزو حوزو دریځ او کړنلارې کمزورې کوي. ځکه چې ټولې رایې انفرادي نوماندو ته لوېږي، په یوه ولایت کې د یوه ګوند نوماند ښایی چې د رایو اکثریت وګټي خو بیا هم یواځې د کرسیو اقلیت ترلاسه کوي. دغه سیستم همداشان د پارلمانې سیاستونو په اغیزمنه پرمختګ منفی اغیزه لرلای شی، نوماندی به سیمه ییزو، نژادي یا قومي موضوع ګانو ته لمن ووهی، د دی پر ځای چې یوه ملي اجندا جوړه کړي او د قومونو او سیمه ییزو ګروپونو تر منځ د ائتلافونو او همکاریو جوړول وهڅوي.

د ټولټاکنو متخصصينو پدې موضوع چې که چېرې بل ډول ټولټاکنې چې افغانستان ته ډېرې مناسبې وي بحثونه کړي دي. د دغه سیستم ځینې حساسیتونه هم تر بحث لاندې نیول شوي دي چې د نسبتي استازیتوب بربنډه لست کرسیو ته د رایو د اړلو له لحاظه او په ملي کچه د څو ملیتي ګوندونو د هڅونې له لحاظه ښایي یو غوره او ښه سیستم وي.

## د کرسیو ویش

اساسي قانون روښانه کوي چې د ولسي جرګې کرسۍ دې په ولایتونو د هغوی د وګړو د شمېر په اساس وویشل شي. خو دغه شرط ستونزمن ثابت شوی دی ځکه چې د ځينو ولايتونو او ولسواليو د پولو د تثبيت په هکله مخالفتونو موجود دی، او د وګړو دقيق او باوری معلومات هم نشته. په افغانستان کې د نفوسو وروستۍ سرشميرنه په ۱۹۷۹م زيږديز کال کې پيل شوه خو هېڅکله هم بشپړه نشوه. يوه نوې سرشمېرنه د ۲۰۰۸ کال په نيمايي لپاره طرحه کيږي (۲۱ م مخ وګورئ). د نوې سرشمېرنې د چمتوالي لپاره، د کورنيو د شمېرنې د لړنوم يوه سروې په ۲۰۰۵-۲۰۰۴ کلونو کې تر سره شوه. په ۱۳۸۴ کال کې د ولسي جرګې په ټولټاکنو کې د کرسيو ويش د کورنيو د دغه وروستي لست د اوسط او د ۱۳۵۸ کال د سرشميرنې د ارقامو په اساس چې د نفوسو د ودې په سلو کې ۱.۹۲ کلني اټکل په کارولو سره د نفوسو د ودې لپاره تنظيميږي، وو.

| ولايت | د وګړو شمير | د ولسی جرګې کرسۍ | | د ولايتي شوراګانو کرسۍ | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ټولګه | ښځې | ټولګه | ښځې |
| ټولګه | ۲۱,۲۷۷,۷۰۰ | ۲۴۹ | ۶۵ | ۴۲۰ | ۱۲۴ |
| بدخشان | ۷۹۰,۲۰۰ | ۹ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| بادغيس | ۴۱۲,۴۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| بغلان | ۷۴۸,۰۰۰ | ۸ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| بلخ | ۱,۰۵۲,۵۰۰ | ۱۱ | ۳ | ۱۹ | ۵ |
| باميان | ۳۷۱,۹۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| دايکندي | ۳۸۳,۲۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| فراه | ۴۲۰,۲۰۰ | ۵ | ۱ | ۹ | ۳ |
| فارياب | ۸۲۴,۵۰۰ | ۹ | ۳ | ۱۵ | ۴ |
| غزني | ۱,۰۲۰,۴۰۰ | ۱۱ | ۳ | ۱۹ | ۵ |
| غور | ۵۷۴,۸۰۰ | ۶ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| هلمند | ۷۶۷,۳۰۰ | ۸ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| هرات | ۱,۵۱۵,۴۰۰ | ۱۷ | ۵ | ۱۹ | ۵ |
| جوزجان | ۴۴۳,۳۰۰ | ۵ | ۱ | ۹ | ۳ |
| کابل | ۳,۰۱۳,۲۰۰ | ۳۳ | ۹ | ۲۹ | ۸ |
| کندهار | ۹۷۱,۴۰۰ | ۱۱ | ۳ | ۱۵ | ۴ |
| کاپيسا | ۳۶۷,۴۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| خوست | ۴۷۸,۱۰۰ | ۵ | ۱ | ۹ | ۳ |
| کنړ | ۳۷۴,۷۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| کندز | ۸۱۷,۴۰۰ | ۹ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| لغمان | ۳۷۱,۰۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| لوګر | ۳۲۲,۱۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ننګرهار | ۱,۲۳۷,۸۰۰ | ۱۴ | ۴ | ۱۹ | ۵ |
| نیمروز | ۱۳۵,۹۰۰ | ۲ | ۱ | ۹ | ۳ |
| نورستان | ۱۲۳,۳۰۰ | ۲ | ۱ | ۹ | ۳ |
| پکتیا | ۴۵۸,۵۰۰ | ۵ | ۱ | ۹ | ۳ |
| پکتیکا | ۳۶۲,۱۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| پنجشیر | ۱۲۷,۹۰۰ | ۲ | ۱ | ۹ | ۳ |
| پروان | ۵۵۰,۲۰۰ | ۶ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| سمنګان | ۳۲۱,۵۰۰ | ۴ | ۱ | ۹ | ۳ |
| سرپل | ۴۶۳,۷۰۰ | ۵ | ۱ | ۹ | ۳ |
| تخار | ۸۱۱,۷۰۰ | ۹ | ۲ | ۱۵ | ۴ |
| اروزګان | ۲۹۱,۵۰۰ | ۳ | ۱ | ۹ | ۳ |
| وردک | ۴۹۲,۷۰۰ | ۵ | ۲ | ۹ | ۳ |
| زابل | ۲۵۲,۷۰۰ | ۳ | ۱ | ۹ | ۳ |
| کوچیانو ته ساتل شوی | | ۱۰ | ۳ | د اجرا وړ ندي | د اجرا وړ ندي |

## د ټولټاکنو مهال وېش

اساسي قانون د ټولټاکنو دغه لاندې مهال وېش سپارښتنه کوي:

| ټولټاکنې | وار |
|---|---|
| د جمهوري ریاست | هر پنځه کاله |
| مشرانو جرګه (انتصابي) | هر پنځه کاله |
| مشرانو جرګه (د ولایتي شوراګانو استازي) | هر څلور کاله |
| مشرانو جرګه (د ولسوالیو د شوراګانو استازي) | هر درې کاله |
| ولسي جرګه | *هر پنځه کاله* |
| ولایتي شوراګانې | هر څلور کاله |
| د ولسولیو شوراګانې | هر درې کاله |
| د کلیو شوراګانې | هر درې کاله |
| د ښاروالیو شوراګانې | څرګندې ندي |
| ښاروالان | څرګندې ندي |

د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د ټیټ ظرفیت او لږو سرچینو ( ۲۹م مخ)، لوړ لګښت او په افغانستان کې د ټولټاکنو ستونزه، په ځینو سیمو کې د امنیت نشتوالي او د ځینو ټاکنیزو ارګانونو ناڅرګنده احکامو ته په پام سره ښایې د ټولټاکنو مهال وېش به همدغه شان بدلون مومي. لکه د ۲۰۰۸ کال په لومړیو کې، د جمهوري ریاست

ټولټاکنې د ۲۰۰۹ کال په منځ کې پلان شوي وی، پداسې حال کې چې د ملي شورا او د ولایتي شوراګانو ټولټاکنو ته کومه نېټه په ګوته شوې نده.

## سیاسي ګوندونه

په پراخه توګه منل شوې ده چې په یو دموکراتیک نظام کې، سیاسي ګوندونه د وګړو د ګټو اغیزمن استازیتوب او د حکومت او پالیسۍ د تکوین پرمختګ او ملاتړ لپاره اړین دي. ډېری افغانان، په هر حال، له سیاسي ګوندونو څخه کوم چې دوی یې له کمونستو ګوندونو او د شوروي اتحاد له یرغل سره تړي پخپلو ذهنونو کې یو منفي انځور لري، همدا شان د مجاهدینو هغه ډلې چې د دوی خپلمنځي جګړو په ۱۹۹۰ لسیزه کې د ناکراریو او وینې تویېدنو سبب شول. لدی کبله په عامه توګه، افغانان په سیاسي ګوندونو باندې اعتماد نکوي، بلکه هغوی ته په داسې سترګو لکه چې یوازې خپلو ځانګړو توکمیزو، قومي او د لږکیو ګټو پسې ګرځي، ګوري. د افغانستان د ټاکنیز سیستم د غیر عادي خوښونې لپاره یو معقول او منطقي وړاندیز د ګوندونو په نسبت په انفرادي نوماندو باندې ټینګار وو.

افغانان اکثراًسیاسي ګوندونه له پخوانیو معافیت لرونکو ملیشه وو سره یو ګڼي. پداسې حال کې، چې په افغانستان کې ډېری لویو سیاسي ګوندونو له پوځي ډلو سره نږدې تړاو درلود [چې ځینې یې لا اوس هم لري]، نور سیاسي واړه ګوندونه ملکي ریښې او دموکراتیکې موخې لري. اساسي قانون، سیاسي ګوندونه د پوځي څانګو له لرلو څخه په کلکه منع کوي او د عدلیې په وزارت کې د سیاسي ګوندونو د ثبتولو څانګه منځته راغله څو هغه ګوندونه چې په اساسي قانون کې وړاندې شوي شرطونه پوره کوي تصویب کړي. لکه څنګه چې د ۱۳۸۶ لمریز کال تر غبرګولې پورې، ۸۴ ګوندونه د عدلیې وزارت لخوا تصویب او ثبت کړای شوي وو. د دغو ګوندونو یو لست د عدلیې وزارت په ویب پاڼه کې www.moj.gov.af/polpartieslist.html تر لاسه کېدای شي.

د ۲۰۰۵ په ټولټاکنو کې، ډېرو لږو کاندیوانو د خپلو نوماندۍ په اسنادو کې د سیاسي ګوندونو سره تړاو څرګند کړ، او دغه تړاو په رای پاڼو کې برسیره نشو. که څه هم چې دغه کار رای پاڼې ساده کړې، چې دا ښایي رایه ورکوونکي د هغه کاندیدانو د ګوندي تړون په اړه د پوهیدو څخه مخنیوې کړی وي کومو ته چې دوی رایه ورکړه.

## قضاییه

په افغانستان کې ستر تلپاتې عدلي اورګانونه ستره محکمه، د لوی څارنوالۍ دفتر او د عدلیې وزارت دی. عدلي سکتور د ډېرې مودې لپاره ګوندیزه بڼه او له نورو عدلي ادارو سره یې بی سیکه اړیکې لرلی. خو په ۲۰۰۷ کال کې، د عدلي سکتور سمون (۳۲م مخ) چې د افغان عدلي اورګانونو، افغان حکومت او د نړیوالې مرستندویه ټولنې په همغږۍ او بشپړه همکارۍ تصویب او پلي شو، د پام وړ پرمختګ وکړ.

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون بیانوي چې:"قضائیه د افغانستان د اسلامي دولت یوه خپلواکه څانګه ده. قضائیه قوه له سترې محکمې، عالي محکمې، استیناف او لومړنیو محکمو څخه جوړه ده چې جوړښت او صلاحیتونه یې د قانون

له مخې تاکل کېږي.» د ۲۰۰۵ کال په جون کې، یو نوی قانون چې قضائیه او محکمې اداره کوي د کابینې له خوا تصویب شو. ددغه قانون تر رامنځته کیدو وړاندې، دغه سیستم د کال ۱۹۹۰ د افغانستان د قانون جوړونې او سازمانونو د قانون له مخې تنظیم کېده (۲۳مه ګنه، ۱۳۶۹ لمریز کال). نوی قانون محکمې په دریو درجو باندې وېشي: ستره محکمه، د استیناف محکمه، او لومړنۍ محکمې. د اړتیا په وخت او په ځانګړو پېښو کې دغه قانون د ګرځنده محکمو د جوړولو حکم هم کوي چې باید د ولسمشر لخوا تصویب کړای شي.

ستره محکمه د تفسیر پراخ-بنسټه ځواک لري: د دغه ارګان په دندو کې د قوانینو، فرمانونو، نړیوالو تړونونو او د نړیوالو قراردادونو بیاکتنه او څېړل شامل دي څو د اساسي قانون سره ددغه موادو تطابق ډاډمن کړي. د لوی څارنوال دفتر یوه خپلواکه اداره چې د اجرائیه قوې یوه برخه ده او د څېړنو او پلټنو مسئوولیت لري.

د بن پرېکړه څرګندوي چې د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون او نور موجوده قوانین (چې د بن له موافقه لیک یا د افغانستان له نړیوالو قانوني مکلفیتونو سره په تناقض کې نه وي) د نوي اساسي قانون تر جوړېدو پورې به یو موقت قانوني چوکاټ جوړوي. دغه نوی اساسي قانون په کال ۲۰۰۴ کې پلي شو او د هغه تر رڼا لاندې یو ډېر شمېر فرمانونه او قوانین صادر شوي دي. د عدلیې وزارت د تقنین د تسوید ریاست تر اوسه له سلو څخه زیات قوانین تسوید کړي دي چې ډېرو یې زاړه قوانین پرزولي دي. یو ډېر شمیر هغه متناقض قوانین چې د ړومبنیو بېلابېلو رژیمونو څخه تصویب شوي پاتې دي، په هر حال، د دغو قوانینو د همغږي کولو هڅې به څو کاله وخت ونیسي.

د هېواد په کچه د قضایي رسمي سیستم خپرول په څرګند ډول توپیر لري. د قضایي شخړو یوه لویه برخه په افغانستان کې د رسمي قضایي سیستم څخه بهر په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې حل کېږي. د عدل دودیز میکانیزم [شوراګانې او جرګې] اغلبا ملکي او جزایي پېښې څېړي او د اسلامي او دودیزو قوانینو پر بنسټ یې حل کوي. له دې کبله، عدلي سیستم د څو بېلابېلو قانوني چوکاټونو چې دولتي یا ملکي قانون، شریعت او دودیز قانون هم پکې شامل ده پر مخ بیول کېږي. د ځمکې او ملکیت د موضوع ګانو په ارتباط د دغو سیستمونو په منځ کې داسې عام عناصر شته خو په دراماتیکه توګه دغه سیستمونه د جرمي پیښو او د جزا د رول او طبیعت له پلوه توپیر کوي. اساسي قانون اجازه ورکوي چې قاضیان یا د ملکي قوانینو او یا د اسلامي قوانینو په اساس وروزل شي. برحاله قاضیان د سیاسي کوندونو د غړیتوب حق نلري.

لکه څرنګه چې د بن موافقه لیکونو ځانګړې کړې ده، د قضایی سمون کمیسیون د ۱۳۸۱ کال د لړم په میاشت کې منځته راغئ چې د عدلي ټوټې ټوټې شوئ سیستم سم او بیا کتنه پرې وکړي. دغه کمیسیون ته د قضایي سیستم د جوړښتي او فزیکي پرځایولو د لارښود دنده ورکړ شوی وه: څو نوی او اسلامي قوانین سره انډول کړي، د قانوني اورګانونو اکثریت په ګوته کول او د عدلي ځانګې د بېلابېلو برخو د رول او د رپوټ ورکولو جوړښت واضیح کړي. نوموړی یو لند مهال کمیسیون وو چې، د ۲۰۰۵ په لومړیو کې یې رول د عدلي تلپاتې انستیتیوتونو ته وسپارل شو. د دغه کمیسیون د ملي کچې همغږي، اوس د حکومت په منځ کې د قانون د حاکمیت د کاري ډلې، د قانون د حاکمیت او د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژۍ د بشري حقونو د سکتور دنده ده.

## ستره محکمه

ستره محکمه د اساسي قانون پر بنسټ ۹ غړي لري چې لس کلنې دورې لپاره د ولسمشر لخوا نومول او د ولسي جرګې په تصویب ټاکل کیږي. ولسمشر د ۹ غړو له منځه یو غړی د قاضی القضات په توګه ټاکي. ستره محکمه د ټولو ملي، محلي او سیمه ییزو محکمو د سیستم د کارکوونکو ، بودجې او د پالیسي پریکړو مدیریت کوي.

ستره محکمه لږ ترلږه په دوو اونیو کې یو ځلې منظمې ناستې دایروي خو ، فوق العاده غونډې د غوښتنې په اساس رابلل کیږي. د سترې محکمې د نصاب لپاره کم تر کمه د شپږو غړو حضور اړین دی او پریکړې د رایو په اکثریت سره کیږي. ستره محکمه په څلورو دېوانونو ویشل شوی ده لکه جزایي، عامه/ملي امنیت، مدني او کورني موضوع ګانې او سوداګریز دیوان، چې هر یو یې د سترې محکمې د قضات له خوا اداره کیږي.

د سترې محکمې ۹ نوو غړو د ۱۳۸۵ کال د زمری په ۱۴مه نیټه تحلیف پر ځای کړ. نوې محکمه په منځلارو، تکنوکراتانو او د زدکړې د لوړې درجې درلودونکو باندې د ړومبنۍ محکمې په نسبت سمباله شوې ده.

## د استیناف محکمې

د استیناف محکمې د هیواد په ټولو ولایتونو کې جوړې شوې دي. دغو کې د محکمې رئیس، نور قضایي کارکوونکي او د دیوانونو رئیسان شامل دی. د استیناف په هره محکمه کې ۷ دیوانونه دی لکه عمومي جرایمو (چې ترافیکي پیښې هم څېړي)، عامه امنیت، مدني او کورنۍ دیوان، عامه حقوق، د سوداګری او د ماشومانو دیوان چې هر دیوان د شپږو څخه زیات قضایي غړي نلري. د استیناف محکمې د لومړنیو محکمو له کار او پریکړو څخه څارنه کوي او دا صلاحیت لري چې د هغوی کار او پریکړې سمې، تعدیل، تایید او یا دغه حکمونه او پریکړې باطل او لغوه کړي. دوی په قضایي شخړو د نفوذ او پریکړو صلاحیت هم لري.

## لومړنۍ محکمې

د حقوقي حوزو لپاره پنځه لومړنۍ محکمې شتون لري: د ولایتونو مرکزي محکمې، د ماشومانو محکمې، د سوداګری محکمې، د کورني مسایلو محکمې، او د ولسوالیو محکمې. په هر ولایت کې باید له هرې څخه لږ تر لږه یوه موجوده وي. د ولایتونو مرکزی محکمې له پنځو دیوانونو څخه جوړې دي- د عامو جرایمو ، مدني ، عامه حقوق، عامه امنیت او ترافیک دیوانونه. د ولسوالیو محکمې د ولسوالیو په کچه جوړیږی.

ټول جرایم او مدنې قضیې دلومړي ځل لپاره د مناسبو لومړنیو محکمو له لارې حلیږي. که چیرې شکایت د لومړنۍ محکمې د کړنلارې یا حکمونو په اړه وي، نو قضیه د استیناف محکمې ته ځي چې ښایي دوسیې له هغه ځایه سترې محکمې ته ولیږل شي. یو شمیر زیاتې قضیې په منظمه توګه استیناف ته لیږل کیږي. ځینې کارپوهان وایي چې دغه عمل د اغیزمنو قضایي فعالیتونو لپاره یو د پام وړ خنډ ده.

# د افغان حکومت وزارتونه او وزیران، د ۱۳۸۲ کال د لیندۍ میاشت

| وزارت | وزير | رسمي ويب پاڼې |
|---|---|---|
| د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت | عبيدالله رامين | www.agriculture.gov.af |
| د قبايلو او سرحدونو د چارو وزارت | عبدالکريم براهوي | |
| د سوداګرۍ او صنعت وزارت | مير محمد امين فرهنګ | www.commerce.gov.af |
| د مخابراتو او د معلوماتي تکنالوژۍ وزارت | اميرزى سنګين | www.mcit.gov.af |
| د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزرات | جنرال خدايداد (سرپرست) | www.mcn.gov.af |
| د کلتور او د ځوانانو د چارو وزارت | عبدالکريم خرم | www.culturalprofiles.net/Afghanistan/Units/۱.html |
| د ملي دفاع وزارت | عبدالرحيم وردک | |
| د اقتصاد وزارت | محمد جليل شمس | |
| د ښوونې او روزنې وزارت | محمد حنيف اتمر | www.moe.gov.af |
| د اوبو او بريښنا وزارت | محمد اسمعيل خان | |
| د ماليې وزارت | انور الحق احدی | www.mof.gov.af |
| د بهرنيو چارو وزارت | رنګين دادفر سپنتا | www.mfa.gov.af |
| د حج او مذهبي چارو وزارت | نعمت الله شهراني | |
| د لوړو زدکړو وزارت | اعظم دادفر | www.mohe.gov.af |
| د کورنيو چارو وزارت | ضرار احمد مقبل | |
| د عدليې وزارت | سرور دانش | www.moj.gov.af |
| د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت | نور محمد قرقين | |
| د کانو وزارت | ابراهيم عادل | |
| د عامې روغتيا وزارت | محمد امين فاطمی | www.moph.gov.af |
| د ټولنيز کار وزارت | سهراب علی سفری | |
| د بېځايه شويو او کډوالو د چارو وزارت | شير محمد اعتباری | |
| د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت | محمد احسان ضيا | www.mrrd.gov.af |
| د ترانسپورت او ملکي هوا نوردۍ وزارت | حميد الله قادری | www.motca.gov.af |
| د ښاري پراختيا او کور جوړونې وزارت | يوسف پښتون | |
| د ښځو د چارو وزارت | حسن بانو غضنفر | www.mowa.gov.af |

# د حکومت نورې څانګې او چارواکي، د ۱۳۸۲ کال د لیندۍ میاشت

| څانګه | ټاکل شوي یا ګومارل شوی چارواکي | رسمی ویب پاڼه |
|---|---|---|
| ولسمشر | حامد کرزی | www.president.gov.af |
| د جمهوری ریاست لومړی مرستیال | احمد ضیا مسعود | |
| د جمهوری ریاست دویم مرستیال | محمد کریم خلیلی | |
| د کابینې لوړ پوړې وزیر | هدایت امین ارسلا | |
| د ملی امنیت سلاکار | زلمی رسول | |
| لوی څارنوال | عبدالجبار ثابت | www.ago.gov.af |
| د سترې محکمې قاضي القضات | عبدالسلام اعظیمی | www.supremecourt.gov.af |
| د ولسی جرګې رئیس | محمد یونس قانونی | www.nationalassembly.af |
| د مشرانو جرګې رئیس | حضرت صبغت الله مجددی | www.nationalassembly.af |
| د افغانستان بانک | عبدالقدیر فطرت | www.centralbank.gov.af |
| د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون | سیما ثمر | www.aihrc.org.af |
| د وسلې ټولونې او انسجام کمیسیون | محمد کریم خلیلی | www.diag.gov.af |
| د اداری سمون او ملکی خدمتونو خپلواک کمیسیون | احمد مشاهد | |
| د ټاکنو خپلواک کمیسیون | عزیزالله لودین | www.iec.org.af |
| د ملی پخلاینې او سولې او ټیکاو کمیسیون | حضرت صبغت الله مجددی | |
| د اداري چارو ریاست | فاروق وردک | |

# اسناد: محتوا

شالید ........ ۶۲
عامه سکتور ........ ۶۷
د افغانستان دموکراتیک نظام ........ ۷۰
د افغانستان اساسی قانون ........ ۸۴
محتوا ........ ۸۴
سريزه ........ ۸۴
لومړی فصل: دولت ........ ۸۵
دو هم فصل: د اتباعو اساسی حقوق او وجایت ........ ۸۷
دريم فصل: جمهور رئيس ........ ۹۲
څلورم فصل: حکومت ........ ۹۶
پنځم فصل: ملي شورای ........ ۹۷
شپږم فصل: لویه جرګه ........ ۱۰۲
اووم فصل: قضاء ........ ۱۰۳
اتم فصل: اداره ........ ۱۰۶
نهم فصل: اضطراري حالت ........ ۱۰۷
لسم فصل: تعديل ........ ۱۰۸
يوولسم فصل: متفرقه حکمونه ........ ۱۰۸
دولسم فصل: انتقالي حکمونه ........ ۱۰۹
د افغانستان تړون ليک ........ ۱۱۱
سريزه ........ ۱۱۱
موخه ........ ۱۱۱
دمرستو اصول ........ ۱۱۲
امنيت: ........ ۱۱۳
حکومت کول، دقانون واکمني او د بشر حقونه: ........ ۱۱۳
اقتصادي اوټولنيز پراختيا: ........ ۱۱۴
د نشه يي توکو سره مبارزه: يو ځو اړخيز لومړيتوب ........ ۱۱۵
سمون او څارنه: ........ ۱۱۵
د لومړۍ ګڼې ضميمه: معيارونه او زماني مودې ........ ۱۱۵
دويمه ضميمه: له افغانستان سره د مرستو د اغيزمنتيا ښه والې ........ ۱۲۴
دريمې ضميمه: څارنه او همغږی ........ ۱۲۶
څلورمه ضميمه: د افغانستان په هکله د لندن د کنفرانس برخه وال ........ ۱۲۶
په افغانستان کې په بشردوستانه، دبيا رغونې او پرمختيايي ........ ۱۲۸
سريزه ........ ۱۲۸
تعريفونه ........ ۱۲۹
دناحکومتی مؤسسو رسالت ........ ۱۳۰
دکړنلارې نيت (مقصد ) ........ ۱۳۰
د روښ اصول ........ ۱۳۰
ضميمه: تاريخي قرينه ........ ۱۳۷

# د افغانستان اساسی قانون

۱۳۸۲ کال

د لوی او ښښونکي خداي په نامه

## محتوا


سریزه

| | | |
|---|---|---|
| لومړی فصل: | دولت | (۲۱ مادې) |
| دوهم فصل: | د اتباعو اساسي حقوق او وجایت | (۳۸ مادې) |
| دریم فصل: | جمهور رءیس | (۱۱ مادې) |
| څلورم فصل: | حکومت | (۱۰ مادې) |
| پنځم فصل: | ملی شوری | (۲۹ مادې) |
| شپږم فصل: | لفویه جرګه | (۶ مادې) |
| اووم فصل: | قضاء | (۲۰ مادې) |
| اتم فصل: | اداره | (۷ مادې) |
| نهم فصل: | د اضطرارت حالت | (۲مادې) |
| لسم فصل: | تعدیل | (۲مادې) |
| یوولسم فصل: | متفرقه حکمونه | (۷مادې) |
| دوولسم فصل: | انتقالی حکمونه | (۵مادې) |


د لوی او ښښونکي خداي په نامه

## سریزه

موږ د افغانستان خلکو:

۱. د لوی خدای (ج) پر سپیڅلي ذات په ټینګ ایمان، د حق تعالي په مشیت پر توکل او د اسلام په سپیڅلی دین پر اعتقاد؛

۲. د تیرو بی عدالتیو او ناخوالو په درک او زموږ پر هیواد راغلیو بی شمیره مصیبتونو ته پاملرنه؛

۳. د افغانستان د ټولو خلکو د سر ښندنو، تاریخی مبارزو، جهاد او بر حق مقاومت د ستایلو او د وطن د آزادۍ د لارې شهیدانو لوړ مقام ته په ارزښت ورکولو؛

۴. په دې درک سره چې واحد او یو موټی افغانستان د دې خاورې په ټولو قومونو او خلکو اړه لري؛

۵. د ملګرو ملتو د منشور به رعایت او د بشر د حقوقو نړیوالې اعلامیې ته په درناوي؛

۶. د ملی وحدت د ټینګښت او د هیواد د استقلال، ملی حاکمیت او زمکنۍ بشپړتیا د ساتنی په منظور؛

۷. د خلکو پر اراده او دموکراسۍ ولاړ نظام د تاسیس لپاره؛

۸. له ظلم، استبداد، تبعیض او تاوتریخوالي پاکي؛ پر قانونیت؛ اجتماعي عدالت: د انساني حقوقو او کرامت پر خوندي تابه ولاړې مدني ټولني د جوړولو او د خلکو د اساسی حقوقو او آزادیو د تأمین په منظور؛

۹. د هیواد د سیاسی، اجتماعی، اقتصادی او دفاعی بنسټونو د پیاوړي کولو لپاره؛

۱۰. د دې خاورې ټولو اوسېدونکیو ته د یو هوسا ژوندانه او د ژوند د سالم چاپیریال د تأمین په منظور؛
۱۱. او بالاخره په نړیواله کورنۍ کې د افغانستان لپاره د ورځای د تثبیت په منظور؛ د هیواد تاریخی، فرهنګې او ټولنیزو واقعیتونو او د زمان له غوښتنو سره سم مو دغه اساسی قانون د خپلو استازیو له لارې د یو زرو درې سوه دوه اتیا لمریز هجری کال د مرغومي د میاشتی په څوارلسمه نیټه د کابل په ښار کې تصویب کړ.

## لومړی فصل: دولت

لومړۍ ماده
- افغانستان، خپلواک، واحد، او نه بېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی.

۲مه ماده
- د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دین، د اسلام سپیڅلی دین دی.
- د نورو ادیانو پیروان د خپل دین په پیروۍ او د خپلو دیني مراسمو په اجراء کې د قانون د حکمونو په حدودو کې آزاد دي.

۳مه ماده
- په افغانستان کې هیڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي.

۴مه ماده
- په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري چې په مستقیم ډول یې په خپله یا یې استازیو له لارې عملي کوي.
- د افغانستان ملت عبارت دی له هغو ټولو افرادو څخه چې د افغانستان تابعیت ولري.
- د افغانستان ملت له پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوچ، پشه یي، نورستاني، ایماق، عرب، قرغیز، قزلباش، گوجر، براهوي او نورو قومونو څخه جوړ دی.
- د افغان کلمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کیږي.
- د ملت هیڅ یو فرد د افغانستان له تابعیت څخه نه محرومیږي.
- په تابعب او پناه ورکولو پوری مربوطی چاری د قانون له لیاری تنظیمیږی.

۵مه ماده
- ددې اساسي قانون او نورو قوانینو د حکمونو تطبیق، له استقلال، ملي واکمنۍ او زمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع او د هېواد د امنیت او دفاعي قابلیت تاءمین، د دولت له اساسي وظایفو څخه دي.

۶مه ماده
- دولت، د انساني کرامت د ساتلو، بشري حقوقو د ملاتړ، د دموکراسۍ د تحقق، ملي وحدت او تاءمین، د ټولو قومونو او قبایلو تر منځ د برابرۍ او د هېواد په ټولو سیمو کې د متوازنې پراختیا او ټولینېز عدالت، پربنسټ د یوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی.

۷مه ماده
- دولت د ملګروملتونو د منشور، د بین الدول معاهدو، د نړېوالو میثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي.
- دولت د هر راز تروریستي اعمالو، د مخدره موادو د کرلو او قاچاق او مسکراتو دتولید او استعمال مخنیوی کوي.

**۸مه ماده**

- دولت د هېواد خارجي سیاست د خپلواکۍ، ملي ګټو او زمکني بشپړتیا په ساتلو، نه مداخلې ښه ګاونډیتوب، متقابل احترام او د حقوقو د برابرۍ پرېنسټ تنظیموي.

**۹مه ماده**

- کانونه او نوري تر زمکې لاندې زیرمې او لرغوني آثار د دولت ملکیت دی.
- د دولت د ملکیتونو ساتنه او اداره او له طبیعي زېرمو او نورو عامه ملکیتونو څخه د سمې استفادې ډول د قانون له لیارې تنظیمیږي.

**۱۰مه ماده**

- دولت، دخصوصي پانګې اچونې او خصوصي تشبثات د بازار د اقتصاد د نظام پربنسټ د قانون له حکمونو سره سم هڅوي، ملاتړ یې کوي او مصونیت یې تضمینوي.

**۱۱مه ماده**

- په کورنۍ او بهرنۍ سودا ګرۍ پورې تړلې چارې، د هېواد له اقتصادي غوښتنو او د خلکو له ګټو سره سمې د قانون له لیارې تنظیمیږي.

**۱۲مه ماده**

- د افغانستان بانک. د دولت مرکزي او مستقل بانک دی.
- د پېسو نشرول، د هېواد د پولي سیاست طرح او تطبیق، د قانون له حکمونو سره سم د مرکزي بانک صلاحیت دی.
- مرکزي بانک د پېسو د چاپ په برخه کې د ولسي جرګې له اقتصادي کمیسیون سره مشوره کوي.
- د دې بانک تشکیل او د کار ډول د قانون له لیارې تنظمیږي.

**۱۳مه ماده**

- دولت د صنایعو د پراختیا، د تولید د ودې او د خلکو د ژوند د سطحې د لوړتیا او د کسبګرو د فعالیتونو د ملاتړ لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیقوي.

**۱۴مه ماده**

- دولت د کرنې او مالدارۍ د پراختیا، د بزګرانو او مالدارانو د اقتصادي، ټولنیزو او د ژوند د شرایطو د ښه کولو او د کوچیانو د میشتولو او د دوی د ژوند د سمون لپاره د دولت د مالي توان په حدودو کې اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیقوي.
- دولت مستحقو اتباعو ته د استوګنځي د برابرولو په منظور او د عامه ملکیتونو د وېش لپاره، د قانون له حکمونو سره سم او دمالي امکاناتو په حدودو کې لازم تدبیرونه نیسي.

**۱۵مه ماده**

- دولت مکلف دی چې د ځنګلونو او د چاپیریال د خوندی کولو او ښه والي لپاره لازم تدبیرونه ونیسی

**۱۶مه ماده**

- د پښتو، دري، ازبکي، ترکمني، بلوڅي، پشه یي، نورستاني، پامیري او په هیواد کې د نورو مروجو ژبو له جملې څخه پښتو او دري د دولت رسمي ژبې دي.
- په هغو سیمو کې چې د خلکو اکثریت له ازبکي، ترکمني، بلوڅي، پشه یي، نورستاني او پامیري ژبو څخه پریوې خبرې کوي له پښتو او دري سربیره هغه ژپه دربمه رسمي ژپه ده، د تطبیق ډول یې د قانون له لیارې تنظیمیږي.
- دولت د افغانستان د ټولو ژبو د پیاوړتیا او پراختیا لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیقوي.
- په هېواد کې د مطبوعاتو، راډیو او تلویزیون خپرونې د هېواد پرټولو مروجو ژبو آزادې دي.
- په هېواد کې موجود ملي، علمي او اداري مصطلحات ساتل کیږي.

| | |
|---|---|
| ۱۷مه ماده | • دولت په بېلابېلو سطحو کې د معارف د ودې او د دیني زده کړو د پراختیا ، د جوماتونوٌ مدرسو او دیني مرکزونو د وضعې د ښه والي او تنظیم لپاره لازم تدبیرونه نیسي. |
| ۱۸مه ماده | • دهېواد د تقویم مبداء د پیغمبر اکرم(ص) پر هجرت ولاړ دی.<br>• د دولتي ادارو د کار بنسټ هجري لمریز کال دی.<br>• د جمعې ورځې، د اسد ۲۸ او د ثور ۸ عمومي رخصتي دي، نورې رخصتي د قانون له لیارې تنظیمیږي. |
| ۱۹مه ماده | • د افغانستان بیرغ له: دریو تور، سور او زرغون رنګه ټوټو څخه جوړ دی درې واړه ټوټې په مساوي ډول له کینۍ نه ښي لور ته په عمودي ډول سره پرتې وي او د هر رنګ سور د هغه د اوږدو نیمایي دی چې په منځ کې یې د افغانستان ملي نښان ځای پر ځای شوی دی.<br>• د افغانستان د دولت ملي نښان له سپین رنګي محراب او منبر څخه جوړ دی چې په دوو څنډو کې یې دوه بیرغونه او د منځ په برنۍ برخه کې یې دوه بیرغونه او د منځ په برنۍ برخه کې یې د لا اله الا الله محمد رسول الله مبارکه کلمه او الله اکبر او د راختونکي لمر وړانګې او په لاندینۍ برخه کې یې د ۱۲۹۸ هجري شمسي تاریخ او د افغانستان کلمه راغلې چې له دوو خوا وو د غنمو وږي پرې راګرځول شوي دي.<br>• له بیرغ او ملي نښان څخه د استفادې څرنګوالی د قانون له لیارې تنظیمیږي. |
| ۲۰مه ماده | • د افغانستان ملي سرود په پښتو ژبه دی، الله اکبر او د افغانستان د قومونو نومونه به پکې راځي. |
| ۲۱مه ماده | • د افغانستان پایتخت د کابل ښار دی. |

## دوهم فصل: د اتباعو اساسی حقوق او وجایت

| | |
|---|---|
| ۲۲مه ماده | • د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیِض او امتیاز منع دی.<br>• د افغانستان د اتباعو ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري. |
| ۲۳مه ماده | • ژوند د خدای(ج) بخښنه او د انسان طبیعي حق دی، هیڅوک له قانوني مجوزه پرته له دې حقه بې برخې کېدای نشي. |
| ۲۴مه ماده | • آزادي د انسان طبیعي حق دی، دا حق د نورو له آزادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لیارې تنظیمیږي حدود نه لري.<br>• د انسان آزادي او کرامت له تیري خوندي دی.<br>• دولت د انسان د آزادۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی. |
| ۲۵مه ماده | • د ذمې برائت اصلي حالت دی ترهغې چې د باصلاحیته محکمې په قطعي حکم متهم محکوم علیه ثابت نشي، بې ګناه ګڼل کیږي. |
| ۲۶مه ماده | • جرم یو شخصي عمل دي. |

- د متهم تعقیبول، نیول یا توقیفول او پر هغه باندې د جزا تطبیق بل هیچا ته سرایت نه کوي.

۲۷مه ماده
- هیڅ یو عمل جرم نه ګڼل کیږي خو د هغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتکاب دمخه نافذ شوی وي.
- هیڅوک د قانون له حکمونه پرته تعقیبېدای، نیول کېدای او یا توقیفېدای نه شي.
- هیچا ته سزا نشي ورکول کېدای مګر، د با صلاحیته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وي.

۲۸مه ماده
- د افغانستان هیڅ یو تبعه په جرم باندې د متهم کېدو له امله، بهرني دولت ته نه سپارل کیږي، مګر د ورته معاملې او د هغو بین الدول تړونونو له مخې چې افغانستان ور سره تړاو لري.
- هیڅ افغان د تابعیت په سلبېدو او په افغانستان کې دننه یا بهر په شړل کېدو نه محکومیږي.

۲۹مه ماده
- د انسان تعذیب منع دی.
- هیڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقایقو د تر لاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیونې یا توقیف لاندې وي او یا په جزا محکوم وي، دهغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي، یا یې د تعذیب امر وکړي.
- د انساني کرامت مخالفې جزا ټاکل منع دي.

۳۰مه ماده
- له متهم یا بل شخص څخه په زور تر لاسه شوې څرګندونې، اقرار یا شهادت اعتبار نلري.
- په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وایي چې په بشپړه خوښه او د عقلي روغتیا په حالت کې یې د با صلاحیته محکمې په وړاندې کړی وي.

۳۱مه ماده
- هر څوک کولای شي چې له نیول کېدو سره سم له ځانه د اتهام د لرې کولو او یا د حق د ثابتولو لپاره مدافع وکیل وټاکي.
- متهم حق لري چې له نیولو سره سم له منسوب اتهامه ځانه خبر کړي او د هغې مودې دننه چې قانون یې ټاکي، محکمه کې حاضر شي.
- دولت په جنایي پېښو کې د بیوزلي متهم لپاره مدافع وکیل ټاکي.
- د متهم او د هغه د وکیل ترمنځ مکالمات، مراسلا او مخابرات له هر ډول تعرضِ څخه خوندي دي.
- د مدافع وکیلانو وظایف او واکونه د قانون له لیارې تنظیمیږي.

۳۲مه ماده
- پور د پوروړي د آزادۍ د سلبېدو محدودیدو سبب کېدای نشي.
- د پور د بېرته اخیستلو لارې چارې او وسایل د قانون له لیارې تنظیمیږي.

۳۳مه ماده
- د افغانستان اتباع د انتخابولو او د انتخابېدلو حق لري.
- له دې حق څخه د ګټې اخیستو شرایط او لارې د قانون له لیارې تنظیمیږي.

۳۴مه ماده
- د بیان آزادي له تیري څخه خوندي ده.
- هر افغان حق لري چې خپل فکر د وینا، لیکنې، انځور او یا نورو وسیلو له لارې، په دې اساسي قانون کې د راغلو حکمونو په رعایت، څرګند کړي.

- هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم مطالب، بې له دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقامونو ته وښايي، خپاره او نشر کړي.
- د مطبعو، راډيو او ټلويزيون، د مطبوعاتو د خپرولو او دجمعي ارتباط په نورو و سايلو پورې مربوط حکمونه د قانون له لياري تنظيمېږي.

**۳۵مه ماده**

- د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو مادي او يا معنوي غوښتنو د تاءمين لپاره، د قانون له حکمونو سره سم ټولنې جوړې کړي.
- د افغانستان اتباع حق لري د قانون له حکمونو سره سم، سياسي ګوندونه جوړ کړي، په دې شرط چې:
  ۱. د ګوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام د سپيڅلي دين د احکامو او په دې اساسي قانون کې د راغلو نصوصو او ارزښتونو مخالف نه وي،
  ۲. د ګوند تشکيلات او مالي منابع څرګند وي،
  ۳. نظامي او نظامي ډوله تشکيلات او هدفونه ونه لري،
  ۴. له بهرنيو سياسي ګوندونو يا نورو بهرنيو منابعو سره تړلي نه وي،
- د قوم، سيمې، ژبې او فقهي مذهب پر بنسټ د ګوند جوړول او فعاليت کول، جواز نه لري.
- هغه جمعيت او ګوند چې د قانون له حکمونو سره سم جوړيږي د قانوني موجباتو او با صلاحيتي محکمې له حکمه پرته نه منحل کيږي.

**۳۶مه ماده**

- د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ييزو غوښتنو د تاءمين لپاره له قانون سره سم بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي.

**۳۷مه ماده**

- د اشخاصو د مخابرې او ليکونو آزادي او محرميت که په ليکلي ډول وي يا د ټيليفون او تلګراف يا نورو وسيلو له لارې، له تيري ځخه خوندي دي.
- دولت د اشخاصو د مخابرو او ليکونو د پلټنې حق نه لري مګر د قانون له حکمونو سره سم.

**۳۸مه ماده**

- د شخص استوګنځی له تيري ځخه خوندي دی.
- هېڅوک د دولت په ګډون نشي کولای د استوګن له اجازې يا واکمنې محکمې له قراره پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، د چا کور ته ورننوزي يا يې وپلټي.
- د څرګند جرم په مورد کې مسؤل مامور کولای شي د محکمې له مخکينۍ اجازې پرته د شخص کورته ورننوزي يا هغه وپلټي، نوموړی مامور مکلف دی کورته له ننوتو يا پلټنې وروسته، په هغه موده کې چې قانون يې ټاکي د محکمې قرار تر لاسه کړي.

**۳۹مه ماده**

- هر افغان حق لري د هېواد هر ګوټ ته سفروکړي او استوګن شي خو له هغو سيمو پرته چې قانون منع کړې وي.
- هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم له افغانستان ځخه بهر سفر وکړي او بېرته راستون شي.
- دولت له هېواد ځخه بهر د افغانستان د اتباعو د حقوقو ساتنه کوي.

۴۰مه ماده

- ملکيت له تيري څخه خوندي دی.
- هېڅوک د ملکيت د ترلاسه کولو او په هغه کې د تصرف کولو څخه نه منع کيږي، مگر د قانون د احکامو په حدودو کې.
- د هېچا ملکيت د قانون د حکم او د باصلاحيته محکمې له پرېکړې پرته نه مصادره کيږي.
- د شخص د ملکيت استملاک يوازې دعامه گټو د تاءمين په مقصد ، د مخکيني او عادلانه بدل په ورکولو ، د قانون له مخې مجاز دی.
- د شخص د شتمنۍ پلټنه او اعلان يوازې د قانون په حکم کېدا ی شي.

۴۱مه ماده

- بهرني اشخاص په افغانستان کې د عقاري مالونو د ملکيت حق نه لري.
- د عقارې اجاره د پانگې اچونې په منظور د قانون له حکمونو سره سم جواز لري.
- د بهرنيو ملکونو پر سياسي نمايندگيو او پر هغو بين المللي مؤسسو چې افغانستان پکې غړيتوب لري د عقاري مالونو پلورل د قانون له حکمونو سره سم جواز لري.

۴۲مه ماده

- هر افغان مکلف دی د قانون له حکمونو سره سم دولت ته ماليه او محصول ورکړي.
- هيڅ راز ماليه او محصول، د قانون له حکمه پرته نه وضع کيږي.
- د ماليې او محصول اندازه اود ورکړې ډول يې د ټولنيز عدالت په رعايت د قانون په وسيله ښوول کيږي.
- دا حکم د بهرنيو کسانو او مؤسسو په برخه کې هم تطبيقيږي.
- هر ډول ورکړه شوې ماليه، محصول او عايدات، دولتي واحد حساب ته تحويليږي.

۴۳مه ماده

- زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د ليسانس تر درجې پورې وړيا د دولت له خوا تاءمينږي.
- دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او دمنځنيو اجباري زده کړو د تاءمين لپاره اغېزمن پروگرام طرح او تطبيق کړي او د مورنيو ژبو د تدريس لپاره په هغو سيمو کې چې پرې خبرې کيږي لاره هواره کړي.

۴۴مه ماده

- دولت مکلف دی د ښځو د زده کړو د پراختيا او توازن د ايجاد په منظور، د کوچيانو د زده کړو د ښه والي او په هېواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره اغېزمن پروگرامونه طرح او تطبيق کړي.

۴۵مه ماده

- دولت د اسلام د سپيڅلي دين د حکمونو او ملي فرهنگ پر بنسټ او له علمي اصولو سره سم، واحد تعليمي نصاب طرح او تطبيقوي او د ښوونځيو د ديني مضمونونو نصاب په افغانستان کې د شتو اسلامي مذهبونو پر بنسټ تدوينوي.

۴۶مه ماده

- د لوړو، عمومي او اختصاصي زده کړو دمؤسسو جوړول او اداره کول، د دولت وظيفه ده.
- د افغانستان اتباع کولای شي د دولت په اجازه د لوړو، عمومي، اختصاصي اود سواد د زده کړومو سسې جوړې کړي.

- دولت کولای شي بهرنیو کسانو ته هم د قانون له حکمونو سره سم د لوړو، عمومي او اختصاصي زده کړو د مؤسسو د جوړولو اجازه ورکړي.
- د لوړو زده کړو په دولتي مؤسسو کې شاملېدو شرطونه او له هغو سره نورې مربوطې چارې، د قانون له لیارې تنظیمیږي.

**۴۷مه ماده**

- دولت د علم، فرهنګ، ادب او هنر د پرمختګ لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح کوي.
- دولت د مؤلف، مخترع او کاشف حقوق تضمینوي او په ټولو برخو کې علمي څېړنې هڅوي او ملاتړ یې کوي او د هغو له نتیجو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستل د قانون له حکمونو سره سم عاموي.

**۴۸مه ماده**

- کار، د هر افغان حق دی.
- دکار د ساعتونو ټاکل، او با معاشه رخصتي، د کار او کارګر حقوق او له هغو سره نورې مربوطې چارې د قانون له لیارې تنظیمیږي.
- د قانون د حکمونو په حدودو کې د کار او کسب انتخاب آزاد دی.

**۴۹مه ماده**

- د جبري کار تحمیل منع دی.
- دجګړې، آفتونو او نورو داسې حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساینه تهدید کړي فعاله برخه اخیستنه د هر افغان ملي وجیبه ده.
- پر ماشومانو د کار تحمیل جواز نه لري.

**۵۰مه ماده**

- دولت مکلف دی چې د یوې سالمې ادارې او د هېواد په اداري سیستم کې د سمون د رامنځ ته کېدو لپاره، لازم تدبیرونه ونیسي.
- اداره خپل اجراآت په بشپړه بې طرفۍ او د قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.
- د افغانستان اتباع حق لري د قانون د حکمونو په حدودو کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات تر لاسه کړي، دا حق د نورو حقوقو او عامه امنیت ته له زیان رسولو پرته، حدود نه لري.
- د افغانستان اتباع د اهلیت له مخې او له هر ډول توپیر څخه پرته د قانون له حکمونو سره سم د دولت خدمت ته منل کیږي.

**۵۱مه ماده**

- هر څوک چې له اداري څخه بې موجبه زیانمن شي د تاوان اخیستلو مستحق دی او کولای شي د تاوان د تر لاسه کولو لپاره په محکمه کې دعوا اقامه کړي.
- له هغو حالاتو پرته چې قانون ښوولي، دولت نشي کولای د باصلاحیته محکمې له حکمه پرته د خپلو حقوقو د تر لاسه کولو لپاره اقدام وکړي.

**۵۲مه ماده**

- دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغیو د مخنیوي او د وړیا علاج وسیلې او روغتیایي اسانتیاوې د قانون له حکمونو سره سم تأمینوي.
- دولت له قانون سره سم د خصوصي طبي خدمتونو او روغتیایي مرکزونو جوړول او پراختیا هڅوي او ملاتړ یې کوي.

- دولت د سالمې بدني روزنې د پياوړتيا او د ملي او سيمه ييزو ورزشونو د پراختيا لپاره لازم تدبيرونه نيسي.

**۵۳مه ماده**

- دولت د شهيدانو او مفقودينو له پاتې کسانو، د معلولينو او معيوبينو د بيا ځواکمنۍ او په ټولنه کې د هغوی د فعالې ونډې اخيستنې په خاطر د مالي مرستو او روغتيايي خدمتونو د تنظيم لپاره د قانون له حکمونو سره سم لازم تدبيرونه نيسي.
- دولت د متقاعدينو حقوق تضمينوي او له زړو کسانو، بې سرپرسته ښځو، معيوبينو او معلولينو او بې وسه يتيمانو سره د قانون له حکمونو سره سم لازمې مرستې کوي.

**۵۴مه ماده**

- کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده.
- دولت د کورنۍ او په ځانګړې توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتيا د تاءمين، د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپيڅلي دين له احکامو سره دمغايرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبيرونه نيسي.

**۵۵مه ماده**

- له هېواد څخه دفاع د افغانستان د ټولو اتباعو وجيبه ده.
- د عسکري مکلفيت د دورې د تېرولو شرطونه د قانون له لياري تنظيمېږي.

**۵۶مه ماده**

- د اساسي قانون د حکمونو پيروي، د قوانينو اطاعت او د عامه نظم او امنيت رعايت د افغانستان د ټولو خلکو وجيبه ده.
- د قانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه ګڼل کيږي.

**۵۷مه ماده**

- دولت په افغانستان کې د خارجي اتباعو حقوق او آزادي له قانون سره سم تضمينوي. دا کسان د بين المللي حقوقو د قواعدو په حدودو کې د افغانستان د دولت د قوانينو په رعايت مکلف دي.

**۵۸مه ماده**

- دولت په افغانستان کې د بشر د حقوقو د رعايت د څارنې، ښه والي او ملاتړ لپاره، دافغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون جوړوي.
- هر څوک کولای شي د خپلو بشري حقوقو د نقض په صورت کې دې کميسيون ته شکايت وکړي.
- کميسيون کولای شي د افرادو د بشري حقوقو د نقض موارد مربوطو قانوني ځانګو ته راجع کړي او د هغوی له حقوقو څخه په دفاع کې مرسته وکړي.
- ددې کميسيون جوړښت او د کار ډول يې د قانون له لياري تنظيمېږي.

**۵۹مه ماده**

- هيڅوک نشي کولای په دې اساسي قانون کې له راغلو آزاديو او حقوقو څخه په ناوړه استفادې د هېواد د خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتيا، ملي واکمنۍ او ملي وحدت پر ضد عمل وکړي.

## دريم فصل: جمهور رئيس

**۶۰مه ماده**

- جمهور رئيس د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په سر کې دی چې خپل واکونه اجرائيه، مقننه او قضائيه برخو کې ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.
- جمهوررئيس دوه، لومړی او دويم مرستيالان لري.

- د جمهوري ریاست کاندید د خپلو مرستیالانو نومونه د ځان له کاندیدولو سره یو ځای ملت ته اعلاموي.
- د جمهور رئیس لومړی مرستیال د جمهور رئیس د غیاب، استعفاء او یا مړینې په حالاتو کې ددې اساسي قانون له مندرجو حکمونو سره سم کارکوي.
- د جمهور رئیس دلومړي مرستیال په غیاب کې، دویم مرستیال د اساسي قانون له مندرجو احکامو سره سم عمل کوي.

۷۱مه ماده
- جمهور رئیس د رای ورکوونکیو د آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو رایو له لارې په سلو کې تر پنځوسو زیاتو رایو په ترلاسه کولو انتخابیږي.
- د جمهور رئیس وظیفه تر انتخاباتو وروسته د پنځم کال د غبرګولي په لومړۍ نېټه پای ته رسیږي.
- د جمهور رئیس د کار تر پای ته رسېدو دمخه د نوي جمهور رئیس د ټاکلو لپاره انتخابات، له دېرشو تر شپېتو ورځو پورې، موده کې کیږي.
- که چیرې په لومړي پړاو کې له کاندیدانو څخه یو هم ونه کړای شي چې په سلو کې تر پنځوسو زیاتې رایې ترلاسه کړي، انتخابات د دوهم ځل لپاره د انتخاباتو نتایجو د نېټې تر اعلان وروسته د دوو اوونیو په اوږدو کې تر سره کیږي. دا ځل یوازې هغه دوه تنه کاندیدان په انتخاباتو کې برخه اخلي چې په لومړي پړاو کې یې تر ټولو زیاتې رایې ترلاسه کړي وي.
- دانتخاباتو په دویم پړاو کې هغه څوک چې د رایو اکثریت ترلاسه کړي، جمهور رئیس ګڼل کیږي.
- که چیرې د جمهوري ریاست یو کاندید د رای ګیرۍ د لومړي یا دویم پړاو په جریان او یا تر انتخاباتو وروسته او یا د انتخاباتو دنتایجو له اعلان څخه پخوا مړ شي، نوي انتخابات د قانون له حکمونو سره سم کیږي.

۷۲مه ماده
- څوک چې جمهوري ریاست ته کاندیدیږي، باید د لاندنیو شرطونو لرونکی وي:
  1. د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زېږېدلی وي او د بل هېواد تابعیت ونلري،
  2. د کاندیدېدو په ورځ یې عمر تر څلوېښتو کلونو لږ نه وي،
  3. د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو، او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي.
- هیڅ شخص نشي کولای له دوو دورو زیات د جمهور رئیس په حیث وټاکل شي.
- په دې ماده کې راغلی حکم د جمهور رئیس د مرستیالانو په برخه کې هم تطبیقیږي.

۷۳مه ماده
- جمهور رئیس د کار تر پیل دمخه، د ځانګړې کړنلارې سره سم، چې د قانون له لیارې تنظیمیږي دا لاندې لوړه یادوي:

بسم الله ارحمن الرحیم

"د لوی خدای (ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین پیروي او ساتنه وکړم. د اساسي قانون او نورو قوانینو رعایت او د تطبیق څارنه وکړم، د افغانستان د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، زمکنۍ بشپړتیا ساتنه او د افغانستان د خلکو حقوق او ګټې خوندي کړم او د لوی خدای (ج) له دربار څخه د مرستې په غوښتلو او د ملت په ملاتړ د افغانستان د خلکو د پرمختګ او هوسایۍ په لاره کې خپلې هڅې جاري وساتم."

**۶۴مه ماده**

- جمهور رئیس لاندې واکونه او وظیفې لري:
  ۱. د اساسي قانون د اجرا څارل،
  ۲. د ملي شورای په تصویب د هېواد د سیاست د اساسي کرښو ټاکل،
  ۳. د افغانستان د وسله والو ځواکونو ستر مشرتوب،
  ۴. د ملي شورای په تائید د جګړې او متارکې اعلانول،
  ۵. دزمکنۍ بشپړتیا او د خپلواکۍ د ساتنې د دفاع په حالت کې د لازم تصمیم نیول،
  ۶. د ملي شورای په تائید له افغانستان څخه بهر ته د وسله والو ځواکونو د ټولګیو لېږل،
  ۷. ددې اساسي قانون په (نهه شپېتمه) ماده کې له راغلي حالت پرته، د لويې جرګې راغوښتل،
  ۸. د ملي شورای په تائید د اضطراري حالت اعلان او د هغه پای ته رسول،
  ۹. د ملي شورای او لويې جرګې د غونډو پرانستل،
  ۱۰. د جمهوري رياست د مرستیالانو د استعفی منل،
  ۱۱. د ولسي جرګې په تائید د وزیرانو، لوی څارنوال، د مرکزي بانک، د ملي امنیت او سرې میاشتې د رئیسانو ټاکل او د هغوی عزلول او د استعفی منل،
  ۱۲. د ولسي جرګې په تائید د سترې محکمې د رئیس او غړيو ټاکل،
  ۱۳. د قانون له حکمونو سره سم د قاضیانو، د وسله والو ځواکونو، پولیسو، د ملي امنیت د منصبدارانو او دلوړ رتبه مامورینو ټاکل، تقاعد ورکول، د استعفی منل او عزلول،
  ۱۴. په بهرنیو هېوادونو او نړیوالو مؤسسو کې د افغانستان د سیاسي نمایندګیو د مشرانو ټاکل،
  ۱۵. په افغانستان کې د بهرنیو سیاسي نمایندګانو د باور لیکونو منل،
  ۱۶. د قوانینو او تقنیني فرمانونو توشیح کول،
  ۱۷. دقانون له حکمونو سره سم د دولتونو تر مینځ د معاهدو د عقد لپاره د باور لیکونو ورکول،
  ۱۸. د قانون له حکمونو سره سم د جزاګانو تخفیف او بخښل،
  ۱۹. د قانون له حکمونو سره سم د مډالونو، نښانونو او افتخاري لقبونو ورکول،
  ۲۰. د هېواد د ادارې د سمون په منظور، د قانون له مخې، دکمیسیونونو جوړول،
  ۲۱. په دې اساسي قانون کې نور راغلي واکونه او وظایف.

**۶۵مه ماده**

- جمهور رئیس کولای شي په مهمو ملي، سیاسي، ټولنیزو او یا اقتصادي چارو کې د افغانستان د خلکو ټولپوښتنې ته مراجعه وکړي،
- ټولپوښتنه باید ددې اساسي قانون د حکمونو مخالفه او د هغه د تعدیل مستلزم نه وي.

**۲۶مه ماده**

- جمهور رئيس په دې اساسي قانون کې د راغلو واکونو د عملي کولو په برخه کې د افغانستان د خلکو لوړ مصلحتونه په پام کې نيسي.
- جمهور رئيس نشي کولای چې د قانون له حکمه پرته دولتي ملکيتونه او شتمنۍ وپلوري او يا وبخښي.
- جمهور رئيس نشي کولای د خپل کار په دوران کې له خپل مقام څخه په ژبنيو، سيمه ييزو، قومي، مذهبي او ګوندي ملحوظاتو ګټه واخلي.

**۲۷مه ماده**

- د جمهور رئيس د استعفىٰ، عزل، مړينې او يا په صعب العلاجه ناروغۍ د اخته کېدلو په صورت کې چې د وظيفې د اجراء مخه نيسي دجمهور رئيس لومړی مرستيال د جمهور رئيس واکونه او وظايف په غاړه اخلي.
- جمهور رئيس خپله استعفىٰ په خپله ملي شورای ته اعلاموي.
- د صعب العلاجه ناروغۍ تثبيت د هغه طبي هيئت له خوا کيږي چې ستره محکمه يې ټاکي.
- په داسې حالاتو کې د نوي جمهور رئيس د ټاکلو لپاره په درې مياشتو کې دننه ددې اساسي قانون د يو شپېتمې مادې له حکم سره سم انتخابات کيږي.
- د جمهور رئيس لومړی مرستيال د لنډ مهاله جمهور رئيس په توګه، د وظيفې د تر سره کولو په موده کې لاندې چارې نشي تر سره کولای:
  1. د اساسي قانون تعديل،
  2. د وزيرانو عزل،
  3. ټولپوښتنه،
- د جمهور رئيس مرستيالان ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم کولای شي ځان جمهوري رياست ته کانديد کړي.
- د جمهور رئيس په غياب کې د لومړي مرستيال وظايف د جمهور رئيس په واسطه کيږي.

**۲۸مه ماده**

- که چيرې د جمهور رئيس يو مرستيال استعفىٰ وکړي او يا مړ شي د هغه پر ځای بل شخص د جمهور رئيس له خوا د ولسي جرګې په تائيد ټاکل کيږي.
- د جمهور رئيس او د هغه د لومړي مرستيال د يو ځايي مړينې په صورت کې په ترتيب سره دويم مرستيال، د مشرانو جرګې رئيس د ولسي جرګې رئيس او د بهرنيو چارو وزير يو په بل پسې ددې اساسي قانون د (اووه شپېتمې) مادې له حکم سره سم دجمهور رئيس وظيفې په غاړه اخلي.

**۲۹مه ماده**

- جمهور رئيس دملت او ولسي جرګې په وړاندې ددې مادې د احکامو مطابق مسؤل دی.
- پر جمهور رئيس د بشري ضد جرمونو، ملي خيانت يا جنايت د ارتکاب تور لګول د ولسي جرګې د ټولو غړيو د درييمې برخې له خوا غوښتل کېدای شي.
- که چيرې دا غوښتنه د ولسي جرګې د ټولو غړيو له دريو څخه د دوو برخو د رايو له خوا تائيد شي، ولسي جرګه د يوې مياشتې دننه لويه جرګه دايروي.

- که لویه جرگه منسوب شوی اتهام د ټولو غړیو له دریو څخه د دوو برخو د رایو په اکثریت تصویب کړي، جمهور رئیس له وظیفې څخه ګوښه او موضوع ځانګړې محکمې ته سپارل کیږي. ځانګړې محکمه د ولسي جرګې له دریو غړیو، د سترې محکمې له دریو غړیو چې لویه جرګه یې ټاکي او د مشرانو جرګې له رئیس څخه جوړیږي. دعوی د هغه شخص له خوا چې دلویې جرګې له خوا ټاکل کیږي، اقامه کیږي.
- په دې حالت کې ددې اساسي قانون له (اووه شپېتمه) ماده کې راغلي حکمونه تطبیقیږي.

۷۰مه ماده
- د جمهور رئیس تنخوا او لګښتونه د قانون له لیارې تنظیمیږي.
- جمهور رئیس دخدمت د دورې تر ختمېدو وروسته دعزل له حالته پرته د خپل ژوند په پاتې موده کې د جمهوري ریاست د دورې له مالي حقوقو څخه د قانون له حکمونو سره سم، ګټه اخلي.

## څلورم فصل: حکومت

۷۱مه ماده
- حکومت له وزیرانو څخه جوړ دی چې د جمهور رئیس تر ریاست لاندې کار کوي.
- د وزیرانو شمېر او وظایف دقانون له لیارې تنظیمیږي.

۷۲مه ماده
- څوک چې دوزیر په توګه ټاکل کیږي باید لاندیني شرطونه ولري:
  ۱. یوازې د افغانستان تابعیت لرونکی وي.
- که چیرې د کوم وزارت کاندید د بل هېواد تابعیت هم ولري ولسي جرګه د هغه د تائید یا رد صلاحیت لري،

  ۲. لوړ تحصیلات، کاري تجربه او ښه شهرت ولري،
  ۳. عمر یې تر پنځه دېرش کلونو لږ نه وي،
  ۴. دمحکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومی محکوم شوی نه وي.

۷۳مه ماده
- کېدای شي وزیران د ملي شورای له غړیو او یا له هغو د باندې وټاکل شي.
- کله چې دملي شورای غړی د وزیر په توګه وټاکل شي، په شورای کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي او دهغه پر ځای بل شخص د قانون له حکم سره سم ټاکل کیږي.

۷۴مه ماده
- وزیرانو وظیفې له پېله مخکې د جمهور رئیس په وړاندې، لاندینۍ لوړه کوي:

بسم الله الرحمن الرحیم

"د لوی خدای (ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین د حکمونو حمایت، د اساسي قانون او دافغانستان د نورو قوانینو رعایت، د اتباعو د حقوقو حفاظت، دافغانستان د خپلواکۍ، زمنکنۍ

بشپړتیا او د خلکو د ملي وحدت ساتنه وکړم او په خپلو ټولو اعمالو کې خدای(ج) حاضر وګڼم او خپلې راسپارل شوې وظیفې په ریښتینولۍ سرته ورسوم."

**۷۵مه ماده**

- حکومت لاندینۍ وظیفې لري:
  ۱. ددې اساسي قانون او نورو قوانینو د احکامو او د محکمو د قطعي پرېکړو عملي کول،
  ۲. د خپلواکۍ ساتل، له زمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د حیثیت او ګټو ساتل،
  ۳. د عامه نظم او امن ټینګول او د هر راز اداري فساد له منځه وړل،
  ۴. د بودجې ترتیبول، د دولت د مالي وضعې تنظیمول او د عامه شتنمۍ ساتل،
  ۵. د ټولنیزو، فرهنګي، اقتصادي او تکنالوژي د پرمختیایي پروګرامونو طرح او تطبیق،
  ۶. ملي شورای ته د مالي کال په پای کې د سر ته رسېدلو چارو او د نوي مالي کال د مهمو پروګرامونو په باب ګزارش ورکول،
  ۷. د هغو نورو وظیفو تر سره کول چې ددې اساسي قانون او نورو قوانینو له مخې د حکومت له وظیفو څخه ګڼل شویدي.

**۷۶مه ماده**

- حکومت د هېواد د سیاست د اساسي کرښو د تطبیق او دخپلو وظیفو د تنظیمولو لپاره مقررات وضع او تصویبوي. دا مقررات باید د هیڅ قانون له نص یا روح سره مناقض نه وي.

**۷۷مه ماده**

- وزیران خپل وظایف د اداري واحدونو د آمرینو په توګه په هغو حدودو کې چې د اساسي قانون او نور قوانین یې ټاکي، سرته رسوي.
- وزیران له خپلو ټاکلو وظایفو څخه د جمهور رئیس او ولسي جرګې په وړاندې مسؤلیت لري.

**۷۸مه ماده**

- که چیرې وزیر په بشري ضد جرمونو، ملي خیانت او یا په نورو جرمونو متهم شي، موضوع ددې اساسي قانون د (یو سل څلور دېرشمې) مادې په رعایت ځانګړې محکمې ته سپارل کیږي.

**۷۹مه ماده**

- حکومت کولای شي د ولسي جرګې دتعطیل په حالت کې له بودجې او مالي چارو پرته، د بیړنۍ اړتیا پر اساس تقنیني فرمانونه ترتیب کړي.
- تقنیني فرمانونه د جمهور رئیس تر توشېح وروسته د قانون حکم پیدا کوي. تقنیني فرمانونه باید ملي شورای د لومړۍ غونډې تر جوړېدو وروسته د دېرشو ورځو په اوږدو کې هغې ته وړاندې شي.
- او که د ملي شورای له خوا رد شي، اعتبار نلري.

**۸۰مه ماده**

- وزیران نشي کولای د خپل کار په دوران کې له خپل مقام څخه په ژبنیو، سیمه ییزو، قومي، مذهبي او ګوندي ملحوظاتو ګټه واخلي.

## پنځم فصل: ملي شورای

**۸۱مه ماده**

- د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ملي شورای، د ستر تقنیني ارګان په توګه د افغانستان د خلکو د ادارې ښکارندویه ده او د ټول ملت نمایندګي کوي.

- د شورای هر غړی د رايې د ښکاره کولو په وخت کې، د افغانستان د خلکو عمومي مصلحتونه او ستر ګټې د خپل قضاوت محور ټاکي.

**۸۲مه ماده**

- ملي شورای له دوو مجلسونو: ولسي جرګې او مشرانو جرګې څخه جوړه ده.
- هيڅوک نشي کولای په يوه وخت کې د دواړو مجلسونو غړی وي.

**۸۳مه ماده**

- د ولسي جرګې غړي د خلکو د آزادو، عمومي، پټو او مستقيمو انتخاباتو له لارې انتخابيږي.
- د ولسي جرګې د کار دوره د پنځم کال د چنګاښ په لومړۍ نېټه د انتخاباتو د نتيجو د اعلان څخه وروسته پای ته رسيږي او نوې شورای په کار پيل کوي.
- د ولسي جرګې د دورې تر ختمېدو د مخه له دېرشو څخه تر شپېتو ورځو پورې موده کې د ولسي جرګې د غړيو انتخابات کېږي.
- د ولسي جرګې د غړيو شمېر د هرې حوزې د نفوسو د شمېر په تناسب زيات نه زيات تر (۲۵۰) کسانو پورې دی.
- انتخاباتي حوزې، او ورسره نور مربوط مسايل د انتخاباتو په قانون کې ټاکل کيږي.
- د انتخاباتو په قانون کې بايد داسې تدبيرونه ونيول شي چې انتخاباتي نظام د افغانستان د ټولو خلکو لپاره عمومي او عادلانه استازيتوب تاءمين کړي او د نفوسو په تناسب دې له هر ولايت څخه په اوسط ډول لږ تر لږه دوه ښځينه وکيلې په اولسي جرګه کې غړيتوب تر لاسه کړي.

**۸۴مه ماده**

- د مشرانو جرګې غړي په لاندې ډول انتخاب او ټاکل کيږي:
  1. د هرې ولايتي جرګې له غړيو څخه يو تن د مربوطې جرګې په انتخاب، د څلورو کلونو لپاره،
  2. د هر ولايت د ولسواليو د جرګو له غړيو يو تن، د مربوطو جرګو په انتخاب، د دريو کلونو لپاره،
  3. پاتې دريمه برخه غړي د معلولينو او معيوبينو د دوو تنو او کوچيانو د دوو تنو استازيو په ګډون د هېواد له خبيرو او تجربه لرونکو کسانو څخه د پنځو کلونو لپاره دجمهور رئيس له خوا ټاکل کيږي.
- جمهور رئيس له دې اشخاصو څخه په سلو کې پنځوس ښځې ټاکي.
- هغه شخص چې د مشرانو جرګې د غړي په توګه انتخابيږي په مربوطه جرګه کې خپل غړيتوب له لاسه ورکوي او دده پر ځای د قانون له حکمونو سره سم بل شخص ټاکل کيږي.

**۸۵مه ماده**

- هغه څوک چې د ملي شورای غړيتوب ته کانديد يا ټاکل کېږي، د ټاکونکو پر شرطونو سربېره، دا لاندې صفتونه هم بايد ولري:
  1. د افغانستان تبعه وي يا لږ تر لږه دکانديد بدو يا تعين تر نېټې لس کاله پخوا يې د افغانستان د دولت تابعيت تر لاسه کړی وي،
  2. دمحکمې له خوا د بشر ضد جرمونو، او جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي،

۳. د ولسي جرګې غړيو د کانديدېد په ورځ د عمر پنځه ويشت کاله او د مشرانو جرګې غړيو د کانديدېدو او يا ټاکنې په ورځ د عمر پنځه دېرش کاله بشپړ کړي وي.

۸۶مه ماده • د ملي شورای د غړيو انتخاباتي وثيقې، د انتخاباتو د څارنې د خپلواک کميسيون له خوا د قانون له حکمونو سره سم څېړل کېږي.

۸۷مه ماده • د ملي شورای له دواړو جرګو څخه هره يوه د کار د دورې په پيل کې له خپلو غړيو څخه يو تن د رئيس په توګه د يوې تقنيني دورې لپاره، دوه تنه د لومړي نايب او دويم نايب او دوه تنه د منشي او د منشي د نايب په توګه، د يو کال لپاره انتخابوي.
• دا اشخاص د ولسي جرګې او مشرانو جرګې اداري هيئت جوړوي.
• د اداري هيئت وظيفې د هرې جرګې د داخلي وظايفو په اصولو کې ټاکلې کېږي.

۸۸مه ماده • د ملي شورای له دواړو جرګو څخه هره يوه د بحث وړ موضوعاتو د کتنې لپاره د داخلي وظايفو د اصولو له مخې کميسيونونه جوړوي.

۸۹مه ماده • ولسي جرګه واک لري د غړيو د دريمې برخې په پيشنهاد، د حکومت د اعمالو د څېړنې او کتنې لپاره، يو ځانګړی کميسيون وټاکي.
• د دې کميسيون جوړښت او کړنلاره د ولسي جرګې د داخلي وظايفو په اصولو کې تنظيمېږي.

۹۰مه ماده • ملي شورای دا لاندې واکونه لري:
۱. د قوانينو او تقنيني فرمانونو تصويب، تعديل يا لغو کول،
۲. د ټولنيزو، فرهنګي، اقتصادي او تکنالوژي پرمختيايي پروګرامونو تصويب،
۳. د دولتي بودجې تصويب او د پور اخيستو يا ورکولو اجازه،
۴. د اداري واحدونو منځته راوړل، تعديل او يا لغو کول،
۵. د دولتونو تر منځ د تړونونو او بين المللي ميثاقونو تصديق او يا له هغو څخه د افغانستان بېلول،
۶. په دې اساسي قانون کې نور مندرج واکونه.

۹۱مه ماده • ولسي جرګه لاندې ځانګړي واکونه لري:
۱. له هر يوه وزير څخه د استيضاح په برخه کې د دې اساسي قانون دوه نوي يمې مادې له حکم سره سم تصميم نيول،
۲. د پرمختيايي پروګرامونو او دولتي بودجې په باب تصميم نيول،
۳. د دې اساسي قانون له حکمونو سره سم د مقرريو تائيد يا ردول،

۹۲مه ماده • ولسي جرګه د ټولو غړيو د شلو فيصدو په پيشنهاد کولای شي، له هر يوه وزير څخه استيضاح وکړي.
• که وړاندې شوې توضيح د قناعت وړ نه وي، ولسي جرګه د نه باور د رايموضوع څېړي.

- په وزیر باندې د نه باور رایه باید صریحه، مستقیمه او پر پخو دلایلو ولاړه وي، دغه رایه د ولسي جرګې د ټولو غړیو د رایو په اکثریت صادریږي.

**۹۳مه ماده**

- د ملي شورای د دواړو جرګو هر یو کمیسیون کولای شي له هر یوه وزیر څخه په ټاکلو موضوعاتو کې پوښتنې وکړي.
- هغه څوک چې پوښتنه ترې شوې کولای شي شفاهي یا لیکلی ځواب ورکړي.

**۹۴مه ماده**

- قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شورای د دواړو جرګوله خوا تصوب او د جمهور رئیس له خوا توشیح شوې وي، مګردا چې په دې اساسي قانون کې بل ډول څرګنده شوې وي.
- که جمهور رئیس د ملي شورای له مصوبې سره موافقه ونه لري کولای شي چې د وړاندې کېدو تر نېټې وروسته یې په پنځلسو ورځو کې د دلایلو له ښوولو سره ملي شورای ته مسترده کړي، ددې وخت په تېرېدو او یا دا چې ولسي جرګه یو ځل بیا هغه د ټولو غړیو له دریو برخو څخه په دوو برخو رایو تصویب کړي، مصوبه توشیح شوې ګڼله کېږي او نافذیږي.

**۹۵مه ماده**

- د قانون د طرحې د پیشنهاد د حکومت یا د شورای د غړیو او د قضایي چارو د تنظیم په برخه کې د سترې محکمې له خوا د حکومت له لیارې وړاندې کېدای شي.
- د بودجې او مالي چارو په برخه کې د قانون د طرحې پیشنهاد یوازې د حکومت له خوا کیږي

**۹۶مه ماده**

- که د قانون د طرحې پیشنهاد پر دولت د نوي تکلیف یادعائدتو د لږولو لرونکي وي، په دې شرط د کار په فهرست کې نیول کیږي چې د پیشنهاد په متن کې د جبرانولو مدرک هم پیشیني شوی وي.

**۹۷مه ماده**

- د حکومت له خوا د قانون د طرحې پیشنهاد لومړی ولسي جرګې ته وړاندې کیږي.
- ولسي جرګه د بودجې او مالي چارو په شمول د قانون د طرحې پیشنهاد او د پور اخیستو یا ورکولو پیشنهاد له بحث وروسته د یو کل په توګه تضویب یا ردوي.
- ولسي جرګه نشي کولای وړاندې شوې طرح تر یوې میاشتې زیات وځنډوي.
- ولسي جرګه د پیشنهاد شوي قانون طرح تر تصویب وروسته مشرانو جرګې ته سپاري.
- مشرانو جرګه د پنځلسو ورځو په اوږدو کې د هغه په باره کې تصمیم نیسي.
- ملي شورای د دولت د هغو قوانینو، معاهدو او پرمختیایي پروګرامونو په باره کې تصمیم نیولو ته لومړیتوب ورکوي چې د حکومت وړاندیز په بنسټ د عاجل غور غوښتنه کوي.
- که چیرې د قانون د طرحې پیشنهاد له دواړو جرګو څخه د یوې د لسو غړیو له خوا وشي، پیشنهاد د نومورې جرګې د یو پر پنځمې برخې غړیو تر تائید وروسته د هماغې جرګې د کار په فهرست کې نیول کیږي.

**۹۸مه ماده**

- د دولت بودجه او د حکومت پرمختیایي پروګرام د مشرانو جرګې له لیارې ددې جرګې له مشورتي نظریې سره یو ځای ولسي جرګې ته سپارل کیږي.
- د ولسي جرګې تصمیم د جمهور رئیس تر توشیح وورسته، مشرانو جرګې ته تر وړاندې کېدو پرته، نافذ ګڼل کیږي.

- که چیرې د ځینو عواملو له مخې د مالي کال تر پیل مخکې بودجه تصویب نشي، د نوې بودجې تر تصویب پورې، د تېر کال بودجه تطبیقیږي
- حکومت د مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې د راتلونکي کال بودجه د روان کال د بودجې له اجمالي حساب سره ملي شورى ته وړاندې کوي.
- د تېر مالي کال د بودجې قطعي حساب د راتلونکي کال د شپږو میاشتو په موده کې د قانون له حکمونو سره سم ملي شوراى ته وړاندې کيږي.
- ولسي جرګه نشي کولای د بودجې تصویب له یوې میاشتې څخه زيات او د هغه پور د اخیستو او ورکولو اجازه چې په بودجه کې شامل نه وي، تر پنځلسو ورځو زیات وځنډوي.
- که چیرې ولسي جرګه په دغه موده کې د پور د اخیستو او ورکولو د پیشنهاد په اړه تصمیم ونه نیسي، پیشنهاد تصویب شوی ګڼل کیږي.

۹۹مه ماده

- که چیرې د ملي شوراى په اجلاس کې کلنۍ بودجه يا پرمختیایي پروګرام يا له عامه امنیت، د هېواد له خپلواکۍ او زمکنۍ بشپړتیا سره مربوطه موضوع تر خبرو لاندې وي، د شوراى د اجلاس موده د هغې تر تصویب مخکې پای ته نشي رسېدلای.

۱۰۰مه ماده

- که چیرې د یوې جرګې مصوبه د بلې جرګې له خوا رد شي، د اختلاف د له منځه وړو لپاره د دواړو جرګو د غړیو له خوا په برابر شمیر ګډ هيئت تاکل کیږی
- د هيات پریکړه د جمهور رئيس تر توشیح وروسته نافذه ګڼل کېږي. که ګډ هيات ونه کړای شي د نظر اختلاف له منځه یوسي، تصوب رد شوی ګڼل کیږي.
- په دې حالت کې ولسي جرګه کولای شي په خپله ورپسې غونډه کې هغه د خپلو ټولو غړیو له دریو څخه د دوو برخو د رایو په اکثریت تصویب کړي.
- دا تصویب یې له دې چې مشرانو جرګې ته وړاندې شي، د جمهور رئیس تر توشیح وروسته نافذ ګڼل کیږي.

۱۰۱مه ماده

- د ملي شوراى هیڅ غړی د هغې رایې یا نظریې له امله چې د وظیفې د اجرا په وخت کې یې څرګندوي، تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کیږي.

۱۰۲مه ماده

- که د ملي شوراى غړی په یوه جرم متهم شي، مسؤل مامور له موضوع څخه هغې جرګې ته چې متهم یې غړی دی ، خبر ورکوي او متهم تر عدلي تعقیب لاندې راتلای شي.
- د مشهود جرم په مورد کې، مسؤل مامور کولای شي متهم د هغې جرګې له اجازې پرته چې دی یې غړی دی تر عدلي تعقیب لاندې راولي او ويې نیسي.
- په دواړو حالاتو کې که عدلي تعقیب د قانون له مخې د توقیف ایجاب وکړي، مسؤل مامور مکلف دی چې له موضوع څخه یې له ځنډه نوموړې جرګې ته خبر ورکړي او تصویب یې تر لاسه کړي.
- که اتهام د شوراى د رخصتۍ په وخت کې رامنځ ته شي، د نیولو او توقیف اجازه د مربوطې جرګې له اداري هیئت څخه تر لاسه کیږي او موضوع د نوموړې جرګې لومړنۍ غونډې ته د تصمیم نیولو لپاره وړاندې کیږي.

۱۰۳مه ماده
- وزيران کولای شي د ملي شورای له دوو جرگو څخه د هرې يوې په غونډو کې گډون وکړي.
- د ملي شورای هره جرگه کولای شي خپلې غونډې ته د وزيرانو د حاضرېدو غوښتنه وکړي.

۱۰۴مه ماده
- د ملي شورای دواړې جرگې په عين وخت کې، بېل بېل مجلسونه کوي.
- د دواړو جرگو گډې غونډې په لاندې حالاتو کې جوړېدلای شي:
  ۱. کله چې تقنينيه دوره يا کلنۍ غونډه د جمهور رئيس له خوا پرانيستل کيږي،
  ۲. په همدې صورت کې چې جمهور رئيس يې ضروري تشخيص کړي.
- د ولسي جرگې رئيس د ملي شورای د گډو غونډو مشري کوي.

۱۰۵مه ماده
- د ملي شورای غونډې علني دي، مگر دا چې د مجلس رئيس يا لږ تر لږه د ملي شورای لس تنه غړي يې د سري توب پيشنهاد وکړي او جرگه دا پيشنهاد ومني.
- هېڅوک نشي کولای چې په زور د ملي شورای ودانۍ ته ننوزي.

۱۰۶مه ماده
- د ملي شورای د هر مجلس نصاب د رايو اخيستو په وخت د هر مجلس نصاب د رايو اخيستو په وخت کې د هرې جرگې د غړيو د اکثريت په حضور پشپړيږي او تصميمونه يې د حاضرو غړيو د رايو په اکثريت نيول کيږي، مگر په هغو مواردو کې چې دې اساسي قانون بل ډول تصريح کړې وي.

۱۰۷مه ماده
- ملي شورای په کال کې دوې عادي غونډې دايروي.
- د ملي شورای د دواړو جرگو د غونډو د کار موده په کال کې نهه مياشتې ده، د اړتيا په وخت کې شورای کولای شي دا موده اوږده کړي.
- د رخصتيو په ورځو کې د ملي شورای فوق العاده غونډې د جمهور رئيس په امر دايرېدای شي.

۱۰۸مه ماده
- د ملي شورای د غړي د مړينې، استعفی، عزل او يا د داسې معلولېدو او معيوبېدو په صورت کې چې په دايمي توگه د وظيفې د اجراء خنډ شي، د پاتې تقنينه دورې لپاره د نوي استازي تعين د قانون له حکمونو سره سم تر سره کيږي.
- د ملي شورای د غړيو د حاضرېدو يا نه راتلو سره مربوطې چارې د داخلي وظايفو په اصولو کې تنظيميږي.

۱۰۹مه ماده
- د تقنينيه دورې په وروستني يو کال کې د انتخاباتو د قانون د بدلېدو پيشنهاد د ملي شورای د کار په فهرست کې نشي نيول کېدلای.

## شپږم فصل: لويه جرگه

۱۱۰مه ماده
- لويه جرگه د افغانستان د خلکو د ارادې تر ټولو ستر مظهر دی.
- لويه جرگه:
  ۱. د ملي شورای له غړيو،

۲. د ولایتونو او ولسوالیو د جرګو له رئیسانو جوړیږي.

- وزیران، د سترې محکمې رئیس او غړي او لوی څارنوال کولای شي د لویې جرګې په غونډو کې بې له دې چې د رایې ورکولو حق ولري، ګډون وکړي.

۱۱۱مه ماده
- لویه جرګه په لاندنیو حالاتو کې دایریږي:

۱. د هېواد د خپلواکۍ، ملي حاکمیت، زمکنۍ بشپړتیا او سترو مصلحتونو پورې د مربوطو چارو په باب تصمیم نیول،

۲. ددې اساسي قانون د حکمونو تعدیل،

۳. ددې اساسي قانون (نهه شپېتمې) مادې له مخې د جمهور رئیس محاکمه کول.

۱۱۲مه ماده
- لویه جرګه په لومړۍ غونډه کې، د غړیو له منځه یو تن د رئیس، یو تن د مرستیال او دوه تنه د منشي په توګه ټاکي.

۱۱۳مه ماده
- د لویې جرګې نصاب د رایې اخیستو په وخت کې د غړیو په اکثریت سره بشپړیږي.
- د لویې جرګې تصمیمونه، له هغو مواردو پرته چې په دې اساسي قانون کې صریحاً ذکر شوي، د ټولو غړیو د رایو په اکثریت، نیول کیږي.

۱۱۴مه ماده
- د لویې جرګې بحثونه علني دي، مګر دا چې د غړیو څلورمه برخه یې د سریتوب غوښتنه وکړي او لویه جرګه دا غوښتنه ومني.

۱۱۵مه ماده
- د لویې جرګې د جریان په وخت کې د دې اساسي قانون د (یو سلویوومې) او (یوسلو دویمې) مادې مندرج احکام د هغې د غړیو په باب تطبیقیږي.

## اووم فصل: قضاء

- قضائیه قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواک رکن دی.
- قضائیه قوه له یوې سترې محکمې، د استیناف له محکمو او ابتدائیه محکمو څخه جوړه ده چې تشکیلات او واکونه یې د قانون له لیارې تنظیمیږي.
- ستره محکمه د ستر قضایي ارګان په توګه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قضائیه قوې په سر کې ځای لري.

۱۱۷مه ماده
- ستره محکمه نهه تنه غړي لري چې د جمهور رئیس له خوا د ولسي جرګې په تائید او ددې اساسي قانون د (پنځوسمې) مادې د وروستۍ فقرې او د (یو سلو اتلسمې) مادې د حکمونو په رعایت په پیل کې په دې ترتیب ټاکل کیږي:
    - درې تنه د څلورو کلونو لپاره، درې تنه د اووکلونو لپاره او درې تنه د لسو کلونو لپاره.
    - وروستنۍ ټاکنې د لسو کلونو لپاره دي.
    - د غړیو ټاکل د دوهم ځل لپاره جواز نه لري.
    - جمهور رئیس د سترې محکمې یو غړی د سترې محکمې د رئیس په توګه ټاکي.

- د سترې محکمې غړي ددې اساسي قانون په (یو سلو اوه ویشتمې) مادې کې له راغلي حالت پرته، د خدمت د دورې تر پایه له خپلو وظیفو څخه نه عزلیږي.

۱۱۸مه ماده

- د سترې محکمې غړی باید لاندیني شرایط ولري:
  1. د ټاکلو په وخت کې د رئیس او غړو عمر تر څلوېښتو کلو لږ نه وي،
  2. د افغانستان تبعه وي،
  3. په حقوقي یا فقهي علومو کې لوړې زده کړې او د افغانستان په قضایي نظام کې تخصص او کافي تجربه ولري،
  4. د ښه سیرت او نیک شهرت لرونکی وي،
  5. د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي،
  6. د وظیفې د تصدۍ په وخت کې په هېڅ سیاسي ګوند کې غړیتوب و نه لري.

۱۱۹مه ماده

- د سترې محکمې غړي د وظیفې تر پیل مخکې، د جمهور رئیس په وړاندې دا لوړه کوي:

بسم الله الرحمن الرحیم

"د لوی خدای (ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو، په دې اساسي قانون او نورو قوانینو کې له راغلو نصوصو سره سم حق او عدالت تاءمین او د قضاء وظیفه په بشپړ امانت، صداقت او بې طرفۍ اجراء کړم."

۱۲۰مه ماده

- د قضائیه قوې په صلاحیت کې په ټولو هغو دعوو غور شامل دی، چې د دولت په شمول د حقیقي یا حکمي اشخاصو له خوا د مدعي یا مدعي علیه په حیث د قانون له حکمونو سره سم د محکمې په وړاندې اقامه شي.

۱۲۱مه ماده

- له اساسي قانون سره د قوانینو تقنیني فرمانونو، بین الدول معاهدو او بین المللي میثاقونو د مطابقت څېړل د حکومت یا محاکمو په غوښتنه او د هغو تفسیر د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی.

۱۲۲مه ماده

- هیڅ قانون نشي کولای په هیڅ حال کې، کومه قضیه یا ساحه په څه ډول چې په دې فصل کې تحدید شوې د قضائیه قوې له صلاحیت څخه وباسي او بل مقام ته یې وسپاري.
- دا حکم د هغو خاصو محکمو چې ددې اساسي قانون په (نهه شپېتمې، اته اویایمې او یو سلو او ویشتمې) مادو کې راغلې او په مربوطو قضیو کې د نظامي محکمو د تشکیل مانع نه ګرځي.
- ددې ډول محکمو تشکیل او صلاحیت د قانون له لیارې تنظیمیږي.

۱۲۳مه ماده

- ددې اساسي قانون د حکمونو په رعایت د محکمو په تشکیل، صلاحیت او اجراآتو پورې مربوط قواعد او قاضیانو پورې مربوطې چارې د قانون له لیارې تنظیمیږي.

۱۲۴مه ماده
- د قضائیه قوې د مامورینو او نورو اداري کار کوونکیو په برخه کې، د دولت د مامورینو او نورو اداري کار کوونکیو د مربوطو قوانینو حکمونه نافذ دي خو تقرر، انفکاک، ترفیع، تقاعد، مجازات او مکافات یې د سترې محکمې له خوا له قانون سره سم تر سره کیږي.

۱۲۵مه ماده
- د قضائیه قوې بودجه د حکومت په مشوره د سترې محکمې له خوا ترتیبیږي او د دولت د بودجې د یوې برخې په توګه د حکوت له خوا ملي شورای ته وړاندې کیږي.
- د قضائیه قوې د بودجې تطبیق د سترې محکمې صلاحیت دی.

۱۲۶مه ماده
- د سترې محکمې غړي، د خدمت د دورې تر پای ته رسېدو وروسته، د پاتې ژوند په موده کې د خدمت د دورې له مالي حقوقو څخه برخمن کیږي، په دې شرط چې په دولتي او سیاسي چارو بوخت نشي.

۱۲۷مه ماده
- که چیرې د ولسي جرګې تر دریېمې برخې زیات غړي، د سترې محکمې د رئیس یا غړیو محاکمه د وظیفوي جرم یا د جنایت د ارتکاب د اتهام پر اساس وغواړي او ولسي جرګه دا غوښتنه د ټولو غړیو له دریو برخو څخه د دوو برخو په اکثریت تصویب کړي، متهم له وظیفې څخه عزل او موضوع خاصې محکمې ته سپارل کیږي.
- د محکمې تشکیل او د محاکمې طرز العمل د قانون په وسیله تنظیمیږي.

۱۲۸مه ماده
- د افغانستان په محکمو کې محاکمه په علني ډول دایریږي او هر څوک حق لري د قانون له حکمونو سره سم په هغې کې ګډون وکړي.
- محکمه کولای شي، په داسې حالاتو کې چې په قانون کې څرګند شوي یا د محاکمې سري توب ضروري وګڼل شي، سري غونډې دایرې کړي خو د حکم اعلان باید علني وي.

۱۲۹مه ماده
- محکمه مکلفه ده د خپل صادر کړي حکم اسباب په فیصله کې ذکر کړي.
- د محکمو د ټولو قطعي فیصلو عملي کول واجب دي خو د شخص د مرګ د حکم په حالت کې د جمهور رئیس منظوري شرط ده.

۱۳۰مه ماده
- محکمې تر غور لاندې قضایاوو کې د دې اساسي قانون او نورو قوانینو حکمونه تطبیقوي.
- که د غور لاندې قضایاوو له جملې څخه د کومې قضیې لپاره په اساسي قانون او نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي، محکمه د حنفي فقهي د احکامو له مخې او په هغو حدودو کې د ننه چې دې اساسي قانون ټاکلي، قضیه په داسې ډول حل او فصل کوي چې عدالت په ډېره ښه توګه تاءمین کړي.

۱۳۱مه ماده
- محکمې د اهل تشیع لپاره په شخصیه احوالو پورې مربوط قضایاوو کې د تشیع د مذهب حکمونه د قانون له احکامو سره سم تطبیقوي.
- په نورو دعوو کې هم که په دې اساسي قانون یا نورو قوانینو کې حکم موجود نه وي، محکمې قضیه د دې مذهب له حکمونو سره سم حل او فصل کوي.

۱۳۲مه ماده

- قاضیان د سترې محکمې په پیشنهاد او د جمهور رئیس په منظورۍ ټاکل کیږي.
- د قاضیانو مقرري، تبدیلي، ترفیع، مواخذه او د تقاعد پیشنهاد د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی.
- ستره محکمه داجرائي او قضایي چارو د ښه تنظیم او د لازمو اصلاحاتو د تاءمین لپاره، د قضائیه قوې، عمومي اداري آمریت تاءسیسوي.

۱۳۳مه ماده

- که قاضي دجنایت په ارتکاب متهم شي ستره محکمه د قانون له حکمونو سره سم د قاضي په حالت غور کوي. که ستره محکمه دده د دفاع تر اورېدو وروسته اتهام وارد وبولي جمهور ریس ته یې د غزل پیشنهاد کوی، د جمهور رئیس له منظورۍ وروسته متهم قاضي له وظیفې څخه عزل او د قانون له حکمونو سره سم جزا ورکول کیږي.

۱۳۴مه ماده

- د جرمونو کشف د پولیس په وسیله او د جرمونو تحقیق او په محکمه کې په متهم باندې د دعوا اقامه د څارنوالۍ له خوا ، د قانون له احکامو سره سم کیږي.
- څارنوالي د اجرائیه قوې برخه ده او په خپلو اجراآتو کې استقلال لري.
- د څارنوالۍ تشکیل، صلاحیت او د اجراآتو څرنګوالی د قانون له لیارې تنظیمیږي.
- د وسله والو ځواکونو، پولیسو او د ملي امنیت کار کوونکیو د وظیفوي جرمونو کشف او تحقیق د خاص قانون له لیارې تنظیمیږي.

۱۳۵مه ماده

- که د دعوې لورى په هغه ژبه چې محاکمه پرې کېږي ونه پوهیږي، د قضیې پر موادو او اسنادو د اطلاع او په محکمه کې په خپله مورنۍ ژبه د خبرو کولو حق د ترجمان په وسیله ورته تامینیږي.

## اتم فصل: اداره

۱۳۶مه ماده

- د افغانستان د اسلامي جمهوریت اداره د مرکزي ادارې او محلي ادارو د واحدونو په اساس له قانون سره سم تنظیمیږي.
- مرکزي اداره پر ځینو داري واحدونو وېشل کیږي چې د هرې یوې په سر کې یو وزیر وي.
- د محلي ادارې واحد ولایت دی.
- د ولایتونو او مربوطه ادارو شمېر، ساحه، برخې او تشکیلات د نفوسو د شمېر، ټولنیزې او اقتصادي وضعې او جغرافیایي موقعیت پر اساس د قانون له لیارې تنظیمیږي.

۱۳۷مه ماده

- حکومت د مرکزیت د اصل په ساتلو سره د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي چارو د ګړندي کولو او ښه والي او د ملي ژوند په پرمختګ کې د خلکو د لازیاتې ونډې اخیستو په منظور، لازم صلاحیتونه د قانون له حکمونو سره سم محلي ادارې ته سپاري.

۱۳۸مه ماده

- په هر ولایت کې یوه ولایتي جرګه جوړیږي.
- د ولایتي جرګې غړي له قانون سره سم د نفوسو په تناسب، دآزادو عمومي، پټو او مستقیمو ټاکنو له مخې د ولایت داوسېدونکو له خوا دڅلورو کلونو لپاره ټاکل کیږي.

- ولایتي جرګه له خپلو غړیو ځخه یو تن د رئیس په توګه ټاکي.

۱۳۹مه ماده

- ولایتي جرګه د دولت د پرمختیایي هدفونو په تاءمین او د ولایت دچارو په ښه کولو کې لکه څنګه چې په قوانینو کې څرګنده شوې، برخه اخلي او په ولایت پورې د مربوطو چارو په باب مشوره ورکوي.
- ولایتي جرګه خپلې وظیفې د محلي اداري په مرسته سرته رسوي.

۱۴۰مه ماده

- د محلي ادارې د چارو د سمون او په هغې کې د خلکو د فعالې ونډې اخیستو دتاءمین په مقصد ، په ولسوالیو او کلیو کې د قانون له حکمونو سره سم جرګې جوړیږي.
- ددې جرګې غړي د آزادو ، عمومي، پټو او مستقیمو ټاکنو له مخې د سیمې د اوسېدونکو له خوا د دریو کلونو لپاره ټاکل کیږي.
- په محلي جرکو کې د کوچیانو ګډون د قانون له حکمونو سره سم تنظیمیږي.

۱۴۱مه ماده

- د ښاري چارو د اداري لپاره ښاروالي تشکیلیږي.
- ښاروال او د ښاري مجلسونو غړي د آزادو ، عمومي، پټو او مستقیمو انتخاباتو له لارې انتخابیږي.
- په ښاروالیو پورې مربوطې چارې د قانون له لیارې تنظیمیږي.

۱۴۲مه ماده

- دولت ددې اساسي قانون د حکمونو د تعمیل او دمندرجو ارزښتونو د تاءمین لپاره لازمې اداري جوړوي.

## نهم فصل: اضطراري حالت

۱۴۳مه ماده

- که دجګړې، دجګړې دخطر ، وخیم اعتشاش او طبیعي آفاتو او یا ورته حالت له امله دخپلواکۍ او ملي ژوند ساتنه په هغه طریقه چې په اساسي قانون کې ټاکل شوې، ناشونې وګرځي دجمهور رئیس له خوا د ملي شورای په تائید د هېواد په ټولو او یا ځینې برخو کې اضطراري حالت اعلانیږي.
- که اضطراري حالت تر دوو مېاشتو زیات دوام ومومي، د اوږدولو لپاره یې د ملي شورای موافقه شرط ده.

۱۴۴مه ماده

- په اضطراري حالت کې جمهور رئیس کولای شي د ملي شورای او د سترې محکمې له رئیسانو سره په مشوره، د ملي شورای ځینې صلاحیتونه حکومت ته انتقال کړي.

۱۴۵مه ماده

- په اضطراري حالت کې جمهور رئیس کولای شي چې د ملي شورای او د سترې محکمې د رئیسانو تر تائید وروسته د اساسي قانون لاندیني حکمونه وځنډوي او یا قیود پرې ولګوي:

  ۱. د اوه وېشتمې مادې دویمه فقره،
  ۲. شپږ دېرشمه ماده
  ۳. د اوه دېرشمې مادې دویمه فقره،
  ۴. د اته دېرشمې مادې دویمه فقره.

۱۴۶مه ماده
- د اضطرار په حالت کې اساسي قانون نه تعديليږي.

۱۴۷مه ماده
- که چيرې دجمهوري رياست دوره او يا دملي شوراى تقنيني دوره د اضطرار په حالت کې پاى ته ورسيږي، د نويو انتخاباتو تر سره کېدل ځنډيږي او د جمهور رئيس او ملي شوراى د غړيو د خدمت موده تر څلورو مياشتو پورې، تمديديږي.
- که اضطراري حالت تر څلورو مياشتو زيات اوږد شي، لويه جرګه دجمهور رئيس له خوا راغوښتله کيږي.
- د اضطراري حالت تر پاى ته رسېدو وروسته، د دوو مياشتو دننه انتخابات کيږي.

۱۴۸مه ماده
- د اضطراري حالت په پاى ته رسېدو سره هغه اقدامات چې ددې اساسي قانون د (يوسلو څلور څلوېښتمې او يو سلو پنځه څلوېښتمې) مادې په مخې شوي، بې له ځنډه له اعتباره لويږي.

## لسم فصل: تعديل

۱۴۹مه ماده
- د اسلام د سپيڅلي دين له حکمونو څخه د پيروۍ اصل او اسلامي جمهوري نظام نه تعديليږي.
- د اتباعو د اساسي حقوقو تعديل يوازې د هغوى د حقوقو د ښېګڼې په منظور جواز لري.
- ددې اساسي قانون د نورو موادو تعديل د زمان د غوښتنو او تجربو له مخې، دددې اساسي قانون د اوه شپېتمې او يو سلو شپږ څلوېښتمې مادې د احکامو په رعايت سره، د جمهور رئيس يا د ملي شوراى د اکثريت په پيشنهاد کيږي.

۱۵۰مه ماده
- د تعديل د پشنهاد لپاره د جمهور رئيس په فرمان دحکومت، ملي شوراى او سترې محکمې د غړيو له منځه، يو هيئت جوړيږي او د تعديل طرح تياروي.
- د تعديل د تصويب لپاره، د جمهور رئيس په فرمان او د لويې جرګې د فصل له حکمونو سره سم لويه جرګه دايريږي.
- که لويه جرګه د ټولو غړيو له دريو برخو څخه د دوو برخو په اکثريت د تعديل طرح تصويب کړي، د جمهور رئيس تر توشيح وروسته نافذيږي.

## يوولسم فصل: متفرقه حکمونه

۱۵۱مه ماده
- جمهور رئيس، د جمهور رئيس مرستيالان، وزيران او د سترې محکمې رئيس او غړي، لوى څارنوال، د مرکزي بانک او ملي امنيت رئيسان، واليان اوښاروالان د خپلې وظيفې په وخت کې نشي کولاى له دولت سره هيڅ ډول انتفاعي معامله تر سره کړي.

۱۵۲مه ماده
- جمهور رئيس، د جمهور رئيس مرستيالان، وزيران، د ملي شوراى او سترې محکمې رئيسان او غړي، لوى څارنوال او قاضيان نشي کولاى د وظيفې د تصدۍ په موده کې نور مشاغل ولري.

۱۵۳مه ماده
- قاضيان، څارنوالان، د وسله والو ځواکونو او پوليسو منصبداران او د ملي امنيت کار کوونکي نشي کولى د وظيفې د تصدۍ په موده کې په سياسي ګوندونو کې غړيتوب ولري.

۱۵۴مه ماده
- د جمهور رئیس، د جمهور رئیس د مرستیالانو، وزیرانو او ستري محکمې د غړو اولوی څارنوال شتمني، د خدمت تر دورې وړاندې او وروسته، د هغه اورګان په وسیله چې قانون یې ټاکي ثبت، څېړل کیږي او خپریږي.

۱۵۵مه ماده
- د جمهور رئیس مرستیالانو، وزیرانو، د ملي شورای رئیسانو او غړیو، د ستري محکمې غړیو او لوی څارنوال ته د قانون له حکمونو سره سم، مناسب معاش ټاکل کیږي.

۱۵۶مه ماده
- د هر ډول انتخاباتو د څارنې او اداري او په هېواد کې د خلکو عمومي رایو ته د مراجعې لپاره د انتخاباتو مستقل کمیسیون د قانون له حکمونو سره سم جوړیږي.

۱۵۷مه ماده
- د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون د قانون له حکم سره سم تشکیلیږي.
- ددې کمیسیون غړي د جمهور رئیس له خوا د ولسي جرګې په تائید تعینیږي.

## دولسم فصل: انتقالي حکمونه

۱۵۸مه ماده
- د ملت د بابا لقب او هغه امتیازونه چې د ۱۳۸۱ هجري شمسي کال د اضطراري لویې جرګې له خوا د افغانستان پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه ته ورکړل شوي دي، ددې اساسي قانون د حکمونو له رعایت سره سم د ژوند تر پایه د دوی لپاره محفوظ دي.

۱۵۹مه ماده
- ددغه اساسي قانون له نافذېدو څخه د ملي شورای د افتتاح تر نېټې پورې موده د انتقال دوره ګڼل کیږي.
- د افغانستان انتقالي اسلامي دولت د انتقال په دوره کې لاندینۍ وظیفې سرته رسوي:
  ۱. د شپږو میاشتو دننه جمهوري ریاست، ملي شورای و محلي جرګو د انتخاباتو په اړه د تقنیني فرمانونو صادرول،
  ۲. له یوه کال څخه په کمه موده کې د محکمو د صلاحیتونو او تشکیلاتو او د اساسي تشکیلاتو پر قانون باندې د کار د پیل په اړه د فرمانونو صادرول،
  ۳. د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون جوړول،
  ۴. د اجرایي او قضایي چارو د غوره تنظیم په منظور د لازمو اصلاحاتو سرته رسول،
  ۵. ددې اساسي قانون د حکمونو د تطبیق په برخه کې د زمینې د برابرولو لپاره تدبیرونه نیول.

۱۶۰مه ماده
- لومړنی منتخب جمهور رئیس د انتخاباتو د نتایجو تر اعلان د پرش ورځې وروسته ددغه اساسي قانون له حکمونو سره سم په کار پیل کوي.
- هر اړخیزې هڅې کیږي چې د جمهور رئیس او ملي شورای انتخابات په یوه وخت کې تر سره شي.
- د ملي شورای واکونه د هغې د تاسیس تر مودې پورې په دې اساسي قانون کې حکومت ته سپارل کیږي او مؤقته ستره محکمه د جمهور رئیس په فرمان جوړیږي.

۱۶۱مه ماده
- ملي شورای له تاسیس سره سم خپل واکونه او وظایف ددې اساسي قانون د حکمونو مطابق عملي کوي.

- دملي شورای له لومړنۍ غونډې وروسته د دېرشو ورځو په موده کې حکومت او ستره محکمه ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم تشکیلیږي.
- د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئیس تر هغه وخته پورې وظیفه سرته رسوي چې منتخب جمهور رئیس په کار پیل نه وي کړی.
- ددې اساسي قانون د یو سلو نه پنځوسمې مادې د څلورمې فقرې د حکم په رعایت، د دولت اجرایې او قضایې ارګانونه د حکومت او سترې محکمې تر تشکیل پورې خپلو وظایفو ته ادامه ورکوي.
- هغه تقنیني فرمانونه چې د مؤقتې دورې له پېل څخه وروسته نافذ شوي دي د ملي شورای لومړنۍ غونډې ته راجع کیږي.
- دا فرامین تر هغه وخته پورې چې د ملي شورای له خوا لغوه شوې نه وي نافذ ګڼل کیږي.

۱۲۲مه ماده

- د اساسي قانون د لویې جرګې له تصویب څخه وروسته نافذ او د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رئیس لخوا توشېح او اعلامیږي.
- په نافذېدو سره یې ددې اساسي قانون له حکمونو مغایر قوانین او تقنیني فرمانونه لغوه کېږي.

# د افغانستان تړون ليک

د افغانستان د تړون ليک په اړوند د لا زياتو معلوماتو لپاره ۱۸مخ وګوری

## سريزه

د افغانستان اسلامي جمهوريت او نړيواله ټولنه:

*د افغانستان د خلکو د ژوندانه د کچې د ښه والي په موخه د خپلو مشارکتونو د پياوړتيا د سولې ملي او نړيوال امنيت سره د مرستې پر بنسټ هوډمن دي.*

*د يوه با ثباته، سوکاله او سالم حکومت د رلودونکې او د قانون تر واکمنۍ لاندې د ټولو لپاره د بشر د حقونو په پيروۍ يو ژمن افغانستان د بريالیتوب په موخه د بن، توکيو او برلين د کنفرانسونو په رڼا کښې د کار د دوام لپاره په خپلو ګډو ژمنو او دغه راز پدغې تړون ليک کښې د تاکل شوې مودې سره سم او له هغې څخه په پراخه توګه د دغو ژمنو د ساتنې او پياوړتيا په موخه ټينګار کوي.*

*د افغانانو هغه ميړانه او اراده چې په زړورتيا سره يې د ناوړې افراطپالنې او د زيږنده مصيبتونو په وړاندې، د اسلام په اصولو ولاړ د يو دموکراتيک، سوله پال، پراخ بنسټه او نيکمرغه حکومت بنسټ ايښی، تصديقوي.*

*د ۱۳۸۳ کال د مرغومي په مياشت کې د يو نوي اساسي قانون د تصويبولو د ۱۳۸۳ کال د تلې په مياشت کښې د ولسمشرۍ د ټولټاکنو او د ۱۳۸۴ کال د وږې په مياشت کښې د ولسي جرګه او ولايتي شوراګانو د ټولټاکنو د ترسره کولو له لارې د بن د تړون ليک بشپړ پلې کول چې افغانستان يې په دې ځواکمن کړ چې په نړيواله ټولنه کښې خپل روا دريځ بيا ترلاسه کړي، تائيدوي.*

*دغه مسله چې د افغانستان د سولې او ثبات بهير تر اوسه پورې بشپړ شوی ندی اودا چې د هغو ستونزو په لرې کولو کښې چې تر اوسه پورې هم پاتې دي، ځواکمنې نړيوالې ونډې اخيستنې ته اړتياشته د مناسبو شرايطو د ټينګولو له لارې په افغانستان کښې د دوامدارې اقتصادي ودې او پرمختيا ، دحکومتي مرکزونو او مدني ټولنې د پياوړتيا ، د پاتې تروريستي ګواښونو د لرې کولو له نشه يي توکو سره په مبارزه کښې دستونزو د له منځه وړلو ، دوړتياونو اوبنسټونو دبيا جوړولو، دبيوزلۍ دله منځه وړلو او دتاوتريخوالو اوکشالو د ميراث دله منځه وړلو لپاره د بنسټيزو بشري اړتياو دټينګولو په مقصد هوډمن دي.*

دافغانستان د تړون ليک په هکله، موافقه کوي.

## موخه

د افغانستان حکومت د ملت سوکالۍ ته د رسيدو لپاره خپلې عمده موخې د ۱۳۸۴کال په رپوټ کښې په راتلوونکو پنځلسو کلونو کښې د افغانستان پرمختيايي موخې (ام ډي جي) وړاندې کړې دي. له دغو موخو سره سم دغه مهم او يو له

بل سره اړین درې رکنیزه تړون لیک د پنځو کلونو لپاره د دغه تړون لیک له تصویبولو څخه وروسته په لاندې ډول ځرګندوي:

۱. امنیت،

۲. حکومت کول، د قانون واکمني او د بشرحقونه،

۳. اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا.

یو حیاتي او هر اړخیز کاري ډګر د نشه یي توکو د تولید له منځه وړل دي چې تر اوسه پورې هم د افغانستان د خلکو او حکومت، سیمې او نړۍ په وړاندې د یو جدي ګواښ په توګه پاتې دي.

په دغه توګه د افغانستان حکومت، د دغه ګډ لرلید د تحقق په موخه ژمن کیږي، او د دې په وړاندې نړیواله ټولنه هم ژمنه کوي چې د دغه آند د تحقق له پاره د لازمو سرچینو او ملاتړو د پوره واک ورکولو په لاره کښې مسوولیت ادا کړي. د دغه تړون لیک لومړنۍ ګڼه ضمیمه د افغانستان په ملي پرمختیایي تګلارې کښې د لوړو ټاکل شویو موخو سره سم د دغه تړون لیک د بشپړتیا لپاره مفصلې پایلې، معیارونه او مودې بیانوي. دغه راز د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه ژمنه کوي، چې د نړیوالو مرستو اغیزمنتوب او حساب ورکونه څرنګه چې په دویمه ګڼه ضمیمه کښې یې بیان شوې دې ښه کړي.

## د مرستو اصول

د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه به د دغه تړون لیک په پلي کولو کښې لاندیني ټکي په پام کښې ونیسي.

- د اسلام پربنسټ د افغانستان پراخ بنسټه کلتور، ارزښتونو او تاریخ ته درناوی.
- د افغانستان د حکومت او د نړیوالې ټولنې تر منځ همکاري، د هغه مشارکت له مخې چې په هغه کښې به د افغانستان حکومت بشپړ مالکیت ولري او د نړیوالې ټولنې د همغږۍ، محوري او ناپییلی رول به ملګرو ملتونو سازمان په غاړه ولري.
- د مالکیت په حق کښې د ونډې اخیستنې او هڅونې په موخه د افغانستان د خلکو لرغونو دودونو ته ډېر درناوی.
- د ژوندانه د چاپیریال ساتنې د مالي بنسټیز او د ثبات د دوام تعقیبول.
- د افغانانو ترمنځ د دوامدارو وړتیاونو رامنځ ته کول، یوشان د ښځو او نارینوو په بشري وړتیاو باندې په ځانګړې ټینګار سره د اغیزمنو حکومتي او مدني ټولنو د مرکزونو جوړول
- د نیکمرغه او سوکاله راتلوونکي د ټینګولو لپاره په ټول افغانستان کښې د کورنیو او نړیوالو منابعو د انډولیز او منصفانه تخصیص په هکله د ډاډ ترلاسه کول.
- په ټولو پالیسیو او پروګرامونو کښې د نارینه او ښځو په برابرو حقونو او دندو باندې ټینګار
- د سیمه ییزې همکارۍ لوړتیا او.
- د اداري فساد سره مبارزه او په دولتي ادارو کښې د شفافیت ټینګول او حساب ورکونه.

## امنيت:

رېښتينې امنيت په افغانستان کښې ثبات او پرمختيا ته د رسيدو لپاره اړين او بنسټيز شرط دې. امنيت يوائې د پوځې لارې نشي تأمينېدلائ، بلکې د امنيت ټينګښت سالمې واکمنۍ، عدالت او د قانون واکمنۍ ته اړتيا لري، چې د بيا رغونې او پرمختيا له لارې پياوړې کيږي. د نړيوالې ټولنې په همکارۍ د افغانستان حکومت به د ټولو ناقانونه وسله والو ډلو د ړنګولو له لارې سوله ټينګه کړي. د افغانستان حکومت او نړيواله ټولنه به د افغاني مرکزونو د پياوړتيا له لارې خوندي شرايط برابرکړي چې د مالي ځواکمنۍ او دوام له پلوه امنيتي اړتياوې بسيا کړي.

په دې لاره کښې به د ناټو په مشرۍ له امنيت سره د مرستې نړيوال ځواکونه (ايساف)، د امريکا په مشرۍ دتل پاتي خپلواکي د عملياتو ځواک (او اي اف) او د امنيتي سکټور په اصلاح کښې مرستندويه هيوادونه، د مرستندويو هيوادونو د تصويب شويو ملي لارښودونو د مراعتولو په شرط په خپل پياوړې ملاتړ سره به، په هيواد کښې د امنيت او ثبات د ټينګولو او دوام لپاره د افغانستان د حکومت ملاتړ ته دوام ورکړي. دوی به د ځواکونو د کړنو په هکله د بشپړ ډاډ د ترلاسه کولو په موخه د کورنيو امنيتي ځواکونو د وړتيا، پياوړتيا او لوړتيا ته دوام ورکړي.

د تل پاتي خپلواکۍ د عملياتو ځواکونه به د افغانستان له حکومت او د ايساف له ځواکونو سره په نږدې همکارۍ کښې د ډار اچوونکو پرخلاف ګډ عمليات ترسره کړي. د ايساف ځواکونه په ټول افغانستان کښې له دې جملې، د ولايتي بيارغاونې د ټيمونو (پي آر ټي) له لارې خپل ځاي پر ځاي کيدو ته پراختيا ورکوي، ترڅو د خپل د فعاليت لاندې سيمو کښې به د ثبات پياوړتيا او د امنيتي سکټور د اصلاحاتو ملاتړ ته دوام ورکړي.

د افغانستان واکمنۍ ته بشپړه درناوي او د افغانستان او د ګاونډيو هيوادونو ترمنځ يې د خبرو اترو او همکارۍ پياوړتيا، په افغانستان اوسيمه کښې د امنيت د ټينګښت په لاره کښې يو بنسټيز ضمانت بلل کيږي. نړيواله ټولنه به د دغې موخې په ترلاسه کولو کښې د باور د رامنځ ته کولو په موخه د ځانګړو اقداماتو ملاتړ وکړي.

## حکومت کول، دقانون واکمني او د بشر حقونه:

د ډيموکراسۍ او د بشر د حقونو د رعايتولو پر بنسټ حکومت په افغانستان کښې د يو دوامداره سياسي پرمختګ بنسټ جوړوي. د افغانستان حکومت به په ټول هيواد کښې خلکو ته د بنسټيزو خدمتونو د وړاندې کولو په خاطر خپل وړتيا په چټکۍ سره لوړوي، حکومت به د ملکي خدماتو په ادارو کښې د غوره والي له مخې د مسلکي، کفايت درلودونکي او د باور وړ اشخاص په دندو ګماري. حکومت به په ټولو اړخونو کښې يوه اغيزمنه، ځواب ورکوونکې او شفافه اداره جوړه کړي، له فساد سره به د مبارزې په کار کښې د ارزونې وړ اصلاحات ترسره کوي، دعدالت او د قانون د واکمنۍ ملاتړ کوي او د ټولو افغانانو د حقونو رعايتول به پياوړې کوي.

د افغانستان حکومت به په هر ولايت کښې د همغږو او کارندو مرکزونو جوړولو ته لومړيتوب ورکړي، په دغو مرکزونو کښې به د ملکي، پوليسو زندانونو ادارې اوعدلي مرکزونه شامل وي.

دغه مرکزونه به مناسب قانوني چوکاټونه او د روزل شويو مامورينو د ګمارلو لارښودونه کافي معاشونه، لازمې بنسټيزې سرچينې او د څارنې وړتيا ولري حکومت به د ټولټاکنې يوه اداره چې له مالي او بنسټيز پلوه دوام ولري. د افغانستان د ټولټاکنو د خپلواک کميسيون تر څارنې لاندې د راتلوونکو ټولټاکنو د ترسره کولو په موخه جوړ کړي.

د عدلي سکټور اصلاح کول د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې ته لومړیتوب لري. هدف دا دی چې د ټولو افغانانو په عدالت او د عملي کولو وړ حکموتونو باندې په برابره، عادلانه او شفاف ډول لاس بري د لیکلو قوانینو او عادلانه محاکمو پربنسټ تحقق ومومي. هغه تدبیرونه چې په دې هکله به ونیول شي، عبارت دي له: په حکومتي او خصوصي سکټورونو کښې د قانوني اصلاحاتو بشپړتیا°، په عدلي مرکزونو او پرسونل کښې د وړتیا رامنځ ته کول، د بشر د حقونو او حقوقي پوهی ښه والی او د عدلي بنسټونو بیا رغول.

د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه د هغو حقونو د ملاتړ او لوړتیا پر بنسټ چې په اساسي قانون او مروجو نړیوالو قوانینو کښې له دې جملې څخه د بشر د حقونو نړیوال میثاقونه او نور لاسلیک شوي تړونونه او د افغانستان له لورې هم اټکل شوي دي، خپله ژمنه بیا څرګندوي. د هغو وګړو ترمنځ د باور د اعاده کولو په موخه چې جګړې یې ژوند تباه کړې دې او دغه راز د وګړو او د زغم او پراخ بنسټي کلتور د ګډ احساس د رامنځ ته کولو او د قانون واکمني او د افغانستان حکومت ته د درناوی په موخه به د نړیوالې ټولنې په مرسته به د سولې، عدالت او روغې جوړې پروګرام پلي کړي.

## اقتصادي او ټولنیز پراختیا:

د افغانستان حکومت به د نړیوالې ټولنې په ملاتړ، د لوږې، بیوزلۍ او وزګارتیا د کمښت په موخه د اقتصادي ودې لوړ پړاوونه په متداومه توګه تعقیب کړي. حکومت د خصوصی سکټور بالقوه رول او استعداد ته د نورو حکومتي او نورو غیرانتفاعي سکتورونو تر څنګ وده ورکوي، د نشه یي توکو تولید کنترولوي، د ستر اقتصاد ثبات ټینګوي، او د هیواد د بشري، ټولنیز اوفزیکي پانګو پراختیا ته رغون او وده وربخښي چې له دې لارې د نوي نسل، مشرانو او مسلکي افرادو لپاره یو سالم بنسټ کیږدي، مدني ټولنه پیاوړې کړي او د راستنو شویو داخلی بې ځایه شویو او پخوانیو جګړه مارانو بیا میشته کیدل بشپړ کړي.

عامه پانګه اچونه به د افغانستان د پرمختیایي تګلارې پر اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا باندې د شپږو ستنو پر بنسټ ولاړه وي:

۱. بنسټونه او طبعیي زیرمې،
۲. پوهنه،
۳. روغتیا،
۴. کرهنه او د کلیو پراختیا،
۵. ټولنیز خوندیتوب، او
۶. اقتصادي واکمني او د خصوصي سکتور پراختیا.

په دغه هره برخه کښې له دغو بنسټونو څخه موخه دا ده چې یو دا شان محسوسیدونکی لاس ته راوړنې ولری، چې د اقتصاد د انډولیزې ودې د ټینګولو په موخه، چې بیوزلي له منځه وړي، د کار او کسب زمینې زیاتوی، د خصوصي تصدیو د رامنځ ته کیدو په برخه کښې فرصتونه لوړوي او د ټولو افغانانو د سوکالۍ لامل وګرځی.

## د نشه يي توکو سره مبارزه: يو څو اړخيز لومړيتوب

له هغه ګواښ سره چې د نشه يي توکو توليد يې د ملي، سيمېز او نړيوال امنيت او هم يې د هيواد ، او د حکومت د پرمختيا او د افغانانو د سوکالۍ پر وړاندې، پروت دې مقابله د حکومت اونړيوالې ټولنې لپاره لومړيتوب ګڼل کېږي. د دغې مقابلې موخه د کوکنارو د کرکيلې او نشه يي توکو د قاچاق په ښکاره توګه کمښت او بشپړ له منځه وړل دي. لومړني او اړين عناصرو کښې د جرمونو څخه مخنيوې، د قانون نافذيدل، او د قضا د وړتيا لوړتيا ، ښه والې موندلې دي. د نشه يي توکو د بندولو لپاره د افغانستان، ګاونډيو هيوادونو او نړيوالې ټولنې تر منځ د همکارۍ زياتوالې، په کليو کښې د هر اړخيزې پرمختيا په ښه کښې د بزګرانو او کارګرانو لپاره د پراخو اقتصادي بديلونو برابرول او د هيواد او د ولايتونو په کچه له نشه يي توکو سره د مبارزې د مرکزونو جوړول دي. دغه راز د اداري فساد او د نشه يي توکو دله منځه وړلو په وړاندې د نه زغم د سياست پلي کونه ضروري ګڼل کيږي. د دغه پيغام خپرول چې د نشه يي توکو توليدول او سوداګري، غير اخلاقي او د اسلامي قوانينو پر خلاف دي او په پای کښې په دې لاره کښې هلې ځلې چې د نشه يي توکو ناقانوني غوښتنې ته دې کمښت ورکړ شي، د حکومت موخې دي.

## سمون او څارنه:

د افغانستان حکومت او نړيواله ټولنه به هغو سياسي ژمنو د پلي کولو لپاره چې په دغه تړون ليک کښې شامل دي، د سمون او څارنې ګډه کميټه جوړه کړي. د دريمې ګڼې د ضميمې د تفصيلاتو له مخې به دغه کميټه د افغانستان د اسلامي حکومت او ملګرو ملتونو د سازمان تر ګډې مشرۍ لاندې وي او يوه کوچنۍ دارالانشا به ورسره مرسته وکړي ـ دغه کميټه به د دغې تړون ليک په پلي کولو کښې د افغانستان د حکومت او نړيوالې ټولنې د زياتو هلوځلو د سمون سبب شي او دغه راز د خپلو کړنو په هکله، منظم او پر خپل وخت عمومي رپوټ وړاندې کړي.

## د لومړۍ ګڼې ضميمه: معيارونه او زماني مودې

*د افغانستان حکومت د نړيوالې ټولنې په ملاتړ ژمنه کوي، چې دغه معيارونه به په ټاکل شويو مودو کښې تحقق ومومي.*

### امنيت

*نړيوال امنيتي ځواکونه:*

د ۱۳۸۹ کال (د ۲۰۱۰ ميلادي کال ترپايه) پورې به د افغانستان د حکومت په مادي ملاتړ او نږدې همکارۍ سره د ناټو په مشرۍ د ايساف نړيوال ځواکونه به د دوامدارې خپلواکۍ عمليات (او اي ايف) او بيا جوړونې ولايتي ټيمونو (پي آر ټي ) سره يوځای د افغانستان په ټولو سيمو کښې د افغاني ځواکونو پياوړتيا له لارې امنيت او ثبات ټينګ کړي.

*د افغانستان ملي اردو:*

د ۱۳۸۹ کال (د ۲۰۱۰ ميلادي کال) ترپايه پورې به يو په ملي توګه په لوړه کچه پيژندل شوی، مسلکي، د قومي پلوه انډوليزه ملي اردو به را منځ ته شي، چې په ديموکراتيکو ژمنو ، منظمه تربيه او سمبال شوې وي، تر څو وشي کولای د هيواد امنيتی اړتياوې پوره کړي او د افغانستان د زياتيدونکيو عوايدو څخه د ملي اقتصادی توان سره سم به تمويليږي. نړيواله ټولنه به ۷۰۰۰۰ تنو ته د افغانستان د ملي اردو د پراختيا په موخه - لکه څنګه چې د بن په کنفرانس کښې وړاندې

خبرې شوې وې - له افغانستان سره خپلو مرستو ته به دوام ورکړي. د پراختیا لارې چارې داسې تنظیمېږي چې د خدمت پر مودې او پر کیفیت ولاړو ګډو څېړنو پر بنسټ وي چې د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې له خوا د موافقه شویو معیارونو په اړوند په اوسنیو شرایطو سره سم په پام کښې نیول کیږي.

*د افغانستان ملي او سرحدي پولیس:*

د ۱۳۸۹ (د۲۰۱۰ میلادي کا ل) تر پایه پورې به د افغانستان ملي پولیس او سرحدي پولیس په بشپړ کاري او مسلکي تشکیل سره چې له قومي پلوه یې انډول برابر وي د څه نا څه ۸۲۰۰۰ تنو په ترکیب کښې، چې په اغیزمن ډول د هیواد د امنیتي اړتیاوو د پوره کولو وس ولري او له مالي پلوه دوام ولري، رامنځ ته شي.

*د ناقانوني وسله والو ډلو له مینځه وړل:*

په ټولو ولایتونو کښې به ناقانوني وسله والې ډلې د ۱۳۸۶ـ ( ۲۰۰۷ میلادي ) کال ترپایه پورې له مینځه لاړې شي.

*له نشه یي توکو سره مبارزه:*

حکومت به د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال(۲۰۱۰ میلادي ) تر پایه پورې د مرکز او ولایتونو په کچه د قانون د نافذولو وړتیا پیاوړې کړي چې د نشه یي توکو د ضبطولو او له منځه وړلو او د دغو توکو د پروسس، د آسانتیاو د ویجاړولو په کچه کښې د ښکاره کمښت سبب وګرځي او د کوکنارو د کرکیلې د له منځه وړلو په ګډون به د اغیزمنو تدبیرونو د نیولو لامل شي. د افغانستان حکومت او د ګاونډیو او د سیمې د هیوادونو حکومتونو به د ۱۳۸۹ کا ل (۲۰۱۰ ) تر پایه پورې د همغږې، د زیاتوالي او د ګډو استخباراتي هلوځلو په لاره کښې له یو بل سره کار وکړي چې د نشه یي توکو د نیولو او له منځه وړلو کچه، چې د افغانستان له پولو څخه قاچاق کیږي، زیاته شي او د نشه یي توکو د قاچاق وړونکو پر وړاندې ګټور اقدامات تر سره شي.

*له ماینونو او مهماتو سره مبارزه:*

په راتلوونکو پنځلسو کلونو کښې به د افغانستان د پرمختیایي موخو په لاره کښې (ام ډي جي ) او د اوټاوا له تړون سره د افغانستان له ژمنو سره سم به په ماینونو او ناچاودیدلو مهماتو باندې ککړه ځمکه په سلو کښې اوویا کمښت ومومي. د۱۳۸۶ (۲۰۰۷ م ) کا ل ترپایه پورې به د پرسونل ضد زیرمه شویو ماینونو ټولې ساحې تثبیت او له منځه یوړل شي او په دغه ډول ټول ناخوندي د نه ترمیم وړ او اضافي مهمات به د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال(۲۰۱۰ ) پورې له منځه یوړل شي.

## حکومت کول، د قانون واکمني او د بشرحقوق

*د حکومت اداري اصلاحات :*

د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰ م ) کال تر پایه پورې به د یو شمیر وزارتونو په ګډون د حکومت دستګاه اصلاح او بیا جوړه شي څو یوه داسې حکومتي اداره رامنځ ته شي چې له مالي پلوه دوام ولري، د ملکي خدمتونوکمیسیون به پیاوړې شي، د ملکي خدمتونو د سکتور دندې به داسې تنظیم کړاۍ شي چې اصلاحات د اصلي دندو او مسوولیتونو ښکارندوی وي، د مرکزي حکومت او عدلي سکټور د لوړ پوړو چارواکو او د ولایتونو والیانو ، امنیه، قوماندانانو او د ولایتونو د امنیت رئیسانو د ټاکلو په اړوند به یو هراړخیز څرګند او شفاف میکانیزم په شپږو میاشتو کښې رامنځ ته شي، په دوولسو میاشتو کې به عملی کیږي او په څلورویشتو میاشتو کښې به په بشپړ ډول پلي شي.

د **۱۳۸۵** کال تر پایه پورې به له ملي ثبات سره د مرستې په موخه ټول اداري واحدونه او د هغوی حدود وڅېړل شي او تجدید نظر به پرې وشي.

د **۱۳۸۹**(۲۰۱۰ م) کال تر پایه پورې د مرکزي حکومت او د عدلي سکټور او پولیسو په ګډون د حکومت په ټولو سطحو کښې به د ملکي خدمتونو په څوکیو کې د کار د اجرا کولو په اړوند ټولې ټاکنې د وړتیا، لیاقت او د کار د سوابقو له مخې تر سره شي او د ملکي خدمتونو د سکټور د وړتیا د لوړتیا لپاره به لازم ملاتړ برابر کړای شي. چې سکټورونه په اغیزمن او ګټور ډول فعالیت وکړي. تر۱۳۸۶ هجري لمریز (او تر۲۰۰۷ میلادي) کاله پورې به د دویمې اوله هغې څخه د لوړې رتبې د ټولو کارکوونکو د یوه کال کړنې وڅېړل شي.

*له اداري فساد سره مبارزه:*

د اداري فساد په اړوند به د ملګرو ملتونو مسوده د **۱۳۸۵** هجري لمریز کال (۲۰۰۶ میلادي) تر پایه پورې تصویب شي چې له هغې سره سم به د هیواد کورني قوانین د ۱۳۸۶ هجري کال (۲۰۰۷ میلادي) کال تر پایه پورې بدلون ومومي. د **۱۳۸۷** هجري لمریز کال(۲۰۰۸ م) تر پایه پورې به د دغو قوانینو د څېړنې لپاره یو څارنیز میکانیزم رامنځ ته شي.

*د وګړو سرشمیرنه او احصائیه:*

د وګړو سرشمیرنه به د۱۳۸۷ هجري لمریزکا ل (۲۰۰۸ میلادي) تر پایه پورې تر سره شي او د هغې بشپړې پایلې به خپرې شي.

د ټولو کمی معیارونو لپاره د احصائیې اعتبار لرونکي بنسټونه د ۱۳۸۶ هجري لمریز کا ل (۲۰۰۷ م کا ل) ترمنځ رامنځته او د هغوی د پرمختګ لپاره به د احصائیو وړتیا لوړ کړای شي.

*ولسي جرګه:*

د ولسي جرګې لپاره به د **۱۳۸۵** هجري لمریز کال (۲۰۰۶ کال) په منځ کښې پوره اداري او تخنیکي ملاتړ مساعد کړای شي ترڅو هغه دندې چې دغې شورا ته د اساسی قانون له خوا ورسپارل شوي دي په اغیزمنه توګه یې ترسره کړي.

*ټول ټاکنې:*

د افغانستان د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون چې بشپړ واک، لازم وړتیا او منابع به ولري د **۱۳۸۷** هجري لمریزکال (۲۰۰۸ م) تر پایه پورې به یو داسې دریځ غوره کړي چې وکړای شي د مالي له پلوه په دوامداره توګه ټولټاکنې ترسره کړي. د افغانستان حکومت به د راتلوونکي ټولټاکنو لګښتونه د امکان تر پولې پورې، له خپلو منابعو څخه برابر کړي. د ملکي احوالو د ثبتولو دایمي فهرست او د رایو ورکوونکو فهرست به د ملي هویت له واحد سند سره د **۱۳۸۸** هجري لمریز کال (۲۰۰۹ م) تر پایه پورې برابر کړای شي.

*د ټولنیز جنسیت برابري (جندر):*

د **۱۳۸۹** هجري لمریز کال (۲۰۱۰ م) تر پایه پورې به د افغانستان د ښځو لپاره ملي کاري پروګرام په بشپړه توګه پلي کړای شي. د افغانستان د امډي جي موخو په لاره کښې به د ملکي خدمتونو د سکټور د انتخابي او انتصابي ادارو په ګډون، په ټولو حکومتي ادارو کښې د ښځو ګډون زیاتوالی ومومي.

*د قانون واکمنې:*

د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پايې پورې به د مدني، جنائي او تجارتي قانون په ګډون د اساسي قانون له حکمونو سره سم د اړتيا وړ حقوقي چوکاټ رامنځ ته شي او په ټولو قضايي او تقنيني ارګانونو وويشل شي او د ټول ملت په واک کښې به وسپارل شي.

د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ ميلادي) ترپايه پورې به د افغانستان په ټولو ولايتونو کښې مسؤل عدلي مرکزونه په بشپړه توګه فعال او د وګړو تر منځ له تړونونو څخه را پيدا شويو ستونزو د حل کولو لپاره د وخت اوسط تر يوې اندازې پورې کموالی ومومي.

په اداري فساد ،د مناسب عدلي بهير په نشتوالي او د عدالت په ناوړه کړنو پورې د اړوندو څارنيزو لارښونو څېړل او اصلاحات به د ۱۳۸۵ هجري کال (۲۰۰۶ ميلادي) تر پايه پورې پيل او د ۱۳۸۹ هجري لمريز(۲۰۱۰ ميلادي) ترپايه پورې به په بشپړه توګه پلي کړائ شي. دغه اصلاحات به د عدلي نظام د کليدي مرکزونو او (د عدليې وزارت، قضا، لوی څارنوالی دفتر، د کورنيو چارو وزارت او د ملي امنيت رياست) مسلکي والې اعتبار او اصالت پياوړې کړي.

د ۱۳۸۹ هجري لمريزکال (۲۰۱۰ ميلادي) ترپايه پورې به د عدلي سکټور بنسټ رامنځ ته شي او د ښځو او تنکيو ځوانانو لپاره به په زندانونو کښې د بند بيلابيل ځايونه جوړ کړائ شي.

*د ځمکو ثبتول:*
په ټولو اداري واحدونو کښې به د ځمکې د ثبتولو بهير او په مهمو ښاري ساحو کښې د ملکيت د حقونو ثبتول د ۱۳۸۵ هجري لمريزکال (۲۰۰۶ ميلادي) تر پايه پورې او په نورو سيمو کښې به د ۱۳۸۷ هجري لمريز کا ل (۲۰۰۸ م) تر پايه پورې پيل شي او ۱۳۸۶ هجري لمريز کال (۲۰۰۷ م) تر پايه پورې به د ځمکو د لانجو د حل لپاره يو عادلانه نظام پرانيستل شي. د کليو د ځمکو ثبتول به د ۱۳۸۶ هجري لمريز (۲۰۰۷ م) تر پايه پورې تر لاس لاندې ونيول شي.

*له نشه يي توکو سره مبارزه:*
حکومت به د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰م) ترپايه پورې د قاچاق وړونکو او مفسدو مامورينو نيونې او قانوني تعقيب زيات کړي. او دغه راز د هغو کسانو په هکله چې د نشه يي توکو په سوداګری کښې ښکيل دي د خپلو اطلاعاتو بنسټ پياوړې کړي. په دې نيت چې په مرکزي او ولايتي ادارو کښې د ټاکنو لپاره د انتخاب لارې چارې د ټاکنې د هغه ميکانيزم د يوې برخې په توګه چې مخکښې په دې ضميمه کښې ياده شوې لوړې کړائ شي.

*د بشر حقوق:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريزکال (۲۰۱۰ ميلادي) ترپايه پورې به د بشر د حقونو په اړوند د خپلو ژمنو د رپوټ ورکولو لپاره د حکومت وړتيا پياوړې شي. په دولت کښې به د قانون او امنيت د نافذولو اداري د په خپل سر نيونو او بندي کولو، ځورونې او د باج اخيستلو څخه د مخنيوي په موخې او د املاکو د غيرقانوني مصادرې لپاره به نوې لارې چارې او لارښودنې وضع کړي چې د دغه شان عملونو رېښې ؤويستل شي. د رسنيو د خپلواکيو په ګډون د بيان خپلواکي به پياوړې شي، د بشر له حقونو څخه پوهاوي به په تعليمي نصاب کښې شامل شي او د قانون جوړونکو، عدلي کارکوونکو، نورو حکومتي ادارو او د خلکو ترمنځ به خپور شي. د بشر د حقونو څارنه به د دولت په غاړه وي، او دغه کار به په خپلواک ډول د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کميسيون له خوا تر سره شي او ملګري ملتونه به د بشر د حقونو د ساتنې لپاره

اغیزمن تدبیرونه وڅیړي. د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون د بشر د حقونو د څارنې، څیړنې، ساتنې او ښه والي په هکله د خپلو اهدافو د تحقق لپاره پلوي او ملاتړ شي.

د سولې، عدالت او روغی جوړې د کاري پلان پلی کول به د ۱۳۸۷ هجري لمريز (۲۰۰۸ م) کال تر پايه پورې بشپړ شي.

## اقتصـادي او ټولنیـزه پراختیـا

### بنسټونه او طبیعي زېرمې

*سړکونه*
: افغانستان د ۱۳۸۷ هجري لمريز کال (۲۰۰۸ ميلادي) ترپايه پورې به په بشپړه توګه يو پرمختللي حلقوي مناسب سړک او همدغه راز هغه سړکونه ولري چې دغه حلقوي سړک له ګاونډيو هيوادونو سره ننښلوي. او همدا راز د ۱۳۸۶ هجري لمريز (۲۰۰۷ م) تر پای، پورې به افغانستان د سړکونو د ساتنې او څارنې لپاره به يو پياوړي او دوامداره مالي نظام درلودونکې وي.

*هوايي ټرانسپورټ*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پايه پورې به د کابل نړيوال هوائي ډګر او د هرات هوايي ډګر په بشپړه توګه د ملکي هوايي چلند د نړيوال سازمان معيارونه ترلاسه کړي. د مزارشريف، جلال آباد او قندهار د هوايي ډګرونو کيفيت به د الوتنې د کرښو په ترميمولو، د الوتنو د لارښوونو د حريق او ژغورنی او مخابروی وسايلو په سمبالولو سره ښه والی لوړشي. دغه اووه نور کورني هوايي ډګرونه به د هوايي ټرانسپورت په ښه والي کښې د اسانتياو د برابرولو لپاره ښه کړای شي. د هوايي ټرانسپورت خدمتونه او لګښتونه به د نړيوال بازار له معيارونو او ارزښتونو سره د سيالی وړ وګرځي.

*انرژي*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پايه پورې به د برېښنا د انرژۍ اسانتياوې، په سلو کښې څه ناڅه ۶۵ کورنيو ته په سترو ښارونو کښې، او په سلو کښې نوي نا استوګنو تاسيساتو ته، او په سلو کښې څه ناڅه پنځه ويشتو کورنيو ته به په کليو کښې ورسول شي. د انرژۍ لګښتونه به د برېښنا د انرژۍ د ملي شبکې په سلو کښې له څه نا څه پنځه اويا لګښت کوونکو څخه ترلاسه شي. د ۱۳۸۶ هجري لمريز کال (۲۰۰۷ م) تر پايه پورې به د نوي کولو وړ انرژيو څخه د کار اخيستنې او پراختيا په موخه يوه تګلاره رامنځته شي.

*طبیعي کانونه او زېرمې*
د ۱۳۸۵ هجري لمريز کال ( ۲۰۰۶ ميلادي) تر پايه پورې به د افغانستان د ګټورو کانونو او طبيعي منابعو د کيندنې لپاره يوه مساعده انتظامي فضا برابره شي او د ۱۳۸۹ هجري لمريزکال (۲۰۱۰ م) تر پايه پورې به په دې لاره کښې د کورنيو او بهرنيو مستقيمو پانګې اچوونو د جذبولو لپاره د پانګې اچونې او بنسټ ايښودنې فضا ښه والی ومومي.

*د اوبو د منابعو (زېرمو) اداره*
د اوبو د سرچينو د ادارې لپاره چې د روغتيايي اوبو او د خړوبې کولو اوبو ټينګول يا زخيره کول پکښې شامل وي، د ۱۳۸۵ هجري لمريز کال (۲۰۰۶ م) تر پايه پورې به، دايمي تګلارې او پلانونه جوړ کړای شي. د اوبو لګولو په برخه کښې

پانګه اچوونه به د دي لامل وګرځي چي د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پايه پوري به د اوبو رسولو له سترو شبکو څخه په سلو کښي ديرش تېنګ شي.

*ښاري پراختيا:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پايه پوري به د ښاروالیو د ادارو وړتيا لوړ کړائ شي چي وکولاي شي د ښارونو پراختيا اداره کړي او په اغيزمن، ګټور او شفاف ډول ښاري خدمتونه وړاندي کړائ شي. د افغانستان د ام دي جي موخو د ترسره کولو لپاره به د اوبو رسولو او عامي روغتيا په برخو کښي د پانګي اچووني زمينه برابره کړائ شي، ترڅو چي په کابل کښي په سلو کښي پنځوس کورنۍ او په نورو سترو ښارونو کښي په سلو کښي ديرش کورنۍ د نلونو له اوبو څخه کار واخلي.

*د استوګنې چاپيريال:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پايه پورې به د افغانستان د ام ډي جي د موخو ترسره کولو لپاره د هوا او اوبو د کيفيت د ساتني د فاضله موادو د ليږدوني او د ککړتيا د څارنې په موخه د استوګنې د چاپيريال ساتنې د خدماتو اداره او تقنيني چوکاټونه رامنځته شي. د طبيعي زيرمو سياستونه به پراختيا ومومي او په ټولو حکومتي او سيمه ييزو اړخونو کښې به د هغو د پلي کول به د ۱۳۸۶هجري لمريز کال (۲۰۰۷ م) ترپايه پورې پيل کړائ شي.

**پوهنه**

*لومړني او ثانوي زده کړې:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ ميلادي) تر پايه پوري به د افغانستان د ام ډي جي موخو د ترسره کولو په لاره کښي، په لومړينو ښوونځيو کښې د نجونو او د هلکانو خالص ګډون په ترتيب سره په سلو کښي شپيته او پنځه اويا وي. په ټولو منځنيو ښوونځينو کښي به يو نوې تعليمي نصاب د کارونې وړ وګرځي، د ښځينه زده کوونکو شمير به په سلو کښې پنځوس وي او د افغانستان په سلو کښي اويا ښوونکي به د سويې آزموينې ورکړي، د زده کوونکو لپاره به د ملي آزموينې په توګه د پرمختګ د درجي د څيړني لپاره يوه ځانګړې تګلاره برابره کړائ شي.

*لوړې زده کړې:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پايه پوري به د پوهنتونونو د زده کوونکيو شمير(۱۰۰۰۰۰) تنو ته ورسيږي، چي په سلو کښي څه ناڅه پنځه ديرش به يي نجوني زده کوونکي وي. د حکومتي پوهنتونونو په تعليمي نصاب کښي به د هيواد د پراختيا د اړتياو او خصوصي سکټور د پراختيا په پام کښي نيولو سره به تجديد نظر وشي.

*د کسبونو پراختيا:*
د بشري منابعو په اړوند څېړنه به د ۱۳۸۵ هجري لمريز کال (۲۰۰۶ م) تر پايه پوري بشپړه شي او (۱۵۰۰۰۰) ښځې او نارينه به د حکومتي او خصوصي سکتورونو له امکاناتو څخه په کارونې سره د ۱۳۸۹ هجري لمريز (۲۰۱۰ م) کال تر پايه پورې د مسلکي کسبونو په برخه کښي زده کړې وکړي.

*د افغانستان کلتوري ميراثونه:*

د افغانستان د کلتوري میراسونو د مجموعي لوي فهرست به د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پایه پوري به تیار کړای شي او د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پایه پوري به د کلتوري میراثونو د راستنولو بیا احیا کلولو، د کلتوري آثارو د قاچاقو د بندولو او د زیانمن شویو تاریخي اثارو تولیدونو د اعادې لپاره اړین تدبیرونه ونیول شي.

## روغتیا

*روغتیا او خواړه:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پایه پورې به د افغانستان د ام ډي جي د موخو د تر سره کولو په لاره کښې روغتیایي بنسټیز خدمتونه پراخه شي چې په سلو کښي نوي وګړي به تر اغیزي لاندي ونیسي. د میندو مړینه به په سلو کښي پنځلسو ته کموالي ومومي او هغه ټول ماشومان چي عمر يې د پنځو کلونو ځخه کم وي، د وقایې وړ ناروغیو په وړاندي به واکسین شي او د مړيني شمیر به يې په سلو کښي شلو ته کمښت وموميي.

## کرنه او د کلیو پراختیا

*کرنه او مالداري:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريزکال (۲۰۱۰ م) تر پایه پوري د تولیداتو او حاصلاتو د زیاتوالي په موخه به بنسټیز، تقنیني او تشویقي چوکاټ جوړشي، تر څو د کرهنې په هکله د مشروعې کرهنې او کلیوالې صنایعو لپاره مساعده چاپیریال رامنځته کړای شي. دغه راز د کرکیلې په سکتور کښې پانګه اچونه به په سلو کښې دیرش لوړه شي او په دغو برخو کښې ځانګړې پاملرنه کیږي: دایمي بڼ والې، د ځانګرو نماینده ګیو او نهادونو د وړاندی کولو له لاري د ځارویو روغتیایي مسلې او د خوړو د خوندیتوب موضوع ګانې  د مالي خدماتو میکانیزمونه د بزګرانو د ټولنې ملاتړ د ملي تولیداتو په نښه کول یا مارک وحل، پر خپل وخت د بیو اعلان، هوا پوری اړوند معلومات او احصایې چې ستراتیژیکې ځیړنی تاینوی او تخنیکي مرستو برابرول، د اوبو د رسولو ټینګښت او د اوبو د سمون لارې چارې.

*د کلیو پراخه پراختیا :*
د ۱۳۸۹ هجري لمريزکال (۲۰۱۰ م) تر پایه پوري به د کلیو پراختیا په پراخه توګه پیاوړي شي، چې له اسانتیاو ځخه يي، په ۳۸۰۰۰ کلیو کښې ۱۹ ملیونه تنه کار واخلی. دغه کار به په ټولو پاتي کلیو کښې د سیمه ییزې پراختیا د ۱۴۰۰۰ داوطلبې شورا، د سیمه ایزې شورا پیاوړتیا او سیمه ایزو ټولنو ته د واکونو د سپارلو له لارې ترسره شي. په کلیو کښې په سلو کښې نوي د روغتیایي اوبو برابرول او روغتیایي امکانات په سلو کښي پنځوسو ته پراختیا مومي. په سلو کښي ځلویښتو کلیو لپاره به مواصلاتي اړیکي ټینګ کړای شي، ترڅو دغه موضوع په بازارونو، کارونو او ټولنیزو خدمتونو باندي لاس برې زیات کړي. په سلو کښي اوه ځلویښت کلي به له اوبو ځخه په لړه پیمانه ګټه پورته کړي. کابو ۸۰۰۰۰ کورنۍ (د افغانستان په سلو کښي دوه ویشت ټولې کورنۍ) به له ښو مالي خدمتونو ځخه کار واخلی. په سلو کښی پنځلسو وګړو ژوند د یو نوي ملیونو دندو د برابرولو له لاري، ملاتړ وشي.

*له نشه يي توکو سره مبارزه:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پایه پورې به حکومت هغه پروګرامونه طرحه او پلي کړي، چې د کوکنارو د کرهنې د ځمکو په ساحه او نورو نشه يې توکو کښې، یو ثابت کمښت رامنځ ته شي، تر څو دا کار د مشروعو معاشونو د ترلاسه کولو

د لارو د ډولونو پیاوړتیا او له نشه یي توکو سره د مبارزي له نورو تدبیرونو سره د حکومت د ام ډي جي له موخو سره سم د نشه يي توکو د اقتصاد د غوڅي او نسبي اندازي د کمولو په اړوند د حکومت د عمومي موخو د يوې برخې په توګه او له نشه يي توکو سره د مبارزې د نورو تدبيرونو په توګه ترسره کيږي.

## ټولنيز خونديتوب

*د بې وزلی له منځه وړل:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پايه پورې به د افغانستان د ام ډي جي موخو د تر لاسه کولو په لاره کښې د هغو وګړو شمير چې په يوه ورځ کښې يې عايد تر يوه ډالره لږ دې، په کال کښې په سلو کښې دريو ته او د هغو وګړوشميرچې د لوږې له امله ځوريږي، هر کال په سلو کښي پنځو ته کمښت ومومي.

*بشري مسلي او د ناوړه پيښو په وړاندې غبرګون:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريزکال (۲۰۱۰م) تر پايه پورې به د ناوړه پيښو په وړاندې د تياری او غبرګون يو اغيزمن نظام رامنځته کړای شي.

*معيوبين:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريزکال (۲۰۱۰ م) تر پايه پوري به د معيوبو وګړو د ځانګړو اړتياو د تامينولو په موخه چې په ټولنې کښې د دوی ونډه اخيستل هم پکښې شامل دي، د تحصيلي فرصتونو او ګټورو کارونو له لارې زياتې مرستې برابرې کړای شي.

*ځوانانو او ملکې شويو سرتېروته د کار موندنه:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ ميلادي) تر پايه پورې د يو خاص او ځانګړي پروګرام له لارې به ځوانانو او ملکې شويو سرتېرو ته د کار موندنې زميني زياتې کړای شي.

*مهاجرين او داخلي بې ځايه شوي خلک:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ م) تر پايه پورې به هغه ټول مهاجرين چې راستنيږي او هم داخلي بې ځايه شوي کورنۍ د هغوی د ژوند د شرايطو د بيا برابرولو او په اصلي سيمو کښې د هغوی د ځای پر ځای کولو لپاره له مرستو څخه برخمن شي او د ملي پراختيا د پروګرامونو له لارې به په ټولنه کښې او په تيره بيا عمومي سيمو ته د هغوی د ورتګ ملاتړ وشي.

*زيان منونکی ښځې:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ ميلادي) تر پايه پورې به د هغو کورنيو شمير چې سر پرستي يې د ښځو په غاړه ده او له سختۍ او بې وزلۍ سره مخامخ دي، په سلو کښې شلو ته را ټيټ کړای شي او د هغوی د کار موندلو زمينه به په سلو کښې شلو ته زياته کړای شي.

*له نشه يي توکو سره مبارزه:*
د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ ميلادي) تر پايه پورې به حکومت د نشه يي توکو لپاره د غوښتني د کمښت او دروږدو کسانو لپاره د ښې درملنې د امکاناتو د ټينګولو لپاره پروګرامونه پلي کړي.

## اقتصادي واکمني او د خصوصي سکتور پرمختيا

*مالي اداره:*
د ۱۳۸۶ هجري لمريز کال (۲۰۰۷ ميلادي) تر پايه پورې به حکومت د مالي ادارې لپاره د څرګندو موخو د رامنځ ته کولو او تر لاسه کولو له لارې د هيواد د مرکز او ولايتونو په کچه، په مالي ادارو کښې ښه والې او شفافيت ټينګ کړي. په دغو موخو کښې چې د نړيوالې ټولنې په موافقې او د هغې تر څارنې لاندې تر سره شول، د بې وزلۍ د له منځه وړولو په هکله د ودې پروګرام هم شامل دې. د حکومت د ښه حساب ورکولو په وړاندې او چوکات کښې به مرستندويان زياتې هلې ځلې وکړي، ترڅو د افغانستان سره د بهرنيو مرستو ونډه چې د حکومت اصلي بودجې ته ورځي زياته کړي.

*کورني عوايد:*
د افغانستان د بودجې ټول کورني عوايد به چې په ۱۳۸۳ هجري لمريز کال (۲۰۰۴ ميلادي)کښې په سلو کښې څلور اعشاريه پنځه کورني نا خالص توليدات ؤ، د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ ميلادي) پوري به دغه توليدات په تدريجي توګه په سلو کښي اتو ته ورسيږي. اټکل کيږي چې په اصلي بودجه او بهرني پرمختيايي بودجه کښې د عادي لګښتونو په ګډون په ټول عادي لګښتونو باندي عوايد به په ۱۳۸۳ هجري لمريز کال (۲۰۰۴ ميلادي) کښي په سلو کښي له ۲۸ څخه په ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰ ميلادي) کښي په سلو کښي ۵۸ ته زيات کړائ شي. په پايله کښي به د دويمي ګڼې ضميمه د مندرجو اصولو له مخې په دغو برخو کښې پر له پسې اړتيا موجوده وي. (۱) د اصلي بودجي لپاره بهرني مرستې، او (۲) په هغو مرستو کښې د ببو اغيزمن زياتوالې چې د بهرنۍ پرمختيايي بودجې له لارې عادي لګښنو ته تمويلوي.

*د خصوصي سکتور پرمختيا او سوداګري:*
د ۱۳۸۵هجري لمريز کال (۲۰۰۶ ميلادي) تر پايه پورې به د پانګي اچونې په اړوند ټول قوانين، مقررې او لارښودنې ساده او همغږې شي، او د ۱۳۸۶ هجري لمريز کال (۲۰۰۷ ميلادي) تر پايه پورې به پلي کړائ شي. د سوداګريزو ادارو نوي قوانين به د ۱۳۸۵ هجري لمريز کال (۲۰۰۶ ميلادي) تر پايه پورې په ولسي جرګه کښې طرحه کړائ شي، او د حکومتي تصديو د پلورلو په هکله د حکومت تګلاره به د ۱۳۸۸ هجري لمريزکا ل (۲۰۰۹ ميلادي) تر پايه پورې بشپړه شي.

*مالي خدمتونه او مارکيټونه:*
د ټولو مهمو سکټورونو او بانکي او غيربانکي مالي موسسو لپاره منل شوي نړيوال احتياطی مقررې د ۱۳۸۶ هجري لمريز کال (۲۰۰۷ ميلادي) تر پايه پورې تدوين کيږي. تر ۱۳۸۶ هجري لمريز کال (۲۰۰۷ ميلادي) تر پايه پوري د مرکزي بانک د څارني رول لا پياوړې کيږي او د ۱۳۸۶ هجري لمريز کال (۲۰۰۷ ميلادي) ترپايه پورې به د حکومتي تجارتي بانکونو بيا سمبالښت او جوړښت بشپړ شي. هغه حکومتي بانکونه چې بيا يې جواز نه دې تر لاسه کړې د ۱۳۸۵ هجري لمريز کال (۲۰۰۶ ميلادي) تر پايه پورې به منحل کيږي.

*سيمه ييزې همکارې:*
د ۱۳۸۹ هجرى لمريز کال (۲۰۱۰ ميلادى) تر پايه پورى به افغانستان او ګاونډي هېوادونه يې د سرحدونو د ګډې ادارې او دوه يا څو اړخيزو سوداګرۍ او ټرانزيټي نورو تړونونو له لارى داسې لاره هواره کړي چې په ډير لنډ وخت کښې د افغانستان له لارې د مالونو او توکو ټرانزيټ تر سره شي. افغانستان د بريښنا د دوه اړخيزې پېرودنې له لارې په هيواد کښې د بريښنا اوسنۍ ا ندازه به زياته کړي. افغانستان او ګاونډيان به يې داسې تړون ليکونه لاسليک کړي چې له مخې به

یې افغانستان وکولاځ شي چې له خپلو ګاونډیو هیوادونو څخه هیواد ته مسلکي کارګران راولي او په عین حال کښې به افغانان دا امکان ولري، چې د سیمې په هېوادونو کښې د کار زمینه پیدا کړي او د خپل لاس ګټه هېواد ته و لیږدوي.

## دویمه ضمیمه: له افغانستان سره د مرستو د اغیزمنتیا ښه والې

نړیوالې ټولنې د ۱۳۸۰ هجري کال (د سمبر د ۲۰۰۱ میلادي) له وروستیو وختو راهیسې، په افغانستان کښې د ډیموکراسۍ پر بنسټ د حکومت د راتلونکي لپاره د یادونې وړ پانګه اچولې ده، چې دا تړون لیک پر دغو ژمنو تاءید دی. د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه د افغانستان د خاصو اړتیاو په محسوسولو سره د پاریس د اعلامیې له مخې د افغانستان سره د مرستو او د مرستندویو د ملاتړ لپاره د هغو د پایلو په لا اغیزمنتوب ژمن دي.

د پاریس د اعلامیې او په دغه تړون لیک کښې د مندرجې همکارۍ د اصولو له مخې: حکومت او نړیواله مرستندویه ټولنه له افغانستان سره تړون کوي چې له دغه تړون لیک سره سم د مرستو د اغیزمنتوب د ښه والي اصول دا دي:

الف: د افغانستان حکومت د لومړیتوبونو د ټاکلو، د پرمختیایي تګلارې او د هغې په چوکاټ کښې د هیواد د اړتیاو د ټاکلو او د مرستندویو هیوادونو د مرستو همغږي کولو، لار ښوونه کوي.

ب: د هغو نړیوالو مرستو په اړوند چې له افغانستان سره کیږي، هم د حکومت او هم د مرستندویو مراجعو له خوا شفافیت او حساب ورکول.

د دغو اصولو له مخې او له افغانستان سره د مرستو د اغیزمنتوب د پیاوړتیا په موخه حکومت به دغه چارې تر سره کړي:

- د افغانستان د ملي پراختیا د تګلارې برابرول چې په مفصله توګه لومړیتوب بندي شوې ده، د افغانستان د ام، ډي، جي، د موخو د معیارونو په ګډون د ثارنې له معیارونو سره
- د ګمرکي عوایدو او مالیاتو له لارې او د عامه هوساینې او حمل او نقل د خدمتونو د لګښتونو د اخیستلو له لارې د کورنیو عوایدو په تولید کښې د حکومت د ځواکمنۍ پیاوړتیا
- د حکومت د اصلي بودجې له لارې د مرستو د لیږدولو د معیارونو په هکله له تمویلوونکو، نړیوالو مالي موسسو او د ملګرو ملتونو د ادارو سره تړون او له دغو معیارونو سره سم له مرستو څخه کارونه او پر کړنو باندې څارنه.
- د دغه تړون لیک مندرجو معیارونو ته د رسیدو په موخې د مرستندویو مراجعو له مرستو څخه د کار اخیستنې او د تر سره شویو کړنو په هکله د افغانستان د پرمختیائي ټولنې له لارې ولسي جرګه او د افغانستان ټولو خلکو او مرستندویو مراجعو ته د منظم رپورټ ورکول.

بسپنه ورکوونکي به دغه چارې تر سره کړي:

- د افغانستان د ملي پراختیا د تګلارې په چوکاټ کښې د مرستو برابرول له حکومت سره د پروګرامونو او پروژو په برخه کښې به همغږۍ رامنځ ته کیږي، تر څو پر لومړیتوبونو باندې تمرکز شي، د تکرار څخه مخنیوي وشي او په مصرف کښې سپما را منځ ته شي او د مرستندویو مراجعو د فعالیتونو پرځای، د منلو وړ او مدلل وي.
- د زیاتو څو کلنو مرستو او مالي ژمنو برابرول چې د اټکل وړ وي چې حکومت وکولای شي د خپلې ملي تګلارې پلي کول په ښه توګه تر سره کړي، او په اړینو وختونو کښې له شرط پرته مرستې برابرې کړي.
- له هر یوه مرستندوی سره د افغانستان د حکومت د دوه اړخیزو موافقو له مخې، د هغو مرستو د اندازې زیاتوالې چې د اصلي بودجې له لارې لګیږي او دغه راز د هغو مرستو د اندازې زیاتوالې د اټکل وړ په هغو لارو چارو سره

چې د افغانستان حکومت پکښې ونډه لري لګېږي، لکه د افغانستان د بیا جوړولو امانتي صندوق، د افغانستان لپاره د نظم او قانون وجهي صندوق او له نشه یي توکو سره د مبارزې امانتي صندوق

- د حکومتي لګښتونو د اداري سیستم له پرمختیا سره مرسته چې له مرستندویو منابعو ځخه په کار اخیستلو کښې د شفافیت او حساب ورکولو د ښه والي لپاره اړینه ده او له اداري فساد سره مبارزه.
- د افغانانو د ظرفیت په لوړتیا کښې اړتیاو ته پاملرنه د هغو مرستو لګښت چې د بهرنۍ بودجې له لارې تامین کیږي، پکار ده چې داسې تر سره شي چې په حکومتي ادارو، خصوصي سکتور او په غیرا نتفاعی سکتورونو کښې ورتیا رامنځته کړي.
- د هغه ډاډ ترلاسه کول چې د معاشونو او ملي نهادونو تقویت په برخه کښې د پالیسیو په ګډون پرمختیایي پالیسي ګانې چې د منځمهالو او اوږدمهالو تر منځ دوام کوي، د حکومت له خوا د پروګرامونو په تر سره کولو کښې پیاوړې کوي.
- د هغو مرستو په برخه کښې چې د اصلي بودجې له لارې نه لګیږې مرستندویان به دغه هلې ځلې وکړي:

۱. لومړیتوبونو ته د پاملرنې او د معاملو او فعالیتونو د تکرارولو له امله په لګښتونو کښې د کمښت په موخه د حکومت له اړیاو سره د تخنیکي مرستو همغږي کول.
۲. په ادارو او د پروژو په بشپړولو کښې د افغانستان د خصوصي سکتور د ورتیا د لوړتیا په موخه د بهرنیو ادارو په لګښت او د پروژو په ثابت لګښت کښې کمښت.
۳. د پلی کونکو موسسو په توګه له افغاني موسسو ځخه زیات کار اخیستنه او په بهر او هیواد کښې د ازمویل شویو افغانانو په کار ګمارل.
۴. په افغانستان کښې د ملکي او پوځي فعالیتونو لپاره د اړتیا وړ موادو د پیرودلو زیاتوالي او.
۵. د پروژو په پلی کولو کښې په تیره بیا د بنسټیزو پروژو لپاره له افغاني موادو ځخه کار اخیستنه

- د سیالۍ داوطلبۍ به د نړیوالو اصولو په چوکاټ کښې، د داوطلبۍ په بهیر کښې د افغانستان د خصوصي سکتور د ونډې پیاوړتیا او د پروژو د لګښتونو د کمښت او د محدودو کاري ظرفیتونو باندې د بري په موخه د بې وزلو هیوادو د همکاریو پیاوړتیا.
- د تړوونونو د ژمنو او ورکړو (پرداخت) په ګډون د بهرنیو مرستو د بهیر په هکله، پر خپل وخت د شفافو او هر اړخیزو معلوما تو برابرول، په داسې لارو چارو سره چې د افغانستان حکومت ولسي جرګې ته د خپلو فعالیتونو د تر سره کولو او هر اړخیزه بودجوي رپوټونه وړاندې کړای شي. په دغه کار کښې به د هغو مرستو ماهیت او اندازه چې د اصلي بودجې او د افغانستان د بهرني بودجې له لارې وړاندې کیږي، سره یوځای وي.
- د پیسو، د کارونې، کیفیت او اغیزمنتوب ځخه يې په کارونې سره د بهرني بودجې د مرستې او هم له هغو ځخه د ترلاسه شویو پایلو په هکله حکومت ته د رپورټ وړاندې کول.

د دغو دوه اړخیزو ژمنو موخه داده چې افغانستان حکومت ته د مرستندویو مراجعو مرستې په اغیزمنه او ګټوره توګه وکارولې شي او زیات شفافیت او حسا ب ورکول پکښې شامل وي او افغانان او د تمویلوونکو هیوادونو مالیه ورکوونکي په دې وپوهیږي، چې د پیسو د لګښت په وړاندې ارزښتونه ترلاسه شوي دي.

## دریمې ضمیمه: څارنه او همغږی

د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه په دې باور دي چې د افغانستان د تړون لیک بریالیتوب په ټاکل شویو مودو کښې د پاملرنې وړ معیارونو د ترلاسه کولو لپاره سیاسی، امنیتی او مالی پیاوړي او کلکې ژمنې غواړي. دغه راز د دغې تړون لیک د بریالیتوب لپاره د همغږۍ او څارنې ته د یوه اغیزمن میکانیزم د را منځته کولو اړتیا شته.

په همدی ډول د سکتوری نظم په اوسنیو میکانیزمونو بر سیره د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه د افغانستان د حکومت د لوړ رتبه مقاماتو چې د ولسمشر له خوا ټاکل کیږی او دغه راز د نړیوالې ټولنې د استازو په ګډون د هماهنګی او څارنې یوه ګډه کمیټه جوړوی. د هماهنګۍ دغه کمیټه د افغانستان د حکومت د یوه لوړ پوړي مقام چې د ولسمشر او په افغانستان کښې د ملګرو ملتونو د سرمنشی د خاص استازي له خوا ټاکل کیږي، تر ګډې مشرۍ لاندې وي. موخه به یې د دغې تړون لیک عمومی سمون او تحقیق وی.

دغه کمیټه به د افغانستان د حکومت او ملګرو ملتونو د کارکوونکو په ګډون یوه کوچنۍ دارالانشا ولري چې د اړتیا پړ وخت به د تخنیکي کارپوهانو له خوا ور سره مرسته وشي.

دغه کمیټه به د دغې تړون لیک د پلي کېدو د څېړلو او د لازمو اصلاحي وړاندیزونو د وړاندې کولو لپاره دوره یي او د اړتیا پر وخت به خاصې غونډې جوړوي.

د افغانستان دغه حکومتي نهادونه او د همغږۍ سکتوري میکانیزمونه به، چې د افغانستان د ملي پراختیا د تګلارې په پلي کولو کښې شامل دي، د تړون لیک د پلي کولو په برخه کښې خپل آندونه وړاندې کړي. پر دې برسیره، دغه کمیټه به د څېړنو د ترسره کولو لپاره د ملګروملتونو د ادارې، د نړیوالو مالي موسسې، د مرستندویو سازمانونو د نړیوالو امنیتي ځواکونو او د اړوندو غیرحکومتي سازمانونو او د مدنی ټولنې د استازو په ګډون د نړیوالې ټولنې نظریې د پاملرنې وړ وګرځوی.

د دغه تړون لیک د پلي کولو د بهیر د پرمختګ په هکله منظم رپورټونه به د همغږۍ او څارنې د ګډې کمیټې له خوا عامو خلکو ته وړاندې کړای شي.

## څلورمه ضمیمه: د افغانستان په هکله د لندن د کنفرانس برخه وال

(دغه کنفرا نس ته د رابلل شویو کسانو لست وروسته بشپړ کیږي)

برخه وال هیوادونه:

| | | |
|---|---|---|
| اتریش | تاجکستان | فنلند |
| اردن | ترکمنستان | قرغزستان |
| ازبکستان | ترکیه | قطر |
| استرالیا | جاپان | کاناډا |
| افغانستان (ګډه مشری) | جنوبی کاریا | کویټ |
| المان | چین | لکسمبورګ |
| انګلستان (ګډ مشرتوب) | د روسیی فدراتیف جمهوریت | لیتوانیا |

ایسلند
ایتالیا
بحرین
برازیل
بروناي دارالسلام
بلجیم
بلغاریا
پاکستان
پولنډ
پراګ
د امریکا متحده ایالات
د ایران اسلامی جمهوریت
د چک جمهوریت
ډنمارک
رومانیا
سعودی عربستان
سویټزرلند
سویډن
فرانسه
فنلند
مالیزیا
متحده عربی امارات
مصر
ناروی
نوی زیلاند
هالند
هسپانیا
هندوستان
هنګری
یونان

## بر خه والی مو سسی:

دارو پا ټولنه
اسلامی پر مختیا ئی بانک
نړیوال بانک
دشمالی اتلانتیک تړون (ناټو )
داقتصادی همکاری سا زمان
دشانګ های دهمکاری سا زمان
دافغانستان د مدنی ټولنی مرکز
دارو پا کمیسیون
دجنو بی اسیا د سیمه ایزو همکاریو ټو لنه
داسیا پرمختیایی بانک
د اغاخان مرکز
اسلا می هیوادو نو د کنفرا نس سا زمان
داقتصادی او پرمختیا ئی همکاری سا زمان
دپیسو نړیوال صندوق
ملګري ملتو نه (ګده مشري )

## کتونکي:

ایرلند
استو نیا
دارو پا د امنیت او همکاری سا زمان
سلوانیا
عمان
کروشیا
لوګزامبورګ
مکسیکو
ارجنټاین
چیلی
سلوا کیا
سوریه
قبرس
لتویا
مالتا

# په افغانستان کې په بشردوستانه، دبیا رغونې او پرمختیایي فعالیتونوباندې بو ختو نا حکومتی مؤسسولپاره کړنلاره

په دی هکله د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۵۰ م مخ وګورئ

سریزه

ددې لپاره چې افغانستان په خپل تاریخ کې په یو بې ساري حالت کې قرار لري او دا ئې وخت دی چې داوږدې مودې ثبات، اقتصادي بریالیتوب او دبشر دحقوقو ددرناوي په لوري وخوځېږي،

ددې لپاره چې نادولتي مؤسسې د مدني ټولنې فعا لین دي او دیو افغان پایېدونکي دولت او ملت دجوړېدو لپاره قوي مدني ټولنه ضروري ده،

ددې لپاره چې نادولتي مؤسسې د افغانستان دپرمختیا اود افغانانو دظرفیتونو داوچتولو لپاره ژمنې دي،

ددې لپاره چې دنوي اساسي قانون انفاذ او د افغانستان تقنیني جوړښت د ذمه واری (حساب ورکونې) اومسئوولیت لرلو سلوک د ودې دپاره لاره اواره کړې ده،

ددې لپاره چې نادولتي مؤسسې د مدني ټولنې دبیړنیومرستو او پرمختیایي پروګرامونو پلي کونکو په توګه خپلوبا ارزښته مرستوته دافغانانو په ګډون ددوی دپاره ادامه ورکوي،

ددې لپاره چې دنادولتي مؤسسو خصوصیت او نقش په ښه توګه نه دی پیژندل شوی او په پای کې نادولتي مؤسسې دپیسوشخه په ناوړه ګټه اخیستنې تورنې دي، فکر کېږي چې اسراف کوونکې دي اود ځان لپاره کارکوي ،

ددې لپاره چې راز راز انتفاعي او سیاسي کړی دخپلو تجارتي اوسیاسي ګټود ودې په خاطر دنادولتی مؤسسود چترشخه نا وړه ګټه اخلي،

ددې لپاره چې نادولتي موسسې د پرله پسې غوښتنو سره مخامخ دي چه په نتیجه کې ددوی لورئ راز راز خواوو ته اوړي او دمدني ټولنې د فعالینو په توګه ددوی ظرفیت او خپلواکی ته ګواښ دی، او

ددې لپاره چې کړنلاره (طرزالعملونه) یو داسې میکانیزم دي په کوم سره چه نادولتي مؤسسې کولای شي خپل لوړ معیارونه د رونوالی (شفافیت) او ذمه واری په شمول یقیني کړي.

*موږ په افغانستان کې دنادولتي مؤسسو واکمن استازي په خپله خوښه دا کړنلاره لاسلیک کوو او خپلې مؤسسې د کړنلارې په پلي کولو کې ژمنې بولو.*

## تعریفونه

کړنلاره عبارت د هغو ګډو معیارونو پرنسیپونو او ارزښتونو مجموعه ده چې موخه یې د نا حکومتی مؤسسو د اعتبار او شهرت ښه والی او چتول دي.

ناحکومتی مؤسسې د غیر انتفاعي ، رضاکار، بی طرفه او مستقل سازمانونو یا ټولنو څخه عبارت دي چې د عامه خیر لپاره هڅې (فعالیت) کوي. نا حکومتی مؤسسې کیدای شي چې داخلي ، بین المللي، په یو مذهبي اعتقاد باندې ولاړې وي یا ولاړې نوي، خو مذهبی فعالیتونه نه کوي، غړي لري اویا یې نه لري.

- رضاکار د نادولتي مؤسسې د آزادې ارادې او د ټولنې د غړو د ګډو همکاریو په مانا ده.
- غیر انتفاعی پدې مانا چه نادولتي مؤسسه نشي کولای خپله شتمني او عاید هیڅ یو شخص ته ورکړي. البته نا دولتی مؤسسه کولای شي خپلو کارکونکو ته معاش ورکړي او یا د خپلو ځینې فعا لیتونو څخه عاید لاس ته راوړی چه دا عاید یوازی د مؤسسی داهدافو د پلي کولو لپاره استعمالیدای شي.
- غیر حزبي او مستقل پدې مانا چې نادولتي مؤسسه د خپل رهبری هیئت له خوا د یوې کړنلارې په اساس اداره کیږي نه د کومې ډلې ټپلې او قدرت په واسطه.

لاسلیک کوونکي د نا حکومتی مؤسسو د صلاحیت لرونکو استازو څخه عبا رت دی چې دا کړنلاره ئي لاسلیک کړې او منلې وي.

موږ، د کړنلارې ټو لو لاسلیک کوونکو ته اطلاق کیږي.

مدني ټولنه ټولې رسمي او غیر رسمي ډلې او ټولنې چه په دولتي او خصوصي سکتورونو پورې اړه ونه لري. نا حکومتی مؤسسې د مدني ټولنې یوه برخه ده.

د جنسیت (جندر) تساوي یعنې دا چه د ښځې او نر ټولو راز راز حقوق لکه کړه وړه ( رویه ) هیلې او غوښتنې په مساوي توګه په نظر کی نیول کیږي. د نر او ښځې برابري دا مانا نه لري چې ګواکي ښځې او نر د یو شانته شي. خو دا مانا ورکوي چه د دوی حقوق ، ذمه واري (مسؤلیتونه ) او فرصتونه په نارینتوب او ښځینتوب پورې هیڅ اړه نلري.

د جنسیت برابري پدې مانا چه د ښځو او نارینه و د غوښتنو په وخت کې د عدالت او انصاف د روښ په اساس وي. چه کیدای شي دا رویه یوشان یا راز راز وي خو کله چه حقوق، ګټې، مسؤلیتونه او فرصتونه مطرح وي، نو بیا ښایي چه یوشان وي.

د ظرفیتونو اوچتول داسې یوه پروسه ده چه په هغې کې افراد ، ډلې ،مؤسسې، انستیتیوتونه او ټولنې خپل ظرفیتونه لوړوي تر څو:

۱. خپلې اصلی دندې په ښه توګه سره اجرا ،مشکلات حل او خپلې موخې وټاکي او عملي ئې کړي.
۲. په کلي توګه سره خپلې پرمختیایي غوښتنې په ګوته او په دایمی توګه یې سره حل کړي.

بشردوستانه فعالیتونه په بشردوستانه فعالیتونو کې ټول هغه فعالیتونه شامل دي کوم چې دانساني کړاونو د ډیرېدلو لکه تشنج ( اخ اوډب) یا نښتې ، بحرانونواو بدمرغیو څخه سر چینه اخلي مخنیوی وکړي اویا یې کم کړي. دا رنګ کړاوونه دا دي:

۱. دهغوکسانوژوند ته زیان رسول او دژوند لهلاسه ورکول کوم چه دتشنج په وخت کې په شخړه کې برخه و نه لري.
۲. دبشري قوانینو یا د بشر له حقوقو څخه جدي سرغړونه، په خاصه توګه سره په سیاسي بحرانونو کې د غیر نظامي خلکو په مقابل کې دداسې اعمالو مرتکب کېدل.

## دناحکومتی مؤسسو رسالت

په اف غانستان کې دنادولتي مؤسسو په توګه زمونږ رسالت په کلي توګه دادی چه په ځانګړې توګه دهغو خلکو دحقوقو په پام کې نیولو سره چې زیانمن شویدي اوپه ناوړه حالت کې قرارلري، په افغانستان کې دبشردوستانه، بیا رغونې اودوامداره پرمختیایي اړتیاوو په نښه کول دي. موږ یعنې دولت، تمویل کونکي او عام خلک په ګډه سره کارکوو.

## دکړنلارې نیت (مقصد )

کړنلاره دلاندینیوموخو لپاره منځ ته راغلې ده:

- دنادولتي مؤسسو اوددوی دفعالیتونو، موخو او لاس ته راوړنو په هکله د دولت، تمویل کونکو، رسنیواو عامو خلکو سم پوهاوی.
- دمؤسسوغوره اداره، روڼوالی او ذمه واري دهغو اصولو له لارې چې دوی په خپله خوښه سره طرح او منځ ته راوړي دي.
- دکړنلارې دمعیارونو په واسطه سره د نادولتي مؤسسو دفعالیتونو دکیفیت لوړول.

## د روښ اصول

۱. زمونږمؤسسې د خلکو په منځ کې دي
۱.۱ د هغه چاپه منځ کې چه مونږئي په چوپړ کې یو: زمونزبنیادي وفا داري، حساب ورکونه او مسئوولیتونه په هغه چاباندې متمرکزدي چه مونږیې په چوپړ کې یو. زمونږ پروګرامونه دخلکو اړتیاوو ته دځواب ورکولو په اساس پلان او ترتیب شویدي.
۲.۱ په خپل ځان باور او د ښتنتنتوب احساس: موږ هڅه کووچې د ولس اوخلکو سره داسې مرسته وکړو چه دوی خپلې ستونزې په خپله حل کړي. موږ خلک په ځان باورته هڅوو او هغه ته پراختیا ورکوو اومونږ په هغو چارو کې دخلکودتصمیم نیولو دګډون حق چې ددوی په ژوند اغیز لري سپارښتنه کوو.
۳.۱ د بشر حقوق: مونږهڅه کوو چې دبشرحقوقوته درناوئ وکړو، خوندي کړو یې اوهغوي دافغانانو دحقوقو اووجایبو په نظر کی نیولو او دنړیوالو قوانینو په مطابقت سره مراعات او تقویه کړو.
۴.۱ باور: مونږزیارباسو ترڅو دهغو ولسنو باوراو اعتماد لاس ته راوړو دکومو سره چې کارکوو.

۵.۱ برخه اخیستنه او له توپیر (تبعیض) څخه ډډه کول: مونږ ترممکنه اوچتې کچې پورې هڅه کوو چې د اړوندو ټولنو نارینه، ښځې او ماشومان دخپلو پروګرامونو او پروژوپه طرح، تطبیق او ارزونه ( ارزیابی ) کې ګډون وکړي. مونږ په هغه ځایونو کې چه کارکوو په دې هڅه کې یو چې د هیر شوو ډلو ونډه ډاډ منه کړو.

۶.۱ محلي ارزښتونوته درناوئ: مونږد افرادو او ټولنو حیثیت، هویت، فطري زیرکي، دود او دستور، مذهبی عقایدو اوارزښتونو ته درناوی کوو. خو دا په هیڅ وجه پدې مانا نه ده چې هر هغه څه چې دیو فرد یا د یوې ډلې بشري حقوق تر پښو لاندې کوي، مونږحمایه کوو.

۲. زمونږ مؤسسې د مثبتو او پایښدونکو اغیزو په راوړلو هوډمنې دي

۱.۲ مؤثریت: مونږترلوړې کچې پورې د خپلو پروګرامونو د مؤثریت او مثبتو اغیزو په راوړلو باندې هوډمن یو او په یو فعالیت باندې د څو مؤسسو له بوختېدلو څخه مخنیوی کوو.

۲.۲ پایداري: موږ تر هغه پورې چه امکان ولري خپل پروګرامونه پداسې شکل سره طرح اوعملي کوو چه د خلکودستونزو د پایداره حل لامل اوپه هغه باندې دمصرف ارزښت ولري، په افغانانو کې دملکیت احساس جوړ ترڅو دوی خپله کاري وړتیا دټولنې داوږدمهالو پرمختیایي موخو په خاطرلوړه کړي.

۳.۲ په چاپېریال باندې اغیز: مونږخپل فعالیتونه په مسئوولانه توګه طرح او سرته رسوو ترڅو دفزیکي، طبیعي چاپېریال ساتندوی او دافغانستان ایکوسیستم[۱] په صحیح توګه سره تنظیم کړو.

۴.۲ نظارت او ارزونه: موږ دخپلو پروګرامونو نظارت او داغیزو ارزونه کوو او خپلې لاس ته راوړنې د اړوندو خواوو سره لکه دولت، تمویل کونکو، عاموخلکو او ټولنو په شمول چې مونږئې په چوپړ کې یو شریکوو.

۳. زمونږ مؤسسې ذمه واری (حساب ورکونه) او شفافیت ته ژمنې دي:

۱.۳ موږ په خپلو معاملوکې ددولت، ټولنو، تمویل کونکو، او نورو ذیدخلو اړخونوپه مقابل کې ذمه وار اوشفاف یو.

۲.۳ ذمه واري: موږ دحسابونو دښه تنظیم په خاطرسالمې مالی پالیسۍ او سیستمونه جوړو اوساتوېې، اوخپلې محاسبې تفتیش ( آډیت) کوو ، دافغانستان داساسي قانون اوټولو قوانینواومقرراتو په پام کې نیولو سره فعالیت کوو او داړتیا په وخت کی د پالیسیود بدلون په خاطرکار کوو. موږ په ټولو مالي اړخونوکې لکه دپیسولاس ته راوړنه، په کارول او محاسبه کې صادق او رښتیني یو. موږ سالم مالي، محاسبوي، داستخدامولو، ترانسپورت او اداري سیستمونه ساتو تر څو هغه منابع چې په لاس کي ئي لرو مونږخپلوموخوته ورسوي.

۳.۳ روڼوالی (شفافیت): مونږدخپلوموخو اوفعالیتونو په هکله معلومات دهغوذیدخلو علاقه لرونکو خواوو چه زمونږدکارسره علاقه لري په اختیارکی ورکوو اوددوي دغوښتنې سره سم دخپلو فعالیتونو مالي اوکاري رپوټونه دوی ته ورکوو. موږ خپل ټول هغه فرصتونو په کار وړو تر څو خلک زمونږ د شتمنیود سرچینواودهغه د مصرف په هکله وپوهوو.

۴. زمونږمؤسسې د ښې اومناسبې داخلي اداره کولو ته ژمنې دي

[۱] په یوه ساحه کې د نباتاتو او ژویو ټولنه، ددوی ترمنځ او د چاپېریال سره ددوی اړیکي

۱.۴ د اداره کولو سندونوساتنه: مونږ لیکلي قوانین او اساسنامې لروچه زمونږ رسالت، موخې او تشکیلاتی جوړښت په څرګنده توګه تعریفوي.

۲.۴ انډول فرصتونه: مونږ د خپلو کارکوونکود مقررۍ اوددوی د پرمختګ په هکله لیکلې کړنلارې، پالیسۍ او مقررات جوړ وو تر څو زمونږ ژمنې د انډول کاري فرصتونو په هکله سرته ورسېږي.

۳.۴ داستخدام کړه وړه: مونږ خپل کارکوونکي د افرادو د ټاکلو د حق د آزادۍ په احترام او دنورو ذید خلو اړخونو د بشري منابعو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره استخدام او عزل کوو. مونږ افراد د دوی د وړتیا په اساس استخدام کوو، مناسب معاشونه ورکوو، د دوی د وړتیا او ظرفیت په اساس متناسب مسئوولیتونه ورسپارو، د استعفی په حالت کی د خپلو کارکوونکو څخه مناسب کافي وخت غواړو او د دوی د بې سببه انفکاک په صورت کې کافي مخکینۍ خبرتیا ورکوو.

۴.۴ د شخصي ګټو په نظر کې نه نیول: زمونږ د مؤسسو ټولې اړوندې معاملې به خالي له شخصي او مسلکي ګټو څخه وي. د مدیره هیئات به په خپله خوښه وړیا کار کوي، خو د دوی هغه ضروري مصارف به چې د دندې رسولو په وخت کې منځ ته راځي جبران کېږي

۵. زمونږ مؤسسې صداقت، ایمانداری او د پروګرامونو په داسې شکل طرح کولو ته چه د مصارفو ارزښت ولري ژمنې دي.

۱.۵ صداقت: موږ په خپلو ټولو مسلکي فعالیتونو کې ربښتیني او صادق یو.

۲.۵ ایمانداري: موږ د ټولو هغو داخلي اوباندنیو اجراآتو څخه چې زمونږ د مؤسسو اخلاقي ایمانداری ته زیان رسوي، ډډه کوو. موږ په غلا، اداري فساد، دخپلوانو د طرفدارۍ، رشوت او دغیرقانوني موادو دراکړې او ورکړې کې نه بوخت کیږو. مونږ مرستې او منابع یوازې له هغو تمویل کوونکو څخه منوچې زمونږ د رسالت، موخو، دندو، او کاري وړتیا سره سمون ولري او زمونږ استقلالیت او شهرت ته زیان ونه رسوی.

۳.۵ د مصارفو ارزښت: موږ د هغو منابعو څخه چه په اختیار کې ئې لرو په داسې طریقه سره کار اخلو چه زمونږ رسالت او ستراتژیکې موخې سرته ورسېږي او د مصارفو ارزښت ولري. موږ زیارباسو ترڅو ضایعات او غیرضروري مصارف کم کړو او ټول هغه منابع چې په لاس کې ئې لرو د هغو خلکو د ژوند د هوساینې لپاره وقف کړو چې موږ ئې په چوپړ کې یو.

۶. زمونږ مؤسسې و انصاف، تنوع او د هغوډلو په مقابل کې چه د نظر څخه لرې دي د تبعیض څخه د مخنیوي سالمو او موجه اجراآتو ته ژمنې دي.

۱.۶ تنوع: موږ د داسې کارکوونکو په لټه کې یو چې په افغانستان او هغوځایونو کې چه کار کوو په مناسبه توګه سره د جنس، توکم، جغرافیایي موقعیت او مذهب د تنوع ښکارندوی وي.

۲.۶ برابري: موږ په دې هڅه کې یو چې په خپلو مؤسسو کې ډېر توازن برقرار او په داخلي اړیکو کې عدالت ته وده ورکړو او همدارنګه زمونږ د مؤسسو تر منځ فرصتونو ته په عادلانه توګه لاس رسی ولرو. مونږ کوښښ کوو هغه خلک چې لږ خدمت ورته شویدئ، ناخوندي خلکو، معیوبین او نورې هغی ډلې چه له نظر څخه لوېدلې دي په خپلو ټولو ابتکارونو کې داخل کړو.

۳.۶ د جنس ( جندر ) برابري: موږ د نراوښځې راز راز رونښونو، هیلو، اړتیاوو او حقوقو ته په مساوي توګه ارزښت ورکوو. کیدای شي چه داچال چلند یوشان او یا بل ډول وي خوکله چه په حقوقو، ګټو، مکلفیتونو او

فرصتونو پورې اړه ولري نو باید دعدالت او انصاف په بنسټ باندې وي. حقونو، مسئوولیتونو اوفرصتونو ته لاس رسئ په نارینتوب اوښځینتوب پورې اړه نه لري.

۴.۲ د نظر څخه لرې ډلو په مقابل کې دتبعیض څخه مخنیوی: زمونږ کادري پالیسۍ اوکړه وړه او دهغه تطبیق پداسې شکل سره طرح کېږي چې دکارکوونکودتربیې، جلب، استخدام اوکاري شرایطو پروسه له هرډول تبعیض او دخپلوۍ له اړیکوڅخه خوندي وي.

۵.۲ مناسب اومؤثرفعالیتونه: مونږزیارباسو چې دهغو ډلو استازیتوب اوچت کړو کوم چې د مرکزي دفتر د لوړې کچې، سیمه ییزو دفترونو، د مدیره هیئات، او مشورتي ډلو په تصمیم نیونې پوره ونډه اوحضورنلري.مونږهڅه کوو هغه خلک چې لږ خدمت ورته شوی دی، ناخوندي، معیوبین اوهغه خلک چې د نظر څخه لویدلي دي په خپلو ټولو نوښتونوکې شامل کړو.موږ کوښښ کوو چې دافغانو ښځو موقف د خپلومؤسسو په د ننه اوبهرکې تقویه کړو.

۷. زمونږمؤسسې دافغانانو دظرفیتونو لوړلو ته ژمنې دي.

۱.۷ دظرفیتونو اوچتول: مونږدهرمناسب فرصت څخه استفاده کوو تر څو دافغانانوسره مرسته وکړوچې خپل ظرفیتونه داسې اوچت کړي چې په اړتیاوواو لومړیتوبونو باندې ځان پوه کړي او په پایله کی دوی خپلې بشري، دبیا رغاونې او پرمختیایې اړتیاوی پخپله پوره اوبرارې کړي.

۲.۷ مشوره: مونږدمحلي ټولنواوحکومت سره په مشوره خپلې پروژې اوپروګرامونه طرح او تطبیق کوو ځکه چه مونږدافغانستان دپایېدونکې او اوږدې مودې پرمختګ ته ژمن یو.

۳.۷ پایښت: مونږپروژې په داسې شکل سره طرح کوو اوآسانتیاوې پکې راولو ترڅو اړونده ټولنې او یا دولتي نهادونه وکولای شي دهغه پایښت زیات اوهغوي ته ادامه ورکړي.

۴.۷ بشري منابع: دهغه پالیسیو په اساس چې ژمنه مو کړې تر څو ظرفیتونه اوچت کړو، موږ د استخدام، او روزنې په وخت کې افغانانو ته ړومبیتوب ورکوو.

۵،۷ فزیکي او تخنیکي منابع: موږ په کومو ځایونو کې چه مناسب وي دځایي موجوده تخنیکي او فزیکي منابعو څخه په لوړه کچه کاراخلو.

۲.۷ مناسبه تکنالوجی: مونږد هغه تکنالوجۍ په کاروړل تشویق کوو چه ټولنه ئې خاونده شي او وئې ساتلای شي.

۸. زمونږ مؤسسې استقلالیت ته ژمنې دي.

۱.۸ خپلواکي: مونږ خپلې پالیسۍ، پروګرامونه او ستراتیژۍ پخپله جوړوواو تطبیق کوو ئې. خپلو ځانونو ته اجازه نه ورکوو چه داسې پروګرامونه تطبیق او یا حساس سیاسي، نظامي، او اقتصادي معلومات راټول او ددولتي یا نورو ارګانونو په لاس کې ئې ورکړو چه مقصد ئې زمونږ دانساني او پرمختیایي رسالتونو پرضد کار اخیستل وي.

۲.۸ خود مختاري: مونږزیارباسو چه دافغانستان اوبین المللي قوانینو په چوکاټ کې خپله آزادي وساتو او دهغو شرایطو دتحمیل په مقابل کې ودرېږو کوم چه زمونږ رسالت او اصول په مخاطره کې اچوي.

دبشردوستانه بیړنیو مرستو په حالت کې مونږ په لاند ینیو اضافي اصولو باندې پابند یو:

۹. بې تعصبي: موږ یوازې داړتیاوو په اساس مرستې برابرو. موږ د اړو کسانو سره پرته له توکمیز، مذهبي، نژادي، جنسي، ملي، اوسیاسي اړیکوڅخه مرسته کوو. مونږدانساني مرستو ویشل هیڅکله د چا د سیاسي اومذهبي عقائدو دمنلو په خاطر نه منو.

۱۰. بې طرفي: موږ حزبي اوسیاسي اجنداګانې، که ملي وي یا بین المللي په مخ نه بیایو. موږ هیڅکله دمخالفو ډولو ترمنځ طرف نه نیسو اوپلوي ئي نه کوو.

۱۱. د SPHERE عملي کول: موږ د SPHERE په بشري منشوراو د ناورینونو د غبرګون په حالت کی دحد اقل معیارونو په هکله پوهیږو او په دې هڅه کې یو چه دخپلوپروګرامونو اوبشر دوستانه پروژو د پلي کولو، ارزیابي اونظارت په وخت کې دغه معیارونه او د SPHERE شاخصونه په پام کې ونیسو.

## د کړنلارې نظارت

۱۲. د کړنلارې دنظارت کمیټه:

۱.۱۲ د کړنلارې دنظارت کمیټه چې وروسته له دې به د کمیټې په نامه یادیږي، په پای کې د کړنلارې د رعایت او ساتنې مسئوولیت په غاړه لري.

۱۳. دکمیټې جوړښت

۱.۱۳ کمیټه اوه غړي لري.

۱.۱.۱۳ دافغانانو دپاره دمرستو دانسجام اداره (ACBAR)، دافغاني نا حکومتی مؤسسو دپاره د همآهنګۍ اداره (ANCB)، سهیل لوېدیز افغانستان دپاره دهمآ هنګۍ اداره (SWABAC) به هریو دوه دوه غړي کمیټې ته ور پېژني.

